محسن خپرندویه
Mohsin Publications

تولنپوهنه

لیکوال: احمد قاسمی

ژباړه: زیر افغان

تکثیر: محسن خپرندویه

بریښنا لیک:

وبلاگ:

د خپریدو نیټه چنگاښ ۱۳۸۱- جولای ۲۰۱۲

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنپوهنه

ليکوال: احمد قاسمی

ژباړه : زير افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرليکونه **مخ**

د وګړو تر منځ څه توپير شتون لري؟ ۶
وګړي خپل چاپېريال پاللي ۹
د وګړو توپير ټولنې را منځ ته کړی ۱۹
زموږ لمړنيو نېکونو څرنګه ژوند کاوه؟ ۳۰
ټولنيز توپيرونه څنګه رامنځ ته شول؟ ۳۸
قانون څنګه رامنځ ته شو؟ ۴۹
څنګه د زيار ايستونکو زوښا (شيره) يې زبېښله؟ ۵۹
ګلاديا‌تو‌ران ۶۵
د سپارتاکوس جګړه ۷۴
د مريه بدلون په سرف باندې ۸۹
د کوچنيو او منځنيو ماليکتونو له منځ تلل ۹۴
سرفان او نور بزګر ۹۹
واسال او سينيور ۱۰۹
رنځورتيا، قحطی، مرګ، پاڅون ۱۱۷
صنعت او سوداګري تر يوولسمې پېړۍ پورې ۱۲۴
صنعت او سوداګري تر يوولسمې پېړۍ وروسته ۱۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بورژوازۍ او ازادو ښارونو رامنځ ته کېدل ۱۳۷
د کمون فیوډالي ښارونه ۱۴۱
د صنعت او سوداګرۍ پراختیا فیوډالي اصول ړنګ کړل۱۴۵
له انګلستان څخه د یهودانو اېستل ۱۵۲
د کار د قانون منځ ته راتلل ۱۵۵
د بزګرو خوځښت په انګلستان کې ۱۵۸
د سرفانو په وضعې باندې د ټوکر اوبدلو صنعت اغېزه ۱۶۲
د ۱۳مې پېړۍ تر پایه پورې فیودالي دور ته بشپړه کتنه۱۸۵
۱۴مې و ۱۵مې پېړۍ ته بشپړه کتنه ۱۹۶
۱۶مه پېړۍ په صنعت او سوداګرۍ کې لوی بدلونونه ۲۱۶
د صنایعو لنډ تاریخ ۲۵۲
د ۱۷مې پېړۍ ځانګړتیاوې ۲۶۶
د ۱۸مې پېړۍ له ځانګړتیاوو څخه ۲۷۳
پاچا او لویان ۲۸۳
باستیل ۲۸۸
د فرانسې ولس د پرګنو ژوند مخکې له انقلابه ۲۹۶
له انقلاب څخه وړاندې خوځښتونه ۳۰۵
د فرانسې انقلاب نه ډېره کېدونکی ؤ ۳۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرانسې له انقلاب څخه څو نندارې ۳۱۸
د بشر د حقوقو اعلاميه ۳۶۹
د ۱۸۹۵ اساسي قانون دوې مادې ۳۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱

د وګړو تر منځ څه توپیر شتون لري؟

ځلوریشت کاله پخوا د مرغومی میاشت په یوه ورځ، زموږ په پړوس کې، په یوه لوی کور کې یو ماشوم وزیږېده، چې د سیمې ټولو اوسېدونکو د هغه د مور او پلار د خوښمدو لپاره د هغه د زیږېدو جشن ونیوه. یوه طبیب او قابلې له یوې اونۍ راهیسې د هغه د زیږېدنو پاملرنه کوله او همدا چې نړۍ ته راغی، مهربانې او ښایسته دایې ته یې وسپاره او ځانګړې کوټه یې ورله سینګار کړله.

په هماغې موکې کې زموږ د سیمې په سر د یوې هټۍ لاندې یوه سمڅه شانې زرندۍ(زېرزمیني)، چې له ختو نه لېو شوي دېوالونه یې درلودل، پرته وه، چې د لېو ډېرې برخې یې توېې شوې وې او هغه یې لا ډېره سمڅې ته ورته کړې وه.

د لمر رڼا یوازې د سمڅې له دړې څخه، چې نیم متر له ځمکې نه ښکته پرته وه او جګوالی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول له يوه نيم متر څخه زيات نه ؤ، د سمڅې منځ ته ننوتله. په دې زرندۍ کې يوه کورنۍ يانې يو پلار، يوه مور او يو دوه کلن زوی اوسېدل او په ژمو کې يې د کورنۍ له زاړه تره څخه، چې دوی ته يې سيمه راوړله، هرکلی کولو. اتفاقن د همدغې ورځې په شپه د کورنۍ مور په داسې حال کې، چې پرته له مېږه څخه يې هېڅ پرستار او پرته له شړې وړې برستنې څخه د پټېدو او هوساينې هېڅ وزله (وسيله) نلرله، يو ماشوم وزېږاوه، چې درې ګنټې وروسته، چې سترګې يې لا د نړۍ پر مخ نه وې غړولې، د ساړه له زوره له نړۍ څخه بستره بار کړه.

د دې ماشوم او هغه ماشوم تر منځ، چې په هغه لوی کور کې نړۍ ته راغی، څه توپير شتون لاره؟ ولې د هغه زېږېدنو لپاره لسګونو خلکو جشن ونيوه او د دې يوه مرګ لپاره د مور او پلار له سترګو څخه پرته بله هېڅ سترګه و نه ژړېده؟ ولې يوه ګرمه بستره د دې ګران ميلمه په برخه نه وه؟ ولې له دوی څخه يوه په دنيا کې برخه نلرله او ولې دا يو بل د نړۍ ټول نعمتونه د ځان لپاره چمتو ولېدل؟ آيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کومه ګناه لرله، چې په دغه بلا واوښت؟ که چېرې هغه ماشوم يې د شپې لخوا د مرګ له کټه اوچت کړی او له ساړه نه يې ساتلی او په راتلونکې ورځ يې په پټه د دې بل پر ځای ایښی وای، آیا د ده برخه لیک بدلون نه مونده؟ څرګنده ده، چې بدلیدلو او دی هم د ښاغلزيو په ډله کې راتللو.

له دې کتنې نه څه پايله اخلو؟

داسې پايله اخلو، چې ټول خلک يو شان نه‌ړی ته راځي او توپيرونه، چې د خلکو په منځ کې لېدل کېږي، غالبن د دوی له واکه وتلي دي او د دوی په ټولنيز موقعيت پورې تړاو لري.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲

وګړي خپل چاپېريال پالي

هغه نوی زېږېدلی ماشوم مړشو، خو د ده دوه کلن ورور ژوندی پاته شو. که چېرې مور دا هلک او هغه د شتمنو بچی د ژوندانه په ډګر کې وڅارو، نو هغه ټکي مو چې پورته بیان کړ لا ښه څرګندېږي.

دغه ېبوزلي ماشوم، چې حسين نومېده، پلار يې لرګي ماتول او مور يې په کورنيو چارو کې کورنيو سره مرسته کوله، د بېلګې په توګه کالي يې وينځل او له دې لار يې د مېړه په وزرونو لاس را کاږلو. هر کله به چې د کاليو پرېمينځلو لپاره بهر ته وتله، نو حسين به يې له ځانه سره څکولو او کله چې لوی شو د کاليو يوه برخه به يې د ده په سر اېښودله. خو کله به چې د بېلګې په توګه د يوې ګنټې لپاره له سمڅې څخه وتله، نو حسين به يې په زرندی کې پرېښوده او دړه به يې د هغه په مخ تړله، تر څو بهر

(c) ketabton.com: The Digital Library

راونه وځي او تر پښو لاندې نه شي. حسين طبيعتن يو ښه مزاج لرلو، خو په څلور کلنۍ کې يو ځل کلک ترټپره (سينه بغل) شو او له هغه ځايه چې کافي پوښښ، پرستار، طبيب او درمل يې نه درلوده، مرګ ته ورلنډ شو او وروسته له هغه چې تصادفن د مرګ له منګولو وژغورل شو، بشپړه کمزوری او مړاوې شو او تل له ټټره کړېدلو.

کله چې لوی شو، نو نور يې کولای نشول دی په زرندۍ کې خوندي وساتي او دی په هوسا زړه سره د کوڅې په دوړو او خاورو، ختو او خړوبونو کې لټېده او د خپلو بې سره همزولو سره يې ټېلې – لوبې کولې. له هغه ځايه چې نړدې ؤ، دی هم له بې سرۍ او وزګارتوب سره روږدي شي، نو لا لس کلن شوی نه ؤ، چې چميار ته يې وسپاره، ترڅو هم يو کسب زده کړي او هم له کوڅې څخه راټول شي. حسين په لومړيو ورځو کې له استاذ څخه ډېر کوتکونه وخوړل، خو ژر يې خورا هوښياري وښودله، هغه هم هسې، چې د سبناري څخه پرته يې د ورځې دوه رياله مزد هم ورله وټاکه. ورو ورو د حسين کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه شو او مزد يې د ورځې پنځه ريالو او يو تومان ته ورسېده او لا شپاړس کلن شوی نه ؤ، چې مزد يې پنځلسو ريالو ته ورسېده.

د بوټونو ګنډلو کار خورا يوغړی (يکنواخت) او ستومانونکی ؤ. سهار چې کارګر مغازې ته راتلل، نږدې نيمه ګنټه د دوی مجلس تود ؤ او په خپلو کې يې خبرې اترې کولې، خو ژر يې خبرې خلاصېدې او په چپتيا کې به ننوتل او د خويګي (مشته) د ټپ ټپ، د ښټک د وهلو او د تار د کاږلو غږ ترغوږه کېده. کله ځينو کارګرانو انګازې کولې او ژر غلي کېدل او هماغه کړېدلی حالت يې خپلولو.

په دې چوپتيا کې د څه شي په فکر کې وو؟ په نږدې توګه کولای شو ووايو، چې هېڅ فکر يې په سر کې نه لاره، ولې چې د هماغه بوټ ګنډلو له نړۍ او تنګې او زړه نېوونکې فضا څخه پرته يې بله کومه نړۍ نلرله. دوی ژوندون تېراوه، پرته له دې، چې د ژوندانه په تېرېدو خبر وي. ژوندانه د دوی لپاره له کار کولو او رنځ وړلو څخه پرته بله مانا نلرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار کارته راتلل او اته او نهه او کله بـه یـې لـس بجې له کار څخـه لاس اېسـتلو او هـر څـوک د خپـل کور په لور روانېده او خپل ستومان بدن یې د خـوب لاس ته سپارلو او سبا ته د دې لپاره چې د کار موکـه ناوخته نه شي، له خوبه به راولټېدل او د بې ځانـه او اوتوماتو افزارو په شان به د کار په لور چټکېدل.

حسین پروګرام خـورا مـنظم سـرته رسـولو او لـه دې کبله، چې د نارینه ؤ په ډله کې راغلی ؤ، مزد یـې اخیسـتلو او لـه خپـل مـور او پـلار سـره یـې مرسـته کوله، خورا زړه خوښی ؤ. خو څو کاله چې تېـر شـول ورو ورو سـتومانه شـو، خـو کـوم نـوی شـی د ده پـه ژوندانه کې نه پېښېدو، ځان یـې سـتومان او اروا یـې مـړه شـوې وه، اصـلاً نـه پوهېـدو، چـې د څـه لپـاره ژوندی دی او کوم زړه خوښون لري.

دغه حالت، چې حسین په هغه اخته شـوی ؤ، دا خپګان او غمجنوالی، چې عموماً د ټولنې د بې برخو لمن نیسي، د ژوند تر ټولو لـوی خطـر دی او وګـړي ځان وژلو او یا پسات ته (چې په رښتا سـره تـدریجي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان وژنه ده) وربولي. د دې خطرناک مرض یوازینۍ هوبله د مبارزې د روحیې منځ ته راوړل دي.

د ټولنې پر دې ځپل شویو باید غبر وکړو، چې مه مایوسه کېږی، مه زړه توري کېږی، ژوندون پخپله کرکه جن نه دی، که د ژوندانه بهیر ته بدلون ورکړی، که دا ناولي ډېرانونه د ژوندانه له ویالی څخه لېرې کړی، ډېر خوږ او ښایسته به شي.

آیا ټول په نړی کې بد مرغه دي؟ آیا ټول په بیوزلی او اسکرېنه (فلاکت) کې ژوند کوي؟ ولې ځینې نیکمرغه دي؟ ولې ځینې هوساینې ته رسېدلي؟ ولې د نیکمرغی دړې ستاسو په مخ تړلې دي؟ ولې په ځور او خواری باندې محکوم یاست؟ د هغه پرځای، چې مایوسه کېږی او له ژوندانه څخه لاس اوباسی، د ژوندانه د دې ستونزو د حل په فکر کې واوسی. هغه وخت به وګوری، چې هره ورځ نوې خوشحالی ستاسو هرکلي ته راځي او هره ورځ د هیلو لا زیاته رڼا ستاسو په زړونو کې ځلېږي.

خو حسین د څه ډول خلکو په منځ کې ژوند کولو؟ د داسې وګړو په منځ کې، چې هغوی ټول د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځور او غمجنتیا سیوري ته لوی شوي وو، د داسې وګرو په منځ کې، چې د مبارزې اروا په دوی کې نښوتې نه وه او په رښتیا سره «زړه مړاوي» وو. له دې کبله د غمجنتوب ناروغۍ حسین ته سرایت وکړ او هغه یې ورو ورو د پساټ په لور وخوځاوه. غوښتل یې چې د ژوندانه ستونزې هېرې کړي او د ده پښو مخې ته له میخانو او عشرت ځایونو څخه پرته بله لار پرته نه وه. دی هم د نورو زرګونو بیوزلو په توګه د تباهۍ دې کانون ته ورجلب شو.

کله ستاسو د یوه غابښ په مخ یو تور وړوکی ټکی پیدا کېږي، چه په لمړي لید سره هېڅ د اهمیت وړ نه دی، خو هغه تور ټکی خپل کارکوي او هره ورځ لا لويېږي، هسې چې یوه ورځ ټول غابښ نیسي او هغه پټوي. ټولنیز پساټ هم په همدې توګه رابرسېره کېږي او همدا اخته (خاصیت) لري.

یو دوه کاله تېر نه وو، چې حسین د پساټ په دریاب کې ډوب شو، هسې چې که اوس یې ووینی، وبه یې نه پېژنی: له جوړښته رژېدلی، تل مست دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ان دا چې سږکال د يوې دوو مياشـتو پـه مـوده د چاړې ابستلو په تور زندان کې ؤ.

ټول له ده نه کرکه کوي، ټول هغه ښکنځي، ټول دی د ټولنې ميکروب ګڼي او ان ځينې د ده او ده ته ورتو وژل واجب ګڼي، خو که موږ لږ څـه ژور شـو او وګـورو، چې آيـا حسـين دومـره ملامـت دی، آيـا ده ټولنه فاسده کړې يا ټولنې دی تباه کړو؟

کلـه چې حسـين ماشـوم ؤ، ټـولنې د ده پالنـه ونکړه، دی يې د بېوزلۍ او نـاروغۍ لاس تـه وسـپاره، د ده هېڅ روزنه يې ونکړه. حسين په حقيقـت کې د ټـولنې خپـل ودې ونـه وه، چې د زرهـاوو مخـالفو بادونو مخې ته ولوېدو، نو په دې توګـه کلـه چې وده يې وکړه، خپل بور (ثمـر) يـې ټـولنې تـه وروبخښـلو، يانې خپلې متې يې د ټولنې په واک کې کېښودې.

خو ټولنې له ده سره څه وکړل؟ د ده د متـو بـور يې واخيسـت او هـېڅ بانـدې والـی او ګټـه يـې ده تـه ورنکړه. حسين کارکاوه او شتمني يې توليدوله، خـو د ټـولنې جوړښـت داسې ؤ، چې لـه دې شـتمنۍ نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هومره، چې د حسين ژوندون هوسا کړي، د ده لاس ته نه ورتلله.

حسين هېڅکله ونکولای شول، چې د اوسېدنو وړ کور ولري، هېچکله يې و نکولای شول، کافي ډوډۍ وخوري، هېچ کله يې ونکولای شول، مناسب کالي واغوندي. حسين سره له دې چې ټولنې ته يې شتمنی ورکوله، له کلتور او روغتيا څخه بې برخې ؤ. آيا په دې توګه يې حق نه لاره، چې ټولنې ته په بده وګوري، بلکه له هغې سره غليم واوسي؟

که چېرې تاسو يو بوټی په داسې ځای کې، چې هلته هوا او رڼايي نه وي، کېږدی، روښانه ده، چې مړاوې کېږي او وچېږي او بور ته نه رسېږي. زموږ ټولنه له خپلو وګړو سره په حقيقت کې همدا اړونډ لري، يانې د وګړو د پاللو لپاره د کافي ځواک خاونده نه ده او هغه ده، چې وګري مړاوې او فاسدوي.

له بله پلوه، هغه لامل، چې د وګړو په فاسدولو کې تر ټولو خورا اغېزناک دی، بې وزلي او اسکېرنه (فلاکت) دي. که د حسين پلار بېوزلی نه وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی يې پرته له روزنې نه لويږده، ناروغ او خوارچنکی نه کېده، له کلتور او روغيتا څخه بې برخې نه پاتې کېدو او په پای کې فاسد نه راوتلو.
له دې ځايه څه پايله اخلو؟
داسې پايله اخلو، چې:

۱ – د وګړو ځانګړتياوې د دوی له چاپېريال سره اړوندې دي او که موږ وغواړو وګړي سم شي، نو له وړاندې بايد د چاپېريال په سمولو پيل وکړو او داسې وکړو، چې هر څوک وکولای شي، چې د ټولنې له شتمنيو څخه برخمن شي. هغه څوک چې غواړي د دې خلاف زبات کړي، هغه کسان دي، چې د ټولنې له سمولو څخه ډارېږي، ولې چې پوهېږي، چې په دې توګه د دوی د ناوړو ګټه اخيستلو مخنيوی کېږي.

۲ – لمړی ګام چې د ټولنې د سمولو په لار کې پورته کېږي، بايد د مادي وضعی د ښه کولو په لار کې وي، ولې چې که ډوډۍ نه وي، کلتور او روغتيا به نه وي او يوازې د مادی وضعې په ښه کېدو سره ده، چې نورې ټولنيزې وضعې اصلاح کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دې لپاره چې خبره لا روښانه شي، هغه د شتمن ماشوم هم، چې مخکې مو د ده په هکله خبرې وکړې، باید د ژوندانه په ډګر کې په پام کې ونیسو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳

د وګړو توپير ټولنې را منځ ته کړی

دا ښاغلزوی (آقازاده) فريدون نومېده. پلار يې له هغه ځايه چې د ځوانی په مهال په عياشۍ کې افراط کړی ؤ او خپل ځان يې تباه کړی ؤ، ماشوم يې نه کېدو. له همدې کبله يې د فريدون نه څو کاله مخکې نذرونه او نيازونه وکړل او ګڼ شمېر ښځې يې بدلې کړې او ډېرې روپې يې په ډاکټر او درملونو ورکړې، ګوندې ماشوم يې پيدا شي.

کله چې وروستنۍ مېرمنې يې زوی وزېږاوه، له خوښۍ نه په پوټکي کې نه ځايېدو او د دې له ډاره چې دا ماشوم به هم مړ شي او له لاسه به ووځي، نو د ده په پالنه کی يې افراط کولو. په ځانګړې توګه چې د فريدون مزاج د پلار د ناروغيتا له کبله ځواکمن هم نه ؤ، خو يو دوه کاله چې تېر شول، د ډاکټر درملنو، د دايې شېدو، پرنګيو وچو شېدو او نورو پالنو طبيعي ستونزه جبران کړه او د فريدون د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمزورتیا نښې ورو ورو ورکې شوې، د پلار زړه یې له اندېښنې راوویسته.

له فریدون څخه هېڅ څه نه سپمېدل او د ده اراده د ټولو له اردې څخه پورته وه. له همدې کبله خورا نازولی او پلمه لټی لوی شو. په هغه موکه کې درې ټېره بایسکلونه تازه ایران ته راسېدلي وو او په ډېرو لوکسو لوبلوښو کې شمېرل کېدل.

فریدون یو داسې بایسکل او یو ځانګړی چوپړ لاره، چې ځان پسې به یې روان کړی ؤ. هر کله به چې په کوڅه کې ستومانه کېدو، ځانګړي چوپړ باید دی او د ده بایسکل په شا کړي او کور ته یې رسولي وای.

وروسته چې لږ څه لوی شو او وړکتون ته تللو، دې ځانګړي چوپړ بکس او د وچې مېوې کڅوړه یې ورپسې وړله. کله چې هم اوه کلنی ته ورسېدو او ښوونځي ته روان شو، بیا دا چوپړ لکه سیوری ورپسې ؤ او د دمو(تفریح) په زنګونو کې به یې څه خواړه ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فريدون د هغې پاملرنې په پايله کې، چې له ده څخه کېدله، هومره ګستاخ شوی ؤ، چې هيچ څوک يې له ځانه پورته نشوای کتلی او ان څو ځله يې خپل ښوونکی وښکنځه او له ښوونځي نه مرور شو او له هغه ځايه چې پوهېده، چې ده ته د پلار د ځواک او دستګاه لپاره هېڅکله سزا نه ورکوي، د ښوونځي په هېڅ يوه نظام باندې تړلی نه ؤ او سره له دې چې کورنی ښوونکی يې لرلو، لوست ته يې ډېره مينه نه ښودله. سره له دې هر کالې پورته تللو، تر څو شپږم ټولګي ته ورسېدو.

هلته له هغه ځايه چې پايليزې ازموينې وې يو کال پاتې شو.

د منځني ښوونځي په شپږم کال کې يې هم يو کال ډډه ولګوله، خو له هغه ځايه چې د لګښت او زده کړې اسباب يې چمتو وو، هېڅ رنځ يې ځان ته ورنکړ او په پای کې يې ځان لوړو زده کړو ته ورساوه. يو کال د ژبې لوړو زده کړو څانګې ته لاړو، خو په پام کې يې راغلل، چې د ژبې زده کړه خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانه ده، نـو لـه دې کبلـه لـه هغـه ځایـه راووت او د حقوقو په پوهنځي کې يې نـوم ولیکلـو او تـر اوسـه پورې هـر څنګـه چې وو، ځـان يـې دریـم ټـولګی تـه رسولی دی.

فریدون له هغې ورځې نه چې دنیا ته راغلی، څـو کوژدنې يې لرلې. ولې چې خپلو خپلوانو، دوستانو او آشنایانو غوښتل چې د پلار د شتمنۍ لپاره خپله لـور په ده پورې وروتپي.

البتـه پـه هغـو ټولنـو کې، چې پیسـې د سـتونزو حلوونکې دي، ټـولې ټـولنیزې اړیکې د پیسـو پـر سـر ولاړې دي، مړوښي (زناشویی) هم په حقیقت کې د روپیو یـوه معامله ده. تـل هغـه کـورنۍ، چې پـه یـوه کچـه شـتمني لـري، پـه خپلـو کې تـړون کـوي او پـه حقیقت کې خپلو پیسـو تـه پیوسـتون ورکـوي او دا هېڅ په پام کې نـه نیسي، چې زوم او نـاوې دې پـه خپلو کې جوړښت ولري.

له همـدې کبلـه د فریـدون لا اولـس کالـه بشـپړ شـوي نـه وو، چې د یـوه سـوداګر لـور یـې ورلـه واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه. ډېر په موکې کار هم ؤ، ولې چې يوه موده کېدله، چې د فريدون سر او غوړونه خوځېدل او نه يوازې دا چې په رستورانونو کې يې شراب څښل، بلکه ورو ورو په نورو پساتونو هم اخته کېده، خو ښځې کولو هم فريدون راټول نکړ، ولې چې فريدون له ووړکې توب نه ځان په عيش او عشرت کې لېدلی ؤ، په نړۍ کې پرته له خوند اخيستلو پر بل هېڅ څه نه پوهېدو، وزګار هم ؤ او وزګارتيا د فاسدېدلو تر ټولو لويو لاملونو څخه ده.

کله چې انسان وزګار پاتې شي، د خيال ځواک يې په کار لوېږي او که ډېر پوه او پوخ سړی نه وي، نو خيال يې تل د جسماني خوندونو او کيف او خوښۍ خوا ته ځي او دی اړباسي، چې پر پساتيزو کارونو لاس پورې کړي. له وزګارتيا څخه پرهېز وکړۍ، ولې چې وزګارتيا د عيبونو سرچينه ده.

خو فريدون ورځ په ورځ د پسات په ګند کې لا ډوب شو او درې کاله پخوا يې داسې يو کار وکړ، که

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل چا کړی وای، پرته له لیاړو او لعنت څخه یې بل څه نه لېدل.

کیسه دا وه، چې زه یوه ورځ سهار وختی، چې تروږمی لا خورې وې، له کوره راووتم، چې ځان ۸ بجې پوهنتون ته ورسوم. هوا ډېره سړه او یخ پروت ؤ او ما سر د کوټ په ګرېوانه کې ننه ایستی ؤ. یو وار مې د کوڅې په ویاله کې، چې لبرې اوبه پکې روانې وې، یو څه تر پامه شول. لمړی مې فکر وکړ، چې د پېشو بچی دی، خو کله چې نږدې شوم، داسې څه مې په سترګو شول، چې پر خپل ځای کې وچ شوم. ومې لېدل، چې یو نوی پیدا شوې ماشوم یې په یوه ټوټه ګېلم کې تاو کړی او د ویالې منځ ته یې اچولی ؤ. البته ماشوم تور ګرځېدلی او مړ شوی ؤ.

د دې خبرې انګازه په سیمه کې تاو شوه او د هغې ورځې په سبا ښکاره شوه، چې د فریدون د کور چوپړه د ده نه ننګه شوې وه او کله چې پوه شول، چې امیندواره ده، له کوره یې شړي. بې هوبله (بې چاره) په بل کور کې په مزدورۍ بوخته کېږي او خپله امیندواري پټوي. په پای کې کومه ورځ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي ماشوم وزېږوي، د زړه د درد په پلمه خپلې کوټې ته ځي او درد زغمي او پرته له کوم غبر او غوره ماشوم زېږوي او سم لاسي د ماشوم په خوله لاس ږدي، ساه يې بندوي او په شپې کې يې ويالې کې اچوي، تر څو په دې توګه خپل پت وساتي.

ټولو دې بې هوبله ښځې ته ښکنځلې کولې او د تحقير او کرکې په سترګو يې ورته کتل او ويل يې، چې دا بايد سنګساره شي، خو هيچ چا هم د فريدون څخه خبرې نه کولې، هېچ چا دا حساب نه کولو، چې دا ښځه ډېر کلونه کېږي، چې ميړه يې مړ دی، د تفريح هېڅ وزله نلري، ناپوهه ده، ژر دوکه خوري. خو فريدون له کومې ورځې نه چې ژبی شوی دی، ښځه يې کړې، د خوند هر ډول وسايل لري، په هرڅه پوهېږي او سره د هغه يې داسې کار کړی او بيا حاضر هم نه دی، چې پايلې يې وزغمي.

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې هر راز سزا چې ده ، د ښوزلې لپاره ده او تل د شتمنو په عيبونو او پساتونو سرپوښ کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلګې په توګه فريدون په شپو شپو نشه کوله، خو له هغه ځايه چې دا شراب يې په لوړو مېلمستونو کې څښل او پياده هم کور ته نه راته، چې وزنګېږي، هېڅ چا عيب نه ګڼلو او د بېهوبله حسين په توګه يې نه ملامتولو او د دې پر ځای چې ووايي، ډېر بې ننګه او فاسد دی، ويل يې، ډېر «زړه بايلونکی» او چړچيي دی!

زما موخه دا نه ده، چې د فريدون ټول اخلاق څرګند کړم، موخه مې دا ده، چې د فريدون په دود، روزنې او ژوندانه ډول تاسو ته ښکاره کړم، ترڅو دې ځای ته ورسېږو، چې ښاغلي فريدون خان د شپې په يوه ناستي کې، چې د دوی په خيال له ټولنيزو سمونو څخه خبرې کولې، خپلو ملګرو ته ويل: «هو، ذاتي استعداد، بل شی دی. د بېلګې په توګه زه او دا چميار حسين سره هم لوبي وو. خو برسېره پر دې چې پلار يې لنډ راغی او دی يې پرې نښوده، چې درس ووايي، ده خپله هم خپل بخت ته لګته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه، ګوندې ده هم کولای شول له چمیارۍ څخه د کور او ژوندانه څښتن شي.»

راځی چې وګورو، آیا فریدون په دې خبره کې، چې کړې یې ده، حق لرلو او آیا کولای شي حسین یا پلار یې ملامت کړي؟ آیا فریدون د دې لپاره چې ننه نی درجې ته ورسېږي، زیار اېستلی؟ آیا د ده هڅه له هغه زیار سره، چې حسین زغملو، د ورته کولو وړ ده؟ د دې ټولو پوښتنو ځواب منفي دی. له بلې خوانه باید ووینو، چې آیا فریدون ډېر بې لارې دی یا حسین؟ کوم یو یې حق لري، چې ډېر بې لارې وي؟ حسین چې بې کوره او کډې دی او د ژوندانه هېڅ وزله نلري یا فریدون، چې هرڅه لري او د خوند اخیستلو وسایل یې له هره پلوه چمتو دي؟ د دې پوښتنو ځواب هم د فریدون په ضرر دی.

هغه څه چې فریدون یې مخ په وړاندې یووړ، د ده خپل زیار نه ؤ، بلکه د ده ټولنیز پوړ ؤ. فریدون یو کال د زده کړې په دوره کې محروم هم شو، خو ټولنیز پوړ پرې نښود، چې پاتې شي او دی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې کړ. ښايي نن د ده فکر د حسين له فکره ډېر ښه وي، خو دا د فريدون د ذاتي استعداد دليل نه دی، بلکه د دې لپاره دی، چې له وړوکوالي څخه يې پرې نښوده، چې د حسين فکر په کار ولوېږي او ان يو ځل يې هم و نه ازمويلو، چې حسين څه استعدادونه لري او له دې پلوه د ده استعدادونه ټول خوشې بې ځايه لاړل.

البته زموږ موخه دا نه ده، چې ووايو، چې د بشر ټول وګړي طبيعتن له ټولو خواوو نه په خپلو کې مساوي دي، خو دا وايو چې:

۱ – عمومن وګړي که يو شی لږ لري، بل شی ډېر لري، د بېلګې په توګه شونې ده، چې يو قوي منګوله ولري، خو سترګې يې ډېر لېرې ونشي کتلای او د يو بل سترګې به ډېر لېرې وګوري، خو منګوله به يې ځواکمنه نه وي. له دې کبله موږ نشو ويلای، چې له دوی څخه يو د بل په پرتله مطلقن بر دی.

۲ – ډېر هغه توپيرونه، چې نن د انسانانو په وګړو کې شتون لري، د هغه ميراث پايله دي، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـلاره يـې اخيسـتې وي او هغـه ميـراث غـالبن د ټولنيزې وضعې په پايله کې پيدا شـوی وي. د بېلګې په توګه د يوه ترياکي سړې ځوی د يـوه کـره سـړې د زوی په پرتله په بنسټيزه توګه ډېر ضعيف راځي. نـو که موږ چېرې ټولنيزه اوضاع اصلاح کړو، لـه دغـو توپيرونو څخه ډېري يې له منځه ځي.

۳ – دا ټول توپيرونه، چې نن يې په ټولنه کې د بشر پـه وګړو کې وينـو، د هغـو پـه طبيعـی توپيرونـو پورې اړه نلري، بلکه ټولنيزې وضعې زېږولي او مـوږ د دې لپاره چې د بشر وګړي تساوي ته نـږدې شي، بايد زلنده (ظالمانه) ټولنيزه وضعه، چې بې دليلـه د وګړو تر منځ توپير پيدا کوي، له منځه وېسو.

اوس ووينو، دا زلنده ټولنيزه وضعه څرنګـه پېـدا شوه؟ آيا بشر له هغې ورځې نـه چې د زمکې پـه سـر څرګند شو، دا زلنده ټولنيزه وضعه يې لرله؟

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴

زموږ لمړنيو نيکونو څرنګه ژوند کاوه؟

د دې لپاره چې موضوع روښانه شي، ووینو چې زموږ لمړنيو نيکونو یانې د بشر لمړنيو وګړو، چې د ځمکې پر مخ يې شتون وموند، څرنګه ژوند کاوه؟

د دې لپاره چې د هغو وګړو ژوند خپلو سترګو ته ودروو، بايد د ټولنې ننه نی ژوند له خپله پامه لرې کړو، ولې چې دا دواړه ژوندانونه يو بل ته ډېر لرې ورته دي. موږ بايد له ياده و نه باسو، چې په هغه وخت کې له ننه نيو صنعتونو څخه يو هم شتون نه لاره او هغه بشر، چې تازه يې د ځمکې پر مخ شتون موندلی ؤ، له کور جوړولو، کاليو ګنډلو، خوراک پخولو او په همدې توګه له کرهڼې او مالدارۍ څخه يې کولای نشول پوهه ولري. د بشر وګړو په هغو ځايو کې چې ژوند پکې اسان ؤ، د ګلو په توګه ژوند کولو او خواړه يې عمومن د ونو له مېوې څخه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه وخت کې زمکه هم له نن څخه ډېره ابـره وره (حاصلخيزه) وه او په ښه تـوګې يـې د دوی د خـواړو بستيا(تکافو) کوله – ولې چې ونې خپلـه يـوه برخـه خواړه له ځمکې څخه اخلي او يوه برخه له هوا څخـه ـ له دې کبله کله چې ميوې او يا تنه يـې وچېـږي او د زمکې پر مخ تـويېږي، زمکې تـه د خـوړو مـواد لـه هغې کچې نـه چې لـه زمکې څخـه يـې اخلـي، ډېـر ورکوي او پايله يې دا کېږي، چې د ځنګله زمکـه تـل له قوته ډکه او ابره وره ده.

پـه هغـه زمانـه کې چې بشـر لا ونې د سـوزولو، کورجوړولـو يـا نـورو چـارو لپـاره لـه منځـه نـه وړلې، زمکه تل ابره وره وه، هغسې چې د انسان خـواړه يـې په ښه توګه چمتو کول.

موږ د بشر لمړني وګړي نه دي لېدلي، چې څـه ډول يې ژوند کاوه – خو سربېره پر دې چې ننـه نيـو علومو تر يوه هانده پورې د دوی ژونـد کشـف کـړی، تر شلمې پېړۍ پورې د زمکې پر ځينـو سـيمو لکـه د افريقې او امريکې په ځينو ټکو کې ځينـي خلـک وو – او ښـايي لا هـم د دوی پـه شـان وي – چې تقـريبن

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبيعي ژوند يې لرلو او په همدې توګه مو چې روښانه کړه، ژوند تيرولو او مور د هغوی د ژوندانه له مخه کولای شو د بشر د لمړنيو وګړو په ژوند پوه شو. د لمړنيو انسانانو په قبيلو کې ټولو کار کولو او د خپل کار پايله يې د قبيلې په اختيار کې ايښودله او په دې توګه ټولو د يوبل له کار څخه ګټه پورته کوله. د بېلګې په توګه هر چا به هغه مېوې، چې ټولې کړې يې وې، د کورنۍ ګډې ډېرۍ ته راوړلې او هرچا له ډېرۍ څخه د خپل خوراک په کچه جګولې. ښايي وپوښتی، چې څنګه هيچ چا متې له کاره نه اېستلې او د کار ابرې د ويشلو په سر يې په نورو ناتار (ظلم) نه کولو؟ د دې لپاره چې دا فکرونه زمور د ننه نۍ ټولنې برخه ده او په هغه دور کې د چا فکر ته هم نه راتلل، چې کار ونکړي او ډوډۍ وخوري او يا د څه شي په سر حرص وکړي. تر ټولو ښه بېلګه يې د بشر همدا طبيعی ژوند دی، چې بېلګو يې په افريقا او امريکا کې د پوهانو نظر ځان ته راواړولو.

د لويو توپيرونو له ډلې څخه، چې د هغې ورځې ټولنې او زمور د ننه نۍ ټولنې تر منځ شتون لري، يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې دا دی، چې په لمړنۍ ټولنې کې د حق او دندې تر منځ کوم توپير شتون نه لاره، په دې مانا چې موږ د بېلګې په توګه نن له ځانه سره وايو، چې دنده مې د ټولنې په اړوند دا ده، چې کار وکړو او حق مو دا دی، چې له ټولنې څخه برخه واخلو. خو لمړني انسان د دغو په منځ کې څه توپير نه کولو او هېڅ وخت يې د بېلګې په توګه له ځانه څخه نه پوښتل، چې خوړل، لماستل او ښکار کول د ده لپاره يو حق دی او که دنده – ده هماغسې چې خوړل او وېده کېدلو، هماغه شان هم ښکار ته تللو او کار يې کولو او د قبيلې د نظم پاسنه يې وکړه.

هغه زمکه، چې هرې قبيلې د هغې په مخ ژوند کاوه او له هغه نه يې برخه اخيستله، د قبيلې ټولو غړو پورې يې اړه لرله او د قبيلو تر منځ به يوه ځنګل او يا يوې نه اوسېدونکې سيمې واټن جوړاوه.

اوس ووينو، په داسې چاپېريال کې د بشر وګړي څرنګه بايد واوسي. ومو ويل چې وګړي د خپل چاپېريال له خوا روزل شوي، نو اوس چې موږ تر يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هانده پورې چاپېريال وپېژندلو، کولای شو د وګړو دځرنګوالي اټکل وکړو. کله چې ټول وګړي له يوې اوبو او هوا څخه برخمن کېږي، له يوه ډول خوړو څخه خوري، په يوه کچه بربنډ دي او يو ډول پوښاک لري او د قبيلې نظم د ټولو لپاره يو ډول دی، په دې بڼه کې نږدې ټول سره يوشان کېږي او ظاهري او معنوي توپيرونه د هغو په منځ کې نشته او يا خورا کم او لږ دي.

هر څوک خپلواک ژوند لري، چې يوازې د قبيلې له ژوند سره يې هم غږي ساتي او په هېڅ ډول د کوم وګړي اېل (تابع) نه دی. له دې کبله ټول ازاد دي او د مريه توب فکر اصولن وجود نلري. کله چې يوه قبيله له بلې سره په جګړې اخته کېږي، شونې ده چې هغه له منځه يوسي، خو شونې نه ده، هغه تر خپل اېلانيت (تابعيت) لاندې راولي، ولې چې د لمړي بشر وجود له ازادۍ سره غګل شوی او ازادي د ده د شتون لپاره لازمه وه.

نو وويني، چې د هغې ورځې بشر او زموږ تر منځ، چې خپله ازادي د وړو شيانو د ازادۍ په بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لاسه ورکوو، څه لوی توپیر شتون لري؟ موږ پرته له کوم دلیل څخه چمتو یو، د نورو لاسبری (تسلط) د ځان په اړه ومنو. موږ له هره پلوه په بند او ځنځیز کې یو. موږ ازادي بشپړه هېره کړې ده او پدې حال کې چې لمړني بشر اصولن اند هم نه کولو، چې ژوند دې پرته له ازادۍ څخه شونی هم وي. لمړنی بشر وژل کېده، خو په سر باندې ټکول کېدو ته نه راضی کېدلو.

څومره دی او موږ سره توپیر لرو؟ د یوه فیلسوف، ښايي هم حکیم دیوجانس، په قول، چې ډېوه یې اخیستې وه او ویل یې، چې په انسان پسې ګرځم او نه یې مومم، مقصد یې هسې انسان ؤ، چې د طبیعی ازادۍ، خپلواکۍ، زړورتیا او سرلوړۍ خاوند واوسي او ښايي هغه ایرانی عارف چې وايي: «خدای ازاد پیدا کړی یې، ازاد اوسه»، همدې ټکي ته اشاره کړې ده.

البته د ازادۍ دا روح په یوځل او په ناڅاپه توګه په بشر کې وژل شوې نه ده، بلکه په تدریج سره له منځه ولاړه او ان په وروستیو دورونو کې لکه د اور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان، چې باد یې ایرې له مخه پورته کړي، په بشري وګړو او ټولنو کې ځلېدله، د ببلګې په توګه وایي، چې د لوی داریوش تر مرګ او د بریا له وژل کېدو وروسته، چې ځان یې په درغلۍ سره د هغه ځای ناستی معرفي کړی ؤ، د اوو کسو مشرانو څخه، چې د سلطنت ټاکلو لپاره په نامه شوي وو، یو کس، چې ګواکې نوم یې تانس ؤ، د ایران له پاچایۍ څخه استعفاء ورکړه، خو په دې شرط چې دی بشپړ ازاد پرېږدي. دا کېسه که څه هم سمه نه وي، بیا دا رسوي، چې د وروستیو دورونو خلکو هم ازادي لا هېره کړې نه وه او د هغې په درنښت او ارزښت پوهېدل او د نن ډېرو خلکو په توګه نه وو، چې ازادي تر ټولو ارزان شی وګڼي او په اسانه سره یې له لاسه ورکړي.

له پورته خبرو څخه د لمړني بشر د وګړو په هکله داسې پایله اخلو:

۱ – ټولو کار کولو.

۲ – ټول د ټولو د کار له ابرې نه برخمن کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – مينه له ټولو سره يو شانې وه او له ټولو سره يې يو ډول چلند کولو.
۴ – هيڅ چا پر بـل کـس لاسـبرى نلرلـو او ټولـو ازاد ژوند تر سره کولو.
اوس يقينن پوښتى، نو ولې وضعې تـوپير وکـړ او څنګه شو، چې ننه نې بڼه يې وموندله؟

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵

ټولنیز توپیرونه څنګه رامنځ ته شول؟

زموږ په لمړنیو نیکونو کې ټولو قبیلو او نـړدې ټولو وګړو یو ډوله کار لاره او د ټولو کار ساده ؤ. خـو څومره چې د بشـر عمـر تېـر شـو، په کـارونو کې لا ماهره شو او ځیرتیا یـې پکـار واچاوله، هسې چې د ځینـو کـارونو زده کـړه یـو څـه مـودې زده کـړې او تمرین ته اړه شوه او په پایلـه کې هـر څـوک پـه هغـه کار بوخت شو، چې د هغـه لپـاره یـې څـه مـوده زیـار اېستلی ؤ.

په دې توګه د کـار ویش رامـنځ تـه شـو او د دې لامل شو، چې د بشر د کار ابره ډېره شي.

کـه چېـرې یـو کـس پخـوا د دې لپـاره چې یـوه کاسه جـوړه کـړي، درې ګنټې وخـت مصـرفولو، پـه دې دوره کې، چې د کار لوښې یې بشـپړ شـوي وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله یې هم مهارت موندلی ؤ، د کاسې جوړول یې د بېلګې په توګه په دوو ګنټو کې سرته رسول.

خو وړاندې له دې چې د کار د ابرې ډېربښت پراختیا ومومي، یوه مهمه پېښه د بشر په ژوندانه کې رامنځ ته شوه او هغه د قبیلو د کار ویش ؤ.

د بشر وګړي د ځناورو د ښکار په ترخ کې په دې ټکې پوه شول، چې کولای شي هغه ژوندي ونیسي او ګټه ترې پورته کړي. له دې امله ځینې قبیلې، چې چاپېریال یې ډېر وړ ؤ، د ځناورو په ساتلو بوخت شول او ورو ورو یې د رمو ساتل زده کړل. دا قبیلې د کرهنیزو قبیلو په پرتله د ځینو ښېګڼو خاوندان وو: شېدې، غوښه چمړه او په ډېره کچه وړې یې لرلې او ورو ورو د تار سکڼلو او د ټوکر اوبدلو سره بلد شول. له بله پلوه له هغه ځایه، چې د بشر د کار اسباب لا بشپړ شول، بشر لا ماهره شو او ابره یې لا پورته ختلې وه، هرې قبیلې کولای شول د خپلو احتیاجاتو څخه لا ډېر جنس تولید کړي. له دې کبله بزګرو او شپنو قبیلو په دې پیل وکړ، چې خپلې ابرې په خپلو کې بدلې کړي. دا موضوع لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه، چې بیا هم د ابرې کچه پورته لاړه شي او له دې ځایه یوه لویه پایله لاس ته راغله، چې موږ یې په څرګندونې پیل کوو.

پخوا هر سړي هومره ابره تولیدوله، چې د ژوند د توښې لپاره یې اړتیا وه، خو په دغه دورکې د کار ابره له دې کچې نه لا ډېره شوه. پخوا یې هېڅ ګټه نه کوله، چې د بشر یو وګړی بل وګړی د ځان په ګټه کار ته اړ کړي، ولې چې د کار ابره لږه او یوازې د هغه سړي په لګښت رسېده او له هغه نه کوم شی بل ته نه پاتې کېدو.

خو کله چې د کار ابره له دې کچې نه لا ډېره شوه، بشر پام شو، چې کېدای شي، د نورو د ابرې له ډېروالي څخه ګټه پورته کړي.

اتفاقن یوې موضوع په ټولنې کې شتون لاره، چې بشر ته یې اجازه ورکړه، چې دا ګټه پورته کول پلي کړي. هغه د قبیلو تر منځ د جګړې موضوع وه. تر هغه دمه که چېرې یوې قبیلې له بلې سره جګړه کوله، د یوې قبیلې د منځ نه تللو پرته بله پایله یې نه لرله، خو په دغه دورکې، چې کله یوې قبیلې بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتوله، د هغې وګړي يې نه وژل، بلکه د اهلي ځناورو په توګه يې په بند کې کار ته اړباسل، تر څو د ماشومانو له کار څخه يې، چې هر يو يې د کار يو ځواک ؤ، په همدې توګه ګټه پورته کړي.

په دې توګه تر ټولو لوی توپير، چې د بشر د وګړو تر منځ شتون لري، يانې د ارباب او مريه (غلام – بنده) تر منځ توپير منځ ته راغی.

ورو ورو د قبيلو تر منځ مبادله د وګړو تر منځ په مبادلې بدلون وموند. ورو ورو د قبيلې سپين ږيري، چې مبادله د دوی په لاس سرته رسېدله او جنګي بنديانو په دوی پورې اړه لرله، د همدې بانديوالتياوو (امتيازونو) له لارې په نورو وګړو لاسبرى وموند او ورو ورو دا لاسبرى د دوی اولادونو ته په ميراث پاتې شو.

ورو ورو هغه شيان، چې د قبيلې د غړو تر منځ شريک وو(لکه کرهنيزه زمکه، د کورنۍ کور او داسې نور)، د وګړو تر منځ وويشل شول، ورو ورو هغه وګړي چې مريان يې لرل، د همدې مريانو له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې نور مريان لاس ته راوړل او د هغو په مټه په نورو لاسبري شول.

البته دې توپيرونو د بشر په منځ کې تـازګي لرلـه او بشر لا هغه لمړنۍ ازادي او نياو (عدالت) نه ؤ هېر کړی او نه حاضرېدو، د دې او هغه لاسبری ومنـي او له دې کبله تل په اعتراض او پاڅون کې ؤ.

دا موضوع لامل شوه، چې د شتمنۍ خاوندان او د مريانو خاوندان خپل ځواکونه سره نـږدې کـړي او په دې هڅه کې شـول، چې لـه دې پـاڅونونو څخـه مخنيوی وکړي.

دا کار يې واوده (نظم ورکړ)، اوډلي ځواکونه يې جوړ کـړل، قانونونـه يـې بنسـټ کېښـودل او پـه دې توګه يې دولت رامنځ ته کړ.

نو د سـعدي وينـا، چې وايـي: «د ناتـارو بنسـټ لمړی په نړۍ کې وړوکی ؤ، هرڅوک چې راغی ورډېـر يـې کـړل، تـر څـو دې ډېـري تـه ورسـېد»، تقـريبن سمون (مصداق) مومي.

تر دې وروسته په نړۍ کې تـازه نظـم رامـنځ تـه شو، هره ورځ نوی شمېر د ټولنې د بېوزلو پـه شـمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورډېر شو، هره ورځ د بشر لمړني حقونه، یانې ازداي او برابرتیا لا ډېره هېره شوه، البته بیا هم له ازدۍ او برابرتیا څخه خبرې کېدلې، خو نه د ټولو لپاره، بلکه د خاص شمېر لپاره – د بېلګې په توګه اورېدلي مو دي، چې په پخواني یونان کې د دموکراسۍ حکومت ؤ او پوهېږی، چې د آتن خلک د نړۍ تر نورو خلکو څخه ډېر ازاد وو، خو پام شوي به نه وای، چې دا ازادي یوازې په ځانګړې توګه د یوه ناڅیزه شمېر لپاره وه او د آتن د اوسېدونکو کمې شمیرې پرګنې، یانې مریان د ټولنیزو حقونو څخه بشپړ بې برخې وو. بنایي اورېدلي مو نه وي، چې د آتن کسبیانو هم د ټولنیزو باندېوالتیاؤ څخه کومه برخه نه لرله.

د هغو تاریخونو څخه، چې د فرانسې د بښوونځیو لپاره لیکل شوي، په یوه کې د آتن د ټولنې په هکله یې داسې لیکلي دي: د آتن ولس له هغو ټولو وګړو څخه، چې په هغه کې یې ژوند کاوه، جوړ شوی نه ؤ، بلکه د آتن عمده برخه په بنسټیزه توګه د ولس په ډله کې نه شمېرل کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مريان، چې شمېر يې له ازادو خلکو څخه خورا ډېر ؤ، د ولس برخه نه وو. چوپړ او معدنچاري، چې د سپينو زرو په معدنونو کې يې کارکولو، د سوداګرۍ د کشتيو ډېرکي مريان وو، چې هېڅ ډول حق يې په ټولنه کې نه لرلو او بايد په بشپړه توګه د اربابانو د امرونو اېلي واوسي.

هېڅ داسې کور نه ؤ، چې هلته لږ تر لږه يوه کنيزه نه وي.

که چېرې د يوې کورنۍ د مريانو شمېر له اوو څخه ډېر نه وو، ويل يې چې بې وزلې ده. شتمنو خلکو کله نا کله تر سلو ډېر مريان لرل. که د يوه مهم سړي ښځه چېرې يوازې د يوه مريه سره له کوره وتلې واى، د اريانتيا وړ ګرځېدله. اربابانو يوازې مريانو ته ډوډې ورکوله، خو د هغو د لاس ټول زيار څخه يې ګټه پورته کوله.

مريانو بايد په ړندو سترګو ارباب ته غاړه اېښې واى او ارباب حق لرلو، دوى شکنجه کړي. دا خبره ملنډېزه خو په همدې توګه غمجنوونکې ده، چې که چېرې دوو اربابانو په خپلو کې داوه لرله، هر يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای شول بل لوری اړباسي، چې خپل مریه د ده په واک کې کېږدي، تر څو دی د شکنجې له لارې له هغو څخه اقرار واخلي، ان ارسطو مشهور فیلسوف ویل: «مریه یو ژوندی لوښی دی».

له دې ځایه وپوهېږی، چې د ټولنې اقتصادي وضعیت څومره د وګړو ان د مشهورو کسانو په افکارو باندې اغېزه اچوي، چې د بېلګې په توګه د ارسطو له خولې داسې نیاوګلوی ضد خبره راوځي.

موږ ولېدل، چې د ټولنې ټول پرمختګ او ټوله شتمني، چې د بشر لاس ته ورغله، د کار پایله وه. خو ورو ورو دا حقیقت هېر شو او هغه وګړو، چې شتمني یې په لاس کې ټوله شوې وه، د هغه کسانو په سپکاوي پیل وکړ، چې کار یې کاوه، د بېلګې په توګه کارګر د آتن په ټولنه کې دومره د سپکاوي سره مخ ؤ، چې ارسطو وایي:

«په هغه دولت کې چې اوډلي تشکیلات ولري، نباید کسبیانو ته له ټولنیزو حقونو څخه برخه ورکړو»!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې کتاب کې یې د پخواني مصر په هکله لیکي دي، چې د پخواني مصر پرګنې بزګرو جوړولې، چې زمکو دوی پورې اړه لرله او هغه یې د پاچا، ملایانو او ساهوګانو (اشرافو) په حساب کرله.

دې بې هوبلو نږدې خپل ټول وخت په کروندو کې تېرولو؛ په هماغه ځای کې یې خوړل او غالبن په هماغه ځای کې وېده کېدل. دغو یوازې وړوکی کوړګی لاره، چې د ژوندانه هېڅ وزله پکې نه وه. کارګرانو یوازې یوه لمن اغوستله، چې د دوی ترملا پورې تړل کېده او ترګونډو پورې ځوړندېدله او ښځو یو کمیس اچولو، ماشومانو هېڅ ډول جامې نلرلې او د دوی ډوډۍ خورا ساده، معمولن سابه او د بوټو ځانګې وې.

بزګرو په هر کال کې باید د خپلې ابرې یوه برخه د پاچا ډېریو ته وړې وای. چا چې ابره ټولوله، یو شمېر ماموران یې له ځانه سره لرل، چې ډانګ یې په لاس کې نېولی ؤ، کوکې یې وهلې: «ژرشی، ابره ورکړی». که بزګر ابره نه لرله، دی به یې په زمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچولو او وبه يې ترلو او د کانال خواته به يې کشولو او سر به يې ورته په اوبو کې ډوبولو.

کله به چې پاچا غوښتل کومه ماڼۍ جوړه کړي، يا کوم کانال اوباسي يا کوم واټ (جاده) ودان کړي، اوسېدونکونه به يې کار اخيستلو. حاکم ته به پرمان ورکړل شو او هغه په کلي کې چيغې وهلې او سبا سهار بايد ټول خلک د کار ځای ته حاضر شوي وای. دوی هر يوه پنځلس ورځنۍ يا مياشتنۍ ډوډۍ، چې څو ټوټې ټيکله، څو دانې پياز او يو څه کورخې وې، له ځانونو سره وړلې او د معمارانو او سرکارګرانو تر امر لاندې، چه په کتک وهلو کې هېڅ لنډ نه راتلل، په کار بوختېدل. بيا به بله ډله راغله د دغو ځای به يې ونيوه او دا ډله به يې بيرته لېږله، خو تر يوه کسه زيات نه راستنېدل.

وګورئ، چې بشر له هغه لمړني ژوند نه کوم برخه ليک ته رسېدلی ؤ. فکر وکړئ، چې د مصر هغه ټول اهرمونه په همدې توګه او د همدې رنځ وړونکو بزګروپه لاس جوړ شوي، خو وياړ يې په ځانګړې توګه پلاني فرعون او يا د هغه پلاني وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې اړه لـري. ټـول لـه دې اهرمونـو څخـه خبـرې کوي او د هغو پاچاپانو لوېښت ستايي، چې اهرمونـه د دوی په وخت کې جوړ شوي دي، خـو هـېڅ څـوک هم د هغو زرګونو کارګرانو په اړه، چې په دې اهرمونو باندې يې زيار اېستلی او خپل ځانونه يې په دې لاره کې اېښي دي، خبرې نه کوي.

هـيڅ څـوک دې حقيقـت تـه پـام نـه لـري، چې اهرمونه د زرګونو کارګرانو د کار پايله ده، نه د مصر د فرعونانو د لوړ ځواک پايله. دا کارګران يـې پـه خپـل وخت کې سپکول او هغوی يې د ځناورو په ډلـه کې شمېرل. نن هم موږ د دوی د کار پايلې په وړاندې د تعظيم سر ټېټوو، خو د هغو يادښت ته کوم درنښـت قايـل نـه يـو او يـوازې پـر دوی بانـدې زورچلـونکي ستايو. آيا بې انصافي نه ده؟

لږ څه د مطلب نه لېرې شوو. اوس ووينـو، بشـر د دې توپيرونو د له منځه وړلو لپاره، چې د ټولنيزې وضـعې پـه پايلـه کې رامـنځ تـه شـوي وو، څـه هڅـه وکړه؟

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶

قانون څنګه رامنځ ته شو؟

ژمنه مو کړې وه، چې د هغو هڅو په هکله، چې بشر د ټولنيزو توپيرونو د له منځه وړلو لپاره وکړې، خبرې وکړو، خو يوه پايله، چې کولای شو، د خپلو خبرو څخه واخلو، ناويلې پاتې ده. له دې کبله لمړی دا پايلې ذکرکوو او وروسته به هغه څه، چې ژمنه مو کړې وه، بيان کړو.

قانون څنګه رامنځ ته شو؟

په ګرده توګه خلک اند (تصور) کوي، په هغه موکه کې چې بشري ټولنې جوړېدې، د کام پوهان د دې لپاره چې د ټولنې د اوډنې پاسنه (مراعات) وشي، په خپلو کې سره کيناستل او د قانون په جوړولو يې پيل وکړ او خلکو هم په بشپړه رضا او مينې سره دا قانون ومانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا دا اند سم دی؟ آیا له هغه څه سره چې موږ د تاریخ له مخې بیان کړل سمون خوري؟ تاسو سم ولېدل، چې د ټولنې تشکیلات د ټولنیزو اړتیاوو له امله رامنځ ته شول او پرته له دې چې د خلکو هیلې په نظر کې ونیسي، پر هغوی تحمیل شوې.

ولې ځینې د پریمانه شتمنۍ او ځواک خاوندان شول؟

د دې لپاره، چې هغو د مریانو او نورو لاس لاندو د لاس له رنځه ناوړه ګټه پورته کوله.

مریان څوک وو او له کومه شول؟

مریان جنګي بندیان وو، چې پخوا به وژل کېدل، خو په دغه دور کې یې هغوی ساتل، تر څو د دوی د لاس له رنځه ناوړه ګټه پورته کړي.

ولې پخوا په دې سوچ کې نه کېدل او ولې پخوا د مریه توب رژیم باب نه ؤ؟

د دې لپاره چې پخوا د کار افزارونو، د کار ویشلو او د کار د ابرې ډېرولو هم د چا په پرېکړې پورې اړه نه لرله او پخپله او د اړتیا له مخې رامنځ ته کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د ټولنې تشکيلات او «ټولنيزې اوډنې»، چې د بېلګې په توګه يو يې د ارباب او يو يې د مريه په توګه وپېژانده، د امرکوونکي او امروړونکي تر منځ اړيکې يې وټاکلې، د ټولنيز تړون له امله منځ ته رانغلل، بلکه د ټولنيزو اړتياوو له امله رامنځ ته شوې او پر خلکو ورتحميلې شوې.

البته وروسته قانون جوړونکي پيدا شول، چې د ټولنيزې اوډنې په هکله يې خبرې وکړې، خو د دوی خبرې عمومن د همدې ټولنيزې اوډنې پر بنسټ دي، چې پخوا يې شتون موندلی.

د بېلګې په توګه مو ولېدل، چې ارسطو د مريانو او کسبيانو په هکله کومې خبرې کړي، خو دهغه خبرې په حقيقت کې د هغه وضعيت څرګندونه ده، چې د ده په زمانې کې يې شتون لاره.

د دې لپاره چې موضوع روښانه شي، بنه ده لا ډېره څرګندونه وکړو:

وروسته تر دې چې د لمړني بشر ژوند ړنګ شو او ځينې په زور سره په ټولنه کې د څه باندېوالتياوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوندان شول، چې د خلکو ډېرکي له هغو څخه بې برخې وو، لازمه وه، چې د خپلو بې ځایه باندېوالتیاوو د بېلګو څخه پرته نور بنسټونه وتوګي او د خپل ځواک ستنې – د دې لپاره چې کلکې وي – د خلکو په فکر کې ځای کړي.

ورو ورو باندېوالتیاوې په ځینو کورنیو کې میراثي شوې، ورو ورو بشر خپل لمړنی ژوند هېر کړ، چې د کومو پېښو تر اغېزې لاندې له هغې ورځې نه دې ورځې ته رالوبدلی دی، ورو ورو د ټولنې بې برخو او وتلو خلکو هېر کړل، چې د دوی وضعه غیر طبیعي ده؛ ورو ورو افسانې خپرې شوې، چې دا وضعه له ازله په پېښو ولاړه ده او هر څوک، هغه چې څه لري او که نه یې لري، په نیغه یې د خپل خالق نه ترلاسه کړي دي.

د بېلګې په توګه په پخواني مصر کې هغه چا چې تر ټولو بنې او ابره ورې زمکې په خپلې ولکې کې لرلې، داوه یې کوله، چې که ډولپالونکی (رب النوع) ایزس د زمکې پر مخ ژوند کاوه، هغه زمکې یې دوی ته بخښلې دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغـــه افســـانې وې، چـــې ورو ورو د ټـــولنې زورويونكـو پـه ګټـه يـې د قـانون رنـګ ځـان تـه واخيست.

له دې وروسته هيڅ مريه كولاى نشول د ارباب له شكنجې نه وتښتي، هيڅ كسبي قانونن دا حق نـه لرلـو ځـان د اسـيلو(نجباوو) پـه ډلـه كې وشـمېري. هېڅ بزګر قانونن جرأت نلرلو، چې د خپل كار بور لـه قانوني لوټمارو پټ كړي. آيا بيا هم ويـلاى شـو، چې دا قانون ټولنيز ترون منځ ته راوړى دى؟

لا څرګنده بېلګه وړاندې كړو: په پخواني روم كې كاريګر قانونن خپـل كسـب پـورې تړلـي وو او كـولاى يې نشول له كار څخه لاس اوباسي. كاريګرو قـانونن له خپلې مېرمنې سره په جنسي اړيكو كې خپـل واک نلرلـو او د هغـوى كسـب قـانونن ميراثـي ؤ. د بزګـرو نژاد قانونن په زمكې پورې تړلى ؤ او قانونن يـې بايـد ماليې وركړې واى او بيګار يې كړى واى.

د پخواني روم د قانونونو او دودونـو پـر بنسـټ د واده له دودونو څخه يو دا ؤ، چې د ناوې پر زلفو يـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سانګه (نیزه) کېږدي. پوهېږئ، دا کار اصلن له کومه راغلی دی؟

د دې کار اصلي لامل دا دی، چې سانګه لمړني بشر ته د ځواکمنۍ نښه وه. لمړني بشر په همدې سانګې سره ښکار کاوه، غلیم یې واژه او ځان لپاره یې ښځه له نورو قبیلو نه تښتوله. ورو ورو دا دود له منځه لاړو، خو اغیزه یې پاتې شوه، یانې د روم دودونو او قانونونو غوښتنه کوله، چې د واده په موکه د ناوې په زلفو دې سانګه کېښودل شي، تر څو په دې نښې سره زباته شي، چې سړی پر هغې لاسبری لري او ښځه د سړي د ښکار په حکم کې ده.

نو ګورو، چې اصلی کار له منځه ولاړ، خو قانون، د هغه پایله، چې د ښځې ابلانیت له نارینه څخه دی، وساتلو.

په همدې توګه مالکیت په پخواني روم کې «مانثیپیوم» نومېده، چې د لاس له کلمې څخه راغلی، یانې هغه څه ته چې انسان لاس اچوي او خپل ځواک پر هغه تحمیلوي، له دې ځایه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالکيت سرچينه، چې وروسته د قانون له خوا په رسميت پيژندل کيږي، څرګنديږي.

نو دا چې ځيني قانون د نياوګلوۍ و انصاف ښکارندوی بولي او اند کوي، چې قانون جوړونکو له لمړۍ ورځې څخه د نياوګلوۍ (عدالت) او انصاف د ساتلو لپاره د قانون په جوړولو پيل کړی، سمه نه ده.

قانون په حقيقت کې د ټولنيزې وضعې استاذی دی، چې هغه وضعه هم په جبر سره او د خلکو له ارادې او هيلو څخه پرته منځ ته راغلې ده. د بېلګې په توګه د روم په ټولنه کې شتمنو خلکو، چې ځانونه يې د نورو خلکو په پرتله د حقونو خاوندان ګڼل، دغه حقونه د دوی نيکونو په لمړي سر کې په زور سره لاس ته راوړي وو او وروسته يې د قانون بڼه ورکړې وه.

د يوه فرانسوي پروفيسر په خبره: «حق لمړی د زور معلول ؤ او د قانون لامل ؤ، خو وروسته هغه په خپله د قانون معلول وګرځېدو».

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته ځينې پوهان چې پيدا شول، لـه هغـه ځايـه چې د قانونونو له اصلي سرچينې نه خبر نه وو، هڅـه يې کوله، چې نياوګلوي او انصاف پـه زر منـه سريښـو سره په دې قانونو پورې ومښلوي.

د بېلګې په توګه ارسطو غوښتل زبات کړي، چې مريه توب د ټولنې ضرورت دی د ساسانيانو د زمـانې يوه پوه فکر کاوه، که دا ټول توپيرونه د بشـر پـه مـنځ کې نه وای، د دنيا چارو اوډنه نه موندله او اصولن دا خبرې داسې پوهانو د نړۍ د ځواکمنـو د خوشـمندو لپاره اختراع کولې. لازمه نه ده، ډېر لبرې لاړ شو. د فرانسې پاچا ۱۴م لويي، چې په اتلسمې پېړۍ کې يې سـلطنت کولـو، دومـره جنـګ او جګـړې وکـړې او مـاليې يـې واخيسـتلې، چې د فرانسـې خلـک بشـپړ بېوزلي شول او ډېرکيـو يـې د ځنـاورو پـه شـان ژونـد کاوه. يوه ورځ پام شو، چې کارونه يې خورا بې ګټې او کرکه جن دي او پښېمانه شو او له يوه پوه سره يې د زړه خواله وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه پوه په همدې ډول دليلونو سره زباته کړه، چې د پاچا اېلان (اتباع) هر څه چې لري، پر ده پورې اړه لري او اصولن د ژوندانه همدومره وسيلې هم، چې ۱۴م لويي له خپلو اېلانو څخه د ماليې په نامه نه دې اخيستي، لوی احسان دی، چې پر دوی يې لورېدلی دی – په دې توګه ۱۴م لويي ته زباته شوه، چې هغه څه چې ده تر دې دمه له خلکو اخيستي، د ده حق دی او بيا هم حق لري، واخلي، نو خپل کار ته يې پايښنه ورکړه.

پخوا همدا ډول خبرې وې، چې د قانون بڼه يې ځان ته نېوله. د پورتنيو خبرو پايله لنډه کړو.

۱ – قانون د پوهانو د هوښيارتيا، ټونيزو ترونونو او د خلکو د هيلو پر بنسټ منځ ته نه دی راغلی، بلکه د ټولنيزو پېښو تر اغېزو لاندې لاس ته راغلی او دهغو پېښو استاذی ؤ.

۲ – هر قانون د نياوګلوی ښکارندوی نه دی. د دې لپاره چې د هر قانون پر ماهيت پوه شو، بايد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـې وضـعې او حالـت کـې، چـې د دې قـانون د پیدایښت لامل ګرځېدلی، څېړنه وکړو.

۳ – هر قانون مقدس نه دی، په هغـه توګـه چې ډاکټر ارانې پـه جنـایی محکمـه کې وویـل: «یـوازې هغه قانون مقدس دی، چې د خلکو د ګټو ساتندوی وي».

د نن ورځې خبرې اترې مـو لـږ څـه سـتونزمنې وې او موږ ونشول کولای، چې لـه دې نـه يـې سـاده بیانې کړو.

له دې کبلـه د دې وړ دي، چې د لوسـتونکو لـه خوا د ډېر ځیرتیا وړ وګرځي.

اوس به د خبرې پایېنه ونیسو او ووینو، چې بشر د دې توپیرونو د حل لپاره کومې هڅې پلې کړې؟

...

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷

څنګه د زیار ایستونکو زوښا (شیره) یې زبېښله؟

مخکې له دې چې د مریانو او د ټولنې نورو بې برخو له خوځښت نه خبرې وکړو، د هغو د ژوندانه او بې برخې توب په لا څرګندونې لاس پورې کوو، له دې کبله لمړی د مریانو او زیاراستونکو د وضعیت په هکله به خبرې وکړو.

د مریانو ژوند: مریه په حقیقت کې ژوند نه لرلو، ولې چې د هېڅ حقوقي شخصیت خاوند نه ؤ او پرته د خپل ارباب له ترحمه یې کولای نشول چې کورنۍ ولري. نو یقینن پوختنه کوی، چې نو مریانو بیا څرنګه مړوښي کوله؟

باید په دې ټکي پوه شوي وی، چې کورولي د مریانو لپاره – په دې مانا چې تاسو پوهېږی – شتون نه لرلو، یانې د واده قانونونو او مقرراتو د مریانو د واده لپاره شتون نه لاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارباب کولای شول، هرکله یې چې غوښتي وای، مریه له خوب غبرګۍ (همخوابه) ورکړي او هر کله یې چې غوښتل، بېرته یې ځینې اخیستله. مریه له خوب غبرګۍ ورکول یوازې د ماشومانو لاس ته راوړو لپاره وو، چې هغه یې د ارباب د بنې مېوه ګڼله او د مریه ماشوم راوړل د ارباب د غوا خوسي راوړلو ته ورته وو!

البته کله ځیني مریان تر څو نسلونو پورې د کورنۍ خاوندان وو، خو قانون د هغو کورنۍ په رسمیت نه پېژندله او ارباب کولای شول په هره موکه کې هغه کورنۍ ورانه کړي.

که غواړی د مریه توب دور د مریانو او نورو زیاراېستونکو ژوند ځان ته مجسم کړی، د عمرو عاص خبرې یاد ته راوړی. عمروعاص کله چې د مصر هېواد فتح کړ، ویې لیکل:

«دلته هسې خلک ژوند کوي، چې ګواکې د دې لپاره پیدا شوي دي، چې د ګبینو د مچیو په توګه د نورو په ګټه کار وکړي او د خپل کار له بور نه برخمن نه شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روم په مملکت کې شتمنو کسانو لـه ۱۰ څخـه تـر ۲۰۰۰۰ پـورې مريـان لـرل او د ځينـو د مريـانو شمېر هومره ؤ، چې کولای يې شول يو لښکر پـه لار رهي کړي! چا به چې يوازې درې مريان لـرل بېـوزلی ګڼل کېده!

موږ مخکې څرګنده کړل، چې له مريانو سره يـې څرنګه چلند کولو، خـو اوس څـو بېلګې پـر هغـه څـه چې ويلي مو دي، ورزياتوو:

روميانو يو ډول وحشـي کبـانو تـه خـورا درنښـت کاوه. کېسه کوي، چې د روم له شتمنو څخه يوه يـو ډنډ لرلو، چې دغه وحشي کبانو تـه يـې پـه هغـه کې وده ورکوله او هرکله به چې د ده يوه مريه کوم لوښی د غفلت له مخې مات کړ، حکم به يې کاوه، چې هغه په دې ډنډ کې واچـوي، تـر څـو د هغـه وحشـي کـب خواړه شي.

د روم يو مشهور فيلسوف د اربابـانو کلک نېونـه داسې څرګندوي: «همدا چې مريـه ټـوخی يـا پرنجی وکـړي، همـدا چې کـونجی پـه غـبږ سـره پـه ځمکـه وغورځـوي، پـه حقيقـت کې غوسـه ناکـه کېـږو. کـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مریه یو څه په جګ غږ څواب ووایي، که څېره یې د بدچلند نښې ولري، حق لرو، په متروکه یې ووهو او غالبن هم ډېرې کلکې متروکې وهو او یو غړې او یا غاښ یې ماتوو».

د روم لـه لویو پوهـانو څخـه یـو اپیکتت ؤ، چې مریـه نـړۍ تـه راغلـی ؤ، لـه هغـه سـره یـې همدغـه بدچلندونه وکړل او پښه یې ورماته کړې وه!

که کوم ارباب له خپل مریه څخـه ناراضـه شـوی وای، پـه شـپو یـې هغـه پـه تـورو کوهیـانو کې بنـدي کـاوه، پـه ورځـو یـې درانـده زنځیرونـه پـه غـاړه کې وراچـول او کـار تـه یـې اړباسـلو او غـالبن یـې د دې مریانو مخ په سرې اوسپنې داغلو.

په پخوانیو زمانو کې یې میخانیکي ژرندې نلرلې او دانې یې په لاسې ژرندې، چې د مریـانو پـه لاسـو تاوېدې، وړه کول. دا کار تر ټولو ګران ؤ او عمومن د دې لپاره چې مریانو ته سزا ورکړي، دې کـار تـه یـې اړ کول. په حقیقت کې د ژرندې کار رومیانو ته د نن ورځې ګرانو کـارونو پـه دود ؤ. د روم یـو شـاعر د دې ژرندو په بیان کې وایي: «هلتـه تیـاره ورځـې مریـان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ډوډۍ يې د وړو د ذرو ګرد دی، ژاړي، هلته د متروکو او زنځيرونو په خپلو کې د لګېدو غبر په هواکې تاوېږي».

د روم يو بل ليکوال د ژرندې منځ داسې ستايي: «خدايه! څه بې وزلي خلک دی! پوټکې يې د مړي رنګ لري او د متروکو وهلو خاپ په هغه لېدل کېږي... دوی يوازې د کميس ټوټې پر ځان لري، دوی يې په داغلو سره په نښه کړي، سرونه يې خريلي دي، پښې يې په کړيو کې ابښودل شوي، ځانونه يې د اور له تاوه له جوړښته لوېدلي، بانه يې لوګی له منځه وړي، له سره تر پښو د وړو په دوړو کې ډوب دي».

اند مه کوی، چې خلک له دې چلند سره مخالف وو. هغو حقيقت هومره هېر کړی ؤ، چې خيال يې کاوه، دا چلند خورا نياويز دی.

د روم يو شاعر يوه مېرمن، چې خپل مريه باندې کرجنه شوه، داسې ستايی:

« - دا مريه په دار وځړوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مګر څه ګناه يې کړې، چې داسې يې وکړوو؟

- بې شعوره! مګر مريه هم سړی دی؟ ومې منله، چې څه يې کړي نه وي، زه غواړم په دار يې وځړوم، زه امر کوم، زما پرېکړه بايد دليل واوسي».

د روميانو دا ليد د مريانو په اړوند، وروسته له هغه څخه هم چې مذهب يې بدلون وموند، پاتې شو. هسې چې يوه پېړۍ وروسته د مسيح له ميلاده، کله به چې يو ارباب په کور کې وژل کېده، د هغه ټول مريان يې وژل او کله يې چې غوښتل دا قانون له منځه يوسي، يوه لوی فيلسوف مخالفت وکړ او د هغه قانون څخه په ملاتړ کې يې خبرې وکړې.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸

ګلادیاتوران

د رومیانو لـه ملي ننـدارو څخـه یـو ګلادیـاتوران وو. هم هغسې چې موږ نن تیاتر ته ځو او هنرمندان زموږ لپاره ننداري جوړوي، رومیانو هم ګـرد او لـوی میدانونه جوړول، چې ګېرچاپېره یـې د ناسـتي لپـاره ځایونه وو او په منځ کې یې یو پراخ ډګر شتون لاره.

پـه دې ډګرونـو کې یـې مریـان اړباسـل، چې پـه خپلو کې او یا له وحشي ځناورو سره وجنګېږي. دې مریـانو تـه یـې ګلادیـاتور ویـل. دې بېوزلـو د یـو بـل وینې تویولې او یا د وحشي ځنـاورو پـه لاس بـه ریتـې ریتـې کېـدل او رومیـانو لـه دې ننـدارې نـه خونـد اخیستلو.

رومیانو د سزار په زمانه کې توانېدلي وو، چې په یو ځل په یوې موکې کې ۳۲۰ جوړې ګلادیاتوران په جنـګ واچـوي. «اوګـوس» د روم امپراطـور د خپـل ژوندانه پـه تـرخ کې ۱۰۰۰۰ جـوړې ګلادیـاتوران پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلـو کې جګړې تـه اړ کـړل. «تـراژن» در روم بـل امپراطور همدغه شـمېر يـوازې د ۴ مياشـتو پـه تـرڅ کې په خپلو کې په جنګ واچول.

هغه مريه به چې په جګړې کې مـاتې خوړلـه، پـه هماغه ميدان کې يې سر ترې پرې کولـو. عمـومن محکومان به يې دې کار ته اړ کول، خو غالبن مريان او جنګي بنديان وو، چې دې کار ته بـه يـې اړ باسـل، هسې چې هـر کلـه بـه د روم دولـت بـری وموند، د ګلاديـاتورانو لـويې ډلې بـه د وهلـو ټکولـو ډګـر کې وشېندلې شوې.

د روم يو وياند، چې زموږ د تېرو زمانو د «افکارو ودې» ويانـدانو تـه ورتـه ؤ، پـه خپلې يـوې وينـا کې امپراطـور سـتايي، چې د بنـدی «وحشـيانو» ټـول لښکر يې د ډګر مـنځ تـه راوسـتی او د غليمـانو ماتـه يې د ولس د تفريح وزله جوړه کړې ده. «کـوم بـری کېدای شي له دې نه لا لوی او لا ښکلی وي؟»

دا ننداره نه يوازې د روم په ښار کې وې، بلکـه د ايټاليا په ټولو ښارونو کې تکرارېدلې.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې لوستونکيه، آيا نه غمجن کيږې؟

آيا فکر نه کوې، چې دې بېوزلي بشر څومره ځور ګاللی دی! برسېره پر دې د روم له لويښت او وياړونو ډېر اورېدلي او ښايي د خپل عمر ارزښتناکه برخه دې د روم د امپراطورانو د تاريخ په زده کړه تېر کړې وي، خو کېدونکې يې ګڼو، چې ښايي له هغه څه څخه، چې مور د تاريخ له څنډو او څنګونو څخه راټول کړي دي، تا ته څه نه وي ويلي، کېدای شي د روم له دغو اوسېدونکو د ژوندانه له بڼې تر اوسه ناخبره وې. ولې؟ د دې لپاره چې له مريانو څخه عمومن د پيسو او زور لپاره کار اخلي او تاريخ يوازې د زورويونکو او د هغوی جنايتونو لپاره جوړوي. هسې مورخ لږ پيدا کيږي، چې د ومره جنايتونو په هکله، چې د سل هاؤ زره بيوزلو خلکو د ژوندانه ننداره يې جوړوله، ځرګندونه وکړي.

دلته له دومره ځېرلو او وحشت څخه خبرې نه کوي، خو هلته چې ځورېدلي خلک ځان خوځوي او د ناتار او ځور زنځيزونو د ماتولو لپاره لاس په کړنه پورې کوي او خپلو څو زره کلنو غليمانو ته، له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سزا څخه چې دوی یې وړ دي، یو په زرمه سزا ورکوي، د مورخینو چیغې پورته کېږي او د خپلې افسانو جوړولو بشپړ استعداد د دې «ځناورو» د ځناورتیا او ځېرنتوب د انځورولو لپاره په کار اچوي!

دا ډول مورخان زموږ له پامه، چې د بشر د حقیقي تاریخ زده کړه غواړو، کوم ارزښت نلري او موږ باید د هغو درواغجنې انځورونې د تاریخ له پاڼو لېرې کړو.

یوازې مریان د روم په هېواد کې بدمرغه نه وو. د روم هېواد اوسېدونکي اصولن په دوو برخو ویشل کېدل، یو هغوی، چې ځانونه یې د ډېر لوړ نژاد څخه ګڼل او نوم یې «پاتریسین» ؤ، بل هغوی، چې ویل یې د لا ټیټ نژاد څخه دي او «پلبین» نومېدل. یوازې پاتریسینانو کولای شول، دولتي چارې ولري، یوازې دوی کولای شول مذهبی دودونه ترسره کړي، یوازې دوی د سنا مجلس جوړولو.

کله چې بشپړه دولتي چارې، د قانون جوړولو بشپړه دستګاه او ټول مذهبی دودونه د پاتریسینانو په لاس کې وو، په ښه توګه کولای شو اټکل وکړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دولتي دستګاه یوازې د پاتریسینانو په ګټه تاوېده، قانون د دوی په ګټه جوړېده، مذهب یوازې د دوی په ګټه حکم کولو، دوی زور درلوده او له دې کبله هم دولت، قانون او مذهب د دوی مال ؤ.

پلبینان عمومن بېوزلي خلک وو، چې عمومن په بزګرۍ او کسب بوخت وو او هرکله به چې کومه جګړه پېښېدله، دوی به یې د جنګ ډګر ته استول. دا بېوزلي غالبن د نیشتمنۍ (فقر) او بېوزلۍ له زوره اړ کېدل، د پیسو له خاوندانو څخه پور واخلي، خو که د پور د پرې کولو موکه به چې راورسېده او پوروړي کولای نشول خپل پور پرې کړي، غوښتونکي حق لرلو د «قانون سره سم» هغه خپل مریه کړي.

په هر هېواد کې چې قانون د زورویوونکو خلکو په ګټه جوړ شي، همدا ډول زلندیزه او ملا ماتوونکي قانونونه به پر بېوزلي ولس بار شي او اریانتیا په دې کې ده، چې زورویوونکي تل تمه لري، چې دا ډول قانونونه ولس مقدس وګڼي او له هغو څخه اطاعت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلبینـانو – یانې د ټـولنې بـې برخـو – د خلکـو د وګړو ډېرکی جوړولو او هر هېواد چې د خلکـو ډېرکی یې تر فشار لاندې وي، هسې دیګ ته ورته وي، چې د اور پر سر یې کېږدي. البته چې دا دیـګ بـه تـل د پاڅون او خوټېدلو په حال کې وي..

بدمرغه خلک هم تـل د ځـان د خلاصـون لپـاره په هڅو او اعتراض او پاڅون کې دي.

کله په ژوره توګـه پـام شـوي یاسـت، چې ولې د سماوار په مخ یو وړوکی سوری جوړوي؟ دا سوری د دې لپاره دی، چې هرکلـه کـه د سـماوار جـوش ډېـر شي او بخار وکړي، هغه سوری خلاص کړي، تـر څـو یو څه بخار بهر ووځي او که نه سماوار به چاود کړي.

په ټولنې کې هم په همـدې توګـه دي. کلـه چې خلـک د ناتـارو لـه اوره پـه خوټېـدو راځـي او شـونی کېږي، چې پـه یوځـل سـرغړونه (طغیـان) او پـاڅون وکـړي او د ټـولنې ناتـاریزه قـانون مـات کـړي، زلـند خلک، چې تـل پـه خپلـو چـارو کـې احتیـاط کـوي، د خلکو د احساساتو لپاره د وتلو یوه لار خلاصـوي، تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو په دې توګه د خلکو د سر پورته کولو فشار لږ شي.

د روم زورويوونکو هم همدا کار کولو. هرکله به چې د پلبينانو اعتراض زور واخيست او چاره به يې هڅوکي ته ورسېده، پاتريسنانو، د دې لپاره چې په دې اور يې اوبه شېندلې وي، په نذر او نياز به يې پيل وکړ او ان ځينې پوروړي به يې د مريه توب له بنده ازاد کړل.

د هغو وضعيت او تګې سم زمور د ټولنې وړيا خوړونکو په دود وې، چې کله نا کله په داسې چارو لاس پورې کوي، د خير ښېګڼې ټولنې جوړوي او وريژې ويشي.

البته د پاتريسينانو دا مهربانې لنډپايې وې او همدا چې د خلکو د پاڅون فشار به لږ شو، دوی خپل ځنډن چلند په مخه وړلو.

له زېږېزه وړاندې په ۲۶۰م کال کې يوه ورځ يو بېوزلی پوروړی د خپل پورغوښتونکي له کوره وتښتېدو او د روم ميدان منځ ته راغی. دې بېوزلي ته يې هومره شکنجه او ځور ورکړی ؤ، چې بشپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان يې په زخمونو بانـدې پوښـل شـوی ؤ. خلـک د دې ننداره له کتلو څخه راوپاربدل او خوځښت يـې وکړ او وسله يې اوچته کړه او غرونو ته يې کډه وکړه. د روم دولت له هغو سره جګړه وکړه او په پای کې د دې لپاره چې هغوی کرار کړي، اړ شـو هغـه پـوروړی ازاد کړي او د پلبينانو ځينې غوښتنې ومني.

پلبينانو داسې ډېر پاڅونونه وکړل او ورځ په ورځ لا زړه ور شول، هسې چې پاتريسينانو اټکل وکړ، چې وضعيت د دوی لپاره خطريزه دی.

کېسـه کـوي، چې يـوه ورځ (لـه زېريـز نـه دوې پېړۍ وړاندې) يو ارباب د مريانو په لاس ووژل شـو. کله چې دا پېښه خپره شوه، يـوه ليکـوال وويـل: «دا هسې خطر دی، چې مـوږ ټـول تهديـدوي»، مقصـد يـې دا ؤ، چې «نـن د هغـه وار ؤ، سـبا بـه زمـوږ وار وي». دې ليکوال حق لاره، ولې هرکله چې د خلکـو پرګنې د يـو مـوټي زلنـدو تـر فشـار لانـدې راشـي، لـه لاسه چې ټکونې خوري، اند کوي، چې دا زلنـدي پـه شخصـي توګـه هـم د ځـواک او زور خاونـدان دي او روږدن (عادت) نه پورته پياوړتياوې لري. خـو همـدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له مظلومانو څخه يو کس جرأت وکړي او ښکاره کړي، چې زلند کومه ځانګړې پياوړتيا د مظلوم په پرتله نلري، دا خبره د نورو مظلومانو د زړه ورتيا لامل ګرځي. ورو ورو هغوی هم په هځه کې کېږي، چې دا خبره وازمويي. له همدې کبله هوښيار خلک به چې کله ځواکمن شول، خپل غليمان به يې په ځانګړې توګه د خلکو په مخکې له منځه وړل، تر څو ولس وويني، چې دغوی له عادي کسانو څخه پورته نه دي او بلکه له هغو نه هم لا ضعيفه دي.

په هره توګه هغه پېښو چې وروسته رامنځ ته شوې، زباته کړه، چې هغه ليکوال بشپړ حق درلودلو. مريان ورځ په ورځ لا زړور شول او خپل اعتراضونه او پاڅونونه يې زيات کړل او هر ځل پاتريسينان اړ وو، د دوی ځينې غوښتنې ومني.

وروستی او تر ټولو کلکه جګړه، چې مريانو د خپل خلاصون لپاره پيل کړه، د سپارتاکوس جنګ ؤ، چې له زېږيزه وړاندې ۷۳م څخه تر ۷۱مه پورې يې بهير وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹

د سپارتاکوس جګړه

تاسو د ډېرو لښکر کښو او نـړۍ نېوونکـو نومونـه اورېدلي، چې هېوادونـه يـې د خپلـو اسـونو تـر پلونـو لاندې وران کـړل، ښـځې او نارينـه او زاړه او ځوانـان يـې پـه خـاورو او وينـو کې وغـزول، لـه ککريـو يـې منارونه جوړ کړل او بشري تمدن ته يې بې شـمېره زيانونه ورسول، خو اند نـه کـوم، چې د سـپارتاکوس نوم مو اورېدلی وي.

سپارتاکوس د هغه کارونو په شـهادت سـره چې کړي يې دي، له سترو مشرانو څخه ؤ او د روم لـوی مشران يې عاجز کړل. د ده کارونه له هغه ځايه چې د هېوادونو نېولو لپاره او زور ويلو لپاره نه وو او بلکه غوښتل يې، چې خلک د زور له بنـده خـلاص کـړي، نوم يې د ډېرو مورخانو له قلمه لوېدلی دی، ولې چې مورخـان عمـومن د خپلـې زمـانې د دولـت جيـره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوړونکي دي او تل خپله ژبه او قلم د زلند د ستاینو لپاره وقفوي.

خو تاسو چې له ناتاره بېزار یاست، ډېر پر ځای دی، چې د سپارتاکوس نوم زده کړی او د ده د جګړو کیسې مغزو ته وسپاری، په ځانګړې توګه چې کولای شی پرتمینې پایلې له هغو څخه لاس ته راوړی.

تر زېږیزه وړاندې ۷۳م کال کې یې ۲۰۰ کسه ګلادیاتوران د کاپو ښار خواته، چې د روم له ښارونو څخه ؤ، بېول، تر څو هغوی په ډګر کې د یو بل وژلو ته اړ کړي. دغه کسان چې له خپل برخه لیک څخه دردېدلي وو، له دې سپکاویو څخه چې دوی ته کېدل، خورا په تنګ شوي وو او په خپلو کې یې پرېکړه وکړه، چې یوبل ته د وروروليٰ لاس ورکړي او د خپل وضعیت لپاره هڅه وکړي.

د هغو په منځ یو کس د سپارتاکوس په نامه ؤ، چې ډېر هوښیار او د ځوانیٰ روح او غښتلی ځواک یې لاره. سپارتاکوس، چې پخوا یې د ایټالیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمال کې شپنتیا کوله، کله هم چې د مریه توب په زنځیر کې ښکېل شو، ازادي یې له یاده ونه اېستله او خپل هم زنځیري یې ازادۍ ته ولمسول. سپارتاکوس ښکاره کړه، چې د بشر وګړي په خپلو کې برابر دي او دا ټول توپیرونه چې په دوی کې پیدا شوي، ټولنیز وضعیت یې لامل دی. که مریان همت وکړي، کولای شي دې ټولنیز وضعیت ته بدلون ورکړي او ځانونه د بندګۍ له بنده وباسي. د سپارتاکوس خبرو په ملګرو باندې اغېزه وکړه او سپارتاکوس وکولای شول د هغو له ۷۶ کسانو سره وتښتي.

د سپارتاکوس د ټولو ملګرو لاسونه تش وو، خو خپل لاسونه یې په لاره کې ډک کړل او د وسلې یو کاروان یې لوټ کړ او کله چې د کاپو د ښار لښکر غوښتل چې د هغو مخنیوی وکړي، هغوی یې بې وسلې کړل او په پای کې یې د وزو غره سر ته کډه وکړه.

د روم په ښار کې پاتریسینان په اندېښنې کې ولوېدل او د سپارتاکوس د مخنیوي لپاره یې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۰۰۰ کسيزه لښکر ولېږلو، خو سپارتاکوس هغو ته ماتې ورکړه. دې کار يوه ښه پايله پيدا کړه او هغه دا وه، چې مريان پوه شول، چې يو ځواکمن ملاتړ يې موندلی دی او ډلې ډلې د غره په لور وتښتول او له سپارتاکوس سره يوځای شول.

بيا هم دوه ځلې نورې دوې ۲۰۰۰ کسيزې ډلې د سپارتاکوس جګړې ته ولېږدول شوې، خو سپارتاکوس هغه بشپړه دړې وړې کړې او له منځه يې يووړې.

هغه څه چې په سپارتاکوس کې د ستايلو وړ دي، دا دي، چې دی له دې بريااوو څخه مست نه شو او خپل عقل يې له لاسه ورنکړ او له غره نه راښکته نشو. يوازې کله کله له غره نه راښکته کېدو او ښارونه يې لوټول او د ټولنې مريان او نور بې برخې يې د ځان خوا ته جلبول.

خو يو شی د سپارتاکوس د ځورېدو لامل شو او هغه دا وو، چې له هغه ځايه چې د ده سرتېري ډېر شول، هغو ته د ډوډۍ رسول خورا ګران شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپارتاکوس غوښتل چې له هغه اندېښنې څخه چې رومیانو ته ورپه برخه شوې وه، ګټه پورته کړي او خپل ملګري د آلپ له غرونو څه تېر کړي او د روم د امپراطورۍ له حدود څخه یې بهر ته وباسي، تر څو هغوی ازاد شي، خو له بده مرغه ټولو مریانو د ده هوښـیاري نلرلـه او نـه پوهېـدل، چـې د دوی وضعیت نشي کولای تر ډېرې اوږدې مودې پورې پایښت ومومي او هر څه ژر تر ژره باید له موکې نه ګټه پورته کړي، د بنسټیزې چارې په فکر کې واوسي.

په دې موکه کې رومیانو خوګڼ شمېرې ډلې، چې یوه ډله یې په یوازې توګه له ۱۰،۰۰۰ تنو څخه جوړه شوې وه، د رومـي سـرېو پـه مشـرۍ د سپارتاکوس جګړې ته ولېږل. سپارتاکوس دغه سرتېري او مشران، چې په نړۍ کې په جنګېدو نامتو وو، بشپړ مات کړل او په ښه توګه بریالی شو.

بیا دلته د پام وړ موضوع دا ده، چې سپارتاکوس تېر وختونه او هغه بلاوې، چې د مریانو پر سر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رواستلې، هېـرې نکـړې او د دې پـر ځـای چـې د جګړې بنديانو سرونه هم هلتـه پـه ميـدان کې پرې کړي، د هغو له منځه يې ځلور سوه کسـه وټاکل او امـر يــې وکـړ، چـې هغــه د «لـوړ نـژاد» خلـک د ګلادياتورانو په څېر په ډګـر کې پخپلـو کې پـه جنـګ بوخت شي، تر څو د زور خوند وڅکي او هغو او نـورو خلکو ته زباته شي، چې هغه څه چې خلـک خـواروي، هغه يوازې زور دی او مريه له دې کبلـه چې زور يـې پر سر ولاړ دی، خوار دی، نـه لـه دې کبلـه چې نـوم يـې مريـه دی. زور د مريـه لـه سـره پورتـه کـړی او ووينی، چې هغه هم لکه د نورو هسې کس دی او کـه نور هم د ده په شان په زور اخته شي، هم هـومره بـه خوار شي.

سپارتاکوس يـوه بلـه ۱۰،۰۰۰ کسـيزه ډلـه ماتـه کړه. خو د دې پرځای چې پرمختګ وکړي، يـو ځـل پـه شـا شـو، ولـې چـې د ښـارونو خلکـو لـه ده سـره موافقت نه کاوه او سپارتاکوس د خپل لښکر د خوړو لـه چمتـو کولـو څخـه پـاتې راتلـو. سـپارتاکوس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهېل(جنوب) په لور لاړو، تر څو د هغه ښارونه له خوړو څخه، چې پروسېرکال يې فتح کړي وو، ګټه پورته کړي. دا خبر روم ته ورسېدو او ټول په خوځېدو راغلل او بيا يې لښکر ولېږلو، چې د سپارتاکوس د شاته کېدو مخنيوی وکړي، خو سپارتاکوس په هېڅ ډول زيانمن نشو او ځان يې، هغه ځای ته چې غوښتل يې، ورساوه.

ورو ورو د سپارتاکوس برياؤو په روم کې بې هانده (حده) ترهورتيا رامنځ ته کړه او په ځانګړې توګه د شتمنو موقعيت داسې د خطر سره مخامخ شو، چې مصمم شول، چې هر څنګه کېږي، د ده ولې وباسي. البته هر څوک چې ډېر شتمن ؤ او لا ډېر مريان يې لرل، د سپارتاکوس له جنسه ډېر ډارېدو او ګټو يې لا ډېره غوښتنه کوله، چې د سپارتا کوس غم وشکېږي. له دې کبله روميانو د روم په اوسېدونکو کې تر ټولو نه بډايو له ډلې نه يو کس د دې دندې لپاره وموند، چې نوم يې کراسوس ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کراسوس، چې د اشکانیانو په زمانه کې له ایران سره هم ځینې جګړې کړې وې، نږدې ۱/۸۰۰/۰۰۰ دیناره (رومي پیسې) شتمني یې لرله او خپله ډېره شتمني یې د داخلي جګړو او د روم د اوسېدونکو له وژلو څخه لاس ته راوړې وې. دا کس خورا کبرجن او د هر ډول احساس څخه تش ؤ.

تر زېږیزه مخکې د ۷۲م کال په مني کې یې کراسوس ته ۱۰ لژبونه (هر لژبون نږدې ۶۰۰۰ کسه کېږي) ورکړل، چې سپارتاکوس ته ماتې ورکړي، خو سپارتاکوس، چې خپلو ټولو کسانو ته خواړه رسولای نشول، ناچاره شو، چې دوی په دوو برخو وویشي او له همدې کبله یې ځواکونه کمزوري شول. د سپارتاکوس د لښکر یوې ډلې، چې ۱۰،۰۰۰ کسان وو، ماته وخوړه، ۶۰۰۰ کسان یې ووژل شول او ۹۰۰ کسان یې د رومیانو په لاس کې بندیوان پاتې شول. نورې ډلې یې هم په شا شوې.

سپارتاکوس، چې ځان له دې مهمې پېښې سره مخ وکتو، پرېکړه یې وکړه، چې د ایټالیا په سهېل کې د سیسلي جزیرې ته لاړ شي، ولې چې د سیسلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزيرې ډېر غنم لرل، هسې چې هغه ځای ته يې د «روم د غنمو جزيره» ويله او خلک يې تل له پاځون لپاره چمتو وو.

سپارتاکوس خپله پرېکړه پلې کړه او په بېړۍ کې سپور شو، خو د سيسلي بېړيو، چې دی يې وړلو، خپل هوډ مات کړ او د هغه ځای حاکم دولت ته خوشمندو لپاره په تنګيو کې په دفاع اخته شو. له دې کبله سپارتاکوس اړ شو، د ايټاليا جزيرې ځنډو ته پناه وېسي. کراسوس چټک له لارې راورسېدو او دی يې کلابند کړ.

ژمی هم راورسېدو او خواړه نه مونډونکي شول، هسې چې که سپارتاکوس له محاصرې څخه راوتی نه وای، له منځه تللو، له دې کبله سپارتاکوس په هڅه کې شو، چې له کراسوس سره په خبرو شي او سوله وکړي. خو دا کار شونی نه ؤ، ولې چې لمړی د اربابانو د ګټو په ضد ؤ او هغو غوښتل، هر څنګه چې کېږي، سپارتاکوس او دا ياغي مريان له منځه يووړي او داسې ښکاره کړي، چې هر څوک که وغواړي چې ځان ازاد کړي، له وژل کېدو پرته بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله نـه لـري. دوهـم کراسـوس غوښـتل چـې د سـپارتاکوس پـه مـاتولو سـره یـو نـوی ویـاړ لاس تـه رواړي او ځـان لا لـوی کـړي. پـه پـای کـې د سپارتاکوس وړاندیز رد شو او په محاصرې کې پاتې شو.

خـو سـپارتاکوس دلتـه یـوه لویـه هوښـیاري وکاروله، یـوه شـپه چې واورې وربـدلې او هـوا توپاني وه، یـوازې د خپلـو ملګـرو لـه درو څخـه یـوې برخـې سره، پرته له دې چې نور خبر شي، هغه ډنډ چې د ده د لښکر نه یې چاپېره کنلی ؤ، په یـوه ځـای کې د خاورو او بوټو سره ډک کړ، له هغه نه تېر شو او ځان یې له محاصرې نه بهر ووېسته. کراسوس ناچاره شو کلابندي خوشې کـړي او د سـپارتاکوس پـه تعقیـب بوخت شي. په دې چل سره هم سپارتاکوس خلاص شو او هم نور ملګري یې.

کراسوس هلو ځلو کې شو او اړ شو لـه روم څخـه مرسـته وغـواړي. هغـو هـم پمپـه لـوی مشـر د ده مرستې ته ورولېږه. بیا هم څو ځلې د سپارتاکوس او کراسوس ډلو تر منځ اخ او ډپ پېښ شـو او پـه هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې کې، چې د بروتیوم په غرونو کې پېښ شو، لمړی د کراسوس پوځ ماتې وخوړه، خو له جنګه لا څه نه وو تېر شوي، چې سپارتاکوس له ورانه نه زخم وخوړو. سپارتاکوس په زنګانو ولوېده او تر وروستي دمه په زنګانو روان ؤ او جنګېدلو، هسې چې ونه توانېدل د ده مړی د نور مړو له منځه، چې یو د بل په سر پراته وو، ومومي.

په دې جګړه کې زر کسه رومیان، یانې د «لوړ نژاد» زر کسه د مریانو په توره په خاورو کې پرېوتل، خو په پای کې جنګ د مریانو له ماتې سره پای ته ورسېدو او کراسوس پرته له کوم رحمه هغه ټول ووژل او د بندیانو په هکله یې، چې شمېر یې تر ۶۰۰۰ ډېر ؤ، امر وکړ، چې د کاپو له ښاره تر رومه پورې د ده د لارې په سر په صلیبونو باندې مصلوب کړي!

د سپارتاکوس یوې ډلې، چې له ۵۰۰۰ کسانو نه جوړه شوې وه، هڅه وکړه، چې ځان شمال لور ته ورسوي او د روم له سرحده ووځي، خو پمپه د روم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشر له شماله راوړسېدو او دوی ته يې ماتې ورکړه او تر وروستي کسه پورې يې عام وژنه وکړه او په دې توګه هغه هم د دې وژلو له لارې يو وياړ تر لاسه کړ!

سپارتاکوس او ياران يې په پای کې ووژل شول، خو په دې خوځښت سره يې ښکاره کړل، چې مريان له هوښياری او نبوغ څخه بې برخې نه دي او که په خپلو کې د يووالي لاس سره ورکړي، وړوونکی ځواک به ولري.

د سپارتاکوس د خوځښت اهميت په دې کې لنډوو، چې د ده د ماتولو لپاره هومره رومي لښکر ته اړه پيدا شوه، چې سزار د روم امپراطور په اتو کلو کې د اوسنۍ فرانسې د فتحې لپاره کارولی ؤ! او حال داچې د سپارتاکوس خوځښت له دوو کلو نه ډېر و نه غزېدو او د زېږيز نه مخکې ۷۱م کال کې له منځ لاړو.

له دې نه وروسته د روم دولت مريانو باندې بنديز ولګاوه، چې نور وسله ولری او په دې موضوع کې يې هومره کلک نېونه وکړه، چې وايي، يوه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو شپون يې په دې ګناه، چې يو خنځير يې په سانګې وژلى ؤ، وواژه!

له دې تاريخه څه پايله اخلو؟

۱ –د ټولنې بې برخي، چې ډېرکي دي، که په خپلو کې د يووالي لاس ورکړي او ځان ښندنې ته چمتو واوسي، داسې ځواک جوړوی شي، چې د زور دستګاه ونړوي. د سپارتاکوس جګړه له دې کبله وحشتناکه وه، چې هغو ببوزلو، چې دغه جنګ يې پيل کړى ؤ، د زړه له کومي د دې جګړې لپاره چمتو شوي وو او له هغه ځايه چې څه شی يې نلرل، چې په دې جګړې کې يې له لاسه ورکړي، بې پروا له غليم سره يې جګړه کوله.

۲ – هرکله چې د ټولنې بې برخي د زور دستګاه د ماتولو په هڅه کې شي، بايد له مخکې يوه نقشه، زده کړې او ټاکلى تشکيلات ولري، ګوندې خپل برى پای ته نشي رسولی. د سپارتاکوس پاڅون هم له همدې کبله پرېکړنده پايلې ته ونه رسېد، چې د ټولنې يو شمېر بې برخي د فشار پر ضد د طبيعى عکس العمل له امله پرته له مخکېنې نقشې څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو کې سره ټول شوي وو او که څه هم سربښندنه یې لرله، خو د پرېکړنده پایلې لاس ته راوړلو لـه دود سره بلد نه وو.

۳ – د ټولنې زورویوونکي، څومره ځواک هم چې ولري، د ټولنې بې برخو د ټکولو لپاره یې کاروی او له هېڅ چل، ټګۍ او ناځوانۍ څخه پروا نـه لـري او وروسـته لـه هغـه چـې بریـالي شـول، د دې ازادۍ غوښتونکو خلکو سره په بشپړه ځناورتیا او قساوت چلند کوي.

هرکله چې د ټولنې بې برخي د زور په وړانـدې لاس په مقاومت پورې کوي، باید په بشپړه توګه دې ته پام وي، چې کـه ماتې وخوري، پرته لـه بشپړه بېوزلۍ او یا مرګ څخه بله لار ورله نه پاتې کېږي او له دې کبله نو په خپله پرېکړه کې باید تم نشي او لـه هېڅ راز سربښندنې څخه ډډه ونکړي.

یـوه ورځ مې خپـل یـوه دوسـت تـه همـدا ټکـې څرګندولو، چې د نـړۍ زورویـوونکي د دې لپـاره چې خپله موخه پر مخه کړي، له هېڅ ناځوانۍ څخه ډکې وسیلې او تزویز نـه بـاک نلـري. دی مخـالف ؤ. ومې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويل خورا رنه ببلګه تا ته راوړم. آيا منې چې لوی کوروش د نړۍ تر ټولو څخه ځوانمرده نړۍ نېونکی ؤ. دې کس يوه ورځ د ځوانی په ورځو کې له پلاره وپوښتل: «پلاره، د دې لپاره چې څوک په غليم بريالی شي، څه شيان لازم دي؟» «... دې موخې ته رسېدو لپاره بايد سړی موکې ته سترګې وغړوي، خپل ځواک پټ کړي، دروغجن وي، غولونه وکړي، غلا وکړي، لوټ وکړي او په هر څه کې په غليم باندې بر شي».

د ټولنې د بې برخو ډېر خوځښتونه له همدې کبله، چې دوی خپل غليمان نه پېژندل او د هغو دغه فورمول يې هېرولو او په هغو يې باور کولو، له منځه ولاړل. خو د ټولنې بې برخي دا فورمولونه نبايد هېر کړي.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰

د مريه بدلون په سرف باندې

مريانو د خوځښتون له امله وروسته له هرې څه مودې څخه نوې باندېوالتياوې لاس ته راوړې او ازدۍ ته نږدې کېدل، خو څو نوره شيان هم وو، چې د دوی په ازادۍ کې يې عمده اغېزه لرله:

د روم دولت ډېر هېوادونه تر خپلې ولکې لاندې راوستي وو او د هغو ټولو شتمنې يې د روم ښار خواته وړلې. د روم دولت په حقيقت کې هسې دستګاه وه، چې په زرګونو کسانو يې فشار راوړلو، د هغو زوښا (شيره) يې ايستله او روميانو ته به يې ورکوله. د کار عمده ځواک په روم کې مريانو جوړولو، چې د مغلوبو هېوادونو وګړي وو. په لمړي سر کې چې د روم دولت پراختيا موندله او دا ټول مريان يې په خپلې ولکې کې راوستل، د هغه کار په پايله کې، چې په مريانو يې سرته رساوه، د روميانو په شتمنۍ کې خارق العاده زياتی رامنځ ته شو. خو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختګ تل پاېښت کولای نشو، ولې چې مريانو له دغې شتمنۍ نه هېڅ برخه نه لرله او پوهېدل، چې که د کار بور يې څومره هم ډېر شي، د هغو برخه به له خوړلو او نه مرلو څخه ډېره نه وي او له دې کبله يې ګټه نلرله، چې د کار افزار بشپړ کړي او د کار ابره پورته يوسي. اصولن دا موضوع په ازموينه کې زبات ته رسېدلې ده، چې هرکله چې ځيني د متروکې په زور په کار بوخت وي، د کار ابرې يې له هغو کسانو څخه چې له شوقه په کار بوخت دي، په ځو ځلو لږه وي.

دوی هېڅکله د کار د افزارو د بشپړولو او د ابرې د پورته وړلو په فکر کې نه دي او دقيق افزار د بې پامې په پايله کې خرابوي. در روم په هېواد کې برسېره پر دې، چې له مريانو سره يې دا ډول چلند کاوه، اصولن لاسي کار يې خوار ګڼلو او دې موضوع هم د روم اقتصاد ته لوی زيان رسولو.

د روم دولت د دې لپاره چې دا زيانونه جبران کړي، اړ ؤ نوي هېوادونه ونيسي او نوي مريان لاس ته راوړي، تر څو په دې توګه د دوی د شتمنۍ تله

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا درنده شي. خو دې هېوادنېولو هم پايښت مونډلې نشوه. د روم دولت په پای کې د ايران له دولت سره، چې هغه هم ځواکمن او نړې نيوونکی ؤ، مخ شو او نور يې پرمختګ ونکولای شو.

په دې توګه د روم دولت اقتصاد په يوه پای تړي کې بند شوې ؤ او لازمه وه، چې يو ټولنيز بدلون رامنځ ته شي او دی له پای تړي څخه راوباسي.

د روم په هېواد کې بزګرو – پرته له مريانو، چې د زياراستونکو ډېرکی يې جوړاوه – هغه کسان وو، چې د خپل کسب او ان د خپلو اوسېدو ځای د بدلولو واک يې نه لاره او د هغو نژاد اصولن د زمکې څښتن پورې تړلی ؤ. دې ازادو بزګرو د مريانو په پرتله څه ښېګڼې درلودلې، خو ورو ورو د مريانو وضعيت د دې بزګرانو وضعيت ته نږدې شو. يانې ورو ورو دود شو، چې مريان له هغه زمکې څخه پرته، چې کرهڼه پرې کوي، بل چېرې خرڅ نکړي، تر څو زمکه بې بزګره پاتې نه شي او له څو پېړيو وروسته دې تګلارې وده ومونده او د دې لپاره چې مريان خپل کارته مينه وال واوسي او زياته ابره توليده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، دوی يې د مريه توب له بنده راواېستل او ويې ويل، چې له دوی څخه هر يو د يوې ځيرې زمکې څخه د ابرې پورته کولو حق ولري، خو د دې زمکې په بدل چې ده ته ورکول کېږي، د خپلې ابرې يوه برخه بايد ارباب ته ورکړي او هغه لپاره بيګار وکړي، خو د دې ابرې کچه او د دې بيګار موده هومره وه، چې نږدې د کار ټول بور يې د بزګر له لاسه اېستلو. ازاد شوی بزګر نور د پخوا په شان د خپل کار د ابرې د کچې په هکله بې توپيره نه پاتې کېده، ولې چې ياد شوې ابره اصولن په ده پورې اړه لرله او ده هيله لرله، چې له هغه نه برخه من شي.

د مريه توب په دور کې هر څه چې د مريه له کاره لاس ته راتلل، اصولن د ارباب برخه وه، خو په دې دور کې د «ازاد شوي بزګر» د کار بور اصولن په ده پورې اړه لرله، خو د هغه عمده برخه يې، د هغه هوډونو پر بنسټ چې پر ده باندې تحميل شوي وو، ارباب ته پرېښودل. دې ازاد شويو بزګرو ته سرف او د دوی دور ته سرواژ وايي، چې هماغه فيوډالي دور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. سرفان په زمکه پورې تړلي وو او د زمکې په خرڅلا سره له یوه ارباب نه بل ته منتقلېدل.

نو ګورو، چې مریه توب نه یوازې د مریانو په ګټه نه وه، چې د اربابانو په ګټه هم نه وه او د هغو زمکې په سرواژ باندې بدلې شوې او هغه څه چې له دې بدلون سره مرسته وکړه، د جرمنانو یرغل په روم باندې ؤ، چې د روم دولت سازمان ته یې ماتې ورکړه او د نویو اړتیاوو پلي کېدل یې اسان کړل. دا یرغل، چې د مریه توب په دور باندې پرېکړنده ګوزار ګڼل کېږي، له زېږیز نه وروسته په څلورمې پېړۍ کې پېښ شو او د سرواژ دور څه نا څه تر اتلسمې پېړۍ پورې یانې نږدې څوارلسو پېړیو په موده په اروپایي هېوادونو کې پاته شو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱

د کوچنیو او منځنیو مالیکتونو له منځ تلل

د روم په دولت (مریه توب دور) کې د دې لپاره چې د ملت شتمني ټوله کړي، بې شمېره مالیې یې ټاکلې وې، چې هم په زمکې او هم په سر وې، تر څو هم له بزګره څخه واخیستلې شي او هم له کسبي څخه او برسېره پردې مالیو نوره قانوني تحمیلې یې هم وضعه کړې وې، د بېلګې په توګه خانانو کولای شول، څومره چې کولای شي بزګران بیګار ته اړباسي، یانې په هغو باندې وړیا کار وکړي او داسې نور.

دغه ټول تحمیلونه لامل شول، چې ورو ورو وړوکی او منځنی مالکیت له منځه لاړ شي. یو د بې شمېره مالیو له امله او بل په دې دلیل چې واړه او منځني خانان د لویو خانانو له تیري څخه بچ نه پاتې کېدل. مالیې هومره ډېرې وې، چې بېوزلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالک به د خپلې زمکې د انګورو او د مېوې ونې به يې پرې کولې، تر څو له هغو ماليو څخه چې په ده پورې يې اړه لرله خلاص شي. له بله پلوه لويو خانانو، ځواکمنو ملکانو هڅه کوله، چې خپلې سيمې پراخې کړي او له دې کبله يې په وړو خانانو باندې ناتار کولو. د بېلګې په توګه هغوی يې اړباسل، چې خپلې زمکې تر تحميلي شرطونو سره خرڅې کړي او دا بېوزلي به چې بربنډ شول، يوازېنۍ هوبله يې دا وه، چې لا لوی خان ته نږدې د يوه اجاره لرونکي بزګر په توګه په کرهڼه بوخت شي.

له دې کبله ځيني بزګر مخکې له دې نه، چې د بېوزلۍ دغې درجې ته راپرېوزي، په دې کې سلا کتله، چې د يوه لوی خان، چې په هغه دورکې يې پټانس ياداوه، ملاتړ ترلاسه کړي. د دې ملاتړ شرط دا ؤ، چې خپل ملکيت بشپړ پټانس ته وسپاري، تر څو هغه هم د زمکې نه د برخې اخيستلو حق د مرګ تر ورځې پورې ده ته وبخښي. په دې توګه يو نسل به چې تېر شو، پټانس به يو شمېر بې ملکيته بزګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې ته لړل او هر څومره به چې د دغو شمېر زياتېدو، د پتانس ځواک هم ډېرېدو او په دې توګه يې کولای شول لا نور بزګر له خپلو ملکونو نه جلا کړي.

نو ګورو، چې د روم دولت په وروستيو کې يانې له څلورمې پېړۍ نه مخکې واړه او منځني مالکيتونه په تدريج سره له منځه لاړ وو او يو شمېر شتمن بريالي شوي وو، چې واړه خانان درې ورې کړي او د زمکې مطلق خاوندان شي او يوازې د زمکې نه برخه اخيستلو حق د ځينو شرطونه په اړوند هغه چاته، چې پخوا خانان وو، ورکړي.

کله چې جرمنانو په څلورمې پېړۍ کې په روم يرغل وکړ او د روم دولت مرکزيت ته يې زيان ورپه برخه کړ، دې لويو خانانو وکولای شول، خپلو ملکيتونو ته لا ښه پراختيا ورکړي او سيمه ايز ځواک ومومي او هم دوی وو، چې وروسته فيوډالان ونومول شول.

پايله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – ځینې غوارې داسې ښکاره کړي، چې فیوډالي (سرواژ) دور یوازې د جرمنانو د یرغل له امله رامنځ ته شو. د هغو د یرغل په پایله کې ؤ، چې مریه توب له منځه ولاړ او د سرواژ رژیم رامنځ ته شو او لوی خانان (فیوډالان) پیدا شول.

خو د تاریخ تجربه څرګندوي، چې د روم دولت سازمان د بدلون دور ته رسېدلی ؤ او ټولنیزو اړتیاوو غوښتنه کوله، چې دا بدلونونه لاس ته راشي او که د جرمنانو یرغل پېښ شوی هم نه وای، دا بدلونونه سر ته رسېدل، خو د جرمن یرغل دا بدلونونه اسان کړل.

۲ – د مریه توب له منځ تلل د مریانو د څښتنانو د زړه سواندی پایله نه وه، بلکه دا موضوع د مریانو د خوځښتونو او د ټولنیزو ضروریاتو په پایله کې پېښ شول.

۳ – د سرواژ دور د مریه توب د دور په پرتله په ځانګړې توګه له حقوقي نظره د ولس ډېرکیو لپاره یوه پرمخ تللی او لا ښه دور شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د سرواژ (فیوډالي) دور په ځېړلو او تحلیـل پیل کوو:

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲

سرفان او نور بزګر

په تېر څپرکي کې مو ښکاره کړه، چې د مريه توب رژيم ناڅاپه په سرواژ رژيم بدل نشو، بلکه دا بدلون د ټولنيزې اوضاع د ودې په پايله کې رامنځ ته شو، د بېلګې په توګه له هغه ځايه چې مريان يې د ماليې د اخيستلو په موکه د زمکې برخه ګڼل، د دې موضوع او نورو مهمو موضوع ګانو له کبله، چې څرګند مو کړل، له هماغه ۳مې زېږيزې پېړۍ د دې دود بنسټ کېښودل شو، چې مريان دې زمکې پورې تړلي وي، تر څو کرهڼيزې چارې ډېره وده ومومي او خانان لا ډېره ابره پورته کړي او ماليې اسانه ټولې کړي. دغه دود په څلورمې پېړۍ کې ځواکمن شو او په دې باندې يې، چې مريه دې د زمکې نه سوا خرخ شي، بنديز ولګاوه او مريه بايد په زمکه پورې تړلی وي. دا قانون که څه هم د خانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مامورینو په ګټه هم ؤ، خو په همدې توګه یې د خان اختیار د مریانو په خرڅلا کې محدود کړ او مریانو ته یې کوچنۍ ازادي ورکوله.

همدې قانون ورو ورو ځواک وموند، تر هغو چې مریه د مریه توب له وضعیت څخه ووتلو او د سرف بڼه یې ونیوله.

په ګرده توګه د سرف توپیر د مریه سره دا ؤ، چې سرف په زمکې پورې تړلی ؤ، کورنۍ یې درلوده، کور او کرونده یې لرله، ارباب یې کولای نشول دی لېرې ځای کې خرڅ کړي، ښځه او بچي یې له ده نه اخیستلای نشول او دا یې هم کولای نشول، چې کور او کرونده، چې له نېکونو څخه ده ته رسېدلې وه، ترېنه واخلي.

د لویو اربابانو زمکې په دوو برخو ویشل کېدلې:
یوه عمده برخه، چې بزګرو ته د کرلو لپاره ورکول کېده او بله هغه برخه، چې د ارباب په کور پورې نښتې وه او د ارباب په لاس کې پاتې کېدله، خو هغه هم باید بزګر د ارباب په ګټه وکري، تخم وشېندي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـو وکړي. پـه ننـه نې نـړۍ کې بزګـران هغـه چې د زمکې خاونـدان نـه وي، دوه ډولـه دي: یـا مـزدوران دي او یا اجاره اخیسـتونکي – خـو پـه منځنیـو پېړیـو کې بزګران په عین وخت کې د اربـاب پـه زمکـو کې مزدوران وو او له پلار نه زوی ته په همـدې وضـعیت کې پـاتې کېـدل او پـه خپلـو زمکـو کې بیـا اجـاره اخیستونکي ګڼل کېدل. خـان کـولای نشـول، هغـه زمکه چې دوی په لاس کې لرله (یـانې خاونـدان یـې نه دي، خو لـه هغـه نـه برخـه اخلـي)، لـه دوی څخـه واخلـي او لـه دې پلـوه داسې وه، چې زمکـه د هغـو خپـل مـال وي، خـو پـه بـدل کې یـې د خانـانو پـه وړاندې هوډونه لرل:

۱ – خان ته د اجارې حق یـې بایـد ورکـړې وای، مالیات یې پرې کړي وای، له غنمو، وربشو، د چرګـو هګیو او له چرګو څخه ارباب ته برخه ورکړي.

۲ – باید د ارباب د زمکې پر سر د کرنې لپاره لاړ شي، ابره یې لو، ګدام او وچ کـړي او دا وړیـا کارونـه یې بیګار بلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – خپل غنم باید د وړه کولو لپاره د ارباب ژرندې ته وېسي، خپله ډوډۍ د هغه په تناره کې پخه کړي، خپل انګور د هغه په مخصوص لوښي کې وزبېښي د دې ټولو په بدل کې مزد پرې کړي او په همدې توګه کچې او وزنونه چې ارباب ټاکل، په بازار کې ومني.

۴ – د ارباب قضاوت ته باید سر کېږدي او له دې کبله هر کله به یې چې ګناه وکړه، ارباب له دوی څخه د ځان په ګټه جریمه اخیستله او که لویه ګناه یې کړې وای، هغوی یې وژل. ارباب د دې لپاره چې ښکاره کړي یې وي، چې د بزګرانو په اړوند د قضاوت حق لري، په خپله زمکه کې یې دار جوړولو او غله یې له هغه نه ځړول.

په دې توګه وینو، چې سرفان د مریانو په پرتله د ځینو باندېوالتیاوو خاوندان وو، خو په هم هغه توګه مو چې وړاندې وویل – او هېڅکله یې نباید هېر کړو – دا باندېوالتیاوې په یوځل لاس ته رانغلې، بلکه ورو ورو او د ټولنې د ضرورتونه پر بنسټ منځ ته راغلې. د دې لپاره چې په دې موضوع سم پوه شو، یانې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشپړه توګه يې درک کړو، چې سرفان په تدريج سره او د ټولنيزې ودې له امله له مريه توب نه جلا شول، د دوی وضعيت په بېلابېلو پېړيو کې څېړو:

د بېلګې په توګه د فرانسې په خاوره کې په ۱۳مې پېړۍ کې هسې کسان وو، چې وضعيت يې د پخوانيو مريانو له وضعيت سره توپير نه درلوده، خو ورو ورو د سرفانو وضعيت وټاکل شو او په هماغه ۱۳مې پېړۍ کې دوه ډوله سرفانو شتون لاره: يو هغوی چې د خپل ځان او د خپلو مالونو په اړوند په بشپړه توګه د ارباب د ځواک اېل وو، تر دې هانده چې ارباب کولای شول له دوی او د دوی د مالونو څخه د خپلې خوښې او ارادې پر بنسټ ګټه پورته کړي. بل هغه چې يوازې له مرګه وروسته يې ټول مالونه ارباب ته رسېدل او ان اولادونو پورې يې اړه نه موندله.

ارباب هرکله چې غوښتل پر هغو يې ماليې او بيګار تحميلولو او هرکله به چې پيسو ته اړ کېده، کولای يې شول له هغو څخه ماليې واخلي. برسېره پردې بزګرو بايد بيګار کړې وای او نور خدمتونه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرته رسولي وای او ګڼ شمېر غیر مستقیمې مالیې یې پرې کړې وای او غالبن یې هومره غرامت پر دوی باندې تحمیلولو، چې د دوی د راتګ عمده برخې په دې لار کې لګېدلې.

خو په ۱۵مې پېړۍ کې د سرفانو وضعیت تر یوه هانده ښه شو. سرفان له هرې بڼې څخه چې وو، کولای یې شول خپل میراث خپلو اولادونو ته ورکړي. ارباب کولای نشول له هغو څخه د یوه ځواک ورستوونکي کار غوښتنه وکړي، خو په همدې پېړۍ کې سرف کولای نشول د ارباب له خوښې پرته له یوه ازاد وګړي سره واده وکړي او ان هغه ښځه یې چې د بل ارباب په سیمه کې وه، کولای نشول د ارباب د خوښې نه پرته په میرمنتوب ومني.

په ۶مې پېړۍ کې بیا د سرفانو په وضعیت کې توپېر پیدا شو. په دې پېړۍ کې سرفان په درې ډوله وو: یو هغه چې د سرواژ له وضعیت نه وتلای نشول او مالیې یې باید پرې کړې وای او بیګار یې کړې وای. بل هغه چې کولای یې شول ازاد شي، خو په دې شرط چې خپله ټوله منقوله شتمني یې د ارباب په زمکه کې پرېښودلې وای. یوه بله ډله هغه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادېدو شرایط یې لا هم اسانه وو او د دې کار لپاره یې باید یوازې هغه زمکه، چې په اختیار کې یې درلوده، ارباب ته خوشې کړي. په دې پېړۍ کې که چېرې یوه سرف له یوې ازادې وګړې او یا د هغه سرفې سره، چې د بل ارباب په سیمه کې وه، واده کړی وای، باید غرامت یې پرې کړې وای. که سرفې ښځې چېرې له ازاد سړي سره واده کړې وای، ازاده نه شمېرل کېدله او په وضعیت کې یې بدلون نه راتللو، مګر دا چې هغه سړی یې ارباب وای. سرف کولای نشول د کومه زمکې خاوندتوب ومني، ولې چې دا عمل په غیر مستقیمه توګه د ده د ازادې لامل ګرځېده، خو د خپل ارباب د رضایت نه پرته یې کولای شول د زمکې څخه د برخې اخیستلو حق ومني.

نو وینو، چې د سرواژ نطفه د روم د امپراطورۍ په دور کې پیدا شوه او د فیوډالیزم په لمړي دور کې یې وده وکړه او شکل یې بدلون وموند، هسې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره وړانـدې راځـو، سـرفان ازادۍ تـه ډېـر نـږدې کېږي.

اوس که د ځانګړو وضعیتونو څخه، چې سـرفانو د فیوډالي دور په هـره پېړۍ کې لـرل، سـترګې پټې کړو او یو بشپړه نظر دې دور ته، چې لـه ۴مې پېړۍ نه یې تر ۱۸مې پېړۍ پورې پایښت وموند، واچـوو، د سرفانو حالت څنګه وینو؟

وینو، چې د دوی وضـعیت د مریـه تـوب دور پـه پرتله ښه شـوی، خـو د مریـه تـوب اصـول یـې لا هـم لمنه نه پرېښې دي او د بېوزلۍ او اسکېرنې په چکړو کې ننوتي دي. د دې لپاره چې دا موضوع څرګنده شي، ښه ده، چې د رعیتو سره د اربابانو چلند ښکاره کړو.

اربـاب لا د بزګـر پـه اړه بشـپړ اختیـار درلـوده او ورلـه داسې ښـکارېده، چې هغـه زمکې، چې سـرف کرلي د ده د ښکار ځنډ جوړېږي، پرته له دې چې د هغه د بدمرغۍ په سوچ کې شي، هغه به یې ورلـه پـه بل مخ واړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارباب له حقونو څخه يو دا ؤ، چې هرکله به لـه کليو څخه تېرېده، رعيتو بايد ځای ورکړې وای او دا موضوع د رعيتو د خورا زيار لامل ګرځېدله، د بېلګې په توګه کله چې يې وغوښتل له يوه کلي نه تېر شـي، چوپړو يې د دې لپاره چې د ده خېټه ښاربه کـړي، هر څه يې چې وموندل، لـه ځانـه سـره يـې يـوړول. بزګرانو ته يې ګواښ وکړ، چې که هغه څه چې لـري، پټ کړي، متروکې به وخوري. په پای کې يې د خپل لوټ مال په کليسا کې غونډ کړ او پـه دې حـال کې چې بېوزلـو رعيتـو لـوږه ګاللـه، دوی د عـيش ټغـر وغوړولو!

تـاريخ ليکونکـو ليکلـي، چـې لـه همـدې اربابـانو څخه يو له هغو کروندو څخه، چې تخم پکې شـېندل شوی ؤ، تېرېدو او له هغـه ځايـه چې ابـره يـې پـه ده پورې اړه نه موندله، هغه يې په بل مخ واړوله.

د دې زور ويلو له امله وو، چې بزګرانو په بېـوزلۍ او بدمرغۍ کې ژوند کاوه. بزګر به خواره ختمين چتې کوډله د غوجل او اخور سره لرله، لوښي يـې ډېـر لـږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، خواړه او کالي يې هغو ابرو پورې تړلي وو، چې ارباب خوښ کېدو، ده ته يې خوشې کړي، د ده خواړه عمومن توره ډوډۍ، سابه، شېدې او په ندرت سره کب او د خنځير غوښه وه. له همدې کبله ځيني بزګران له خپلې کروندې څخه تښتول او په غرونو او ډاګونو به يې سر شو او کله د بېلګې په توګه د دې لپاره چې خپلې زړې مور ته خواړه ورکړي، غلا او لاروهلو ته اړ کېدل. نورو وګړو، چې د دې څواک يې نلرلو، سوالګري کوله.

د فرانسې د ۱۸مې پېړۍ له شاعرانو څخه يو وايي: په بيابان کې انسان ته ورته موجودات ګورې، چې زمکې ته ټيټېږي او چې ورنږدې کېږې، ګورې، چې د بوټو ولې د خوړلو لپاره راکاږي. دغوی د فرانسې بزګران دي!

آيا نه ګورې، چې د هغې دورې د سرفانو او زمونږ د هېواد ننه نيو بزګرانو تر منځ کوم ورته والی شتون لري؟ دا فصل بيا ولولی او دا وموندی، چې دا ورته والی په کومو ځايونو کې دی. مونږ به هم په راتلونکو څپرکو کې له دې ورته توبونو څخه خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳

واسال او سينيور

دفيـــوداليزم پايليـــد(دورنما): پرتــه لــه هغــه اېلانيته څخه، چې د يـوه هېـواد د وګړو او دولت تـر منځ شتون لري، يو بل ډول اېلانيت هم شتون لرلـو او هسې اېلانيت دی، چې بېوزلي او خـوار کسـان يې د شـتمنو او ځواکمنـو کسـانو پـه وړانـدې لـري. دا اېلانيت له هغه اېلانيت څخه جلا دی، چې د بېلګې په توګې د مريه او ارباب تر منځ يې شـتون لاره، ولې چې د مريه اېلانيت له ارباب څخـه قـانوني او جبـري دی، خـو د بېـوزلي اېلانيـت لـه شـتمن څخـه هسـې اېلانيت دی، چې ظـاهرن پـه هـېڅ قـانون کې ثبت شـوی نـه دی او نـه د بېـوزلي سـړي پـه ارادې پـورې تړلی دی او حـال دا چې بېـوزلی سـړی د دې لپـاره چې د زورويوونکـو د ناتـارو او بېـوزلۍ څخـه تـر څـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هانده پورې وساتل شي، اړ دی، چې د شتمنو او ځواکمنو کسانو اېلان واوسي.

دا وضعيت په پخوانيو ټولنو کې هم شتون لاره او د بېلګې په توګه د مريه توب په دور (د روم امپراطورۍ) کې يې هم شتون لرلو او په ځانګړې توګه ګورو، چې لمن يې د زېږيز په څلورمې پېړۍ کې خورا غوړېدلې ده.

په دې توګه چې واړه خانان ځانونه د لويو خانانو تر ننګې لاندې راولي، تر څو هم د ځواکمنو کسانو له ناتاره وساتل شي او هم له دې لارې مهمې دولتي دندې ونيسي.

دا «ننګه غوښتنې» بېوزلو او کمزورو کسانو پورې محدودې نه وې، بلکه په هماغه لمړې زېږيزې پېړۍ کې لېدل کېږي، چې مهم کسان هم ځانونه د لا مهمو خلکو تر ننګې لاندې راولي او البته د هغه چا ننګه چې تر نورو ډېر د پاملرنې وړ وه، چې له نورو يې لا ډېر ځواک لرلو.

د «ننګې» عمومي شرط دا ؤ، چې زبرلاسی کس خپل لاس لاندې کس نه د هر څه په وړاندې ننګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي او د ببلګې په توګه که دی وړوکی خان دی، دی د مالیو له پرېکولو څخه تر شوني هانده وبخښي. لاس لاندې کس هم باید په بدل کې ځان د هغه زبرلاسي د اېلانیت لاندې راولي.

ورو ورو دې موضوع پراختیا وموندله او د «ننګې» لپاره خاص شرایط رامنځ ته شول او د ننګې له شرطونو څخه يو دا ؤ، چې وړوکی خان خپل ملکيت بشپړ لوی خان ته خوشې کړي، تر څو هغه هم په بدل کې د مرګ تر موکې پورې د زمکې نه د برخې اخيستلو حق ده ته وروبخښي. په دې توګه چې يو نسل تېرېدو او د زمکي لمړي خاوندان مړه کېدل، لوی خان او يا د هغه ځای ناستي به خپلې مخې ته يو شمېر بې زمکې بزګر لرل او هر څومره به چې د دې بې ملکه بزګرو پر شمېر زیاتېدو، هومره به هم د لوی خان ځواک ډېرېدو او کولای يې شول نور بزګر هم په دې تدبير سره له ملکيت څخه بې برخې کړي.

نو وينو، چې له څلورمې پېړۍ وړاندې د روم امپراطورۍ د زمانې په وخت کې واړه او منځنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالکیتونه په تدریج سره له منځه لاړ وو او یو شمېر شتمن توانېدلي وو، چې واړه خانان دړې وړې کړي او د زمکې مطلق مالکین شي او یوازې د زمکې څخه د برخې اخیستلو حق ځینو کسانو ته، چې پخوا خانان وو، د ځینو شرطونو په بدل کې ورکړي او دغه لوی خانان هماغه کسان وو، چې د همدې اقتصادي وضعیت له امله، چې رامنځ ته شوی ؤ، سیاسي او قضایي ځواک هم ومونده او د سینیور په نامه یاد شول او د فیوډالیزم دوره یې منځ ته راوړه.

فیوډالي ډله: مسلمه ده، چې د اقتصادي ځواک یانې د شتمنۍ د تولید د وسایلو لرل، چې په هغه وخت کې بزګر او زمکه وو – سیاسي ځواک منځ ته راوړي او بزګر چې د خپلې شتمنۍ څخه څه چې د خپل ژوند له توښې نه، چې زمکه ده، بې برخې کېږي، ناچاره دی ځان په بشپړه توګه د لوی خان ځواک ته وسپاري، په ځانګړې توګه چې د جرمن کامونو تر یرغله وروسته د روم دولت او ځواک مرکزیت ته لوی زیان ورسېدو او د دولت او قانون ننګې کمښت ومونده او له دې کبله بزګر نه یوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصاد له پلوه، بلکه له سیاسي او قضایي اړخه هم د لویو خانانو (سینیورانو) په لاس کې ولوېدل.

د ځمکې خاوندانو سیالي په خپلو کې په همدې توګه پایېنه لرله او له هغه ځایه چې دوی ځواکمن شوي وو او مرکزي دولت کمزوری شوی ؤ، د ځمکو دې خاوندانو لکه د وړو دولتونو خاوندانو په توګه په خپلو کې په جګړو پیل وکړ او ځینې له ځینو نور ځواکمن شول او د هغو کمزوري، چې اړ شول د خپلو ځمکو د ساتلو لپاره د لا لویو خانانو د ننګې لاندې راشي، **واسال** ونومېدل او هغه لا لویو خانانو ته یې د **سینیور** لقب ورکړ.

د سینیورانو معامله له واسال سره له یوه پلوه هغې معاملې ته ورته وه، چې واسال له وړو خانانو سره کړې وه، یانې له هغه مودې څخه، چې د «ننګې» اړیکه د واسال او سینیور تر منځه شتون وموند، واسال خپل مالکیت په بشپړه توګه له لاسه ورکاوه او یوازې د ځمکې څخه د برخې اخیستلو حق یې لرلو او د دې برخې اخیستلو حق په بدل کې باید درې دندې په غاړه واخلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – د مطلقې وفا لرلو قسم باید یاد کړي، په دې مانا چې د سینیور «سړی» شي او هر کله چې سینیور دی جګړې ته وروغواړي، د هغه مرستې ته ورشي.

۲ – ځان د سینیور د نیاوګلوی او قضاوت اہل وګڼي او د هغه حکم سره خوښ واوسي.

۳ – په هغو اړوندونو کې، چې دودونو او رواجونو ټاکلي وي او په هغو اړوندونو کې چې سینیور پیسو ته اړه پیدا کړي، هغه سره د پیسو مرسته وکړي.

نو وینو، چې د فیوډالي دور له ځانګړتیاؤ څخه دا دی، چې د تېرو دورونو د اقتصادي وضعې پایلو په دې دور کې وده وکړه او د هغو سیاسي او قضایي اغېزې – چې د سینیور، واسال او سرف منځ ته راتلل دي – څرګندې شوې. په دې دور کې د واسال لپاره هېڅ دولت او قانون نشته، مګر د هغه چا اراده، چې د اقتصاد له پلوه پر ده باندې پورته والی لري، یانې هغه څوک چې د زمکې څېښتن پېژندل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره به چې يو سينيور له دې کبله، چې نوي واسالان په ده پورې تړل کېدل، ځواکمن کېده، هومره به يې کولای شول نور واسالان تر خپلې نګې لاندې راولي او د لا ډېرو زمکو خاوند شي. په دې ډول د فيوډالانو ډلې شتون ومونډ، يانې هغې ډلې چې بشپړ سياسي او قضايي ځواک يې د هغه چا په لاس کې ؤ، چې د زمکو لرلو له کبله يې په نور پورته والی ترلاسه کړی ؤ. ځومره هم چې دا دستګاه بشپړه شوه، د پاچا ځواک لږ شو او په هغه دور کې چې فيوډاليزم وده مونډلې وه، پاچا په حقيقت کې د پاچايي ځواک نه لرلو، ولې چې سياسي ځواک اقتصادی ځواک ته اړ دی او پاچا په دې دور کې اقتصادي ځواک نه لاره، ولې چې د شتمنۍ توليد کوونکې طبقه يانې بزګران او کارګران يوازې د لاسالانو تر اداري لاندې وو او هر لاسال هم يوازې خپل سينيور پېژانده او هر سينيور په خپله سيمه کې د ماليات ټولولو په اړوند واکمن ؤ. له دې کبله پاچا سينيورانو ته ډېر اړ ؤ، تر دې چې سينيوران پاچا ته اړ وي او له دې کبله حقيقي ځواک يانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادی ځواک یې په لاس کې نلرلو او په پایله کې یې سیاسي او قضایي ځواک هم نـږدې لـه لاسـه ورکړی ؤ.

نو وینو، چې د فیوډالیزم په زمانې کې د ټولنې د بېلابېلـو ډلـو تـر مـنځ یـوازېنې اړیکـه زمکـه وه او پـه همدې توګه وینو، له دې کبله چې پخواني اقتصـادي رژیم بدلون وموند، نـوی مالکیـت رامـنځ تـه شـو، پـه دې مانـا چې د زمکې پـه اړه ازاد او مطلـق مالکیـت نږدې له منځ ولاړ او سرفانو عمومن زمکـه یـوازې د برخې اخیستلو لپاره په واک کې لرله.

پایله:

۱ –اقتصادی وضعه وه، چې سرفان او سینیوران او د دوی حقوقي دندې یې رامنځ ته کړې.

۲ – د فیوډالیزم پـه دور کې زمکـه د شـتمنۍ تـر ټولـو لویـه وزلـه او د ټـولنې د بېلابېلـو ډلـو تـر مـنځ اصلي اړیکه وه.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴

رنځورتیا، قحطی، مرګ، پاڅون

د بزګرانو رنځوونکې وضعه مو ولېدله، د ملک لرونکو ژوند مو هم وڅېړه، او له دې موضوع څخه خبرې کوو، چې د وضعې خرابي او د کارونو خرابي چې د پرله پسې جګړو په پایله کې رامنځ ته کېدله، د لویو قحطیو لامل ګرځېدله، چې یو ځل به یې ګڼ شمېر بزګران د مرګ ډاګ ته لېږل.

د بېلګې په توګه د ۹۷۰م زېږیز څخه تر ۱۰۴۰م زېږیزه پورې نږدې ۴۸ ځلې په فرانسې کې قحطي رامنځ ته شوه.

قحطیو عمومن سیمه ایزه بڼه لرله، خو کله یې هم عمومیت موندلو. په ۱۰۰۰م زیږیز کال کې داسې یوه لویه قحطي پېښه شوه، چې د روم ټوله نړۍ یې ونېوله او لږ داسې څوک ؤ، چې د لوږې په مونګولو کې پرېنوزي. خلکو نه یوازې د ځناورو او تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو وحشي حيواناتو غوښې خوړلې، بلکه د ښځو او ماشومانو غوښې به يې هم خوړلې. دې قحطۍ بله اغېزه هم لرله، په دې مانا چې بد خواړه د وبا د پراختيا لامل شول او دې وبا له قحطۍ څخه لږه خطره نلرله، د بېلګې په توګه په هماغه وختونو کې د فرانسې په يوه ايالت کې يې سپين ګل د وړو او سبوس سره ګډولو د ډوډۍ نوم يې پرې اېښودلو.

ډېري وګړو، چې خپله لوږه يې په دې ډوډۍ ورکه کړای شوه، وپړسېدل او مره شول. دې قحطۍ د خلکو په روغتيا باندې خورا بده اغېزه لرله او په پای کې يې اروپا ته يو طاعون راوستلو، چې درې بشپړه کاله يې ټوله اروپا نېولې وه.

د دې ټولو ناروغيتاؤ او قحطۍ له کبله چې پېښې شوې او په ځانګړې توګه د هغه ناروغۍ له امله چې په ۵۴۱م او ۵۴۲م زېږيز کال کې په مصر، سوريې، ايران او اروپا کې خورې شوې، ورو ورو خلک باوري شول، چې يقينن کوم سحر او جادو شتون لري، چې د ناروغۍ لامل ګرځېدلې. د هغو فکرونه لا دومره خلاص شوی نه وو، چې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغۍ حقیقی لامل درک کړي او په دې پوه شي، چې دا ناروغي د سمو خواړو، سالم کور او روغتیا د نلرو له امله رامنځ ته شوې ده. له دې کبله ناهوبله وو، غیبي ځواکونو ته اړ شي او د بېلګې په توګه کوډګر د ناروغۍ لامل وګڼي. له همدې ځایه په ښه توګه کولای شو د خرافاتو د پیدا کېدو حقیقی لامل درک کړو.

ترهغه پورې چې بشر د هغو بلاګانو په وړاندې، چې په ده باندې رالوېږي، کمزوری او بې ځواکه دی او د هغو لامل کشفولای نشي، تل به په غلطو عقیدو پورې تړلی وي، اړ به وي هغو بلاګانو ته یو خیالي لامل وتوګي او له دې کبله به په خرافاتو اخته شي. که چېرې غواړو چې خرافات له منځه ولاړ شي، اصلي هوبله دا ده، چې بشر ځواکمن کړو، یانې د بشر مادي وضعې ته داسې سمون ورکړو، چې د بلاګانو او ناتارونو په منګولو کې کمزوری نه وي.

په هره توګه، په کوډګرۍ باندې دې باور دومره ځواک وموند، چې کېسه کوي: کله چې د بورګني

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د فرانسې يو ولايت) ملکه د ناروغتيا له امله مړه کېدله، له مېړه نه يې هوډ واخيست، چې هغه طبيبان، چې د دې معالجه يې کوله، ووژني!

بيوزلي بزګران له يوه پلوه د سينيورانو تر فشار لاندې وو او له بله پلوه د بېوزلۍ تر فشار لاندې – دا ناروغتيا او قحطۍ هم برسېره پردوی بارېدلې، تر څو چې په پای کې تنګ شول او په ځينو خوځښتونو يې لاس پورې کړ.

د بېلګې په توګه د **فرماندي** بزګر، چې د فرانسې يو ولايت دی، په کال ۹۸۸ کې پاڅېدل او له خپلو منځو نه يې څو کسه وټاکل، تر څو د سينيوروانو سره په خبرواترو کې شي، خو دا بېوزلي استاذي د سينيورانو له خوا ټوټې ټوټې ببرته راستانه شول (ياڼې د هغو غوږ، پزه يا لاس يې پرې کړی ؤ) او د سپارې پر سر ببرته راوګرځېدل.

خو د سينيورانو دې قساوتونو ونه کولای شول د بزګرانو د پاڅون مخنيوی وکړي او هغو بيا هم لاس په پاڅونونو پورې کړ او د بېلګې په توګه په کال ۱۰۰۸م کې يې هم به ځينو ولايتونو کې لاس په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوځښت پورې کړ، خو د هغو لوی خوځښت په ۱۳۵۸م کال کې پېښ شو اوپه **ژاکري** باندې ونومول شو.

پېښه دا وه، چې د فرانسې په یوه شمالي ایالت کې بزګرانو د خپلو سینیورانو پر ضد په خوځښت لاس پورې کړ. دا پاځون لکه اور چې په مزرو کې پرېوزي، د فرانسې ټولو بزګرو ته یې پراختیا ومونده او د هغه هېواد شمال او ختیز یې ونېوه. په ځینو ښارونو کې د منځني حال خاوندو خلکو هم، چې بورژوازي نومېدل، له بزګرو سره مرسته وکړه او د پاځون اور لا لوړ شو. سینیورانو لاس او پښې ورکې کړې او له هغه ځایه، چې خطر یې وکتلو، په خپلو کې سره نږدې شول او په یووالي سره یې د سر غړونکو په له منځه وړلو کې همت وکړ او په پای کې یې هغو ته ماتې ورکړه.

د دې ماتې خوړونکو بزګرانو په اړوند یې هېڅ رحم ونکړ او ان کله چې هغه سرغړونکي یې، چې د اشرافو اردو ته یې پناه راوړې وه، په بشپړه ناځوانې ووژل او په خپل دې عمل سره یې د بشر په تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ځووم ځل لپاره ښکاره کړه، چې حق هېڅکله په زاریو انسان ته نه ورکوي او د نړۍ زورویوونکي د بېوزلو خلکو د اوښکو په وړاندې له ځناورډولو چیغو او سانګې له څوکې څخه پرته بل څه نلري.

په هر حال، د فرانسې اشرافو یاغي بزګر په هسې قساوت او ځېرنتیا سره ووژل او جونګړې، کلي او د هغو مشران یې له خاورو سره سم کړل، چې د **ژاکری کلمه** له خپلې لمړنې مانا څخه راوتلې ده او په فرانسوي ژبه کې هر هغه پاڅون چې په خونړیو او وحشي سزاګانو سره مات شي، ژاکري نوموي. د بزګرو دا خوځښتونه لامل شول، چې ځیني تولنیز باندېوالتیاوې تر لاسه کړي، دبېلګې په توګه له هغه ځایه چې بزګر(سرفان) له زمکو څخه تښتول، سینیوران ورو ورو اړ شول، چې ځینې زمکې هغو ته په واک کې ورکړي او دوی ازاد کړي. دا زمکې که څه هم ډېر څه نه وو، سره د هغه د بزګرو لپاره یو لوی باندېوالی شمېرل کېدو، ولې چې په دې توګه ازادېدل او سینیورانو کولای نشول پر هغو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې مالیې تحمیلې کړي او هغوی ډېر بیګار کړي، خو د سرفانو د کروندو ازادېدنو او د فیوډالي اصولو راپرځېدنو نور مهم لاملونه لرل، چې په راتلونکو څپرکو کې به یې څرګند کړو. وړاندې تر هغه باید د فیوډالیزم په دور کې د صنعت او سوداګرۍ په هکله لنډه څرګندونه وکړو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵

صنعت او سوداګري تر یوولسمې پېړۍ پورې

په ۶مې او ۷مې پېړۍ کې اربابانو د خپلو زمکو له ابرو څخه ژوند کاوه او د دوی د احتیاجونو عمده برخه، لکه کالي او داسې نور هم په هماغه زمکو کې چمتو کېدله، یانې پخپله بزګر وو، چې خپلو اربابانو ته یې توکرې اوبدلې او بوټان یې ګنډل او د دوی نورې اړتیاوې به یې پوره کولې.

عبادتګاوو یانې هغه ځایونو، چې کشیشان او روحانیان هلته اوسېدل، عمومن ډېره پراختیا لرله، خو دې عبادتګاوو له هغو ابرو څخه، چې خپله یې چمتو کولې، ژوند کاوه او ان داسې چې د هغه وخت له تاریخونو سرې پوهېدلای شي، تر ټولو ښې توکرې د هغو ښځو په لاس اوبدل کېدلې، چې په دې عبادتګاوو او د نړې خوشې کوونکو کورونو کې یې ژوند کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې وضعې څخه کومه پايله ترلاسه کېدله؟

د دې وضعې پايله دا وه، چې کليو بهر ته کوم اړتيا نه لرله او د ښار له صنعته بې نيازه وو. روښانه ده، چې ښارونه هم په دې توګه د صنعت خاوند نه ګرځېدل، ولې چې صنعت د اړتيا په پايله کې رامنځ ته کېږي او کله چې اړتيا نشته، صنعت هم نشته.

نو په دې دور کې د ټولنې اقتصاد پر کليو باندې څرخېدو او صنعت کوم پرمختګ نه لاره او له هغه ځايه چې د اربابانو سيمو د خپلو اوسېدونکو اړتياوې په خپله بشپړولې او نږدې نورو برخو ته يې کومه اړتيا نه لرله، د جنسونو بدل او سوداګرۍ کوم پرمختګ نه لرلو.

له هغه ځايه چې ښارونو په دې دور کې کوم مهم صنعتونه نلرل، وګړي يې هم ډېر نه وو او ان د هغو ښارونو پرګڼې، چې د طبيعي وضعې په پايله کې يې کولای شول مواد لاس ته راوړي او له تيګو نه يې څو پوړه ماڼې جوړولای شوې، په هر هکتار(هکتار له ۱۰،۰۰۰ مربعو مترونو سره سم دی) کې يې له ۳۰۰ کسانو نه تېرى نه کولو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسې هېڅ ښار له ۸ زرو نه تر ۹ زرو کسانو ډېرې پرګڼې نه لرلې و عمومن د ښارونو نفوس ۲ تر ۵ زرو پورې ؤ.

البته بيا هم په دې دور کې لږشانې سوداګري او صنعت موجود وو او هسې خلکو هم شتون لاره، چې بوختيا يې سوداګري وه، خو دا صنعت او سوداګري هومره کوچني وو، چې هغه کولای نشو د دې دور د اقتصاد بنسټ وګڼو.

ځينې داوه کوي، چې د مارسي ښار (د فرانسې په سهېل کې) په همدغه دور کې د ځلانده سوداګرۍ اقتصاد خاوند ؤ او له قسطنطنيې، سوريې، افريقا، مصر، اسپانيې او ايټاليا سره يې سوداګري کوله. د داوه سمه نه ده او نومړې سوداګري خورا کمزورې وه، لامل يې دا ؤ، چې د مارسي ښار په هغه وخت کې وړوکی ښار ؤ، چې له ۲۵۰۰ مترو ځخه يې ډېر محيط نه لاره او اوسېدونکو يې له ۸ زرو تر ۹ زرو تېرى نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو موږ هماغه پخواني خبرې تکراروو، چې په ۶مې او ۷مې پېړۍ کې صنعت او سوداګرۍ کوم رونق نلرلو او کرهڼه د اقتصاد بنسټ ګڼل کېدله.

په ۸مې، ۹مې او ۱۰مې پېړۍ کې هم وضعه په همدې توګه وه او د زمکې مالکيت په ځانګړې توګه خورا پراختيا ومونده، هسې چې د بېلګې په توګه يو روحاني د ۹مې پېړۍ په لمړي سر کې د ۳۳،۰۰۰ هکتاره کرهڼيزې زمکې خاوند ؤ.

سينيورانو نه يوازې دا چې سرفان يې کار ته اړ کول، چې زمکې وکري، چمنونه او ځنګلونه وساتي، بلکه د دوی له خبرتيا او کارپوهۍ او فني مهارتونو نه هم ګټه پورته کوله او د بېلګې په توګه يو شمېر پېښان(آهنګران)، ډوډې پخوونکي، ترکاڼي او نور يې په اختيار کې لرل، چې د هماغه سرفانو له منځه راوتلي وو. د سرفانو ښځې هم عمومن په تار سکڼلو او ټوکر اوبدلو بوختې وې.

په لنډه توګه ويلا شو، چې د يوه سينيور سيمه په يوه وخت کې يوه پراخه بنګاه، يوه پراخه کرونده او يوه پراخه کارخونه وه، په دې حال کې، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنعتي بنه يې کمزورې او تر ډېره پورې يې کرهنيزه بڼه لرله.

نو هره سيمه د خپلواکې خاونده وه، ولې چې د سينيور او سرفانو ټولې اړتياوې يې بشپړولې. هسې چې سينيور هيڅ څه له بهر نه نه پيرودل.

د يوه سينيور په بېلابېلو سيمو کې مبادله ايزو او سوداګري اړيکو شتون نه لاره، سينيورانو د دې لپاره چې لږ مونډونکې ابرې لکه مالګه، زيتون غوړي، شراب او کتان هم په لاسرسي کې ولري او پېرودلو ته يې اړ نشي، په لرو واټنونکې کې يې زمکې، چې دا ابرې به يې لرلې، لاس ته رواړلې او سرفان يې اړباسل، چې دا لېږې لارې ووهي او خپل ارباب ته هغه ابرې راوړي. د بېلګې په توګه يو شمېر هالنډي خانانو د فرانسې په شمال او يا د هغو د رودونو په اوږدو کې، چې له جرمني نه تېرېدل، تاکستانونه لرل او هغو خپلې سراوبې يې د هغو تاکستانونو له ډولاډولو شرابونو څخه ډکولې.

البته دې وضعې، چې هرې سيمې له اقتصادي پلوه خپلواکي لرله او د خارج له ابرو څخه بې نيازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه، د مبادلې او سوداګرۍ لپاره يې مساعده زمينه نه رامنځ ته کوله. په هماغه توګه مو چې وويل، ځيني ليکي، چې په دې دورکې هم سوداګرانو او بازارونو شتون لاره. موږ هم د دې موضوع نه منکر نه يوو، خو وايوو، د دې سوداګرانو شمېر ډېر لږ او د هغو سوداګري خورا کوچنۍ وه. په دې دورکې د ښکلا د شيانو او لږموندونکو خارجی ابرو سوداګرۍ، چې يو کوچنی لږکی د هغو ګاکان(مشتريان) وو، تر يوه هانده پورې رونق لرلو.

په ډېرو ښارونو کې ځينې بازارونه لېدل کېدل، خو ډېري يې کوچني سيمه ايز بازارونه وو، چې بزګر په مياشت کې يو ځل د خوارو ابرو د خرڅلا لپاره هغو ځايونو ته تلل. دې کوچنې سوداګرۍ په هغو موکو کې، چې قحطي به راتلله او د پروس سيمې يې په بشپړه توګه ورانولې، تر څه هانده پورې يې ځان ته سر او ښه نېوله. دغه بزګران، چې د ځانګړو پېښو په راتلو سره به يې کله کله په مبادلې لاس پورې کولو، نبايد له هغو کسانو سره، چې دنده يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګري وه، غلط کړو. د دې «سوداګرانو» زيات شمېر هغه کسان وو، چې ګرځندويه وو، يانې يوه پنډه يې لرله او له يوه ښار نه بل ته د خرڅلا لپاره تلل.

نوکولای شو د فيوډاليزم ځانګړتياوې تر ۱۱مې پېړۍ پورې داسې لنډې کړو:

د ټولنې اقتصاد په کليو تاوېدو او صنعت کوم رونق نه لاره. د هر سينيور سيمې خپلواکي لرله. د زراعت ابزې هم عمومن له دې کبله، چې د بزګرو د کار افزار بشپړ نه وو، کوم رونق نلرلو. مبادله او سوداګري ډېره لږه وه. ښارونه واړه او لږوګړي (لږ نفوسه) وو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶

صنعت او سوداګري تر يوولسمې پېړۍ وروسته

د کرهنې پراختيا نـږدې لـه ۱۱مې پېړې څخـه پيـل شـوه، ولې چې ورو ورو د سـينيورانو او بزګرانـو لپـاره ثابتـه وضـعه رامـنځ تـه شـوه او لـه بلـه پلـوه د سرفانو ازادول پيل شول.

ولې يې سرفان ازادول؟

ولې چې سرفان پـه تـدريج سـره لـه ژونـده تنـګ راغلي وو او خپلې زمکې يې خوشې کولې او تښـتېدل او يا دا چې ياغي به شول او په خوځښت به يـې لاس پورې کاوه او حال دا چې د خپلو ازادېدو په بدل کې حاضـر وو، ډېـرې روپـۍ خپـل اربـاب تـه پـرې کـړي. اربابانو د دې لپاره چې د سـرفانو لـه خوځښـته او پـه همدې توګه د دوی لـه تيښـتې څخـه يـې مخنيـوی کـړې وي او داسې کـار يـې کـړی وي، چې هغـوی زمکې بـې بزګـره پـرې نـږدي، هغـوی يـې ازادول او زمکه يې دوی ته په اجارې ورکولـه. پـه دې توګـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرفانو ستونزمنې وضعې لربښت موندلو، ولې چې اربابانو نور کولای نشول پر ازادو اجاره لرونکو باندې مالیې او بېګار تحمیل کړي.

د همدې موضوع ګانو اغېزه وه، چې په کرهنې کې رونق پیدا شو او نفوس مخ په ډېرېدو شو، هسې چې له ۱۰۹۰ څخه وروسته د قحطیو شمېر لږ شو. سوداګرۍ هم د ځینو پېښو له امله، چې لاندې یې څرګندوو، دود وموند:

د سکندناوي جزیرو یو شمېر خلک، چې په سمندري غلاوو بوخت وو، د انګستان څنډو ته یې د فرانسې له شمال لویدیز ښار نرماندي له لارې یرغل وکړ، په هغو ځایو کې میشته شوي وو. دوی وروسته له دې چې په انګلستان او فرانسې کې یې ځای ونېوه، ورو ورو یې له تېرو دودونو څخه لاس واخیست او د سمندري غلا پر ځای په سمندري سوداګرۍ بوخت شول. دوی په وچې لارې روسیې ته تګ راتګ وکړ او ځانونه یې قسطنطنیې او بغداد ته ورسول او د نړې د دې بېلابېلو برخو کالی یې اخیستل او خرڅول، خو د دوی سمندري سوداګرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر رونق لرلو. وړاندې له دې چې دوی په سمندري غلا بوخت شي، يوې سوداګريزې لارې په بالتيک سمندرګي کې شتون لاره. دوی دا لاره په ۱۹مې پېړۍ کې د خپلو غلاوو په وجه پرې کړه، خو په ۱۱مې پېړۍ کې، چې خپله په سوداګرۍ بوخت شول، دا لار يې بېرته پرانېستله.

په دې موکې کې په هالنډ او بلژيک کې هم سوداګرۍ يو څه دود وموند، ولې چې دا دوه هېوادونه د سمندر په څنډه پراته دي او څو رودونه له هغو څخه تېرېږي او سمندر ته لوېږي او دا دوه هېوادونه د دې رودونو له لارې مرکزي اروپا سره اړيکې موندي. د هالنډ او بلژيک هېوادونو خپل کالي او د مرکزي اروپا کالی د سمندر له لارې انګستان او دنمارک ته وړل.

يو بل مرکز هم په همدې پېړۍ کې رامنځ ته شو او هغه ونيز ؤ، چې د ايټاليا په ختيز کې پروت دی او سوداګريز موقعيت لري.

د عيسی پيغمبر زيارت هم يوه سوداګريزه لار رامنځ ته کړه او وروسته له دې چې صليبي جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښې شوې او د اروپا خلک د ختيز له تمدن او د هغه ځای له کاليو سره اشنا شول، هسې چې وبه يې ګورو، له ختيز سره سوداګرۍ ته يې رونق ورکړ.

له ۱۱مې پېړۍ څخه د مديترانې سمندرګی د سوداګريزو اړيکو مرکز شو. اروپايي سوداګران د شام او چين د ورېښمنو، د ايران قالينو، د افريقې عاج، د هندوستان درمل او د عربستان د عطرونو د رانېولو لپاره د شام د هېواد بندر او د سکندريې بندرګي ته راتلل. له دې کبله قسطنطيې اهميت وموند او لويديزي اروپا سوداګرانو په هغه ځای کې په خپلو کې په سيالۍ پيل وکړ.

هسې، چې يو فرانسوی پروفيسور ليکي، چې د ۱۰ – ۱۲ پېړيو لمړني سوداګران هماغه بې کوره کسان وو، چې د خوړو د غوښتنې لپاره دې خوا او هغې خوا ته تلل. دې کسانو ورو ورو حس کړله، چې که په خپلو کې سره ټول شي، لږ خطرونه به دوی ته پام شي او په ښه توګه کولای شي، کالي يوسي او راوړي. په دې توګه لمړي سوداګريز شرکتونه، چې د يادشوي پروفيسور په خبره له پېښې لټوونکو کسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه جوړ شـوي وو، رامـنځ تـه شـول او دوی بريـالي شول، چې ښه شـتمني لاس تـه راوړي. ورو ورو دغـو شـرکتونو پراختيـا وموندلـه او دې نـړۍ ګرځنـدويو وکـولای شـول لـوی کاروانونـه پـه لاره واچـوي. پـه لمړي سر کې خلکـو لـه دوی ښخـه ډار لرلـو، خـو پـه تـدريج سـره، لـه هغـه ځايـه چې د لېـرې هېوادونـو جنسونه يې لـه دوی ښخـه لاس تـه راوړل، لـه هغـو سره يې انس واخيست.

ورو ورو د ســوداګريزو واټونــو پــه ښنــډو کــې سوداګريز ښـارونه رامـنځ تـه شـول او پـه دې توګـه د ښاري ژوندانه رونق پيل شو. ښومره چې سـوداګرۍ لا ډېر رونق ومونده، د هغو کسانو شمېر، چې پـه دې کـار پـورې تړلـي وو، ډېـر شـو. لـه هغـه ځايـه چې سوداګران په نه شلېدونکې توګـه پـه سـفرونو کې وو، لازمه وه، چې د هغو د لارو پر سر، پـه ځـانګړې توګـه پـه هغـه ځـايونو کې، چې ښـو واټونـو پـه خپلـو کې پيوستون مونده، تل داسې کسـان وي، چې کـالي او بار ښکته کړي. ښېرې جوړې کړي، ګاډې سمې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د سوداګرانو نور احتیاجونه بشپړ کړي. له دې کبله د سوداګرانو د لارو په سر په مناسبو ځایونو کې یو شمېر ډوډۍ پخوونکي، قصابان، خیاطان او داسې نور ټول شي.

په تدریج سره، چې شتمنې ډېرېدې، د خلکو احتیاجات هم زیاتېدل او د لګښت کچه هم لوړېدله. له دې کبله لازم وه، چې د تولید اندازه هم پورته ولاړه شي. په پایله کې صنعت مخ په پراخېدو شو او لمړني صنعت چې رونق یې وموند، د ټوکر اوبدلو صنعت ؤ، هسې چې په ۱۲مې پېړۍ کې د میلان په ښار کې د ټوکرو ۶۰،۰۰۰ کارګرانو شتون لاره.

دې صنعت د هالنډ او بلژیک په هېوادونو کې هم پراختیا وموند، هسې چې دوی په همدې پېړۍ کې انګلستان ته وړین ټوکر لېږدول.

د اوسپنې صنعایعو په دې دور کې څه رونق نه درلوده، هسې چې وبه ګورو، چې د هغو رونق د ازادو ښارونو په دور کې د نویو اختراعاتو په زمانه کې پیل شو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷

د بورژوازۍ او ازادو ښارونو رامنځ ته کېدل

له دې کبله چې صنعت تر يوه هانده پورې رونق وموند او سوداګران پيدا شول، د ټولنې په وضعې کې توپيرونه رامنځ ته شول. تر هغه وخته پورې په ټولنې کې د دريمې طبقې برسېره اسيلو او روحانيانو هم شتون لاره، خو کله چې سوداګرۍ رونق وموند او د سوداګرانو او د هغوی د کاريګرو شمېر زيات شو او شتمني هم د دوی په لاسونو کې راغونډه شوه او ورو ورو يې ځواک وموند، بيا يې يوه ځانګړې طبقه جوړه کړه، چې هغه بورژاوزي بولي. دې بورژوا طبقې په تدريج سره ډېره شتمني ډېرۍ کړه او هماغه ډول چې فيوډالان د کليو اربابان وو، بورژواګان هم د ښارونو اربابان شول.

بورژوا طبقې په پخواني فيوډالي تشکيلاتو کې ځای نلرلو. په دې مانا چې فيوډالي اقتصاد کسبيان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هماغه د بزګرانو وضعه یې لرله، د بېلې طبقې په توګـه نـه پېژندلـه. د ۱۱مـې پېـړۍ سـوداګران د سینیورانو د سیمې په اړوند پردي ګڼل کېدل او په حقیقت کې یې د ټولنې په څنډه کې ژوند کاوه.

دوی په حقیقت کې قانوني وضعه نـه درلودلـه او یوازې ټولنیز ضرورت ؤ، چې دوی یې منځ تـه راوړي وو او نه قانون – همدا بورژوازي، چې پـه قـانون کې یې ځای نلرلو، زمـوږ پخـوانې خبـرې تائیـدوي، چې **هغه څه چې ټولنیزه وضعه رامنځ تـه کـوي، هغـه قـانون نــه دی، بلکــه ټــولنیزې اړتیــاوې دي. دا اړتیاوې دي، چې ټولنیزه وضعه رامنځ ته کوي او د قانون د جوړېدو لامل ګرځي.**

ســینیوران ناهوبلــه وو، چــې د دې بورژواګــانو ازادۍ ته درنښت ولري، خو دې ازادۍ ته یې قـانوني بڼه نـه ورکولـه او تـل یـې غوښـتل چې د کـالیو وړل راوړل په خپلو سیمو کې تر درانه کنتـرول او مقرراتـو لاندې راولي. له سوداګرانو مـالیې او جزیـه واخلي. دې خبرې، چې سوداګري یې فلجوله، د بورژواګـانو او فیوډالانـو تـر مـنځ دښـمني رامـنځ تـه کولـه، خـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بورژواګـان ورو ورو شـتمن کېـدل او برسـېره پر دې کارګران او کسبيان يې تر شا لـرل. لـه دې کبلـه يـې هڅـه وکړه، چې د ځـان نـه دفـاع لپـاره ښـارونه ازاد کړي. البته د ښارونو ازادي په سولې او سـپېڅلتيا او د فيوډالانو په رضايت سره نه شونې کېدله او لـه دې کبله عمومن د خوځښـتونو او وينـو تويېـدو لـه لارې پلې کېدله، د بېلګې په توګه د ميلان ښار په ۱۰۶۷ م او د مارسي ښار په ۱۱۲۸م کې ازاد شول.

کېسه کوي، چې د فرانسـې پـه يـو ښـار کـې لـوی سينيور د ښار لـه ازادۍ سـره مخالفـت وکـړو. خلـک وخوځېدل او وروسته له وهلو او ټکولو يې د سينيور په ماڼۍ يرغل وکړ. خو لوی سـينيور لـه ډاره د خپـل قصر سړاوبي ته وتښـتېدو او پـه يـوه ګلـدان کـې پـټ شوی ؤ.

عمومن داسې ده، چې کسـان د خپـل پـوړ پـه تکيه خورا لويښت خرڅوي او باټې ولي، خـو همـدا چې له يوه لوی کار سره مخ شول، د هغـه لـه مخـې نه تښتي او بېوزلي او کوچنی والی ځرګنـدوي. دوی د درمنده د سر نانځکې ته ورتـه دي، چې د ټـولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سر ولاړ دي او له هغه ځایه چې ټولنې د دوی حقیقت هېر کړی، له هغو څخه بېرېږي.

په هر حال، له موضوع نه لېرې نه شو. هغه ښارونو ته به یې، چې په دې توګه د اقتصادي اړتیاوو له کبله ازادېدل، **کمون** ویل.

ښارونه ازادېدل او حال دا چې کلي بیا هم د فیوډالانو تر لاسبري لاندې وو، نو یو جرمنی متل پیدا شو، چې وایی: «د ښار هوا انسان ازادوي».

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸

د کمون فيوډالي ښارونه

هغه توپير چې نن د ښار او کلي تر منځ لېدل کېږي، په فيوډالي دور کې يې شتون نه لاره او د ښار ډېرو اوسېدونکو کليو کې هم زمکې لرلې. له هغه ځايه چې صنعت ډېره وده کړې نه وه، نو د ژوندانه د دود له پلوه او د ماڼيو د جوړښت له پلوه د ښار او کلي تر منځ خورا توپير نه ښکارېدو. سوداګرانو او ټولو کسانو، چې په فيوډالي ټولنې کې يې ځای نه لرلو، هر پټ (قشر) په جلا سيمې کې ژوند کاوه، د بېلګې په توګه قصابانو، وسله جوړونکو، خياطانو، هر يوه يوه مېنه او يا کوڅه لرله.

د هر پټ لپاره ځانګړو مقرراتو هم شتون لاره. هر پټ يوه ټولنه لرله، چې **کارپورېشن** نومېده. له کارپورېشن څخه موخه دوه شيان وو: يوه دا چې خپل غړي د بهرنيو کسبيانو له سيالۍ نه وساتي، بلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د خپلې دندې لپاره پرېکړې و ټاکي، تر څو چې هم د جنسونو ښکلا تر یوه هانده پورې وساتل شي او پېرودونکي ولري.

ښکاره ده، چې دا دواړې موخې په فیوډالي دور کې، چې لویو صنعتونو شتون نه لاره او کلیو ښارونو ته ډېره اړتیا نلرله او د اړتیاؤ لمنه هم پراخه نه وه، پلې کېدلې او اصولن پورتنې پرېکړې هم د همدې لاملونو له کبله رامنځ ته شوې وې. د فیوډالي دودونو پر بنسټ هېڅ بهرني کس حق نلرلو، یوه ښارته وردننه ښي او په کوم کسب لاس پورې کړي.

په کارپورېشن کې غړیتوب میراثي ؤ او شاګردانو د څو کلونو زده کړې او د ځانګړو دودونو له پلې کولو څخه وروسته کولای شول د ښوونکي درجې ته ورسېږي.

نو که د کتاب تېر څپرکی په پام کې ولرو، نو وینو، چې صنعت او ازادې سوداګرې په فیوډالي دور کې شتون نه لاره او کولای یې هم نشول شتون ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ـ په هماغه توګه مو چې په تېر څپرکي کې وویل – ښارونه ورو ورو مخ په رونق روان شول او بورژواګان منځ ته راغلل او د ښارونو په ازادولو یې پیل وکړ، تر څو له فیوډالي مقرراتو څخه ازاد واوسي او وکولای شي خپلې سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي.

کمون په حقیقت کې د بورژواګانو په خپلو کې شرکت او ګډ کار ؤ. دې بورژواګانو به کسم یادولو، چې د یوبل امنیت وساتي. په کمون کې د ګډون له شرطونو څخه دا ؤ، چې که د ښار او خوا او شا یو اوسېدونکی یې د پردیو د یرغل موخه وګرځي، ټول له هغه نه ملاتړ وکړي او که چا د کمون له پرېکړو نه سرغړونه کړې وای، د هغه نه یې جریمه اخیستله او هغه یې په مرچو(استحکاماتو) باندې لګوله، تر څو ښار په لازمه موکه کې له دفاع څخه پاتې رانشي.

د ازادو ښارونو چارواکي په خپله کسبیانو ټاکل او ټاکنې د بېلګې په توګه په لاندې ډول پلې کېدلې: هر پېڅ دوه کسه د خپلو منځو نه ټاکل او که د پېڅونو شمېر دوولس ؤ، په دې توګه څلورویشت کسه ټاکل کېدل. دې څلورویشتو کسانو نور لس کسه او هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسو کسانو نور لس کسان او دې شلو کسانو بیا لس نــوره کســان ټاکــل او دې دېرشــو کســانو د عمــده چارواکو ټاکل ترسره کول. د ښار عمده چارواکي هر کال بدلېدل او نویو ټاکل شـویو تـه یـې بایـد حسـاب ورکړی وی.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹

د صنعت او سوداګرۍ پراختيا فيوډالي اصول ړنګ کړل

ومو ويل، چې په فيوډالي دورکې تر ۱۳مې پېړۍ پورې صنعت او سوداګري خورا لږه وه. څومره چې صنعت او سوداګرۍ رونق ومونده، لا ډېره څرګندېدله، چې فيوډالي اصول د ټولنې پرمخ تللي وضعيت سره جوړښت نلري. د دې لپاره چې دا موضوع روښانه شي، بېلګه راوړو.

انګلستان له لمړيو هېوادونو څخه ؤ چې د صنعت خاوند وګرځېده. له ۱۴مې پېړۍ د مخه هم هغسې مو چې وويل، وړۍ يې له انګلستان څخه هالنډ او بلژيک ته وړلې او د هغه هېوادونو په کارخانو کې به يې ټوکرې ځينې اوبدلې. ورو ورو ټوکر اوبدلو په خپله انګلستان ته هم سرايت وکړ، په ځانګړې توګه کله چې د هالنډ او بلژيک يو شمېر بورژواګان له سينيورانو سره د جګړو له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګلستان ته ولاړل او خپله سرمايه يې هلته په کار واچوله. د انګلستان دولت د دې لپاره چې خپل داخلي صنعت نه يې ملاتړ کړی وي، په کال ۱۳۳۷م کې يې په دې باندې بنديز ولګاوه، چې څوک دې وړی او وړين ټوکرونه له انګلستان نه بهر ولېږي، خو يو څه موده وروسته يې په دې قانون کې يو څه بدلون راوستو او د ياد شويو کاليو بهر ته وړل يې د ګمرکي بيو په بدل کې مجاز وګڼل. د انګلستان دولت د دې لپاره چې د ټوکر اوبدلو لمړني مواد له هېواد څخه بهر نشي، د وړيو ګمرکي بيه يې ۳۳٪ ټاکلې وه او په دې حال کې چې د وړينو ټوکرو ګمرکي بيه له ۲٪ څخه زياته نه وه. البته دا قانون د قاچاقو د دودېدلو لامل وګرځېده او سوداګران د دې لپاره چې د دولت په سر شرعي خولی کېږدي، په دې يې پيل وکړ، چې پسونه اصولن بهر ته وبسي، خو په تدريج سره د انګلستان د ټوکر اوبدلو صنعت ځواکمن شوی ؤ او کولای يې شول له نورو ځايونو سره سيالي وکړي. له دې کبله د وړيو درنه تعرفه د انګلستان دولت لخوا لغوه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټوکر اوبدلو صنعت ډيرو چارو ته اړه لري، د بېلګې په توګه وړی باید پاکې کړي، رنګ ورکړي، و يې سکني، ټوګر واوبدي، د ټوکر غوړ ببرته کړي او داسې نور...

د فيوډالي پرېګړو (مقرراتو) پر بنسټ له دې چارو څخه هر يوه بايد يو جلا کارپوريشن سرته رسولې وای او په دې توګه د وړيو د پېرودلو او پلورلو او د هغو په ټوکرو بدلولو لپاره ډېرې ستونزې پېښېدلې او د دې لپاه چې يو سپاربنت سرته ورسوي، د بېلګې په توګه بايد د ۱۵ کارپوربشنونو موافقت ترلاسه کړي.

بورژواګان ناهوبله شول، په کومه توګه بنديزونه له مخې نه اوچت کړي او په پای کې يې کارخونې غالبن د ښار نه بهر داسې ځای ته يووړې، چې د کارپوربشنونو تر اغېزې لاندې نه وې او د دې تدبير سره يې په هماغه ۱۴مې پېړۍ کې وکولای شول، چې د ۲۰۰ بېلابېلو کسبونو کاريګر د يوه چت نه لاندې په کار بوخت کړي او ۶۰۰ کاريګر په يوه ځای کې سره ټول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو وينو، چې ورو ورو د ټولنې غوښتنو هسې بڼه نېوله، چې له فيوډالي مقرراتو سره يې جوړښت نه مونـدلو او لازمه وه، چې ياد شوي مقررات بدلون ومومي.

په فيوډالي دور کې هر ځوک چې په کارپوربشـن کې دننه ؤ، برخه ليک يې خوندي کېدو، خو ګټې يې محدودې وې، ولې چې د پېرودلو او پلورلو بيې په خپله کارپوربشن څارلې او له دې کبله هيچ چا کولای نشول، چې په يوې دوو معاملو سره د خورا ډېرې سرمايې خاوند شي. البته په هغه موکه کې هم دلالانو او سوداګرانو دوکې کولې او نا مشروع ګټه يې ترلاسه کوله، خو د دوی د هغه وخت ګټه د هغې ګټې سره چې د صنعت د دور سوداګرانو لاس ته راوړله، د پرتلې وړ نه وه. له دې کبله خلک د سوداګرۍ خوا ته جلب شول او هماغه کسان، چې تر اوسه پورې يې خپل ژوندون په پېښـلټون (ماجراجويی)، نړېوالې ګرځنـدوينې او وزګارتيا تېرولو، په کار پسې ولوېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

به دې ځای کې ښه ده، چې د همدې کسانو له ډلې نه د یوه کېسه، چې ډېره شتمني يې غونډه کړه، نکل کړو:

ريچارد ويتينګن هغه يتم ماشوم ؤ، چې د يوه سوداګر په کور کې چوپړ ؤ. په هغه زمانه کې دود ؤ، چې هرکله به يوه سوداګر خپله بېړۍ لېرو سيمو ته لېږله، خپل هر چوپړ ته يې اجازه ورکوله، چې خپل يو شی په بېړۍ کې کېږدي او خپل بخت وازمويي.

ريچارد په ټوله نړۍ کې يوه پېشو لرله او هغه يې د خپل ارباب په بېړۍ کې کېښوه. د پېښې له مخې کله چې بېړۍ په يوې لېرې سيمې کې لنګر واچاوه، ويې کتل، چې هلته موږک دومره ډېر دي، چې د پاچا ماڼۍ يې له زيار سره مخ کړې ده، خو په هغه سيمې کې کومه پېشو نه موندل کېده. د هغه هېواد پاچا د هغې بېړۍ د پېشو له کتنو او د هغې د هنرښودنې څخه هومره خوښ شو، چې پېشو يې د بېړۍ د ټولو مالونو په بيه وپېرودله. په دې توګه ريچارد ويتينګن ناڅاپه شتمن شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کېسه که افسانه هم وي، خو څرګندوي، چې د ریچارد ویتنګن شتمني په اسانه سره لاس ته راغلې ده. دا سړې د خپلې شتمنې له کبله د لاردانو په ډله کې راغی او پیسې یې هومره ډېرې شوې، چې د انګلستان پاچا له ده نه پور واخیست.

د لویو سوداګرو او ناڅاپه شتمنیو له کبله ؤ، چې د کارپوریشنو وضعې بدلون وموند، د بېلګې په توګه مساوات، چې د کارپوریشن یوه ځانګړتیا وه، له منځه ولاړه. اوس نو د کالیو بڼکلا او د جشنونو دودونه هومره وو، چې یوازې شتمنو کسانو کولای شول له هغو نه برخمن شي.

کېسه کوي، چې د شرابو د سوداګرانو کارپورېشن هومره شتمن شوی ؤ، چې له پنځو پاچایانو څخه یې په یوه ځای هرکلی وکړ!

په دې توګه د هغو کسبیانو، چې پخوا شونې وه، چې د ښوونکي درجې ته ورسېږي، د پر مختګ مخه بنده شوه او د دې لپاره چې له ځانونو نه یې دفاع کړې وي، د «کارګرانو د کارپوریشنونو» په تشکیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې لاس پورې کړ، تر څو کرکه جن اربابان له ځانه لېرې کړي. په پايله کې دوې ځانګړې طبقې رامنځ ته شوې.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰

له انګلستان څخه د یهودانو ایستل

مسیحیانو د پیسو په سود ورکول حرام ګڼل او له هغه ځایه چې په فیوډالي دورکې د معاملو د کوچني والي او لګښت له امله د سود ورکولو او اخیستلو ته اړتیا نه پیدا کېده، دا باور د منني وړ ؤ، خو کله چې فیوډالي وضعه مخ په بدلون شوه، صنعت رامنځ ته شو او پیسو نوې پوړ ومونده، نور دې باور د ژوندانه له واقعیت سره سمون نه موندلو. لمړني کسانو چې وکولای شول ځانوته د ژوندانه له واقعیت سره سمون ورکړي، یهودان وو، چې په صنعت او سوداګرۍ بوخت شول او له سود ورکولو او اخیستله څخه یې ډډه نه کوله. ورو ورو صنعت او سوداګرۍ پرمختګ کولو، د انګلستان لویو کورنیو پیسو ته لا ډېره اړتیا پیدا کوله او بله هېڅ هوبله یې، پرته له دې نه چې یهودي سوداګرو ته لاس په لمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، نلرله. خو دا يهودان بزګر نه وو، چې په زمکو پورې تړلي او سينيورانو ته اړېل واوسي او عمومن يې په ښارونو کې ژوند کاوه. له دې کبله د انګلستان پاچايانو د دې لپاره چې د دوی له پيسونه ګټه پورته کړي، دوی يې په خپله ننګه کې ونيول او په دې توګه يې خپل واقعي ځواک يانې اقتصادي ځواک د بارنانو په پرتله پورته يووړ. د تاريخ ليکونکو تر منځ پېژندل شوې ده، چې وايي: «د يهودانو په صندکونو کې وه، چې د نرماند پاچايانو د بارنانو د اړېل کولو ځواک لاس ته راوړ».

خو ورو ورو د يهودانو اقتصادي ځواک هومره ډېر شو، چې د انګلستان د لويو کورنيو او اسيلانو خيال له يې د ناهوساينې لاملونه چمتو کړل و په هڅه کې شول چې په کومه توګه ځانونه د هغو پورونو له بنده، چې له يهودانو څخه يې اخيستي وو، خلاص کړي. په پای کې يې له دې نه بله هېڅ ښه هوبله و نه موندله، چې د مذهب توپير پلمه کړي او يهودان له انګلستان څخه بهر وغورځوي او همدا کار يې په ۱۲۹۰م کال کې سرته ورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پېښه د دې خبرې له دلیلونو څخه یو دی، چې **مذهبي کشالې عمومن مالي او اقتصادي ولې لري**.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱

د کار د قانون منځ ته راتلل

له هغه ځایه چې د سینیورانو فشار د بزګرانو په مټونو خورا درونډ او له بله پلوه د کار رونق هر ورځ پورته تللو او کارخونو کارګرانو ته اړتیا لرله، سرفان له کلیو څخه تښتول او ښارونو ته یې مخ کولو. هسې چې د انګلستان د ۱۴مې پېړۍ د تښتېدلو بزګرانو شمېر هم هومره ډېر ؤ، چې د تښتېدلو مریانو شمېر د ۱۹مې پېړۍ په امریکې کې.

د پېښې له مخې په ۱۳۴۹ کال کې درنه ناروغي راغله او اروپایې ونېوله او د اروپا او انګلستان نږدې ۲۵ میلیونه اوسېدونکي یې له منځه یووړل.

له دې ناروغۍ نه دوې پایلې لاس ته راغلې: د نفوس شمېر کمښت وموند. هغه بزګران چې ژوندي پاتې شول، څه شتمن شول او څه پراخې زمکې یې لاس ته ورولوېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه له هغه ځایه چې د سینیور اړتیا بزګر ته زیاته شوه او زمکې ته د بزګر اړتیا لږه شوه، نور بزګر نه حاضرېدل، چې په اربابي زمکو کې په کرلو بوخت شي او د اربابانو ځورول وزغمي. له دې کبله سینیوران، چې د کرنې لپاره یې څوک نلرل، ناچاره کېدل، زمکې په خپله سرفانو ته اجاره ورکړي او یا دا چې اصولن زمکې په لږه بیه وپلوري.

په پای کې سینیورانو لاس په کلکه پرېکړه پورې کړ او د «کار قانون» یې وضع کړ. دا قانون د ټولو هغه قانونونو په توګه، چې د لږکیو لخوا وضع کېږي، د بزګرو پرګنو پر ضد ؤ؛ د دې قانون له امله:

۱- هر څوک چې عمر یې له شپېتو کلو نه ټیټ ؤ، باید به هغه مزد، چې له ۱۳۴۷م کال نه مخکې دود ؤ، په کرهڼه بوخت شي.

۲ – هر سینیور به چې له دې نه پورته لاسمزد پرې کولو، د غرامت په ورکولو محکومېده.

۳ – سینور حق لاره، خپل سرفان کار ته اړ کړي او که هغو ونه منله، بندي یې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د هغو زلندو قانونونو يوه بېلګه ده، چې د زيار اېستونکو پرګنو د بندېوانۍ لپاره وضع شوي دي! د دې ډول قانونونو اغېزې لا هم د نړۍ په هېوادونو کې، په ځانګړې توګه زموږ په هېواد کې، چې له نورو څخه وروسته پاتې يوو، پاتې دي. آيا دا هغه قانونونه دي، چې د ستمګرو عدليه او امنيه ځواکونه د هغه نه په بشپړه خوند او رنګ يادونه کوي او هغه مقدس ګڼي؟ آيا په رښتيا سره کولای شو دغه حق وژونکي قانونونه مقدس وبولو؟

آيا ډاکټر اراني، چې په جنايي محکمې کې ويل: «يوازې هغه قانون مقدس دی، چې د پرګنو د ګټو ساتونکی وي»، حق نلرلو؟

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲

د بزګرو خوځښت یا په انګلستان کې د سرواژ راپرځېدل

د سـینیورانو فشـار لـه یـوې خـوا او د فـابریکو جذبې له بلې خوا د انګلستان بزګر اړباسـل، چې دې نه زغمونکې وضعې ته پای ورکړي. په پای کې بزګـرو په ۱۳۸۱م کال کې لاس په یوه لوی خوځښت وواهه او دوکان(دوک خان ته وایي) او د پاچا نور چوپړ یې ووژل.

د بزګرو اصلی فکر دا ؤ، چې د خپـل ځـور لیکلي آثار لـه منځـه یوسي او هـر چېـرې بـه یـې چې کـوم پرېکړه لیک لاس ته راوړلو، اور یې وراچولو.

د انګلستان لویو کورنیو ونکـولای شـول د بزګـرو پـه وړانـدې ودرېـږي. یـوه ځـل د لویښـت لـه پـوړه راښکته شول او وتښتېدل او په جګړو کې پټ شـول. خو بزګـر ښـارونو تـه ولاړل او بورژواګـانو لـه هغـو نـه نسبتن ښه هرکلی وکړ. په پای کې بزګرو لندن ته مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړ او لـه هغـه ځایـه چې د انګلسـتان پاچـا **دوهـم ریچـارد** لا هلـک ؤ، انـد یـې کولـو، چـې دوی بـه د سینیورانو له منګلو خلاص کړي.

د بزګرو پوځ لندن ته ننووت او اسیلې کورنې یې ووژلې. خو پاچا ته یې موکه ورکړه او له هغـه نـه یـې وغوښتل، چې کتنه ورسره وکـړي. پادشـاه لـه بزګـرو سره وکتل او هوډ یـې وکـړ، چـې د هغـو هیلـې سـرته ورسـوي. مسـتوفیانو هـم د رنګینـو او خونـدورو فرمانونو په لیکلو پیل وکړ. د دې سـاده ډېـو بزګرانـو هرې یوې ډلې به چې د پاچا دا فرمـان تـر لاسـه کـړ، په خندا او خوښۍ سره به بریالی لـه لنـدن نـه ووتـل. کلـه چې شـمېر یـې لـږ شـو او لـه ځـو زرو نـه زیـات کسان پاتې نشول، پاچا بیـا کتلـو وعـده ورکـړه او لـه خپـل پـوځي ځـواک سـره د کتلـو ځـای تـه راغـی، د بزګرو مشر یې مخې ته ورغی. کله چې نـږدې شـو، د پاچا یوه ملګري پـه هغـې وسـلې سـره، چـې تـر کـالیو لاندې یې پټه کړې وه، په بشـپړه نـه نـارینتوب سـره یـې د هغـه پـه سـر ګـوزار کـړه او هغـه یـې پـه زمکـه راوپرځولو. د پاچا ملګري د هغه مشر ګېرچاپېره ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، تر څو بزګر ونه ویني، چې مشر یې وژل شوی دی. خو بزګرو وکتل او په خوځښت راغلل. پاچا خپلو ملګرو ته امر وکړ، چې له خپل ځای نه ونه خوځیږي او خپله یې آس رهې کړ او د بزګرو مخې ته راغی، هغو ته یې وویل: تاسو پرته له مانه بل مشر نه لری. زه ستاسو پاچا یم. ډاډه اوسی.

خلکو، چې د دې هلک څېره ولېدله او اند یې نه کاوه، چې دومره کرغېړنتوب به دهغه په باطن کې وي، هغه ته تسلیم شول او ریچارد د هغو په سرکې ودرېدو.

په دې توګه د بزګرو خوځښت هسې وشېندل شو. هغه وخت پاچا او د هغه قاضیان کلیو ته ولوېدل او په وژنو یې پیل وکړ او خلک یې سل سل کسه په دار ووهل او دې وژنو تر یوې مودې پورې پایښه لرله! دا ؤ د پاچا چلند، چې رعیت په هغه رحم وکړ او ده رعیت ته ډاډګېرنه ورکړه!

پایله:

هېڅ ازادي په هېڅ هېواد کې پرته له ځان ښندلو لاس ته راغلې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيانت، ناځواني او ځېرنتوب د هغو کسانو له ځانګړتياؤ څخه دي، چې ولس ته زور وايي، خو د دغه ځانګړتياوو مخ تل چوپړ مورخان غواړي پټ کړي. زيارايستونکې پرګنې بايد هيڅکله به هوډونو ونه غولېږي او نبايد رحم او زړه سواندی ته ماتل واوسي.

*****

د بزګرو خوځښت په هغې دردوونکې وضعې پای وموند، خو د ولس د خپلواکۍ روح يې څرګنده کړه.

له بله پلوه د صنعت رامنځ ته کېدلو او کارګرانو ته اړتيا، هسې چې وروسته به يې څرګنده کړو، ايجابوله، چې د بزګرو ازادي پلې شي.

له دې کبله د کار قانون د ۱۴مې پېړۍ په پای کې له اعتباره ولوېده او سرواژ اصولن د **تودر** کورنۍ د سلطنت په زمانې (۱۴۸۵ – ۱۶۰۳) کې له انګلستان څخه ټغر ټول کړ او د ۱۶مې پېړۍ په پای او د ۱۷مې پېړۍ په پيل کې دا يو قانوني اصل شو، چې هر انګرېز وګړی ازاد دی.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳

د سرفانو په وضعې باندې د ټوکر اوبدلو صنعت اغېزه

کله چې د ټوکر اوبدلو صنعت په انګلستان کې مخ په ودې شو، ښکاره ده، چې وړيو ته لا ډېره اړتيا رامنځ ته شوه او لازمه شوه، چې څرځايونه لا پراخ، پسونه لا ډېر او وړۍ لا پرېمانه شي. له دې کبله خانانو په دې باندې پيل وکړ، چې کروندې په څرځايونو بدلې کړي او بزګر وشړي او په ځانګړې توګه د سرفانو ازادېدل يې پلمه کړل، هغوی يې بې وزلي کړل، هسې چې په لږه موده کې پسونه د بزګرو کورنيو ځای ناستي شول. د هغه دور يو ليکوال وايي: «پسه پخوا ډېر سر په لاره ځناور ؤ، خو اوس هر څه ورانوي او هر څه خوري، ان سړي». هغه نښتې چې د اتم هانري په وخت (۱۴۰۹ – ۱۵۴۶) کې د مذهبي دښمنيو په نامه د روحانيانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښې شوې او د هغو د وژلو لامل وګرځېدې، د همدې لپاره وې، چې د کليسا زمکې د هغو له منګولو نه راوباسي او په ځرځايونو يې بدلې کړي.

البته ځرځای ته اړتيا، چې د ټوکر اوبدلو د صنعت د ودې په اغېزه رامنځ ته شوې وه، د سرفانو ازادۍ سره يې مرسته وکړه. خو د هغو ازادي په هغه توګه ترسره شوه، چې بيان مو کړله. له دې کبله هغو ستم ځپلو بيا هم لاس په خوځښت وواهه، خو داخل يې هم خوځښت په عام وژنې سره پای وموند.

هغه بزګر، چې په دې توګه له خپلو پلارنيو کروندو څخه شړل شوي وو، غالبن لاس يې په سوال، وزګار ګرځېدو او يا په غلا پورې کولو. خو دا وضعه د فابريکه لرونکو په ګټه وه، چې ورځ په ورځ يې کارګر ته لا اړتيا موندله.

هغو داسې کسانو ته اړتيا لرله، چې ازاد وي، يانې په زمکې يا ارباب پورې تړلی نه وي او په کم مزد سره په کار بوخت شي. دا وه د فابريکه لرونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژبه د ازادۍ مانا! له دې کبله د وزګارانو پر ضد درانه قانونونه وضعه شول او هغو ته يې کلکه سزا ورکوله، تر څو د فابريکې په لور وشړل شي. نو، د سرف ازادي په حقيقت کې دا وه، چې په ازاده توګه د فابريکه لرونکي چوپړ شي.

په دې توګه هغه بدلون چې د ټوکراوبدلو صنعت له امله د سرفانو په وضعيت کې وړکړی شو، داسې لنډولای شو:

په فيوډالي دور کې د بزګر د کرنې اسباب د ده په خپل لاس کې وو او په بنسټيزه توګه يې کولای نشول، چه هغه له هغې زمکې څخه، چې کرنه يې پرې کوله بهر کړي، خو د بزګر ازادي داسې بنه ومونده، چې زمکه يې له هغه نه واخيسته او يوه برخه زمکه يې د اجارې لاس ته راوړلو په بدل کې هغه ته پرېښودله. د بزګرو ګڼ شمېر هم په وزګار ګرځېدلو او غلا سر شول او يا په چوپړتيا کې اخته شول.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه انګلستان د صنعت مرحلې ته ورسېدو. موږ له دې کبله د انګلستان په تاريخ کې وړاندې لاړو، چې انګلستان تر نورو وړاندې دې مرحلې ته ګام کېښود. اوس لړشانې شاته ستنيږو او نورو اروپايي ولسونو او په ځانګړې توګه له فرانسې څخه خبرې کوو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴

د ۱۳مې پېړۍ تر پایه پورې فیودالي دور ته یوه بشپړه کتنه

د مدیترانې د سوداګرۍ تړل کېدل:

په پخوانې نړۍ کې، یانې د روم په دورکې د مدیترانې سمندرګې د داخلي سمندرګي په توګه ؤ، ولې چې د هغه ټولې څنډې د روم دولت په خپلې ولکې کې لرلې او د شا او خوا تمدنونو د مدیترانې د سمندرګي له لارې له یو بل سره اړیکې لرلې او هغه سمندرګی د هغو دجنسونو او فکرونو د وړو راوړو وزله وه. په دې دورکې د هغه ټولو هېوادونو فعالیتونه، چې د برتانیا د جزیرو او فرات د سیند تر منځ پراته وو، د مدیترانې سمندرګي په لور وو.

وروسته له هغه چې جرمنانو د روم پر دولت باندې یرغل وکړ، بیا هم د مدیترانې سمندرګی د رونق خاوند ؤ، ولې چې بیا هم ایټالیا، افریقې، اسپانیې او فرانسې د دې سمندرګي له لارې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیزانس له امپراطورۍ (ختیز روم، چې قسطنطنیه یې په ولکې کې لرله) سره اړیکې لرلې. د دې وضعیت له امله یو اقتصادی ژوند رامنځ ته شو، چې په حقیقت کې د پخواني دور مستقیمه لکۍ وه، د بېلګې په توګه د سوریې اوسېدونکو له پنځمې نه تر اتمې پېړۍ پورې د لویدیزو بندرونو او د مصر او کوچنې آسیا د بندرونو تر منځ سوداګریزې اړیکې لرلې.

خو وروسته له هغې چې په اوومې پېړۍ کې مسلمانان ډګر ته رانوتل او د مریترانې ختیزې، سهېلي او لویدیزې څنډې یې فتحه کړلې او د قسطنطنیې ښار په ۷۱۹م زېړیز کې د دوی لاس ته ولوېدو، د سوداګرۍ وضعه بدله شوه او په حقیقت کې د اروپا سوداګري په مدیترانې کې پای ته ورسېده. له دې نه وروسته د مدیترانې سمندرګی نه یوازې چې د تمدنونو اړیکه نه ؤ، بلکه د هغو تر منځ یو بند ګڼل کېده. پخوا د مدیترانې په ټولو څنډو کې یو تمدن شتون لاره، خو اوس دوه تمدنه رامنځ ته شوي وو: رومي تمدن په شمال کې؛ اسلامي تمدن

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ختیز، سهېل او لویدیز کې. دا دوه تمدنونه په خپلو کې غلیمان وو او د هغو یو پر بل باندې یرغل پخواني اقتصادي اندولتیا له منځه یووړه او اقتصادي فعالیت له مدیترانې څخه د بغداد په خوا لور شو.

د اتمې پېړۍ په ترڅ کې د مدیترانې د سوداګرۍ بندېدل لامل شول، چې سواګر له منځه ولاړ شي او ښاري ژوند، چې د هغو په لاس کې ساتل کېده، مخ په پرځېدو شي. په پایله کې عمومي بېوزلي ځرګنده شوه او د هغې یوه نښه دا وه، چې د سپینو زرو روپې د سرو زرو روپو پر ځای کېناستلې.

د سوداګرۍ د بېرته رونق پیل: کله چې د مدیترانې ختیز او سهېل د مسلمانانو په لاس کې ولوېدل، د ختیز روم او ایټالیا سوداګرو اړیکې هم له سوریې، د افریقې له شمال او د اسپانیې له سهېل سره وشلېدې او یوازې د لویدیز او قسطنطنیې مسیحي بندرونو سره یې (وړاندې له دې چې د مسلمانانو لاس ته ولوېږي) سوداګري کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د دې خبرې لامل، چې مذهبي توپير ؤ، سوداګرو ته دومره ځواکمن نه ؤ، چې وکولای شي هغوی د ډېرې مودې لپاره د مسلمانانو سره سوداګرۍ نه منع کړي.

تل لېدل شوي، چې د پيسو ځواک روپۍ لمنانځونکو وګړو ته په خو ځلو د مذهب له ځواکه ډېر دی او عمومن د مذهب ځواک يوازې د دې لپاره، چې له هغو سره د روپيو په موندلو کې مرسته وکړي، ورباندې ګران دی.

له دې کبله سره د دې چې د مديترانې ختيز، سهېل او لوېديز د مسيحيانو په خبره له کفارو سره وو، د هماغه نونسمې پېړۍ له پای نه لېدل کېږي، چې خپلې اړيکې يې له دې سيمې سره له سره ټينګې کړې او ورځ په ورځ يې پراختيا ورکړه.

دې روپۍ لمنانځونکو سوداګرو د خپلوګاکانو له مذهب سره، په دې شرط چې ښې روپۍ ورکړي، څه کار نلرلو.

روپۍ لمانځل، چې مسيحي مذهب يې په کلکه محکوموي، په دې دورکې په کلکه توګه څرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول او ونیزي سوداګرو اسلاو ځوانان د دالماسی له ځنډونه پېرودل او یا یې غلا کول او په بېړیو کې یې په مصر او سوریې کې د مسلمانانو حرمونو خوا ته وړل او خرڅول. د مریانو سوداګرۍ په دې دور کې ونیزي سوداګرو ته هم هومره ګټه ورسوله، چې د تورو خرڅولو په اتلسمې پېړۍ کې د فرانسې او انګرېز تجارانو ته. **البته مذهب دا چارې منع کولې، خو د چا غوږ د اورېدو پوروړی نه ؤ او سوداګرو هغه ګڼ شمېرګټه یې چې له دې لارې وړله، نه یوازې د مجاز اوسېدلو دلیل او بلکه د هغه د مقدس اوسېدلو دلیل بللو. هر کله چې داسې کسانو ته د خرافاتو په ضد د تمدن او فرهنګ نه خبرې وکړې، وایې، دلته د استدلال ځای نشته، خو دوی خپله په دې موکه کې، چې ګټو یې غوښتنه کوله، د مذهب پر ضد استدلال کولو.**

د بورژوازۍ ازادي: د بوژوازۍ لپاره تر ټولو ضروري شی ازادي ده، ولې چې بورژواګان – پرته له دې چې وکولای شي له یوه ځای نه بل ته لاړ شي، هوډ وسپاري او هوډ واخلي، په خپلو مالونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصرف هرډول حق ولري – نشي کولای سوداګري وکړي. دا ازادي د سوداګرۍ لپاره لازمې دي.

خو دې ازاديو په فيوډالي جوړښت کې شتون نه لاره، له دې کبله بورژواګانو د دې ازاديو دلاس ته راوړو لپاره هڅې وکړې او په اوومې پېړۍ کې يې د سرفانو په مرسته خطرناک خوځښتونه منځ ته راوړل.

هغو د سرفانو ازادي هم د همدې خپلو اړتياؤ د سرته رسولو لپاره غوښتله او اصولن نبايد هېر کړو، چې **بورژواګانو ازادي په مطلقه توګه او د يوه طبيعي حق په ډول نه غوښتله، بلکه له دې کبله چې ښېګڼې يې لرلې او يوګټه ور حق ؤ، د هغې تيګه يې به خپل ټټر وهله.** موږ به وروسته د دې اصل په هکله خبرې وکړو.

په هر حال، د بورژواګانو د هڅو اغېزه وه، چې ورو ورو ازادي په ښارونو کې، هسې مو چې وړاندې څرګنده کړه، پيل شوه او په تدريج سره دود شوه، چې که چا د يوه کال او يوې ورځې لپاره په ښار کې ژوند کړې وای، ازادېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بـورژوازی قـانون: ازادی د بورژواګـانو لمړنـۍ اړتيا وه، خو نورې اړتياوې يې هـم لرلې. د فيـوډالۍ دور حقونـو پېچلـي دودونــه لــرل او وګــړي يــې د سينيورانو د ارادې اېل ګرځول.

په فيوډالي دور کې، کله د دې لپاره چې يوه داوه فيصله کړي، لازمه وه، چې دواړه خواوې په خپلو کې مخـاوی (مقابلـه - دوئـل) وکـړي او هـر څـوک چې بريالی شي، حق دې له هغه سره وي. په دې دور کې قاضيان عمومن د بزګرو د ټولنې نه ټاکل کېدل او دا وګړي يـوازې د هغـه چـا د دودونـو او رواجونـو سـره، چې په کليو کې يې د کار او يا د زمکې ملکيـت لپـاره ژوند کاوه، آشنا وو او د ښاري ژوند نه يې کـافي خبـر نه لرلو.

له دې کبله کله چې بورژواګان منځ ته راغلـل او ښارونو شتون وموند، کولای يې نشول خپـل ښـاري ژوند له دې حقونو او دې دودونـو سـره، چې د دوی له وضعې سره جوړ نه راتلـل، اداره کـړي. بورژواګـانو هسې حقونو ته اړتيا لرله، چې پېښـې پـه سـاده توګـه حلې کـړي او د دواړو خـواوو د ادعـا د زبـات لاره پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسـانه توګـه لاس تـه راوړي او د بورژواګـانو د ژونـد اړتیاوې په ښه توګه په پام کې ولري.

په دې توګه وینو، چې د یوولسمې پېړۍ په پیل کې د ټولنیزې اړتیا لـه املـه څـه سـوداګریزه حقونـه رامنځ ته شول، چې لا پـه جنینیـزه حـال کـې وو. دا حقونـه د هغـو دودونـو ټـولګۍ وه، چې لـه عمـل نـه لاس ته راغلې وه او یـو ډول نړېوالـه مسـئله وه، چې سوداګرو په خپلو منځو کې منځ ته راوړې وه. خو لـه هغه ځایه چې یاد شـویو حقونـو لا قـانوني بڼـه نـه وه موندلې، عمومن سوداګرو د خپلـو اختلافونـو د حـل لپاره حاکمانو ته رجوع کوله.

هغه محکمو ته، چې پـه دې توګـه جوړېـدلې، پـه انګلستان کې «خـاورینې محکمـې» ویلـې، ولـې چـې هغه کسان، چې دې محکمو ته یې رجوع کوله، هغه سوداګر وو، چې تازه له لارې نه رارسېدلي وو.

سینیوران، بورژواګان، ازاد ښـارونه: سـینیوران پرته له هغه، چې روحـاني وو، ژر د ښـارونو د ودې او پرمختګ په ښـېګڼو پـوه شـول، ولـې چـې پـه هماغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتله به يې چې دې ښارونو ته په سيندونو او واټونو کې تګ راتګ زياتولو او د پيسو کڅه يې پورته وړله، د سينيورانو خزانه هم هومره لا ډکېدله. نو د اريانتيا وړ نه ده، چې که په کليو کې په خپلو ماڼيو کې يې ژوند کاوه، د ښار له اوسېدونکو سره يې لرې اړيکې لرلې، تر دې چې له پورژواګانو سره اختلاف پيدا کړي.

خو روحاني سينيورانو د ښارونو او د بورژواګانو له ژوندانه سره مخالفت کولو، چې د ځينو جګړو لامل وګرځېدل. د پېښې له مخې، په هغه جنګ کې چې د ۱۱مې پېړۍ په دوهمې نيمايې کې د امپراطورانو او پاپ په منځ کې ونښتو، د لمباردي ښارونو اوسېدونکو موکه ومونډله، چې د دې روحاني شاهزويانو پر ضد پاڅون وکړي. په ۱۰۷۷م کال کې د کامبر ښار د هغه اسقف (لوی کشيش) پر ضد قيام و کړ او تر ټولو پخوانی کمون يې منځ ته راوړ.

په دې توګه ښارونو د اوومې پېړۍ په پيل او ځينو د همدې پېړۍ په ترڅ کې د ښاري جوړښتونو خاوندان شول، چې دوی د ژوندانه بڼې ايجابول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څه چې بورژوازي يې ځانګړې کوله، دا وه، چې بورژوازي د پاتې خلکو په منځ کې يوه وتلې طبقه جوړوله. نن د ښارونو توپير له کليو سره دادی، چې د ښارونو اوسېدونکي ډېر او ادارې يې پېچلې دي، خو بل بانديوالی نلري او نورو عمومي او ځانګړو حقونو خاوندان نه دي.

خو بورژواګان داسې نه وو او د حقونو له پلوه د ټولو هغه کسانو سره، چې د ښار له دېواله نه يې بهر ژوند کاوه، توپير درلوده؛ همدا چې انسان د ښار له دړې او ډنډ نه تېرېده، بلې نړې ته ورتللو او په حقيقت کې د بېلو حقونو سيمې کې يې پښه کېښودله. بورژواګان د لويو کورنيو او روحانيانو په شان په عمومی حقونو کې ګډ نه وو.

د ښار زمکې هم ښېګڼې درلودلې او د پناه وړلو ځای شمېرل کېده، که هر چا هلته کډه کړې وای، د دې په شان چې کليسا ته پناه يوسي، په امان کې ؤ. لنډه دا چې پورژوازي له هره پلوه ځانګړې طبقه ګڼل کېدله او بورژواګانو د کليو خلکو ته د زېښناک په سترګه کتل او په بشپړه کست (حسادت) سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاضر نه وو، له خپلو ښېګڼو څخه هغو ته څه شی ورکړي.

دلته دا ټکي هم باید یاد کړو، چې د ۱۲مې پېړۍ نه تر ۱۵مې پېړۍ پورې په ټولې اروپا کې د ښارونو نفوس د ټول نفوس یو پر لسمې برخې نه ډېر نه ؤ.

د سوداګرۍ اغېزه په فیوډالي جوړښت باندې:

۱ – کله چې سوداګرۍ رونق وموند، سینیورانو او د هغو چاپېروالو غوښتل، خپل ژوند ته د هغو شیانو په وزله، چې د سوداګرۍ له لارې د دوی لاس ته رسېدل، لوېښت یا لږ تر لږه هوساینه ورکړي. که چېرې په ۱۱مې او ۱۲مې پېړۍ کې د ټولنې د لوړو طبقاتو د یوه وګړي ژوند وڅېړو، وینو، چې د خوړو، کالیو او د کور او نورو شیانو له پلوه یې لګښت خورا پورته تللی دی.

په دې توګه د زمکو د لویو خانانو اړتیاوې زیاتېدې او د جنسونو نرخونه هم پورته تلل، خو د یاد شوو خانانو عاید په هغه اندازه نه ډېرېدو، ولې چې دوی خپل عواید د هغو دودونو پر بنسټ لاس ته راوړل، چې مقدس شمېرل کېدل او هغو ته ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانه وه، چې له دې دودونو تېرى وکړي، نـوى عايـد خلکو نـه واخلـي. لـه دې کبلـه ډېـرې اسـيلې کـورنۍ (يـانې د زمکولـوى خاونـدان) پـوروړي او يـا ديـوالي شول، د بېلګې په توګه کېسـه کـوي، چې د ۱۳مې پېړۍ په نيمايي کې، په يوه سيمه کې د خانانو شمېر له ۶۰ کسانو نه ۱ يا ۲ کسانو ته راټيټ شو.

۲ – البته ځينې خانان د دې بحـران پـه وړانـدې ودرېدل، په دې مانـا چې پخـواني دودونـه يـې مـات نکـړل، خـو ويـې کـولای شـول چـې د جنسـونو د ګرانېدو څخه تر څه هانده پورې مخنيـوى وکـړي، د بېلګې په توګه پخوا په هـر «کـور» کې ځېنـو مهمې کارګـاوو شـتون لاره او څـو لـس کسـه سـرفان يـې بوختول، چې ټوکر او يـا د کـار افـزار جـوړ کـړي او پـه دې حـال کې چې همدغـه لوښـي د ګاونـډي ښـار د کسبيانو لخوا جوړېـدل. ځينـې خانـان پـه هڅـه کې شـول، چې دا راز کارګـاوې منـع کـړي او پـه ۱۲مـې پېړۍ کې دا کارګاوې نـږدې ټولـو ځـايونو کې مـخ پـه زوال شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – ډېرو لويو خانانو، چې ځينې لږ مونډل کېدونکي جنسونه لکه مالګه، شراب او نور چې د دوی په املاکو کې نه مونډل کېدل، لېږې پرتې زمکې يې خپلې کړې وې او دا جنسونه يې له هغه ځايه چمتو کول، نور لوی خانان دې ته اړ نه وو، چې دا لېرې پرتې زمکې وساتي او د هغو په پلورلو يې پيل وکړ.

۴ – د سوداګرۍ له نورو اغېزو څخه يوه دا وه، چې له هغه ځايه چې جنسونه ورو ورو له بهر نه پېرودل کېدل، کورنۍ په هڅه کې شوې، چې د خپلو روپيو عايد ډېر کړي، دې خبرې دوی اړ کول، چې سرواژ له منځه يوسي او يا يې شدت لږ کړي. ولې يو سرف به يې چې ازاد کړ، دوې ګټې يې لرلې: يو دا چې سرف د ځان ازادۍ لپاره پيسې پرې کولې، بله دا چې له ازادېدو وروسته هم له خپلې زمکې څخه نه تېرېدو او د هغې اجاره اخيستونکی به شو. په همدې موکه کې وو، چې سرفانو کولای شول خپل هوډونه، د بېلګې په توګه د بېګار دنده يې د پيسو په بدل له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلـه سـره لېـرې كولـه. ورو ورو پـه پيسـو كېـدلاى شول هر څه وشي.

۵ – د سوداګرۍ نفوذ بيـا دا اغېـزه لرلـه، چې د كرهنې ډول تـه د زمكې، اوبـو او هـوا سـره سـمون وركول كېدو. تر هغه دمه چې د شيانو ورل راوړل لېږ پلي كېدل او د هېڅ په حكم كې وو، اړتيا پيدا كېـده، چې سينيوران په هره توګه چې كېږي، د حبوباتو راز راز ډولونه په خپلو زمكو كې وكـري، ولې چې لـه بلـه ځايه يې چمتو كولاى نشول. خو له دولسمې پېړۍ څخه وروسته، چې سـوداګري دود شـوه او جنسـونه يې له يوې سيمې نه بلې ته وړل راوړل، سينيوران په هڅه كې شول، چې هغـه شـيان پـه خپلـو زمكـو كې وكري، چې له زمكې، اوبو او هوا سـره اړونـد ولـري او په لږ لګښت سره وكرل شي.

۶ – د سوداګرۍ له اغېـزو څخـه دا هـم وو، چې زمكې خوځېدونكې شوې، يانې په لاس پر لاس كېدو يې پيل وكړ – په دې توګه، چې بزګرانو پـه دې موكـه كې په ګاونډي ښار كې يو بازار لرلو او لـه دې كبلـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسو لرلو او ذخیره کولو ذوق په ده کې پیدا شو. په همدې موکه کې هم د ښارونو شتمن بورژواګان په هڅه کې شول، چې زمکې واخلي، ولې چې غوښتل یې هغه ګټې یې، چې د سوداګرۍ نه لاس ته راوړلې، په دې زمکو کې په کار واچوي. په دې توګه ورو ورو ځینې زمکې د لمړنیو خاوندانو له لاسه وتلې او د نویو خاوندانو لاسو کې لوېدلې.

ترانسپورتي ستونزې: په منځنیو پېړیو کې د انسان او شیانو په وړو راوړو کې خورا ستونزو شتون لاره. پخوانیو رومیانو د خپلو یرغلونو لپاره په ځانګړې توګه واټونو ته خورا اهمیت ورکولو او هڅه یې کوله، چې هغه ښې وساتي.

خو دا واټونه په فیوډالي دور کې د هغو ګډوډیو له امله، چې پېښې شوې، د مرکزي ځواک د لېږ کېدلو له امله او د سوداګریزو اړتیاؤ د کمښت له امله ویجاړې شوې او د بېلګې په توګه په نهمې پېړۍ کې یې د خواخوږۍ وړ وضعه لرله.

په فیوډالي دور کې ښه واټونه له منځه تلې وې. خو د لارساتلو حقونه، چې پخوا د واټونو د ساتلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودانولو لپاره اخیستل کېدل، هماغسې پاتې وو، ان نوي حقونه هم منځ ته راغلي وو او له دغو حقونو څخه هيڅ يو يې اصلي موخې ته نه رسېدلو. د لارساتلو حقونه په حقيقت کې يو ډول ماليې وې، چې د سينيورانو له خوا اخيستل کېدلې او حمل او نقل يې په کلکه توګه فلجول. د لارساتلو له دې حقونو څخه يوې پيسې هم په لار جوړلو لګښت نه موندلو او يادشوي حقونه يو بار ؤ، چې په سوداګرۍ باندې تحميلېدو او تر پايه پورې يې هغه د سينيورانو د زورچلولو او ناوړې ګټې پورته کولو له مادو څخه يوه شمېرله.

له دې کبله لمړنی حق، چې ازداد شويو ښارونو غوښتلو، دا ؤ، چې د لارساتلو حقونه دې د بورژواګانو په ګټه له منځه لاړ شي. تر دولسمې پېړۍ وروسته د ښارونو سوداګران بريالي شول، چې د لارساتلو له پرېکولو څخه په پرديو هېوادونو کې هم، چې ترې تېرېدل، تر يوه هانده پورې وبخښل شي، برسېره پر دې د سوداګرو د لارې په سر د لارساتلو د حقونو د اخيستلو لپاره ډېرو بارونو شتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره. د ښلګۍ په توګه د څوارلسمې پېړۍ په پای کې د الپ سیند په سر ۳۵ او د دانوب سیند (یوازې په ښکته اطریش کې) په سر ۷۷ ځایونو د لارساتلو د حقونو اخیستلو لپاره شتون لاره.

د واټونو وضعې د جنسونو د ځنډېدو سره مرسته کوله. په ژمي کې نږدې ناشونې وه له هغو واټونو څخه، چې له اوبو او خټو به ډکېدلې، تېر شي. د واټونو ساتل او ودانول د هغه چا په غاړه وو، چې د هغو په ساتلو کې یې ګټه لرله او عمومي ځواکونو نږدې هېڅ راز لاسوهنه نه کوله. له دې کبله د واټونو د وضعې ښه کېدل یوازې د مساپرو او هغو کسانو د ابتکارونو له امله وو، چې د مقدسو ځایونو زیارت ته تلل.

څرګنده ده، چې ترانسپورتي وسایل باید له واټونو سره سمون ولري. په پایله کې یې عمومن د دوه ټېره ګاډیو څخه کار اخیستلو، خو د تجارت خورا لویه برخه په اس باندې سرته رسېدله او په ندرت سره یې درندې او څلور ټېره ګاډې هم په ډېرینو واټونو کې کارولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د واټونو دا وضعه لامل شوه، چې د سیندونو په فکر کې ولوېدل او له هغو څخه یې، که څه هم چې په ژمې کې به یخ وهلې او په اوړي کې به بښکته کېناستلې، په ډېرو سیمو کې ګټه پورته کوله.

سوداګري د دې ټولو لارساتلو د حقونو له املـه، چې د هېوادونو په منځ کې ورپورې تړل کېدل، د مخنیویو سره مخ وه. خو د هغه په بدل کې په سیاسي سرحدونو کې د سوداګرۍ لپاره هېڅ ممانعت شتون نه لاره او یوازې په ۱۴مې پېړۍ کې وو، چې «د داخلي سوداګرۍ د ساتنې» چلند رامنځ ته شو. له دې تاریخ نه مخکې هېڅکله لېدل شوي نه وو، چې د داخلي سوداګرۍ لپاره کوم پورته والی قایل شي او له هغې نه د بهرنې سیالۍ لپاره ملاتړ وکړي.

د سینورانو خپل منځي اړیکو په اقتصادي وضعې باندې ډېره اغېزه لرله، ولې همدا چې دوه سینیوره به په خپلو کې په جګړه شول، د یو بل سوداګر یې بندې او د دوی مالونه به یې ضبطول او د هغو بېړې یې اخیستلې، په بله توګه د غلیم له

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګرۍ څخه مخنيوی له هغو وسايلو څخه ؤ، چې د هغه اړباسلو لپاره، چې نښته خوشې کړي، کارېدلو.

خو همدا چې سوله به بېرته ټينګه شوه، له دې تګلارې څخه به کومه نښه هم نه پاتې کېدله او نور د هغو وسايلو څخه د ګټې پورته کولو فکر، چې د مخامخ لورې د ماتولو لپاره په کار شي، د دې فکر، چې د مخامخ لوري بازارونه له هغه نه ونيسي او د هغه صنايع ضبط کړي، په هېڅ ځای کې نه کتل کېده.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۵

د ۱۳مې پېړۍ تر پایه پورې فیودالي دور ته بشپړه کتنه

پانګه (کاپیټال) لـه سـوداګرۍ څخه رامنځ تـه شـوه: هـېڅ شـک نشـته، چې د پـانګوالۍ نطفـه لـه هماغه ۱۲مې پېړۍ څخه وتړلی شـوه او سـوداګري یانې هغه سوداګري، چې له اوږدې مودې څخه پلې کېدله، شتمني یې تولید کړه. له **ګودریک دوفنګال** په نامه یوه کس نه کېسه کوي، چې د همـدې دلیـل دی، چې سوداګري او پانګه سره یوځـای پیـدا شـول او تر څنګه یې دا کېسه د ټولـو دورونـو د پانګـه والـو روحیه ځانګړې کوي:

ګودریک دوفنګال د ۱۱مې پېړۍ په پای کې پـه یوې کلیوالې بې وزلې کورنۍ کې نړې تـه راغـی او لـه هغه ځایه چې اړ شو خپله پلرینه زمکه خوشې کـړي، ناچاره شو، خپل ټول فکر د مزد لپاره په کار واچـوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ډېرو ښېوزلو په توګه د سيند په غاړه ګرځېدلو او د هغه شيانو له ټولولو څخه يې، چې سيند څنډو ته راوړل، ژوند کاوه. په هغه موکه کې هم ډېر پېښېدل، چې ښېړې ډوبې شي، توپان هم د هغو پاتې شيان څنډو ته راوړل. د پېښې له مخې يوه ورځ هغه څه چې له سينده د ګودريک دوفنګال لاس ته ورغلل، هغه ته يې موکه ورکړه، چې يوه پنډه وتړي او د ګرځندويو په شان په ګرځېدو روان شي او له دې لارې لږشانې روپې ترلاسه کړي. په همدې وخت کې يوه موکه لاس ته ورغله، چې د سوداګرو له يوې ډلې سره همسفره شي او په دې سفر کې يې وکولای شول ډېره ګټه لاس ته راوړي او د تجارانو سره په کمپنيو کې شرکت وکړي. يادشوی شرکت ښه بريالی شو او ګودريک او همچارو ته يې لويه پانګه ورکړه.

د ګودريک دا برخه ليک په حقيقت کې د نورو ډېرو کسانو برخه ليک دی. په هغه دور کې چې سيمه ايزې قحطۍ ډېرې پېښېدلې، په اسانۍ سره شونې وه، چې څوک ډېره کمه اندازه غنم، په هغه ځای کې چې پرېمانه وو، واخلي، د قحطۍ سيمې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې يوسي او په ډېره لويه بيه يې وپلوري، ډېره ګټه ترلاسه کړي او دا عمل تکرار کړي. له دې کبله احتکار چې د دې ډول کارونو سرچينه ده، د لمړنيو سوداګريزو شتمنيو په منځ ته راوړلو کې دخيل ؤ.

په دې توګه د پانګه وال کس روحيه په خورا ښه توګه پېژندلې شو.

د يو پانګه وال کس ځانګړي صفتونه دادي، چې د حساب له مخې کارکوي او يوازينۍ موخه يې دا ده، چې ګټې سر په سر ډېرې کړي.

سوداګريزه ګټه د زمکو پېرودونکي ته پکار ورځي: هغه سوداګرو، چې په دې توګه ډېرې ګټې لاس ته راوړلې، له دې ګټې څخه د ګټې پورته کولو ځای په توګه يې زمکې ته تر ټولو څخه د ښې سيمې په توګه کتل. له دې کبله يې د ۱۲مې او ۱۳مې پېړۍ په ترڅ کې د ښارونو عمده برخه زمکه واخيستله او له هغه ځايه چې د ښارونو نفوس ډېرېدلو او د دوی زمکو پر سر به کورونه جوړېدل، له دې لارې يې هومره ګټې يووړې، چې له دوی څخه ډېرو د ۱۳مې پېړۍ له نيمايي نه له سوداګرۍ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر شول او يوازې د خپلو زمکو لـه عايد څخه يې ژوند تېرولو. په دې توګه وينو، چې که څه هم زمکه د خوځنده پانګې سرچينه ده، خو دا خوځنـده پانګه وه، چې بورژواګان يې د زمکو خاوندان وګرځول.

پـه دې دور کې طبيعي ابـرې ډېـر سـوداګريزه کالي وې:

که هغه کالي، چې پـه دې دور کې يـې وربانـدې سوداګري کوله، په پام کې ونيسو، وينو، چې طبيعي ابرې لکه درمل، شراب، غنم، مالګه، کبان او ورې له صنعتي ابرو څخه خورا ډېرې دي.

نېردې د صنعت ټول ډولونه لکـه بوټـان، کـالي او افزار د ښارونو په چاپېريال کې پاتې وو، پـه دې مانـا چې د دې لوښو جوړوونکو هغه يې انحصـار کـړي وو او يوازې په سيمه ايزو بازارونو کې يې پلورل. لـه دې کبله هغه کالي، چې په سوداګرۍ کې دود وو، غالبن طبيعي ابرې وې – البته په همدې دور کې د مـاهوتو (کشـميرې) سـوداګري د لويـو سـوداګريو څخـه وه، خو د دې ډول صنعتي ابرو سوداګري بايد اسـتثنايي وشمېرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښ توب او معدنونو صنعت: په ځينو ځايونو کې د پښ توب سوداګرۍ پراختيا موندله، په سوداګرۍ کې شامله شوه، خو په بشپړه توګه بايد ووايو، چې د دې ډول صنعت پراختيا په منځنيو پيړيو کې لږه او ناقصه وه او همدا موضوع ده، چې د منځنيو پيړيو اقتصاد د نوي دور له اقتصاد څخه جلا کوي. د ډبرينو سکرو وېستل هم په همدې درجې ناقصه وو.

د کسبونو انحصار - کارپورېشن: له يوولسمې پېړۍ څخه وروسته هر کسب يوه ځانګړې ډله جوړوله، چې کارپورېشن نومېده. هرې ډلې حق لاره، چې خپل کسب هغو کسانو ته ځانګړی کړي، چې د هغې غړيتوب يې درلوده. دې ډلو هسې حقونه لرل، چې د صنعت له ازادۍ سره يې بشپړه تضاد لرلو او د هغو بنسټ له انحصار څخه پرته دا ؤ، چې له خپل صنعت څخه ملاتړ وکړي او هغه له هر راز داخلي او بهرنې سيالۍ څخه وژغوري.

دې کارپورېشنونو د ښار بازار د بهرنيو ابرو پر مخ تړلو او په څنګ کې يې ځارنه کوله، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارپورېشـن هـېڅ غـړی د نـورو غـړو پـر ضـد شـتمن نشي. له دې کبلـه کارپوریشـنونو د خپلـو غـړو لپـاره پرېکـړې لرلـې، د بېلګې پـه توګـه د بیـې او لاسـمزد کچه، د کار ګنټې، د هغو افزارونو، او کـارګرانو شـمېر، چې هره کارګاه یې باید ولري، ټاکلې. هر ډول رکـلام (تبلیغـات یـې منعـه کـول)، تـر څـو پـه دې توګـه د کارپورېشن هېڅ غړی له بل څخه مخکې نه شي او د امکان تر هانده برابرتیا په دوی کې حاکمه وي.

د هـر کارپورېشـن حقونـه او بانـدېوالتیاوې، چـې هغه یې له سیالۍ څخه ژغـورل، لامـل شـول، چـې د ابتکار ځواک له منځه لاړ شي، ولې چې هیڅ چا حق نلرلو، خپل جنس له نورو ژر یا ارزانـه چمتـو کـړي او پـــه دې توګـــه هغـــو تـــه ضـــرر ورســـوي. د دې کارپورېشـنونو اصـلي موخـه دا وه، چـې صـنعت پـه همـاغې وضـعې کـې چـې وه، وسـاتي، تـر څـو د وګـړو وضعه هم ثابته پاتې شي.

د کارپورېشن مقرراتو یوه بله بڼه هم لرله او هغه د مصرفوونکي ژغورل وو، په دې مانا چې د ابرو ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارپوربشن له خوا بیا کنټرول کېده، تر څو له بنکلا و نه لوېږي، د دوکو او جعل لپاره یې ګرانې سزاګانې ټاکلې وې.

دې کارپوربشنونو، چې کسبیانو د ۱۱مې پېړۍ په پای کې پیل کړې، لمړی هېڅ قانوني بڼه نلرله او هغه کسبیان یې، چې د کارپوربشن غړي نه وو، یوازې د بایکوټ کولو (د هغو د مصنوعاتو د منع کولو) له لارې کولای شول، کارپوربشن کې غړیتوب ته اړ کړي، خو ورو ورو کارپوربشنونو ځواک موند او په پای کې قانون اړ شو، د هغو واکونه په رسمیت وپېژني.

د کارګرانو او پاترنونو وضعیت: د هغه کارګرانو ژوند، چې په صنعتي ښارونو کې په کارګاوو کې بوخت وو (دوی نباید د کسبیانو سره اشتباه و نه نیسو)، پرله پسې د بحران او وزګارتیا سره مخ ؤ. همدا به چې توکي د جګړې له امله او د هغو د واردولو له امله بند شول، کارګاوې به له کاره ودرېدې او د وزګارو کارګرانو ډلې به په کوڅو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشې شوې او يا په کليو کې به په سوالګرۍ لګيا شوې.

په هغو دورونو کې به چې دا بحرانونه نه وو، د کارګاوو د خاوندانو او يا اجاره لرونکو وضعيت به د منني وړ ؤ، خو کارګرانو په خپله غالبن په تنګو او ناولو کوڅو کې په هغو کوټو کې، چې په اونيزه توګه به يې کرا کولې، ژوند کاوه او پرته له خپلو کاليو يې هېڅ مال نلرلو. دا کارګران به له يوه ښار نه بل ته تلل او اربابانو (پاترنانو) سره به اجير کېدل. د دوه نۍ (دوشنبه) سهار به چې شو، دا بېوزلي به تر کليسا چاپېره عمومي ميدانونو کې کوم ارباب ته سترګې په لار وو، چې دوی د اتو ورځو په موده اجير کړي.

د کار ورځ د سهار له سره پيل کېده او پای يې د ورځې پای ؤ. د پيسو پرې کول به د خالي (شنبه) په ورځ پلي کېدل او سره د هغه چې د ښار مقرراتو به امر کولو، چې پيسې بايد په سپينو زرو پرې شي، اربابانو د پرې کولو په موکه خورا ناوړه ګټه پورته کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه دې توګــه د لويــو صــنايعو کــارګرانو د نــور کسبيانو په منځ کې هغه طبقه تشکيلوله، چې تر يوه هانـده پـورې د نـن ورځـې پرولتاريـا تـه ورتـه وه. دا کارګران د «شنو نوکـانو»، د کـاليو او د تريخـوالي لـه امله، چې په چلند او خبرو کې يـې درلـوده، پېژنـدل کېدل؛ هېڅ چا له دې نـه، چې لـه دې بېوزلـو سـره سم چلند ونکړي، حزر نـه کولـو، ولې چې پوهېـدل، چې که چېرې د دوی څخه يو وشـړي، د هغـه ځـای به د اوږدې مودې لپـاره تـش پـاتې نـه شـي. لـه دې کبله د اريانتيا ځای نه دی، که وينو، چې کـارګرانو د هماغه ديارلسمې پېړۍ لـه مـنځ نـه د اعتصـابونو پـه جوړولو لاس پورې ګړ. تر ټولو پخوانی اعتصاب، چې موږ ته څرګند دی، پـه ۱۲۴۶م کـال کـې د دويـې پـه ښار کې (د فرانسې له شمال لويـديزو ښـارونو څخـه) پېښ شو. په کال ۱۲۷۴م کې د ګان د ښار (د بلژيک په شمال لويديز کې پروت دی) د ټوکراوبدلو کارګران له اعتصاب څخه هم پورته لاړل، په ډله ايزه توګه لـه ښـار نـه ووتـل او د بلژيـک د پايتخـت پـه لـور روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، خو د ښارونو خلک د دوی له عمل نه خبر شول، لار یې د دوی پر مخ وتړله. له دې کبله په هالنډ او بلژیک کې له ۱۲۴۲م څخه ځیني تړونونه د ځینو ښارونو تر منځ وتړل شول، پر دې بنسټ چې شکمن او توطیه ګر کارګران یو بل ته ورسـتانه کړي او هرکله به چې کارګران د امر نه د سرغړونو په هڅه کې شول، هغوی یې تبعیدول او یا یې وژل.

هغو کارګرانو چې د دې دور په کارګاوو کې کار کولو، زموږ د عصر له مزدورانو سره یې څو بنسټیز توپیرونه لرل:

۱ – دغه کارګران د دې پر ځای چې په لویو فابریکو کې په خپلو کې څنګ تر څنګه کار وکړي، په وړو کارګاوو کې خواره وو.

۲ – پاترن (ارباب) چې د کار د افزارو څښتن او یا – هسې چې غالبن پېښېدل – د هغو اجاره لرونکی ؤ، اصولن په خپله هم کارګر ؤ او د یوه کس پانګه وال سوداګر په حساب یې کار کولو او حال دا چې د نن ورځې فابریکه لروونکي پخپله په هېڅ وجه کارګر نه دي او په کار کې برخه نه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه ځايه چې د ښار مشران د بورژواګانو له منځه ټاکل کېدل، په حقيقت کې داسې ډاډه مرجع، چې د کارګرانو حقونه وژغوري، شتون نه لاره. د هغو سندونو پر بنسټ، چې په لاس کې دي، په بشپړه توګه څرګندوي، چې د لويو صنايعو د کارګرانو زبېښاک کومې درجې ته رسېدلو، کاروركونكو په پاترنانو او پاترنانو په خپل وار سره په بېوزلو کارګرانو فشار راوړلو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۶

۱۴مې و ۱۵مې پېړۍ ته بشپړه کتنه

د بزګرانو وضعیت: د ۱۴مې پېړۍ په پیل کې د اروپا اقتصادي وضعه داسې وه، چې نه د ښارونو خلک او نه د کليو خلک هېڅ يو هم خوښ نه وو.

ومو ویل، چې له ۱۱مې پېړۍ وروسته د سرفانو ازادول پیل شول، خو د سرواژ دور ډېرې پای پاتې (باقی مانده) برخې لا ټينګې وې، په ډېرو هېوادونو کې لا درانه بیګارونه په سرفانو باندې تحمیلېدل، په دې حال کې چې د سرواژ ښـېګڼې له دوی څخه اخیستل شوې وې. په دې مانا چې سینیورانو په ۱۲مې او ۱۳مې پېړۍ کې – هماغه شان مو چې څرګنده کړه – د خپلو زمکو یوه برخه ازاده کړه او په اجاره يې ورکوله او له دې کبله يې غالبن خپلې پخوانۍ بنې له لاسه ورکړې وې او د بېلګې په توګه ځانونه يې د خپلو زمکو اوسېدونکو څخه ملاتړ ته موظف نه ګڼلو. سینیوران په هغه دور کې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمکو لرونکو په حکم کې وو، چې د ماليو او ارزي حقونو د اخيستلو له لارې يې ژوند کاوه.

پخوا سرفان له اربابی زمکو نه تښتول او نورو سيمو ته تلل او د بل ارباب په شنډو زمکو کې په کرهڼه بوختېدل او سينيوران د دې لپاره، چې د هغو له تېښتې نه مخنيوی وکړي، ناهوبله دوی ته يې ازادي ورکوله او هغوی يې اجاره اخيستلو ته اړباسل. خو په دې دورکې له هغه ځايه چې د سينيورانو ډېرې زمکې ودانې شوې وې، سرفان که له خپلې زمکې څخه تښتول، عمومن کوم ارباب يې نه موندلو، چې هغو ته زمکه ورکړي. له دې کبله په دې دورکې کوم مهم لامل شتون نه لاره، چې سينيوران سرفانو ته ازادي ورکړي. سره د دې له دې کبله چې سينيورانو د تجارت د پيدا کېدو له امله پيسو ته اړتيا پيدا کړې وه، داسې پېښېدل، چې خپل سرفان او کله د يوه کلي ټول اوسېدونکي يې د لږې وجې په بدل کې ازادول، خو له هغه ځايه – هماغه شان چې موويل – د سينيورانو د شنډو زمکو پراخوالي لږ شوی ؤ. سرفان هيله مند نه وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې که د خپل ارباب له زمکو څخه ووځي، تر دې بنه وضعه وموميي.

له بله پلوه له هغه ځایه چې سرواژ د بزګرو لپاره یو عمومي وضعیت نه ؤ او ګڼ شمېر ازاد شوي وو، هغه شمېر چې په دې وضعیت کې پاتې وو، ځانونه یې له یوه حق څخه بې برخې ګڼل او ناراضه کېدل.

ازاد بزګر هم له سینیورانو څخه، چې هغوی ته یې زور ویلو، ناراضه وو او د سینیورانو خپل منځي جګړې په دې ناخوښیو ورزیاتېدلې.

دا وضعه په فرانسې کې رامنځ ته شوې وه او نورو هېوادونو هم هغه ته ورته وضعیت لرلو. د پېښې له مخې له ۱۳۱۵کال نه تر ۱۳۱۷م کاله پورې په اروپا کې لویه قحطي پېښه شوه، چې ورانونې یې له پخوانیو قحطیو خورا ډېرې وې او ۳۰ کاله وروسته له دې تاریخه یو طاعون راغی، چې تر ټولو خطرناکه طاعون ؤ، چې تاریخ یې په یاد لري، هسې چې د اروپا یو پر دریمه نفوس یې له منځه یوړ.

دا ټول لاملونه د پاڅونونو لامل شول، چې د هغو ببلګه (په ۱۳۵۸م کې د ژاکري خوځښت) مو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب په ۱۳م څپرکي کې څرګند کړ. دا پاڅونونه موخې ته ونه رسېدل، بزګرو که څه هم د ټولنې ډېرکي جوړولو، خو د هغو ټولنيز وضعيت داسې نه ؤ، چې د ګډو عملياتو لپاره يو شي او له فکري پلوه هم نه پوهېدل، چې که اوسنۍ ټولنه ورانه کړي، د سبا ټولنه څرنګه ودانه کړي. د هغه بزګر، چې زمکه يې کرله او هغه خان تر منځ، چې د ده د لاسرنځه څخه يې ژوند کولو، ډېر توپير او تضاد شتون لرلو، خو د هغه توپير په کچه، چې نن دښارونو د کارګر او پانګه وال تر منځ شتون لري، نه محسوسېده، ولې چې د بزګر وضعيت هسې ؤ، چې لمړی هغه په زمکې پورې تړلی ؤ او حال دا چې کارګر په فابريکې پورې هېڅ راز تړون نلري او دوهم دا چې د دوی خپلواکې تر يوه هانده پورې د کارګرانو په پرتله ډېره ساتل شوې وه.

د بورژواګانو او کارګرانو وضعه: له هغه ځايه چې د ښارونو ژوند په صنعت او سوداګرۍ باندې تکيه لرله، څرګنده ده، چې بورژواګانو (سوداګرو او د کارګاؤ خاوندانو) په ښارونو کې ډېر اهميت لرلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهم پوړونه د دوی په لاس کې وو او هغوی وو، چې دولت یې جوړاوه. دې دولت په بشپړه توګه طبقاتي بڼه لرله، له هغه ځایه چې له عمومي ګټو سره یې غبرګون درلوده، تر څه مودې پورې یې لیاقت او کفایت له ځان څخه څرګند کړ او ښاري ادارې یې منځ ته راوړې، مالیه یې رامنځ ته کړه. بازارونه یې سم کړل، ښوونځي یې پرانیستل. خو څرګنده ده، چېرته چې د صنایعو د اقتصادیاتو اداره د هغو کسانو په لاس کې وي، چې د هغو له ګټو څخه ژوند کوي، د هغو هڅه به په دې کې وي، چې ترڅو کولای شي د کارګرانو برخه کمه کړي.

موږ پخوا څرګنده کړه، چې کارګرانو څنګه په تدریج سره د فابریکو له خاوندانو سره مخالفت پیل کړ. اوس یو ټکي پر تېرو خبرو ورزیاتوو، چې ورو ورو ګڼ شمېر بورژواګان هم دې کارګرانو سره یوځای شول، ولې چې اقتصادي ځواک یوازې د لږو شمېرو په لاس کې لوېدلی ؤ، چې نورو ته یې د ګډون حق نه ورکولو. په دې توګه دوه بهیره د اداره کوونکو پر ضد رامنځ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې پاڅونو باندې، چې د کارپوريشنونو له خوا د پاترنانو پرضد پلې کېدل او موږ له هغو څخه ځينې د کتاب په تېرو څپرکو کې څرګند کړل، غالبن د «ديموکراتيک انقلاب» نوم کېږدي. که دېموکراسي، په هغه مانا سره چې نن يې لري، په نظر کې ونيسو، دا نوم اېښودل چنداني سم نه دي، ولې چې ناراضيان او ياغيان د ملي حکومت د رامنځ ته کولو په هڅه کې نه وو، بلکه يوازې د ولسواليو په حدودو کې يې فکر کاوه او هر کارپورېشن يوازې د خپل کسب په فکر کې ؤ او له دې کبله هرکله څو کارپورېشنونه د مبارزې په موکه له يوبل سره يو کېدل، مازې همدا به چې هله ګوله وېده شوه، هغه وخت به په خپلو کې په نښته بوخت شول.

له بله پلوه نبايد هېر کړو، چې همدا انقلابيان، چې په ځانونو يې دېموکرات نوم ايښې ؤ، د هغو ډلو غړي وو، چې د ښار ټولو خلکو په پرتله د ډېرو باندېوالتياوو خاوندان وو او د بېلګې په توګه د صنعت او سوداګرۍ انحصار يې په لاس کې لرلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دېموکراسي، چې دا کسان یې پلوي وو، په حقیقت کې د باندېوالتیاوو خاوندانو لپاره د دېموکراسۍ څخه عبارت وه.

*****

د کارپورېشن په بنسټ کې تزلزل

دکارګرانو او پانګه والو نښتو ته چمتو کېدل:

ومو ویل، چې د ښارونو چارې لویو بورژواګانو اداره کولې او له هغه ځایه چې دغو مهمې دندې ځانونو ته ځانګړې کړې وې او ناوړه ګټه یې پورته کوله، د ۱۳مې پېړۍ له نیمايي راهیسې د وړو سوداګرو او کارګرانو له خوا ځینې خوځښتونه د لویو بورژواګانو پر ضد راپورته شول او له هغه ځایه چې د نفوس ډېرکی په کارپورېشنونو کې ؤ، ناچاره شول، چې کارپورېشنونو ته د ښار د چارو په اداري کې برخه ورکړي او د هغو استاذي ومني.

له بله پلوه دهغو کارګرانو وضعې، چې په لویو صنایعو کې یې کار کولو، د بازار د سیمه ایزو کسبیانو سره خورا توپیر درلوده. دا کارګران نور د خپلو اربابانو سره په یوه کربښه کې نه وو او خپله اقتصادي خپلواکي یې له لاسه ورکړې وه. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کبله په هڅه کې وو، چې له اقتصادي بدې وضعې څخه راووځي او د کار د شرايطو او د لاسمزد بيې ټاکل د دوی خپل لاس ته ولوېږي او ناروښانه افکار د برابرتيا په هکله له هغوی څخه د ډېرو په سر کې لوېدلي وو. همدغه وو، چې د ۱۳مې پېړۍ په پای کې يې په ټولو ښارونو کې د پاڅون بيراغ اوچت کړ، خو په چټکتيا سره د بورژوازۍ نورو وګړو، يانې سوداګرو او کسبيانو د دوی پر ضد لاس په پاڅون پورې کړ او د هغوی خوځښتونه يې کرار کړل.

د دې ورځ مزده کارګرانو او دې پرولترانو په وړاندې د لويې سوداګرۍ پانګه وال، دلالان او د جنسونو صادرونکي د سيمه ايزو صنايعو له خاوندانو سره يو شول او د دې لپاره چې ټول وګړي راضی وساتي، په هڅه کې شول، چې هرې مهمې ډلې ته، يانې د وړو کارګاوو بورژواګانو او د ټوکر اوبدلو فابريکو کارګرانو ته د ښار په چارو کې د مداخلې حق ورکړي. خو نوموړي کارګران پوهېدل، چې دا عمل له يوه نيرنګ څخه پرته ډېرڅه نه دي، ولې چې په دې توګه به دوی د ښار نورو غړو په پرتله لږکی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دې لپاره چې خپل حق واخلي، زورته لاس اچلو ځخه پرته بله لار نلري. له دې کبله يې د ټولې ۱۴مې پېړۍ په موده کې لاس په خوځښتونو پورې کړ او حکومت يې په لاس کې ونيوه، خو عمومن د دوی غليمانو ښارونه کلابند کول او د دوی لار يې له بهر سره تړله او کارګران يې تسليمېدوته اړ کول او په پای کې خوځښتونو په عام وژنې سره پای مونده او کارګران اړ شول له خپلو غليمانو سره بېرته جوړښت وکړي.

د ۱۴مې پېړۍ په پای کې په کوچنيو کارپورېشنونو کې هم پرولترو شتون وموند، ولې چې هغو هم کولای نشول، چې د خپلو غړو اقتصادی خپلواکي خوندي وساتي. تر هغه وخته پورې چې کسبيانو هيله لرله، چې په اسانۍ سره د ښوونکي درجې ته ورسېږي، له خپلو ښوونکو سره يې په سوله او اسيلتيا کې ژوند کولو، خو د کسبونو پراختيا هغه هاند ته رسېدلې وه، چې د مصرفوونکو شمېر اجازه نه ورکوله، چې نوې کارګاوې منځ ته راوړي او د توليد کچه پورته يوسي، نو د ښوونکي پوړ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسېدل ورځ په ورځ لا ګران شـول او راز راز مقـررات رامنځ ته شول، تر څو د ښـوونكي پوړ د ښـوونكو پـه كورنيـو كې پـاتې شـي، د زده كـړې مـوده يـې اوږده كړه، د هغه پيسو كچه يې، چې د ښـوونكي مقـام تـه رسـېدو لپـاره بايـد پـرې شـي، پورتـه يـووړه. د يـوه شـاهكار ښـودل يـې، چې د كسـبي د لياقت بېلګـه واوسي، د ښوونكي پوړ ته رسېدلو لپاره لازمي وګڼله. لنـډه دا چـې د كسـبيانو كارپوربښـنونه د يـو شـمېر كبرجنو ښوونكو درلودونكي شول، چې غوښـتل يـې چې كارپوربښـن يـوازې خپلـو زامنـو او يـا زومـانو تـه وسپاري.

له دې كبله د هماغه ۱۴مې پېړۍ له نيمـايې نـه زده كوونكو او كـارګرانو، چې د خپـل وضـعيت د ښـه كېـدو لپـاره كومـه هيلـه نلرلـه، پـه اعتصـابونو لاس پورې كړ او غوښتنه يې وكړه، چې لاسـمزدونه پورتـه شي او تر څنګه يې دوی هم وكولای شـي د ښـوونكو په توګه د كارګاوو په ادارې كې ګډون ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دور کې کارګر، چې پخوا د خپل ښـوونکي مرستيال ؤ او د هغه په ژوندانه کې يې ګډون لرلو او غالبن له هغه سر يې خپلوي کوله او په کـورنۍ کې يې ورګډېده او د هغه ځای ناستی کېدو، ورو ورو په ورځ مزده کارګر بانـدې بـدل شـو او په دې توګـه په وړو کارګـاوو کې هـم کـار او پانګـه د يوبـل مخې تـه ودربـدل. هغـه کـورنۍ وضـعه چې پـه کارګـاوو کې حاکمـه وه، لـه منځـه ولاړه او د کـارګر او پانګـه وال نښتې د هغه پر ځای کېناستې.

لـه هغـه ځايـه چې کـارګران ټـول د ګـډو ګټـو خاوندان وو او يو ډول غوښتنې يې لرلې، يو بل سـره د مرستې او د خپلو ګټو څخه دفاع لپـاره يـې ځينې ټولنې جـوړې کـړې، چې لمنـه يـې تـر ډېرو ښـارونو پورې غزېدله. د دې سازمانونو بنسټيزه موخه دا وه، چې خپلو غړو له کار پيدا کړي او هغوی د اربابانو له زبېښاک څخه وژغوري.

اربابان هم د دې سازمانونو په وړانـدې پـه خپلـو کې نږدې شـول او پـه خپلـو کې يـې د يـووالي تـړون وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه په ښارونو کې اقتصادي او ټولنيز تضاد څرګند شو. خو دا تضاد که څومره هم ځواکمن ؤ، کولای يې نشول چې د دې ځواکمن تشکيل بنسټ دړې وړې کړي، په ځانګړې توګه، چې د فکر او اړتياوو او ګټو له کبله د کارګرانو او کسبيانو يوې خوا ته په خپلو کې او له بزګرو سره بلې خوا ته توپير لرلو. هغو کولای نشول، بزګر هغسې چې لازمه وه، له ځان سره هملاسي کړي او حال داچې لويې کورنۍ، اسيلې کورنۍ او د زمکو لوی خاوندان په چټکتيا سره د سوداګرو او شتمنو او د صنايعو اربابانو مرستې ته راغلل. په پايله کې يې د پاڅون خپې، چې له هر څنډې نه راپورته شوې وې، د پيسو او زور دغه بند په وړاندې ماتېدلې.

د ښارونو داخلي صنايعو نه ملاتړ: البته راز راز صنعتي ډلې، چې په يو ښار کې وې، په خپلو کې يې د ګټو اختلاف درلودلو، خو د هغو ټولو ګټو غوښتنه کوله، چې ځانو نه د بهرنۍ سيالۍ څخه وژغوري. له دې کبله ټول سره يو وو، چې په هره وزله چې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راتلی شي، انحصار ځواکمن کړي. د صادراتي صنايعو کارګران (لوی صنايع، چې د هغوابره له يوه هېواد څخه بل هېواد ته صادرېده، لکه ټوکراوبدل او داسې نور) او د سيمه ايزو بازارونو کسبيان له دې انحصارونو سره موافق وو، ولې چې د صادراتي صنايعو کارګران په دې باور وو، چې د دوی مزد به د صنايعو له املـه پورته لاړ شي. او د سيمه ايزو بازارونو کسبيان هيله مند وو، چې د دې سيستم له کبله به د دوی د کاليو بيې پورته ولاړې شي او يا لږ تر لږه ثابته پاتې شي. له دې کبله صنايعو ځانګړې بڼه وموندله او هر کسب يوې ځانګړې ډلې ته ځانګړی شو.

د هغو په نظر ازادي له هغو باندېوالتياوو څخه عبارت وه، چې د دوی ځای ټينګ کړي. د هغو په نظر هېڅ کوم حق شتون نه لاره، مګر هغه حق، چې لاس ته يې راوړی ؤ.

د دې ځانګړتيا او انحصار بېلګې په دې کې وينو، چې د بورژوازې پوړ ته رسېدلو لپاره ګرانې مقررات پيدا شوي وو او هر ښار هغه باندېوالتياوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې خپلو بورژواګانو ته ورکړې وې، هغو ته منحصرې ساتلې. له دې کبله د ښار اوسېدونکو ته د باندېوالتیاوو لاس ته راوړل ورځ په ورځ لا ګرانېدل.

د همدغو انحصارونو له کبله وو، چې ورو ورو یې هڅه وکړه، د ښارونو خواوې له صنایعو څخه تشې کړي او په تدریج سره یې په بېلابېلو پلمو منع کړله، چې څوک دې د ښار نه بهر کومه هټۍ او یا کارګاه خلاصه کړي او یوازې د بازار په ورځو هغه جنسونه، چې د ښار په منځ کې چمتو شوي نه دي، په هغه ځای کې وپلوري.

دا ډول انحصارونه، په هغه توګه چې صنعت یې فلجولو، لامل شول، چې سوداګري هم د مزاحمت سره مخ شي او له هغه ځایه چې کسبیانو د هغه باور له امله، چې د انحصار ځواکمنولو او د کسبونو ځانګړتیا ته یې لرلو، خپلې ابرې به یې د بازار په ورځو هم پېرودلو او پلورلو ته نه اېښودلې. بازارونه هم په څوارلسمې پېړۍ کې مخ په ډوبېدو شول. له بله پلوه ځینې مقررات پیدا شول، چې سوداګران به

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله کوم ښار ته ورسېدل، باید خپل بازارونه یې خلاص کړي وای، مخکې له دې چې لېرې ځای ته ولاړ شي، خپل جنسونه د هماغه ښار په بورژوازۍ وپلوري. البته دا مقررات د سوداګرۍ له روح سره بشپړ مخالف وو او زیات بندونه یې سوداګرۍ ته په لاس او پښو ورتړل.

خو برسېره پر دې ښارونو کولای نشول ځانونه سوداګرۍ ته نا اړ وبولي او هر څه شتمن کېدل، د دوی اړتیا سوداګرۍ ته ډېرېدله او دوی یوازې کولای شول سوداګري تر هغه هانده پورې، چې د ښار د دېوالونو په منځ کې وه، د خپلو مقرراتو لاندې راولي. له دې کبله د پانګې لاسبرى د هغه ښارونو په منځ کې، چې د سوداګرۍ موخه ګرځېدل، لکه د سمندر څېې، چې د وړو جزیرو په منځ کې خپرېږي، ځای پر ځای کېده.

د لویو سوداګریزو شرکتونو منځ ته راتلل او بانکونه:

د ۱۴مې او ۱۵مې پېړۍ د پام وړ پېښو نه یوه د لویو شرکتونو او د هغو د استاذو چټکه وده ده، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې زمانه کې وه، چې سوداګرو په تدریج سره، د پانګې په کار اچولو لار، د دفترونو ساتل او د اعتبار د خلاصولو مقررات زده کړل. په ۱۴۰۷م کال کې هم د نوې زمانې لمړنی بانک د «ژن» په ښار کې منځ ته راغی.

د سینیورانو او پاچایانو په دستګاه کې د بورژواګانو نفوذ:

له همدې کبله چې د اعتبار پرانیستل دود شول، احتکار خپور شو. وړل راوړل اسان شول. د سوداګرۍ نمایندګیو او د هغو استاذو او ان هغو کسانو ته، چې لرشانې اقتصادي ځواک یې لاره، د سوداګرۍ او ګټې لاس ته راوړلو لار پرانیستل شوه. له هغه ځایه چې د ښارونو مقررات مخ په وده وو، د چوپړو پوځونو ساتلو لګښتونه او د ګرمې وسلې کارول ورځ په ورځ زیاتېدل، پاچا او سینیوران اړ شول، چې ځان نه چاپېره یو شمېر مشاوران او راز راز چارواکي ولري، چې هغه کارونه، چې د اسیلانو له توانه بهر وو او اسیلانو هغه د خپل لویوالي سره وړ نه ګڼل، سرته ورسوي. دې کسانو دنده لرله، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالي چارې اداره کړي او د خپلو اربابانو خزانه تشه پرې نږدي او په دې لار کې د هغو له هر راز دوکې او غلطيو څخه سترګې پټې کړي. په دې توګه يوه نوې طبقه رامنځ ته شوه، چې د پانګې په کار اچولو او د ګټې لاس ته راوړلو په لار کې هېڅ قيد او بند باندې تړلي نه وو او د ښارونو پخوانيو اربابانو په شان يې هېڅ راز مقررات سپېڅلي نه ګڼل. دا طبقه، هغسې چې وړاندې مو وويل، عمومن د سوداګرۍ استاذو او دلالانو، چې وروسته پانګه وال شول، جوړوله.

د ۱۴مې او ۱۵مې پېړۍ ټول پانګه وال اړ وو، چې ځانونه شاهزويانو او سينيورانو پورې وتړي او له دې کبله د هغو تر منځ د ګټو د جوړښت له پلوه ټينګې اړيکې پيدا شوې. له يوه پلوه سينورانو کولای نشول، چې پرته له دغې طبقې خپل عمومي او ځانګړي لګښتونه اداره کړي او له بله پلوه لوی سوداګر او بانک لروونکي په سينيورانو باندې يې تکيه کوله، ترڅو هغوی د ښارونو کلکو مقرراتو په هکله خپل ملاتړ وګرځوي، د هغو په لاس د ځان مخالف پاڅونونه کرار کړي او د خپلو پيسو او کاليو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهیر تضمین کړي. ټولنیزو او انقلابي خوځښتونو چې ځومره ډېره وده کوله، هغه کسان یې، چې دا خوځښتونه د دوی پر ضد وو، لا زیات د یوه لوی ځواک په لور، چې د دوی پناه ځای وي، جلبول.

د هېوادونو د سوداګرۍ او صنعت نه ملاتړ: د ښارونو انحصاري مقررات له سیاسي پلوه سینیورانو ته او له اقتصادي پلوه ټولو هغو کسانو ته، چې یاد شوي مقررات د هغوی لپاره خنډ ګرځېدل، زیان راوړونکي وو.

له دې کبله د بېلګې په توګه په فلاندر (د بلژیک په شمال لویدیز) کې کوچنیو ښارونو له سینیورانو ځخه غوښتنه وکړه، چې هغوی ته د لویو ښارونو له استبداد ځخه خلاصون ورکړي. د هغه ملاتړ له امله، چې د کلیو له صنایعو ځخه پلی شو، د ۱۴مې پېړۍ په نیمایي کې یو شمېر کلیو ته اجازه ورکړل شوه، چې په ټوکر اوبدلو بوخت شي. په دې توګه د ټوکر اوبدلو کارګاوې منځ ته راغلې، چې هم یې له فني پلوه او هم یې د کار د شرایطو له پلوه د پخوانیو کارګاوو سره توپیر لرلو، په دې مانا چې نه یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوکس توکرونه يې توليدول، بلکه کم ارزښته توکرې يې هم جوړولې او د کار په رژيم کې ازادي د صنعتي باندېوالتياوو ځای ناستې شوه. په دې دور کې کارپوربښنونه له منځه ولاړل او په هغه حال کې چې پاتې شول، په هغو کې نفوذ د وګړو لپاره اسان شو او دې نوي صنعت د پانګه وال صنعت بنه ځان ته ونيوه، په دې مانا چې کارګر له کاروركوونکي سره مخامخ کېده او له هغه سره يې تړون تړلو او خپل مزد يې له هغه سره ټاکلو. په پای کې د کليو صنعت د پانګه والۍ سرليکه جوړه شوه.

تر دې دمه پاچايانو او سينيورانو له سوداګرو نه ملاتړ کولو او له سوداګرۍ څخه يې د لارساتلو د حقونو اخيستلو له لارې ګټه پورته کوله او د جګړې په موکه کې يې سوداګريزې اړيکې شلولې، خو د خپلو اېلانو اقتصادی فعاليت يې ازاد پرېښودلی ؤ.

له يوه پلوه د سينيورانو واکونه د دوی په سېمې پورې محدود وو او له بله پلوه د بېلابېلو سيمو مقررات لامل کېدل، چې هغوی په خپلو کې جوړښت ونلري او ونکولای شي د عمومي ګټو سره سم او ځانګړو ګټو سره ضد مقررات وضعه کړي. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تدریج سره د ۱۴مې پېړۍ په پای او د ۱۵مې پېړۍ په پيل کې دولتونو هڅه وکړه، چې د خپلو اېلانو صنعت او سوداګرۍ څخه د بهرني صنعت او سوداګرۍ په وړاندې ملاتړ وکړي او د دې کار لپاره يې ښارونه سرمشق وګرځول او د هغو سياست په حقيقت کې هماغه د ښارونو سياست ؤ، چې د دولتونو تر هانده وغزول شو.

تر هغې موکې پورې دولتونو د بهر سره سوداګرۍ لپاره هېڅ راز بنديزونه قايل نه وو، خو تر هغه وروسته يې د ښارونو په دود ځانونو لپاره باندېوالتياوې او انحصارونه جوړ کړل او دا امر لمړی ځل په انګلستان کې، چې له نورو هېوادونو ډېر د دولت د يووالي څښتن ؤ، رابرسېره شو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۷

۱۶مه پېړۍ په صنعت او سوداګرۍ کې لوی بدلونونه

د افریقې له سهېل څخه د هندوستان د لارې موندل کېدل: سلیبي جګړو په پای کې د مسیحیانو په بري پای ونه موند، په دې مانا، چې فلسطین د مسلمانو ترکانو په لاس کې پاتې شو او قسطنطنیه یې هم په ۱۴۵۷م کال کې فتح کړله.

ترکانو د مدیترانې د شمال سوداګریزه لار، یانې هغه لار چې د ژن (د ایتالیا له بندرونو) راتلله او له تور سمندرګې نه تېرېدله، وتړله. خو له هغه ځایه چې په کال ۱۵۱۶م کې یې مصر هم فتحه کړ (د فاتح سلطان محمد په لاس) د مدیترانې د سهېل سوداګرۍ ډېرته رونق وموند او د سره سمندرګي او سکندریې لار ډېرته پرانیستل شوه.

له هغه ځایه چې د مدیترانې د شمال سوداګري له رونقه ولوېده او ایټالیا، چې مهم سوداګریز ښارېې

(c) ketabton.com: The Digital Library

«**ونیز**» ؤ له نږدې ختیز سره یې تقریبن اړیکې وشلولې، هغه هېوادونو چې له ونیز او د ختیز نورو ښارونو سره سوداګري کوله، په هڅه کې شول، چې ګواکې د قسطنطنیې څخه پرته بله لار د هندوستان په لور ومومندي. ولې چې د هغوی عمده سوداګري مرچ، سونډې (زنجبیل) او نور لږموندونکي درملونه وو، چې له هندوستان څخه لاس ته راتلل.

پرتګالیان په دې خیال چې د مراکش په مسلمانانو له سهېل لوري یرغل وکړي او ځانونه د ختیز هېوادونو ته ورسوي، د ۱۵مې پېړۍ په لمړې نیمایې کې یې د افریقې له لویدیزو څنډو نه په ښکته راتلو پیل وکړ. په لمړي سر کې، له هغه ځایه چې سمندر یې نه پېژانده، سرعت یې خورا سوکه ؤ، خو ورو ورو یې چټکتیا ومونده، هسې چې په کال ۱۴۶۰م کې شنه جغ (دماغې) ته ورسېدل او له هغه ځایه چې پوه شول، چې په دې سیمو کې هم پرګنې شته او له هغو ځایوو نه کولای شي، مریان او د سرو زرو دوړه لاس ته راوړي، تشویق شول او د دوی یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمندر وهونکی په ۱۴۸۵م کال کې د هیلې لـه جـغ څخه، چې د افریقې جزیرې پـه سـر کې پرتـه ده، تېـر شو او خبر يې راوړ، چې د افريقې څنـډه د شـمال پـه لور پورته راځي.

دې خبر د بري هيله زياتـه کـړه او پرتګاليـان پـه پـاى کـې پـه ۱۴۹۸م کـال کـې بريـالي شـول، چـې هندوسـتان، چـې افريقـې تـه مخـامخ پـروت دی، د سهېل له لارې وموندي.

ژر ټـول پـوه شـول، چـې د هندوسـتان نـوې لاره ډېـرې ښــېګڼې لــري. پخــوا د دې لپــاره چــې د ســوداګرۍ مــال ختيــز تــه ورســوي، بايــد لــه ســره ســمندرګي څخــه، چــې تنــګ او پــه ســتونزو ســره د تېرېدو وړ ؤ، تېر شي. د سـوداګرۍ مـال پـه عـدن او جدې کې بلې بېړۍ ته منتقل کړي، موافقو بادونو ته تم شي، په زمکنيو واټونو کې هـم د لارسـاتلو حقونـه پرې کړي، په سپکو بېړيو سره د نيل لـه سـينده تېـر شي او په سکندريې کې کالي بلې بېړۍ کې کېـږدي او حال دا چې په نوې لار کې دې ټولو زيارونو تـه اړه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتګاليانو د هرمز جزيره د ايران په سهېل کې په ۱۵۰۷م کال کې ونېوله او سور سمندرګی او د فارس خليج يې، چې د مصر او سورېې دوه سوداګريز بنسټونه وو، خان ته ځانګړي کړل. وروسته يې هم عدن ونيوه او مصري بېړې يې تر يرغل لاندې ونېولې.

کله چې پرتګاليان په سمندريزو لارو مسلط شول، مسلمانو سوداګرو سره يې په نښتو پيل وکړ او د هغو جګړې په حقيقت کې د مرچو او سوندې د سوداګرو صليبي جنګ ؤ.

په دې جنګونو کې عجيبې ځناورتياوې پلې شوې او هر راز کړنه د مسلمانانو پر ضد جايزه وشمېرل شوه. **اور لګول، عام وژنه، کلابندي، د ودانو ښارونو ورانونه، د بېړيو سوزول سره د کارکوونکو، د بنديانو د سرونو پرې کول او «بربرو» پاچايانو ته د هغو د پزو او غوږونو لېږل، دا وو د هغو کسانو کړنې، چې پر ځانونو يې د مسيح سپارو نوم ايښې ؤ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکې کشف: شپږکاله مخکې له دې چې دا لار وموندل شي، یانې کریستوفر کلمبوس، چې هغه هم د هندوستان موندلو لپاره په سمندر وهلو بوخت ؤ، امریکا یې کشف کړله.

دا سړی د «ژن» د بندرګي اوسېدونکی ؤ او ځېرنه یې کوله، تر څو د هندوستان لار د ختیز له لوري ومومندي او د دې لپاره چې د دې کار وزلې چمتو کړي، پرتګال ته ولاړ.خو په هغه ځای کې بریالی نشو او اسپانیې ته یې سفر وکړ. د اسپانیې پاچا له هغه سره دا ومنل او درې بېړۍ یې ده ته ورکړې. کلمبوس د اسپانیې سهېل لویدیز لوري ته روان شو او په هماغه کال کې د امریکې جزیرو ته ورسېدو. کلمبوس څلور ځلې نور هم امریکې ته سفر وکړ او تر ۱۵۰۶م کال پورې چې مړ شو، فکر یې کاوه، چې هندوستان یې کشف کړی او نه پوهېدو، چې هلته نوې سیمه ده.

کله چې کلمبوس د امریکې لمړنې جزیرې کشف کړې، ټولو دی وبنکنه، چې د هند د هېواد د موندلو لپاره یې بده لار ټاکلې او حال دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتګالیانو ښه لار موندلې ده. دی یې ملامت کړ، چې د ده زمکې لېږ سره زر لري، له دې کبله د سرو زرو حرص د کلمبوس ځای ناستي اړباسل، چې د لویدیز خواته مخکې لاړ شي.

امریکا د کلمبوس له کشفه وړاندې: پراخې وچې، چې د هند لار یې په سمندر وهونکو بندوله، واقعن نوې نړۍ وه او له عجایبو ځخه ډکه. په بشپړه توګه د کریستف کلمبوس نه مخکې امریکه د تمدن له پلوه د زمکې د کرې له نورو سیمو څخه وروسته پاتې وه. ډېر ولسونو هلته د تاریخ نه وړاندې ژوندانه په دود یې ژوند کولو، په هغه توګه چې که وغواړو د امریکې د هغه وخت تر ټولو ځلاند تمدنونه له نورو تمدنونو سره پرتله کړو، باید هغوی د کلدې، مصر او چین له پخواني تمدن ته ورته وګڼو.

په دې سیمه کې هغه څه چې د اروپائیانو پام تر هر څه ډېر جلب کړ، د امریکې بې شمېره سره زر، سپین زر، مرغلرې او مرجان وو، چې د هند د درملونه یې له یادونو څخه واېستل. بلې سوداګرۍ چې خورا ډېره ګټه لرله، هغه د دې خاورې د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګري وه، چې هغو يې ښکارول او په اروپاکې يې د مريه په نامه پلورل. اصولن وروسته له دې چې امريکه کشف شوه، روحانيانو تر مودو پورې بحث کولو، چې آيا د دې خاورې خلک روح لري او که نه!

د امريکې له بوميانو سره د اروپائيانو د چلند بېلګه: هماغه شان مو چې وويل، هغه څه چې اروپائيان يې امريکې ته جلب کړل، د هغې سره او سپين زر وو. له دې کبله ورځ په ورځ د هغو پېښو لڅو شمېر، چې په سرو زرو پسې يې ځغستل، ډېر شو او دغو سره د دې چې ځانونو ته يې د مذهب رنګ هم ورکولو او ويل يې، د ځناورو مسيحې کولو او د خداى رضا لپاره هغې خاورې ته ځي، له هېڅ ډول ځېرنې نه يې ډډه نه کوله. دا دي د هغو د چلند څو بېلګې:

اسپانويانو مکسيکو فتحه کړله. د مکسيکو وروستني پاچا چې ډېر مقاومت وښوده، په پاى کې ونېول شو او هغه يې په دار وځړاوه، خو وړاندې له دې چې دار ته وخېژول شي، دى يې په سره اور

(c) ketabton.com: The Digital Library

خملاوه، تر څو خپل ګنجونه ښکاره کړي! نـامتو ده، چې وزير يې هم په همدې شکنچې اختـه کـړی ؤ او هغه تر زاريو ډکو کتلـو سـره لـه پاچـا څخـه غوښـتنه وکړه، چې دومره پـه شـکنجې کـې پـاتې نشـي او ګـنج ځرګند کـړي. پاچـا ده تـه مـخ راواړولـو او ويـې ويـل: «آيا زه څه د ګلو په پاڼو وېده يم؟»

په همـدې موکـه کـې د دو کسـو اسـپانويانو وژل کېدلو اسپانويانو ته پلمه په لاس کې ورکـړه او هغـو قاتل کس او نور ۱۵ کسـه بوميـان ونيـول او ژونـدي يې په اور وسوزول!

هسې چې مؤرخـانو ليکلـي دي: د مکسـيکو پـه نېولو کې ۶۷،۰۰۰ کسه له بوميانو څخه په جګړه کې او ۵۰،۰۰۰ کسه له هغوی څخـه د نـاروغيو لـه کبلـه مړه شول! که دا رقمونه که څه هم مبالغه جـن وي، ځرګندوي، چې د بوميـانو پـه وژلـو کـې څـومره هڅـه سرته رسېدله.

د «پيـرو» پـه نېولـو کـې هـم اسـپانويانو پـه يـوه خبـــره ۲،۰۰۰ او پـــه بلـــه خبـــره ۱۰،۰۰۰ کســـه اوسېدونکي ووژل، په دې حال کې چې دوی خپله يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کس زخمي هم نلرلو، ولې چې دوی په ګرمې وسلې سمبال له هغو کسانو سره، چې د دفاع لپاره يې هېڅ ځواکمنه وسله نلرله، مخامخ کېدل.

د امريکې د سرو زرو کچه: ونزويلا د سرو زرو خاوره وه او په هغه کچه سر زر يې درلودل، چې کورني لوښي يې هم له سرو زرو څخه جوړول. د هغو کسانو ځناورتوب، چې دې خاروې ته ورغلل، هومره وه، چې هغه ځای يې له نفوس څخه تش کړ د مريانو په يوه بازار يې بدل کړ.

ليکي، چې له ۱۵۳۳م کال څخه وروسته له «پيرو» څخه يې له سلو ميليونو فرانکو څخه پورته سره زر او د هغه دوه ځله يې سپين زر بهر کړل.

د امريکې او اسپانيا ابرې يې د ۱۵۴۱م – ۱۵۴۴م کلونو په منځ کې نږدې ۱۷ميليونه فرانکه اټکل کړې دي.

انګلستان څنګه شتمن شو: داسې ښکارېده، چې د اسپانيې او پرتګال سوداګريز او مالي ځواک نه ماتېدونکی دی او د امريکې سره زر په ځانګړې توګه د دوی دي او د نورو هېوادونو سوداګر او د هغو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډلې نه انګلستان بايد لـه لېـرې ځـخـه دا دسـترخوان يوازې بوی کړي. د هغو يوازېنې هيله دا وه، چې لـه هغـه ځايـه چـې اسـپانويان لـه سـهېل لويـديز او پرتګاليان له سهېل ختيز ځخـه هندوسـتان تـه روان شوي دي، کېدای شي لـه شـمال ختيـز او يـا شـمال لوېـديز ځخـه کومـه لار شـتون ولـري، لـه دې کبلـه انګرېـز سـيلانيان لـه دوو خـواوو ځخـه پـه هڅـو کـې شول، خو کوم ځای ته ونه رسېدل.

البته د انګريز پاچايانو جرئت کولای نشو، چې له اسپانيې سره ووهي، خـو د انګلسـتان سـوداګرو پـه دې کې هـېڅ کومـه ګټـه نلرلـه، چې دا تـړون درون وشـمېرې او د نـړۍ شـتمنو سـيمو تـه ولاړ نشـي. د انګلستان سمندريزه غلا په ۱۵مې پېړۍ کې مشهوره وه او په ۱۶مې پېړۍ کې د وطن پرسـتۍ هانـدونو تـه ورسـېده. د سـمندريزې سـوداګرۍ او غـلا تـر مـنځ کومه ټاکلې جلا کوونکې کرښه نه وه او د غلا ځينـې ډولونـه اصـولن قـانوني شـمېرل کېـدل، د بېلګـې پـه توګه که کوم بېړۍ چلونکی د بهرنې بېړې لخوا لـوټ شوی وای، حق يـې لاره، چې د هغـه بـدل لـه هـرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېړۍ څخه، چې د هغه هېواد څخه وي، واخلي. انګرېز بېړۍ چلوونکي، چې په توپو سنبالې بېړۍ يې لرلې، خپله دنده يې رسمن د پرتګالي بېړيو په لوټ، چې له هندوستان نه راستنېدې، بدله کړې وه.

جان هاوګينس لمړنی کس ؤ، چې هڅه يې وکړه، تر څو د اسپانيې له مستعمرو سره منظمه سوداګري روانه کړي او له هغه ځايه چې سوداګر او بېړۍ چلوونکی هم ؤ، په ۱۵۶۲م کې يې يو شمېر مريان د ګينې له جزايرو څخه اوچت کړل، هغوی يې د اسپانيې په مستعمرو کې په سونډي او قند باندې بدل کړل، دا لمړنی سفر لامل شو، چې جان هاوګينس د انګلستان تر ټولو شمن سړی شي او نور د ده نه په تقليد بوخت شي.

«فرانسيس دراګ» د انګلستان يو زړور بېړۍ چلوونکی ؤ. دې سړي په بشپړه توګه په غير قانوني کارونو لاس پورې کړ او دېبلګې په توګه له دوو بېړيو او پنځوسو کسانو سره د «پيرو» د سمندر په څنډو کې پلې شو، د کچرو کاروان يې، چې بار يې سره زر وو، لوټ کړ او سره زر يې په بېړۍ کې واچول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګلستان ته يې راوړل او اليزابت د انګلستان ملکه په باطن کې له دې غلا نه خوښه شوه.

«دراګ» په ۱۵۷۷م کال کې په اوږدې پردېسۍ روان شو او غوښتل يې چې له نړۍ نه چاپېره وګرځي. دا سفر د څو کسو شريکانو په پيسو، چې له هغو څخه يوه د انګلستان ملکه اليزابت وه، پلې شو. د انګلستان ملکې دا کړنې رسمن د غندلو وړ ګرځولې، خو په باطن کې دا خپله په هغو کې شريکه وه.

دا ځل د «دراګ» بېړۍ، چې په توپونو سمبال وه، څو سوه سړي پکې وو. په هر ځای کې چې د «دراګ» بېړۍ لنګر اچولو، د ښار حاکم ډارېدلو او که حاضر نه وای، چې تحفې ورکړي، هغه ښار يې د توپونو تر اور لاندې نېولو. خو دراګ په دې تحفو قناعت نه لرلو او د ده اصلي ولجه دا وه، چې د سرو زرو وړوونکې بېړې ونېسي. اتفاقن «پانامې» ته نژدې يو بومي کس، چې د انګريزانو او اسپانويانو تر منځ يې توپير کولای نشو، خيال يې وکړ، چې دراګ د ده د اربابانو له ډلې څخه دی. هغه يې هغه خليج

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواته بوتلو، چې له سرو زرو ډکې بېړۍ هلته لنگر اچولی ؤ. دراګ هم ماتل نشو، صندکونه يې خلاص کړل او په ۱۵۸۰م کال کې د انګلستان ملکه اليزابت له دې ولجې نه لويه برخه يووړه و وايي، چې نورو شريکانو هم د خپلې برخې ۴۷۰۰ په سلو کې ګټه پورته کړه.

کله چې دا خبر اسپانيې ته ورسېده، خورا غوسه او غضب يې راوپاراوه، د اسپانيې سفير په لندن کې دنده واخيسته، چې دې کار پر ضد اعتراض وکړي. اليزابت وويل، چې له دې کار نه هېڅ خبر نلري او قول يې ورکړ، چې دا به وروستنی يرغل وي، چې د اسپانيې جاګيرونو باندې کېږي. خو برسېره پر دې د سمندريزو ځواکونو په تجهيز لګيا شوه او وسله يې وپېروده او دراګ ته يې د لويانو لقب ورکړ. له دې کبله څرګنده وه، چې د انګلستان او اسپانيې تر منځ بايد جګړه پيل شوې وای او دا يو اړوند دی، چې رسوي، چې **جنګ د دولتونو تر منځه عمومن اقتصادی لامل لري او هغه څوک يې په لار اچوي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې غواړي خپلې نامشروع ګټې وساتي، خو له هغه ځایه چې کولای نشي خپل دغه ټیټ نیتونه څرګند کړي، د وطن پالنو احساساتو پړتمین او ځلاند رنګونه پرې وهي، تر څو وکولای شي، د ولس وګړي، چې هېڅ راز ګټه په دې حریصېزه جګړو کې نه لري، په لا ساده توګه وژلو ته وڅکوي.

سر فرانسیس دراک، د انګلستان د جنګي جازونو په سر کې ودرېدو او د اسپانیې د مستعمرو په ورانولو یې پیل وکړ او ښکاره یې کړه، چې انګریزي بېړۍ حق لري، په هغو ځایونو کې تګ راتګ وکړي.

کارپورېشن خپلې بنې له لاسه ورکوي:

پانګه وال اقتصاد پرمختګ کولو. هماغسې مو چې وویل، سیمه ایزه سوداګري د کارپوریشن په دقیقو مقرراتو او د ښارونو په اقتصادي ملاتړ پورې تړلې وه، خو دا بندیزونه په لویې سوداګرۍ کې نه وې او لویه سوداګري یوازې د سوداګر شخصي ارادې ته اړېل وه، چې نه یې غوښتل په هېڅ بندیز پورې تړلي وي، د دې دور سوداګرو د بېلګې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای شو لـه فرانسـوي ژاک کـور (۱۳۹۵ – ۱۴۵۶) څخـه نـوم واخلـو. لـه دې سـړي څخـه، چې خپلـه شتمني يې د دوکې، جعل او احتکار له لارې لاس ته راوړې وه او سـم چـاري سـوداګر يـې مـاتې سـره مـخ کـړي وو، کلـه چې پـه سـکې کـه د جعـل پـه جـرم د قبرس جزيـرې تـه تبعيـد شـو، د ۲۲ ميليونـو فرانکـو سرو زرو سره برابـره شـتمني، يـوه لويـه مـانۍ او څـو هوټلونه په پاريس او نورو ښارونو کې او نږدې ديرش ټوټې زمکه ترې پاتې شوې وه.

د ژاک کـور برخـه ليـک د نـورو ډېـرو سـوداګرو برخـه ليـک ؤ. د ۱۵مې پېـړۍ تـاريخ لـه نويـو سـړيو څخه، چې د ده په شان يې خپله شـتمني د احتکـار، انحصار، او د اعتبار څخه د نـاوړې ګټـې پورتـه کولـو له لارې لاس ته راوړله، ډک دی.

البته هغه کسان، چې دومره يې په شتمنۍ پسې ځغستل، په هېڅ وجه په مقرراتو پورې تړلي نه وو. د دغو او وړو پورژواګانو تر منځ، چې پـه کارپورېشـنونو کې ټول شوي وو او زړو عقايدو بانـدې يـې بـاور لاره او غوښـتل يـې چې سـيالي منعـه کـړي او د بَيـو لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته تللو او د لمړنيو موادو له ګړم ته تېرولو مخنيوی وکړي، هېڅ د ورته والي وجې شتون نه لاره. خو نور چا کولای نشول ځان له هغو لومو څخه، چې پانګې غوړولي وې، وژغوري، نور چا کولای نشول د پانګې د کړنو مخنيوی وکړي. په هغې ټولنې کې، چې هلته ترانسپورتي وسايل ډېر دي او هلته چې د پيسو ځواک پراختيا مومي، د ښاري اقتصاد ملاتړ غوښتنې نشي کولای د بهرنې سوداګرۍ د يرغل په وړاندې کوم بند جوړ کړي.

د وړو کارګاوو کسبيانو بله هېڅ درملنه نه لېدله، پرته له دې چې ځان نه چاپېره ديوال وکاږي او چا ته په کارپوربشن کې د ننوتلو اجازه ورنکړي. له دې کبله ورځ په ورځ په کارپوربشن کې د ننوتلو شرايط لا ستونزمن شول او کارپورېشنونو هر يو کسب يو شمېر ښوونکو ته محدود کړ، چې هغه کسب يې خپلو ماشومانو ته په ميراث ورانتقالولو. په هر ښار کې سيمه ايز صنعت د پاترنانو شرکت ته منحصر يو باندې والی جوړ شوی ؤ. نور کارګر کولای نشول هيله مند واوسي، چې د ښوونکي پوړ ته ورسېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو ورو د پرولتاريا وضعيت ته نـږدې شـو او پـه پـای کې بـورژوازي د څـو کسـو کسـبيانو د زبېښـاک پـه منګلو کې، چې هغو ته پر کارګرو پرګنو برسېره بانـدې والی ورکړ شوی ؤ، ولوېده.

د ملي اقتصاد منځ ته راتلل: پخـوا مـو خرګنـده کـړه، چې لـه ښـاري صـنايعو څخـه ملاتـړ څنګـه د هېوادونو د صنايعو څخه په ملاتړ بدل شو. ورو ورو د ښارونو اقتصاد په ملي اقتصاد بـدل شـو او بـازارونو نوی نقش ومونده. دا بازارونه که څه هم کله نـا کلـه يوځـل جوړېـدل، خـو نـور د هېوادونـو د سـوداګرو لنډمهاله پناه ځای په توګه نـه شـمېرل کېـدل، بلکـه ملـي ښـه يـې ځـان تـه نېـولې وه. پـه دې مانـا چـې بازارونه داسې يـوه وسـيله وه، چـې دولتونـه وکـولای شـي هغـه تجـارتي معـاملې، چـې عمـومن د دوی د ګاونډيو په ضـرر ترسـره کېـدلې، پـه خپـل هېـواد کـې سـرته ورسـوي. ورو ورو د سـيالۍ فکـر نـه يـوازې د سوداګرو تـر مـنځ، بلکـه د ولسـونو پـه مـنځ کـې هـم رامنځ ته شو او د بېلګې پـه توګـه د ليـون بازارونـه د فرانسې د اقتصادي چارو اسـتاذي شـول. د ليـون دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بازارونه د فرانسې سلطنت منځ ته راوړې او پراختیا یې ورکړې وه، تر څو د ژنېو د بازارونو سیال واوسي.

په دې توګه د دولتونو تجارتي چارې پیل شوې او هڅه یې وکړه، چې ملي اقتصاد ته ورځ په ورځ لا ډېر رونق ورکړي. خو ملي اقتصاد، چې تازه رامنځ ته شوی ؤ، کولای یې نشول په خپله هېواد پورې محدود پاتې شي، ولې چې لږ داسې هېواد شته، چې خپل ضرورتونه ګرد د هېواد له منځه بشپړ کړي، په ځانګړې توګه چې دوو کالیو په دې دورکې عمده نقش لرلو: یو حبوبات، چې په ځینو سیمو لکه د سیسلي په جزیرې کې خورا ډېر لاس ته راتلل؛ بل مالګه، چې یوازې په ځینو سیمو کې موندل کېدله او په هماغې سیمې پورې منحصره وه، د بېلګې په توګه په سویس او د هغه په خوا او شا سیمو کې د مالګې تولید د سویسیانو په لاس کې د سیاسي نفوذ او سیالۍ لپاره یوه وزله وه. نو وینو چې، په ځانګړې توګه د دوو کالیو د شتون له امله، چې ځینو هېوادونو ته یې ځانګړتیا لرله، هېڅ هېواد کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشول په ځان باندې سبړه (اکتفا) وکړي او نورو ولسونو سره مبادلې او سوداګرۍ ته اړ نه وي.

دولتونو هماغسې چې ملي اقتصاد یې رامنځ ته کړ، غوښتل یې چې د سمندرونو چاپېریال اړیکې د ځان لپاره منحصرې کړي او په بل عبارت سره غوښتل یې چې هغه اړیکې هم «ملي» کړي، د بېلګې په توګه د انګلستان سمندري سیاست د اووم هانري (۱۴۸۵ ـ ۱۵۰۹) په وخت کې پیل شو.

اووم هانري د دې لپاره چې انګرېز بېړۍ چلوونکي وزګار پاتې نه شي، امر یې ورکړ، چې د فرانسې شرابونه نباید انګلستان ته حمل شي، مګر دا چې په انګلیسي او آیرلندي بېړیو پر سر – بیا یې دا دود د نورو هېوداونو د شرابو په هکله هم پلې کړ. برسېره پر دې یې پرېکړه وکړه، چې انګرېزان په انګلیسي بندرونو کې نشي کولای خپل مال د پردیو بېړیو پر سر کېږدي، مګر په هغه حال کې چې په هغه بندرونو کې تشه انګرېزې بېړۍ نه وي.

په هغه دوره کې وضعه هسې وه، چې یوازې ګران بیه ابرو او لوړبیه فلزونو کولای شول، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمندر هغې غاړې لوی تجارت وړ وګرځي او درمل د ګرانو ابرو په سر کې پروت ؤ.

له هغه ځايه چې دا کالي له ځانګړو سيمو څخه لاس ته راځي، له هغه ځايه چې لازمه وه، چې اوډلې (مرتبې) او په وسلو سمبالې بېړې د دې جنسونو د حمل او نقل لپاره پکار واچول شي، له هغه ځايه هغه کالي، چې بيې يې د ناڅاپه تغييراتو سره مخ وې، بايد ګدام او وساتل شي، دا ټول عوامل لامل کېدل، چې سوداګري د يوه عمومي خدمت بڼه ځان ته ونيسي او له دې کبله بايد يو انحصاري او ان دولتي انحصار شتون ومومي.

په دې شان د بېلګې په توګه د مرچو سوداګري د پرتګال پادشاه په انحصار کې وه او هغه نورو ته ترونونه ورکول.

د هندوستان ټول تجارت د ليزابون (پرتګال) په بندر کې ګدام کېدل. ټاپه شوي صندکونه هلته راتلل او يوازې ټاکل شويو کسانو د درملونو خرڅولو حق لرلو، صادراتي کالي هم دوی ټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ان هغو کسانو چې مجاز لرلو، خپل جنسونه یې باید د پادشاه د چوپړو له لارې وارد کړي او خپل نیمایي مرچ پادشاه ته ورکړي.

د سوداګرۍ دا انحصار په نورو هېوادونو کې هم دود شو، خو له دغو سوداګرو پاچایانو څخه یوه هم د بېړیو په وسلو سمبالولو او د صادراتي کالیو د بارولو لپاره ضروري پانګه نلرله او په همدې توګه یې کولای نشول، چې درملونه او ګران فلزات اروپا ته چمتو کړي او له دې کبله غالبن د بارچلولو دنده لرونکو سره یې اړیکه نیوله. د بېلګې په توګه د لیزابون ښار، چې سل زره نفوس یې درلوده (د هغه نفوس د یوې پېړۍ په ترڅ کې درې برابره شوی ؤ)، سره د دې چې د هغه بندر تل ډک ؤ، سره د دې چې پادشاه د ګمرکي تعرفو، انحصاري ابرو او د هند د پادشاه د باجونو له کبله لویې ګټې پورته کولې، هغو ملتونو ته، چې د سوداګرۍ له پلوه د ډېرو ښو تشکیلاتو خاوندان وو، د معاملو مرکز شوی ؤ او د بلژیک او هالند بارچلونکو او د جرمني بانک لرونکو هلته لاسوهنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غربي اروپا د اقتصاد ځانګړتیاوې د ۱۵مې پېړۍ په پای کې:

په لنډه توګه څلور ټکي مهم دي، چې د لوېدیزې اروپا اقتصاد د ۱۵مې پېړۍ په وروستیو او د ۱۶مې پېړۍ په پیل کې ځانګړی کوي:

۱ – د اقتصادي ځواک ملي کول.

۲ – د ملي اقتصادونو پراختیا او د هغو مبادلاتي چارې له یو بل سره.

۳ – د معاملو بې ساری ډېرښت او د بازارونو پراختیا.

۴ – دهغو دولتونو ترمنځ، چې هر یو یې په یوه اقتصادي واحد باندې بدل شوي ؤ، د سوداګریزو ترونونو تړل کېدل.

فلزاتو ته اړتیا: له هغه ځایه چې کالیو ته اړتیا ډېره شوه، د سکو ضربولو ته یې هم اړتیا ومونده او له دې کبله ګرانو فلزونو پسې شول او دا مسئله د هغو لاملونو څخه یوه وه، چې جغرافیایي اکتشافات یې رامنځ ته کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپایان وړاندې له دې چې اټکل وکړي، چې سره زر او سپین زر د سمندر هغې غاړې ته موندل کیږي، د هغو معدنونو په اېستلو یې پیل وکړ، چې په خپله اروپا کې د رومیانو په دور کې اېستل کېدل، خو وروسته د ګټې پورته کولو څخه پاتې شوي وو. په دې توګه د سرو او سپینو زرو د معدنونو اېستل له ۱۵مې پېړۍ راهیسې په تودښت سره پیل شول.

البته یوازې ګران فلزات نه وو، چې د دولتونو د اړتیاوو لپاره په سوداګرۍ کې کارېدل، بلکه معمولي فلزات هم، چې په جګړې کې کارول کېدل او په ځانګړې توګه مس، چې د توپخانې په جوړولو کې کارېدل، د لټولو وړ وه او د هغې د موندلو لپاره یې هم د اروپا ځمکه په هر ځای کې وکنله.

د ۱۵مې پېړۍ په پای او د ۱۶مې پېړۍ په پیل کې د فلزاتو د حمل او نقل لپاره اړتیا له هره وخته زیاته حس شوه او د پیسو د پېرودلو ځواک په لوړه توګه پورته لاړو، خو وروسته له هغه چې د امریکې سره او سپین زر اروپا ته راننوتل، د جنسونو بیو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلکه سره پرمختګ وکړ او عمومن ۱۵۲۴م کال د دې پرمختګ پيل ټاکي.

د بيه لرونکو پاڼو سوداګري – د اعتبار رامنځ ته کېدل:

د ۱۶مې پېړۍ حکومتونه، هغسې مو چې وويل، د مرکزيت سيستم ته نږدې کېدل، خو د هغو د مالياتو اخيستلو سيستم لا هم هغه فيوډالي سيستم ؤ. دې دولتونو، کله به چې جګړه پېښېدله، پيسو ته يې چټکه اړتيا موندله او حال دا چې د دوی عوايد په ټاکلو کشتونو (اقساط) او په ټاکلو برخو کې لاس ته راتلل او دې ټکي دوی ته ستونزي جوړولې. له دې کبله د دې لپاره چې وکولای شي په هره موکه کې، چې اړتيا يې ځي، له هغې شتمنۍ څخه، چې په راتلونکې کې دوی پورې اړه مومي، ګټه پورته کړي، د سلطنت عوايد او په همدې توګه ماليات به يې له وړاندې پلورل او ان کله نا کله يې دولتې غلې په ګروی کې اېښودلې او لنډه دا چې اعتبار ته اړ کېدل.

په دې توګه د پانګه والۍ يوه ځانګړتيا، يانې د بيه لرونکو پاڼو سوداګرۍ څخه د کاليو د سوداګرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلا کېدل را منځ ته شول. اعتبار، چې تر هغه زمانې پورې یوازې د معاملو د تنظیمولو یوه وزله وه، خپل په خپله په یوه ارزښت، د مبادلې وړ په یوه شي، چې د معاملې او انتقال وړ ؤ، بدل شو.

د اعتبار معاملې دغه توپیر د کالیو له معاملې سره په بازار کې ښرګند شو او د بېلګې په توګه د لیون ښار د لمړي فرانسوا (۱۴۹۴ – ۱۵۴۶) د حکومت له وخته په دې لور بدلون وموند.

دا بازارونه په هر کال کې څلور ځله د کالیو د مبادلې عمده مرکزونه ګرځېدل او ایټالوي، سویسي، جرمني او نورو سوداګرو په هغو ځایونو کې د اسپانوي سوداګرو سره معاملې کولې، خو د ۱۵ ورځو په موده، چې بازار پایښه لرله، پېرودونکو او پلورونکو په کومه توګه هم په کالیو سره معاملې سرته نه رسولې، بلکه د هغو معاملو د بیه لرونکو پاڼو له پېرودلو او پلورلو سره اړه لرله. په دې توګه بازارونه ورو ورو په بورس بدل شول او له دې وروسته حوالې، برات او د هغو په شان نور شیان دود شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پيسو سوداګري ورځ په ورځ د کاليو مستقيمې سوداګرۍ په پرتله ډېرښت ومونده او بانک لرونکي په همدې موکه کې، د دې لپاره چې لوی مبلغونه ترلاسه کړي، په خپلې موکې سره شاهزويانو ته پور ورکړي او يا د درملونو او فلزاتو معاملې سرته ورسوي، د بېلابېلو کسانو سرمايو ته متوسل شول او ان هغو شيانو ته، چې موږ يې زېرمه او پاسره (پس انداز) بولو، د تمې لاس اوږد کړ، په دې مانا چې د وګړو زېرمې يې په پور واخيستې او پور ورکوونکو ته يې په ټاکلو مودو کې ثابته ګټه ورکوله. دا پاسرې په ځانګړې توګه له ۱۵۲۶م کال څخه راهيسې د يوه جرمني بانک لرونکي له خوا دود شوې. دا سړی د دې پرځای، چې د پور اخيستلو په موکو کې يوازې خپلوانو او دوستانو ته متوسل شي، هر چا ته متوسل شو او له ګردو خلکو څخه يې وغوښتل، چې خپلې زېرمې د ټاکل شوي سود په بدل کې ده ته په پور ورکړي.

دې سړي د همدې پورونو له لارې په لويو احتکارونو لاس پورې کړ او هڅه يې وکړه، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرګيو، شرابو او غنمو سوداګري په لاس کې ونيسي.
دې سړي په ډېرو مبارزو سره د مسو، جيوې او ځينو نورو معدنونو انحصار تر لاسه کړ او کله چې په ۱۵۲۸م کال کې په خورا شورماشور سره دېوالی شو، ټوله موجوده جيوه يې هر کنتال (سل کيلوګرامه) ۸ فلورنه (د پيسو واحد) پېرودلې وه، تر څو په ۱۴ فلورنه يې وپلوري او وايي، په دې کار کې يې ۲۰۰،۰۰۰ فلورنه اچولې وې، چې د اسپانوي معدنونو سيالي لامل شوه، چې يو پر دريمې ضرر وکړي. شاهزويانو، کنتانو، اسيلو، بورژواګانو او ان چوپړانو او کورچوپړو خپلې پيسې له دې سړي سره ايښې وې او د هر فلورن په بدل کې يې ۵ فلورنه تنزيل اخيستلو. له دې ځايه اټکل وکړئ، چې دې کس په خپلو معاملو کې څومره ډېره ګټه لرله او د ده کړنو د لګښت کوونکو پرګنو لپاره څومره ګرانه پايله لرله.

سره د دې په پام کې ونيسی، چې د دې سړي (دجيوې پادشاه) دېوالي کېدلو د جرمني په بېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبقو کې څومره تزلزل رامنځ ته کړ. دا د اعتبار لمړنی بحران ؤ.

د دې قضيو له امله نه يوازې لويې شتمنې، چې پنځوس کال د مخه يې چا فکر نه کولو، منځ ته راغلې، بلکه د پانګه والو يوې نوې طبقې شتون وموند.

د بيه لرونکو پاڼو معامله د خلکو له نظره:

عام خلکو د دې «تازه دوران ته رسېدلو» کورنيو په اړوند ښه نظر نه لرلو. د هغو کسانو لپاره، چې د کوچني حجم په کارونو، د سوداګرئ په وړو ګټو او د شتمنۍ د کچې په نسبي ثابته پاتې کېدلو روږدي وو، د معاملو او لويو ګټو پراختيا، د وګړو او کورنيو چټکه پرمختګ د اريانتيا او مخالفت لامل ؤ، په ځانګړې توګه هغه معاملې، چې په هغو کې يوه ټوټه کاغذ د معاملو وړ ابرو ځای ناستی کېدو. نېټه ايزې معاملې، چې ټوله بيه او يا يوه برخه يې وروسته له ټاکلې مودې پرې کېدله او د معاملې په موکه څرګنده نه وه، دا ډول معاملې، چې ته به وايې، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ بنسټ شوې وې، د هغو کسانو په پام کې، چې ذهنونه يې له دې ډول معاملې نه تش وو، پردې راتللې. له بله پلوه دوی لېدل، چې پيسې څنګه د ځينو ټاکل شويو شمېر سره غونډې کېږي، څرنګه بيې پورته ځي، له دې کبله عمومن د دې نويو اوډنو سره وران وو.

خو ورو ورو لازمه شوه، چې پخواني قاعدې او قانونونه د سوداګريزو انقلابونو د فشار په وړاندې، يانې د قرض او تنزيل د اغېزو په وړاندې سر ټيټ کړي او خلک ناهوبله شول، چې د نوې اقتصادي وضعې غوښتنې ومني. دلته هم د دې ټکي د زبات له اړوندونو څخه يو دی، چې اقتصادي اړتياوې له تيوريو څخه خورا ځواکمنې دي.

ارسطو ويلي وو، مسيحي روحانيونو هم تصديق کړی ؤ، چې پيسې ماشومان نه زېږوي. ان «لوتر» د مسيحيت معروف سموونکی هم له هر ډول اعتبار سره وران ؤ. خو په تدريج سره، چې سوداګرۍ پراختيا موندله، دا زوړ اصل يې باطلولو او ناچار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې لپاره چې سوداګریزو کړنو ته، چې پخپله روحانیت هم په هغه کې برخه ولرلای شي، د مذهب له ظاهر سره سمون ورکړي، شرعي خوله یې ورپرسر کړه و ویې ویل، چې ګټه په غنمو پرې کړی شي، تر څو دا اصل چې پیسې ماشوم نه زېږوي، غلط نه شي، ولې چې غنم د پیسو برخلاف کولای شي، بور ورکړي او ډېر شي. ویې ویل، پور ورکوونکی له دې کبله ګټه اخلي، چې ځان او خپلې پیسې په خطر کې اچوي.

صنعتي پانګه والي: آیا د دې سوداګریزې پانګه والۍ په څنګ کې صنعتي پانګه والۍ هم شتون لاره؟

د پخوانیو صنایعو په منځ کې یو صنعت ؤ، چې د افزارونو او تشکیلاتو په وجه یې د پانګه والۍ بڼه لرله او هغه د ټوکر اوبدلو صنعت ؤ. کله چې په تدریج سره تجارتي فعالیت ډېر شو او بازارونو پراختیا ومونده او د ټوکراوبدونکو سیالي په خپلو کې کلکه شوه، د ټوکراوبدلو کارخانو پانګه والۍ بڼه هم زیاته شوه. نور دې کارخانو باید د هغو ګاکانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړتیاوې پوره کړې وای، چې د دوی د اړتیـاوو انـدازه د پخوا په شـان لـه وړانـدې معلومـه نـه وه او لـه دې کبله هغه پخوانۍ قاعدې د ستونزو لامل ګرځېـدلې.
د صنایعو خاوندان د دې لپاره، چې له د غو مقرراتـو څخه، چې په ښارونو کې رامنځ ته شـوي وو، وتښـتي، په هغه تدبیر، چې لـه ۱۳مې پېړۍ څخـه پیـل شـو، لاس پورې کړ، یانې د کارخانو د ماڼیو یوه برخـه یـې د ښار شـا او خـوا تـه او هغـه نـه بهـر یووړلـه. پـه دې توګه په کلیـو کې یـوه ډلـه رامـنځ تـه شـوه، چې یـوه نیمايي کارګر او یوه نیمايي بزګر وه، بزګر په هم هغـه حـال کې، چې پـه کرهڼیـزو کـارونو بوخـت وو، پـه کارګاوو کې یې کارګري هم کوله.
د ټوکراوبدلو دا صنعت څرګنـده ده، چې پـه یـوه هېواد کې کلابنده پاتې نـه شـو او د هغـه سـوداګرۍ بهر ته هم سرایت وکړ. هر څـومره چې د ټوکراوبـدلو صنعت د بهر لپـاره کـار وکـړ، لا ډېـره د بحـران سـره مخ شوه، ولې چې د «تولید مـازاد» یـې ومونـده. پـه دې مانا چې نور یې له هغه ځایه چې د ابـرې کچـه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په بهرنيو هېوادونو کې به د اړتيا وړ وه، وړاند وينه وکړي او له هغه ځايه چې دا کچه ثابته نه وه، داسې پېښېدل، چې د کارخانو جوړې شوې ابرې بې ګاکه پاتې کېدلې او د هغو بيه ټيټه راتلله او کارخانه اړ کېدله، تر څو د هغو مصرفېدو په موکه د کاليو له چمتو کولو څخه ډډه وکړي. د بېلګې په توګه په ۱۵۲۷م کال کې، کله چې انګلستان د اسپانيې پاچا پنځم چارل سره ووهل، دا خبره لامل شوه، چې ټول پراخ بازارونه، چې د چارل ابل وو، د انګريزو سوداګرو په مخ وتړل شي. له دې کبله د انګليس ټوکراوبدلو کارخانو خاوندانو ګاکان و نه موندل او اړ شول، د خپلو کارګرانو يو شمېر وزګار کړي او په دې توګه د خلکو د ناخوښۍ چيغې پورته شوې.

د ټوکراوبدلو صنعت تر څنګه، چې څه پخوا منځ ته راغلی ؤ، د لوکسو اشياؤ او جنګي شيانو لپاره نوې کارګاه رامنځ ته شوه. دا صنعتونه د نوښت له امله او د ډول له امله د کارپورېشن د قانونونو له هاندونو څخه بهر وو او کېدای نشول، چې پخواني قانونونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په وړاندې پورته کړي. دې صنعتونو باید له فني پلوه ازادي لرلای.

په دې توګه، که ونه وایو د واقعي صنعتي پانګه والۍ لپاره، لږ تر لږه د نوې سوداګریزه پانګه والۍ لپاره مساعده زمینه رامنځ ته شوه.

د چاپ صنعت رامنځ ته کېدلو هم په دې موضوع کې ژوره اغېزه لرله. جان ګوتنبرګ (په جرمني کې زېږېدلی ۱۳۹۷ – ۱۳۶۸) د چاپ صنعت، چې له ده نه پخوا منځ ته راغلی ؤ، د دوو نورو کسانو په ګډه بشپړ کړ. کله چې د چاپ صنعت بشپړ شو، د چاپ لوازم او ټکي، هغه فلزات چې د ټکو شیندلو لپاره لازم وو، د کاغذونو شتون او رنګ، چاپ شوي کتابونه او مجلې، دا ټول هغه شتمني وه، چې د زمکې په دود د پېرودلو، پلورلو او اجارې وړ ګرځېدله او د شریکانو تر منځ ویشیدله.

له هغه ځایه چې چاپنځي د ماشینونو او ادواتو سره، چې اړتیا یې لرله، ډېرو پیسو ته اړتیا لرله، دا صنعت هم د سوداګرو په لاس کې ولوېده او د هغه لپاره یې شرکتونه جوړ کړل. د کتابونو چمتو کولو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګودامولو او بازار ته وړلو، د دغو هر یو ځانګړو سوداګریزو سازمانونو ته اړتیا لرله.

د چاپ صنعت له امله، د کاغذ جوړولو صنعت هم له نوې وضعې سره، چې له لسمې پېړۍ څخه پیل شوې وه، پرمختګ وموندہ. د توپخانې صنایعو هم، چې له ۱۴مې پېړۍ څخه یې د باروتو د کارولو له امله دود موندلی ؤ، په دې دورکې پراختیا وموندله او د پانګې پنډېدل یې ډېر کړ.

ټولنیزې وضعې ته بشپړه کتنه: بېې چې په تدریج سره پورته لاړې، د کارګر مادي وضعیت لا بد شو، ولې چې د دوی مزد د بیو د لوړېدلو په اندازه پرمختګ ونکړ.

پر صنعت باندې حاکمیت او امرچلول محدود شمېر خلکو ته ځانګړتیا وموندله، چې خپلې ښېګڼې یې په ارث پرېښودلې. ټولنیز واټن د کارګر او ارباب تر منځ په کارګاوو کې ډېر شو، ولې چې د ښوونکي پوړۍ ته رسېدل ورځ په ورځ لا درون، لا ګران او لا ستونزمن کېدلو او کارګران د ښار د چارو له ادارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه لېږي کېدل. په دې توګه د پرولتاريا طبقه منځ ته راغله او د اريستوکراسۍ د تمايلاتو پر ضد متشکله شوه او د پاڅون بنسټ يې کېښود. د بېلګې په توګه په ۱۵۳۹م کال کې د ليون په ښار کې په يوه صنعت کې، چې له ټولو صنايعو «لاکاپيټاليسته» ؤ، يانې د چاپ په صنعت کې يو معروف اعتصاب پېښ شو، چې د پاريس صنايعو ته يې هم سرايت وکړ او د هغه نېونو او بندي کونو تر ۱۵۷۱ کاله پورې پايښنه ومونده. د پاچا ځواک نه يوازې په بشپړه بې رحمۍ سره په دې اعتصابونو کې لاسوهنه وکړه، بلکه موکه يې غنيمت وشمېرله، د کارګرانو هر ډول غونډېدل يې له کوچنيو نېولې تر لويو پورې د ۱۵۳۹ فرمان له امله ممنوع کړل.

په همدې ۱۵۳۹کال کې په بشپړه توګه ځانګړې کېږي، چې پانګه والي وروسته له دې چې د سوداګرې په برخه کې رامنځ ته شوه، هڅه يې کوله، چې د کار بازار هم تسخير کړي. په همدې دور کې پرولتر، يانې هغه کارګران چې د افزارو خاوندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدلای نشول، منځ ته راغلل او له پانګه والې طبقې سره په مبارزې بوختېږي.

خو د کرهنې پرمختګ د صنعت په خلاف ټولو ځايونو کې په يوه ډول پلی نشو. په فرانسې کې له هغه ځايه چې د کارخانو لپاره ورځ په ورځ د «لاس» اړتيا ډېرېدله، د سرفانو ازادول لا ډېر پلي شول، د بېلګې په توګه لمړي فرانسوا په کال ۱۵۴۴م کې د خپلې سيمې سرفان ازاد کړل او سينيورانو ته يې توصيه وکړه، چې خپل سرفان ازاد کړي.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸

د صنایعو لنډ تاریخ

د افزارو بدلون ماشین ته: هـم هغسې مـو چې پخـوا څرګنـده کـړه، لـه ۱۲مې پېړۍ څخـه وروسـته سوداګرۍ او صنعت په اروپاکې رونـق وموندلو او پـه تدریج سره یې د پانګه والۍ سیستم لپاره زمینه منځ تـه راوړه. خـو یـاد شـوي سیسـتم تـر ۱۸مې پېـړۍ پورې، چې لوی صنعتي انقلاب رامنځ ته شو، لا ډېره سـوداګریزه بڼـه لرلـه. دا دی د دې لپـاره چـې پـه صنعتي انقلاب ښه پوه شو، باید وګورو، چې د تولیـد ساده افزارو تر مـنځ څـه تـوپیر شـتون لـري. البتـه د دې دواړو تر منځ جوته کرښه وېستلې نشـو، خـو پـه بشپړه توګه د دوی د توپیر وجه بیانولای شو:

ځیني وايي، افزار له ساده ماشین او ماشـین لـه مرکبـو افـزارو څخـه عبـارت دی – د هغـو پـه نظـر د افزار او ماشـین تـر مـنځ بنسـټیز تـوپیر شـتون نلـري کوننې (اهرم) هم د ماشین یو ډول شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لید د اقتصاد له پلوه کوم ارزښت نلري، ولې چې تاریخي لامل ته یې په هغه کې تړاو ندی ورکړی.

ځیني نور وايي، د افزار او ماشین توپیر په دې کې دی، چې افزار د انسان د ځواک په وسیلې کار کوي، خو ماشین د طبیعي ځواک په وسیلې د بشر له ځواکه پرته او د بېلګې په توګه د حیوان، اوبو یا باد د ځواک په وسیلې څرخېږي. د دې باور پر بنسټ، آس ګادی، چې په بېلابېلو اقتصادی دورونو کې یې شتون لرلو، ماشین دی، خو یوه کارګاه، چې د یوه انسان په لاس څرخېږي، خو بشپړه ابره لري، افزار دی او که هماغه کارګاه د حیوان په وسیلې په خوځښت راشي، ماشین دی.

د دې لپاره چې د ماشین او افزار په توپیر سم پوه شو، باید لاندې بنسټیزه موضوع په نظر کې ونیسو.

هر پرمختللی میکانیسم له درو برخو څخه جوړ شوی: موتور، د نقالې برخه، «ماشین – افزار».

(c) ketabton.com: The Digital Library

موتـور د خوځـوونکي ځـواک پـه توګـه دی. دا خوځوونکی ځواک یا پخپلـه موتـور تولیـدوي، لکـه د بخار ماشین او یا له یوه طبیعی ځواک څخـه، چې د هغه نه بهر شتون لـري، سـرچېنه اخلـي، لکـه د اوبـو لویدل یا د باد چلېدل، چې ژرنده ګرځوي.

د نقالې برخـه هغـه برخـه ده، چې خوځښـت تـه نظم ورکوي او د هغه شکل تـه پـه لازمې مـوکې کې توپیر ورکوي او د هغه حرکـت «ماشـین – افـزار» تـه رسوي.

خو «ماشین – افزار» پـه حقیقـت کې د هماغـه دستګاوو او افزارونـو څخـه عبـارت دی، چې پخـوا د کارګر او کسبي په لاس کې ؤ، په دې توپیر سره، چې نن یادشوې دستګاوې او افزارونه د یوه میکانیزم پـه لاس کې دي.

«ماشین – افزار» هغه دستګاه ده، چې وروسـته له هغه چې هغه ته لازم خوځښت ورکړ شو، هغه کار کوي، چې پخوا کارګر پـه هغـه تـه ورتـه افـزارو سـرته رساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشين او افزار تر منځ توپير دا دی، چې ياد شوې دستګاه د کارګر له لاسه د ميکانيزم لاس ته ورکول کېږي او مازې دا چې دا عمل سر ته ورسېده، په توليد کې جوت توپير ځرګندېږي، که څه هم د هغه ميکانيزم د خوځښت ځواک په خپله انسان وي.

د خوځښت ځواک هر څه چې وي، تر څو چې «ماشين افزارِ» منځ ته رانشي، په صنعت کې لوی بدلون راتلای نشي، د بېلګې په توګه د مانوفکتور (لاسي صنايعو) څخه خورا مخکې د ماشين خوځوونکی ځواک رامنځ ته شوی ؤ، خو په صنعت کې يې کوم انقلاب رامنځ ته نکړ او ان د بخار ماشين، چې د ۱۷مې پېړۍ په پای کې اختراع شو، د ۱۸مې پېړۍ تر پايه يې خپل پخپله ونکولای شول صنعت منقلب کړي او يوازې د «ماشين – افزار» اختراع وه، چې د بخار ماشين يې بشپړ کړ او د ګټې پورته کولو وړ وګرځاوه. ښکاره ده، چې خوځوونکی ځواک په خپل ځای خورا اهميت لري او پرته له هغه هم صنعتي انقلاب د بشپړېدو درجې ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسېږي، خو باید په پام کې ونیسو، چې د صنعتی انقلاب اصلی لامل د کار د افزارو په میکانیزه کېدو کې دی، په دې کې چې د کار افزار په ماشین باندې بدل کړي. دا انقلاب په ۱۸مې پېړۍ کې پېښ شوی دی.

موږ د دې لپاره چې د صنعتونو بدلون او د هغو انتقال اروپا ته، چې د فیوډالي دور د بدلون او د پانګه والۍ د رامنځ ته کېدو لامل شو، ښکاره کړو او هغه څه مو چې په تېرو څپرکو کې بیان کړل، لا مجسم کړو، د مهمو صنایعو یو لنډ تاریخ یادوو.

تارسکنل او ټوکراوبدل: د تارسکنلو فن د بشري فنونو تر ټولو پخوانی فن دی او د ټولنو له رامنځ ته کېدو سره پیل کېږي.

نتېک (دوک) د دې فن تر ټولو پخوانی افزار دی، چې په ټولو ولسونوکې دود اوسېدلی دی. یوازې په ۱۶مې او د ځینو په خبره په ۱۷مې پېړۍ کې وو، چې د تار تاوولو څرخ اختراع شو، چې په پښو یې حرکت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اتلسمې پېړۍ په پیل کې لا تارسکنل د کلیوالو ښځو یوه بوختیا وه، چې په نټک او یا د تارسکنلو په څرخ سره په دې کار اخته کېدلې.

په دې موکې کې وو، چې میکانیکي تارسکنل لمړی ځل په انګلستان کې رامنځ ته شول. د اتلسمې پېړۍ په منځ کې په انګلستان کې د هغه زیاتې اړتیا له امله چې ټوکر او تار لپاره رامنځ ته شوه، د داسې ماشین د اختراع په لټه کې شول، چې وکولای شي د څو کسو کارګرانو په کچه ابره تولید کړي. د همدې پېړۍ په پای کې د تارسکنلو ماشین، چې په ډېر ځواک سره یې حرکت کړی وای، اختراع شو.

د ټوکراوبدلو صنعت میکانیزه کول هم د اتلسمې پېړۍ په پای کې پلي شول. د دې خبرې فکر لمړی په فرانسې کې په ۱۷۶۸م کال کې رامنځ ته شو، خو لمړیو کسانو، چې هغه یې عملي کړ، انګریزان وو.

ماهوت (کشمیرۍ) جوړول: د پسونو وړیو څخه ګټه پورته کول د لمړي ځل لپاره په شپنو قبیلو کې پلي شول او په تدریج سره یې د ماهوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړولو صنعت منځ ته راوړ، چې د روم امپراطورۍ په زمانه کې يې خورا رونق ومونده.

وروسته له دې چې جرمنانو په روم يرغل وکړ، د ماهوت جوړولـو صـنعت هـم د نـورو صـنايعو پـه دود مخ په انحطاط شو او يوازې وروسته له ۱۳مې پېړۍ ؤ، چې په هالنډ او بلژيک کې د دې صنعت پـه ښـرتـه راژونـدي کېـدو پيـل وشـو. هالنـډيانو او بلژيکيـانو د ماهوت جوړولو لپاره د فرانسې، انګلسـتان، اسـپانيې او جرمني له وړيو ګټه پورته کوله او نږدې تـر ۱۵مې پېـړۍ پـورې يـې د دې صـنعت انحصـار لرلـو. خـو انګرېـزان ژر پـام شـول او د وړيـو صـدور يـې لـه انګلسـتان څخـه منعـه کـړ او د هالنـډي او بلژيکي کارپوهو په مرسته يې په خپل هېـواد کې د مـاهوت جوړولو فابريکې جوړې کړې.

پـه فرانسـې کـې لمړنـې ګامونـه چې د مـاهوت جوړولـو لپـاره واخيسـل شـول، د ۱۶مـې پېـړۍ پـه دوهمې نيمايې کې وو، خو بنسـټيز ګامونـه د ۱۷مې پېړۍ په منځ کې د څوارلسم لويي وزير، «کلبر»، په زمانې کې پورته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښیښې جوړول: ورسته له هغه چې د روم امپراطوري راوپرځېده، ښیښې جوړول هم مخ په پرېوتو شول او یوازې د فرانسې او ایټالیا په ځینو ښارونو کې یې معمولې ښیښې جوړولې. خو وروسته له څه مودې دا صنعت په انګلستان کې هم خپور شو.

لوکسه ښیښې یوازې په اسپانیې کې د عربو لخوا او په ختیز کې د یونانیانو لخوا جوړېدې او تر ۱۳مې پېړۍ پورې همدا ولسونه وو، چې د اروپا د اړتیا وړ ښیښې یې چمتو کولې.

لمړی ځل د ونیز اوسېدونکو په ۱۳مې پېړۍ کې وکولای شول لوکسه ښیښې جوړول په لویدیزې اروپاکې هم دود کړي او په ۱۴مې پېړۍ کې یې دا صنعت پایلیز رونق ته ورساوه. ورو ورو نورو ولسونو له دوی سره سیالي پیل کړه او د ۱۷مې پېړۍ په پای کې په فرانسې، انګلستان او جرمني کې د ښیښې جوړولو لویې فابریکې جوړې شوې او په دې فن کې نوي اختراعات پلي شول.

کاغذ جوړول: پخوانیو مصریانو د لیکلو لپاره د پاپیروس بوټو له پاڼو څخه ګټه اخیستله. د پاپیروس

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څخه ګټه پورته کولو ورو ورو ګاونډيو سيمو ته سرايت وکړ او له زېږيز څخه وړاندې پنځمې پېړۍ کې اروپا ته ورسېده.

له پنځمې زېږيزې پېړۍ څخه راهيسې، چې د پارشمن کاغذ دود شو، د پاپيروس رونق لږ شو او د هغه له کارولو څخه اصولن له ۱۲مې پېړۍ وروسته په فرانسې او د اروپا په نورو هېوادونو کې لاس واخيستل شو.

د پارشمن کاغذ د پسه، خوسي، مېږې او وزې له پوټکو جوړېده او د هغه اختراع ډېره پخوانۍ ده، خو د هغه ظريف صنعت تاريخ بايد دوې پېړې مخکې له زېږيزه وګڼو. له پارشمن څخه ګټه پورته کول ژر په بېلابېلو هېوادونو کې دود شول او د منځنيو پېړيو په دور کې هم د نوي کاغذ تر دودېدلو پورې معمول وو او ان د هغه له دودېدو وروسته هم تر څو پېړيو پورې د ګټې اخيستلو وړ ګرځېده.

خو کاغذ د نن ورځې په سبک په لمړي سر کې له مالوچو جوړېده او د هغه مخترع چينايان وو، چې دوې پېړۍ مخکې له زېږيز نه د هغه په اختراع بريالي شول. په ۸مې پېړۍ کې چې عرب په بخارا

(c) ketabton.com: The Digital Library

برلاسي شول، د بخارا په کتابتون کې دې ډول کاغذ سره مخ شول او هغه يې په لويديزې ايشيا کې دود کړ. ياد شوی کاغذ يوه پېړۍ وروسته، يانې په ۹مې پېړۍ کې اروپا ته هم ورسېده.

د زړو او ټوټو څخه د کاغذ جوړول سم څرګند نه دي، چې په کوم تاريخ کې اختراع شوي، خو د هغه بشپړېدل په ۱۲مې پېړۍ کې پلې شوي او په همدې پېړۍ کې وو، چې د کاغذ جوړولو دستګاوې په اروپا کې ترسره شوې.

د کاغذ جوړولو کړنې په لمړي سر کې په لاس او په وړو افزارو سره پلې کېدلې. د دې صنعت ميکانيزه کول د اولسمې پېړې (۱۶۹۹) په پای کې د فرانسې په توسي کې اختراع شول، خو انګرېزانو له نورو څخه ژر وکولای شول دا اختراع پلې کړي.

شکرې جوړول: هغه شکره چې عمومن په صنعت کې پېرودل او پلورل کېږي او «تجارتي شکره» نوميږي، د هغې اصل له ګني يا چوغندر څخه اخلي او وروسته له تصفيې څخه يې د تجارتي شکرې په ډول راګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – د ګني شکره: د سهېلي ایشیا په سیمو کې ډېره ده او شکرې جوړولو له هماغه سیمې څخه ولې اخیستې ده.

د لوی سکندر له وخته یونانیانو له هندوستان څخه شکره واردوله، خو کچه یې هومره لږه وه، چې عمومن له درملتونونو څخه پېرودل کېدله.

د روم امپراطورۍ په زمانه کې یې شکره له هندوستان او عربستان څخه راوړله او په لویدیزې اروپا کې یوازې وروسته له سلیبي جنګونو وو، چې شکرې جوړول ډېر شول.

له ۱۳مې پېړۍ څخه وروسته، چې د اروپا سوداګري مخ په رونق شوه، د ګنیو کشف په سوریې، مصر او د مدیترانې په عمده جزایرو کې دود شو او د اسپانویانو په لاس د امریکې زمکو ته یې هم سرایت وکړ. برسېره پر دې په څوارلسمې پېړۍ کې تصفیه شوې شکره په اوروپا کې لږه وه.

د ۱۶مې پېړۍ په لمړنیو کلونو کې د شکرې جوړولو صنعت په امریکا کې په پښو شو او تر مودو پورې د امریکې شکره د اسپانویانو په لاس د اروپا هېوادونو ته رسېدله. په ۱۷مې پېړۍ کې د امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکره په پرېمانه کچه ارو پا ته راورسېده، چې ډېرې اړتیاوې یې لېرې کولې او له هغه ځایه چې په دې دور کې یې د اروپا نورو مستعمراتو کې هم د شکرې په چمتو کولو پیل وکړ، د هغې پرېماني خورا ډېره شوه او بیه یې خورا ښکته راغله.

۲- د چوغندرو شکره: د شکرې کشف په چوغندر کې لمړی ځل د یوه جرمني کیمیاپوه لخوا د اتلسمې پېړۍ په دوهمې نیمایې کې پلی شو، خو هغه وخت عملن د ګټې پورته کولو وړ وګرځېده، چې له امریکې سره جګړه پېښه شوه او د امریکې شکره اروپا ته ونرسېده، هغه وخت په لټه شول او یاد شوی کشف د پام وړ وګرځېده او د نونسمې پېړۍ په لمړۍ نیمایې کې په فرانسې او د اروپا په نورو ټکو کې د چوغندرو کرنه او د شکرې جوړولو مهمو کارخونو بنسټ ایښودل پیل شول.

د چاپ صنعت: تر ۱۵مې پېړۍ پورې ټول کتابونه په لاس لیکل کېدل. د چاپ صنعت د یاد شوې پېړۍ په منځ کې اختراع شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلزات: فلزات له خورا ډېرې پخوانۍ زمانې څخه د بشر د پام وړ ګرځېدلي ښکاره ده، چې بشر په لمړي سر کې هغه فلزات وپېژندل، چې په سپېڅلې توګه په طبيعت کې موندل کېږي، لکه سره او سپين زر – وروسته د هغو فلزاتو په کشف بريالی شو، چې هغه کېدای شي له نورو توکو جلا کړو، لکه مس، قلعي او نور. يوازې په ۹مې پېړۍ کې وو، چې د هغه اسيدونو کشف نښې وموندلې شوې، چې وکولای شي، فلزات په ځان کې حل کړي او د هغو د سپېڅلتيا لامل شي او له ۱۵مې پېړۍ وروسته د فلزاتو شمېر ورځ په ورځ ډېر شو.

معدنونه: پخوا يې يوازې مريان په معدنونو کې کار ته اړباسل، ولې چې د معدن کار خورا ګران ؤ او غالبن د مريه په مرګ پای ته رسېده. په هغه موکه کې يې په ديلم سره په معدن کې سوری اېستلو او د اړتيا په اړوندونو کې يې د معدن ټوټې تودولې، د هغو په سر يې سرکه شېندله، تر څو هغه چاودې کړي. په منځنيو پېړيو کې نه يوازې د معدنونو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اېستلو څه زيات نشول، بلکه اصولن ځينې معدنونه وځنډېدل شول. يوازې د ۱۷مې پېړۍ سر کې وو، چې د نويو ابتکارونو له امله د معدنونو لپاره نوی وضعيت رامنځ ته شو او په چټکيا سره يې د هغو په اېستلو پيل وکړ.

د بخار ماشين: د بخار ماشين د بشري هنر له اثرونو څخه يو دی، چې د صنعت به وده کې يې تر ټولو لويې اغېزې لرلې.

پېړۍ کېدې، چې بشر د بخار ځواک پېژانده، خو لمړي کس، چې له دې ځواک څخه يې ګټه پورته کول کشف کړل، فرانسوی دني پاپن ؤ، چې د ۱۷مې پېړۍ په دوهمې نيمايې کې يې ژوند کاوه. د دني پاپن کشف په هماغه پېړۍ کې پلی شو او په صنعت کې د لويو بدلونونو لامل وګرځېده.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۹

د ۱۷مې پېړۍ ځانګړتیاوې

ګمرکی سازمان: د فرانسې ګمرکی سازمان هغه شان ؤ، چې د سوداګریزو سمو آمارو ځای پر ځای کېدل یې ستونزمن کول. د فرانسې خاوره نظر هغه ویش ته، چې پخوا یې لرلو، څلور برخې شوې وه او د هرې برخې د ادارې ډول یې له بلې برخې سره توپیر درلوده.

۱ – د پنځو ولایتونو ګېرچاپېره یې یو پوستي او ګمرکي خط اېستلی ؤ او د سوداګرو له هغو مالونو څخه یې، چې د دوی حدودو ته ننوتل او یا له هغو نه وتل، ګمرک اخیستلو، خو د کالیو حمل او نقل په دې پنځو ولایتونو کې دننه ګمرک نلرولو او یوازې د لارساتلو حقونه له دوی څخه اخیستل کېدل.

۲ – ځینې نور ولایتونه یې بهرني ولایتونه نومول. په دې ولایتونو کې غالبن د لارساتلو پخواني حقونه او په همدې توګه داخلي تعرفې، چې حمل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقل ته ستونزمنې وې، اخيستل کېدې او هر کالى، چې له دې ولايتونو څخه ياد شوو پنځګونو ولايتونو ته صادرېدو او يا له هغو ولايتونو څخه راوارېدېدو، د ګمرک حق يې پرې کولو.

۳ – يوه بله ډله هغه ولايتونه وو، چې له فرانسې نه بهر يې کولاى شول په ازاده توګه سوداګري وکړي، خو په هغه موکه کې، چې خپل کالي يې د فرانسې له نورو ولايتونه څخه تېرول، بايد ګمرکي حقونه يې پرې کړي واى.

۴ – پنځه ازاد بندرونه هم وو، چې له بهر سره يې په ازاده توګه سوداګري کوله او د هغو سوداګريز مال يوازې هغه وخت تر کنترول لاندې راتللو، چې د دوى له ازادې زمکې څخه بهر وتلو.

لمړى ځل د ۱۵م لويي په زمانه کې د دې ويش، چې د ازادې سوداګرى خنډ ګرځېده، د لغو کولو په هڅه کې شول؛ د ۱۴م لويي وزيرانو هم په دې لار کې ډېرې هڅې وکړې، خو له هغه ځايه چې دا ويشونه د فيوډالي دور د غوښتنو له امله او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینیورانو د ګټو پر بنسټ منځ ته راغلي وو، یاد شوو هځو اغېزمنه پایله ونه موندله.

د لارساتلو حقوق او نور سینیوري عوارض: په تېرو څپرکو کې مو وویل، چې د رومیانو په زمانه کې د لارساتلو حقوق د واټونو د جوړولو لپاره اخیستل کېدل. په فیوډالي دور کې د لارساتلو د حقوقو اخیستل پاتې شول، خو د مصرف موخه یې له منځه ولاړه، په دې مانا چې سینیورانو هر یوه په خپله سیمه کې د لارساتلو حقوق اخیستل، خو د دې پر ځای چې هغه له واټونو څخه پاملرنې په موخه وکاروي، د خپل تجمل لپاره یې لګول. د فرانسې پاچایان څو ځله په هڅه کې شول، چې د لارساتلو دا حقوق له منځه یوسي او ان څو فرمانونه یې په دې هکله صادر کړل، خو په سینیورانو بریالي نشول او دبېلګې په توګه د ۱۶مې پېړۍ په لمړۍ نیمایي کې د لوارد سیند په سر، چې د فرانسې لویه مرکزي لار ګڼل کېدله، لا د باج اخیستلو ۱۲۰،۱۰۰ مرکزونو شتون لاره او د بېلګې په توګه د مالګې یوې بېړۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له «نانت» څخه «لور» ته تلله، باید د خپل ارزښت څلور ځله یې د لارساتلو د حقوقو په نامه پرې کړې وای.

د فرانسې پاچایانو د دې لپاره چې د سینیورانو له عوارضو څخه یې مخنیوی کړی وي، اصولن په دې لټه کې شول، چې ځینې ښارونه له سینیورانو څخه وپېرودي، په دې اړوندونو کې سینیورانو هومره لوړې پیسې غوښتلې، چې غالبن د پاچا خزانې د هغو د پرې کولو وس نه لرلو، لکه څنګه چې د سینیورانو څخه یوه یوازې د یوه ښار لپاره ۶۰،۰۰۰ لیوره غوښتل.

د فرانسې پاچایانو د دې لپاره چې هغه هېواد ته اقتصادي یوالی ورکړي، د ۱۷مې پېړی له پیله د څو ګامونو د اوچتولو په لټه کې شول:

۱ – د سوداګریزو اړیکو اسانول په دې توګه، چې داخلي بندونه، چې د فیوډالي رژیم پاتې شوني وو او فرانسه یې ویشله، له منځه یووړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – د ملي صنايعو ملاتړ په دې توګه، چې د فرانسې په سرحدونو کې بندونه جوړ کړي او له بهرنې سيالۍ څخه مخنيوی وکړي.

۳ – د هېواد د سرو او سپينو زرو ډېرول په دې توګه، چې د صادراتو کچه د وارداتو له کچې څخه پورته بوځي.

خو په لمړۍ برخه کې يې ډېرې برياوې ونه موندلې او سره د دې چې کلبر د ۱۴م لويي وزير ډېر داخلي ګمرکونه او د لارساتلو حقوق يې له منځه يووړل، خو له ده څخه وروسته لويو خانانو د ده مقررات، چې د ځان په ضرر يې تشخيصول، له منځه يووړل.

د خلکو او د دوی له بدمرغيو څخه يوه وړه احصايه: د دې په پاملرنې سره چې د صنعت او سوداګرۍ پرمختګ لامل کېده، چې د هېوادونو سياسي سازمان ته تمرکز ورکړی شي، د اروپا دولتونه تمرکز ته نږدې کېدل او د خپل ملي اقتصاد پراختيا لپاره د تازه بازارونو نېولو او نويو سرحدونو ټاکلو ته اړ وو. له دې کبله پرله پسې او خونړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې د فرانسې، جرمني، اسپانيې او نورو ترمنځ پېښې شوې. د دې جګړو لګښتونه پر بېوزلې پرګنې تحميلېدل او د هغو تلفات هم بېوزلې پرګنې وې. غير قانوني تحميلونه او نور عوارض هم چې سينيورانو اخيستل، پر دغو ورزياتېدل. د سرفانو ازادېدل، چې د کارخونو په هېله آواره کېدل او په لارو کې يې په سوال غوښتلو او لاروهلو لاس پورې کولو، پر لاملونو ورډېرېده. دې ټولو لاملونو لاس سره ورکړ، يو بېوزلى ولس يې منځ ته راوړ، چې د ۱۷مې پېړۍ په دوهمه نيمايې کې يې ۸۰۵،۳۱ کسه سوالګر لرل.

د دې لپاره چې څرګند شي، چې د دولت ماليې د لويي په زمانه کې څومره ملاماتوونکي شوې وې، يادونه کوو، چې د دولت لګښتونه، چې په ۱۷۰۰م کال کې تر ۱۱۶ ميليونو ډېر وو، په ۱۷۱۱م کې له ۱۶۴ ميليونو لېرو ډېر شول، يانې له دوه څلو زيات شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر نورو بدمرغیو برسېره په ۱۷۱۵م کال کې په ځناورو کې یو طاعون هم خپور شو، چې خورا درانه تلفات یې رامنځ ته کړل.

دا ټولې بلاګانې لامل شوې، چې د هېواد نفوس خورا لږ شو او هسې چې لیکلي یې دي، د فرانسې ولس له ۱۷۰۰م څخه تر ۱۷۰۷م پورې لـه ۴۰۰ زرو څخه تر ۵۰۰ زرو پورې تلفات ورکړل او د ده تلفات باید لـه یاد شـوي تاریخ څخـه تـر ۱۷۱۵م پورې پـه بنسټېزه توګه تر دې څخه خورا ډېر وي.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۰

د ۱۸مې پېړۍ له ځانګړتياوو څخه

د لارساتلو حقوق او بېګار: ۱۴م لويي د خپل سلطنت په وروستي کال کې د واټونو د ساتلو او رغونو لپاره يو فرمان صادر کړ او د هغو ساتل يې لويو خانانو ته ورپه غاړه کړ، خو عمومي بېوزلۍ اجازه ورنکړه، چې دا نقشه پلې شي. د ۱۵م لويي په زمانه کې يې دا کار د بېګار له لارې سرته ورسولو. هغه کسانو چې له واټونو څخه تر ټولو ډېره ګټه پورته کوله، سوداګر وو، چې غوښتل يې خپل کالي حمل او نقل کړي او له دې کبله په بنسټيزه توګه بايد د واټونو لګښتونه د دوی لخوا پرې شي، خو د هغې زمانې د حاکمې ډلې زورويلو حکم کولو، چې دا بار هم د بېوزلو خلکو په مټ کېښودل شي.

بېګار يوازې په ماليې ورکوونکو کسانو، چې له ۱۶ څخه يې تر ۶۰ کلونو پورې عمر لرلو او په نا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادو ښارونو او یا په کلیو کې اوسېدل، تحمیلېده. د کلیسا غړي، اسیلان، د هغو چوپړ، د ازادو ښارونو بورژواګان، هغه کسان، چې په کوم نوم سره یې د ښار له حاکم سره تړاو لرلو، له بېګار څخه بخښل شوي وو. د بېګارۍ موده په کال کې ۳۰ ورځې وه. بېګار ورکوونکو باید د کار افزارونه، بار وړونکي څناور او خپلې ګاډې او په حقیقت کې خپل ټول شته له ځانه سره راوړي. له دې څخه اټکل وکړی، چې څومره فشار په دوی راتللو او څنګه بې کوره او اوره کېدل. د زور زیاتي کار هغه ځای ته ورسېدو، چې بورژواګانو د ښار سړکونو جوړولو لپاره هم له کلیوالو څخه ګټه پورته کوله.

له هغه ځایه چې مامورینو حق لرلو، چې که کار د موکې په سر پای ته ونه رسېږي، هغه د هغو پیسو په وسیله، چې له ځنډ راتلونکو څخه یې اخیستلې، سر ته ورسوي. ورو ورو یاد شوي بېګار د مالیې بڼه ځان ته ونیوله، چې پر مالیه ورکوونکو تحمیلېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا بېګار په ۱۷۷۶م کال کې له منځه لاړو او د هغه پر ځای د مالیې یوه تعرفه کېښودل شوه، چې د ځمکې ټولو خاوندانو پورې یې تړاو موندلو، خو دا تعرفه د خانانو د مخالفت له کبله هېڅکله پلې نشوه. په هغه وخت کې که څه هم د عمومي ګټو د فشار او یا نورو لاملونو له امله ځینې قانونونه د ډېرکي په ګټه وضع کېدل، له هغه ځایه چې هغه کسانو، چې هغه قانونونه د دوی په ضرر وو، د هېواد چارې یې په لاس کې لرلې، هېڅکله نه پلي کېدل او سم زمونږ هېواد په شان ؤ، چې د قانونونو او د هغو د پلي کېدو تر منځ خورا ډېر توپیر شتون لري.

له دې کبله سره د دې چې کلبر د ۱۴م لویي وزیر د لارساتلو حقوق، چې د سوداګرۍ مخنیوی یې کاوه، له منځه یووړل او د هغو پر ضد نور قانونونه هم وضع شول، په هماغه توګه په خپل حال پاتې شول.

د صنعت او سوداګرۍ د ازادۍ په لور: کلبر د ۱۴م لویي صدراعظم د دې لپاره چې د فرانسې داخلي صنایع د بهرنیو صنایعو له سیالۍ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژغوري، ځینې مقررات وضع کړل. دا صنعتي او سوداګریز مقررات ورځ په ورځ ګرانېدل او د هغو شمېر هومره ډېر ؤ، چې هر کوچني تولید کوونکي د خپلو تکلیفونو اوحقوقو د پوهېدلو لپاره باید یو دور قانون زده کړی وای.

دولت په دې توګه غوښتل چې د لمړنیو توکو ډول او سرچینه او په همدې توګه د توکرو د جوړولو طرز او کچه کنترول کړي او تر یوه هانده پورې د درغلیو مخنیوی وکړي. خو دا مقررات د ۱۸مې پېړۍ له صنعت سره، چې پراختیا یې موندلې وه او ځواکمن شوی ؤ او نور یې بیې نه غوښتلې، نه جوړېدل. په دې دور کې هرې کارګاه غوښتل، چې د بلې کارګاه ابره هم تولیده کړي، خو هغې بلې ته یې نه غوښتل اجازه ورکړي، چې د دې د انحصاري ابرې په تولید بوخت شي. په دې دور کې د خلکو په پام کې عجیبه ښکارېده، چې داسې بندونه د سوداګرۍ او صنعت په لاس او پښو وتړي.

له دې کبله ځینو د دې محدودیتونو پر ضد ګامونه اوچت کړل او په صنعت کې د «ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنې» سیستم یې تر نیوکې لاندې ونیوه، دغه فورمول یې جوړ کړ: «پرېږدی چې وشي، پرېږدی پرېږدی».

د دې لپاره چې موضوع سمه روښانه شي، د صنعت او سوداګرۍ ځیني محدودیتونه په ۱۸مې پېړۍ کې یادوو:

د سوداګریزو بازارونو شمېر محدود ؤ او د هغو زیاتول د مقرراتو پر ضد وو او یوازې ځیني کالي باید هلته پلورل شوي وای. هر فرانسوي بندر ځانګړتیاوې او باندېوالتیاوې لرلې، په دې مانا چې ځانګړي کالي ورله واردېدل او ځانګړي کالي ورڅخه صادرېدل، د بېلګې په توګه د ځینو هېوادونو شراب باید هرومرو **بردو** ته وارد شوي وای. هغه شرابونه چې مستعمراتو ته تلل، باید هرورمرو په «بردو» یا «نانت» کې په بېړیو کې ابښودل شوي وای. د فرانسې سوداګریزې اړیکې له ختیز سره باید د مارسي بندر له لارې پلې شوې وای... او داسې نور. څو کمپنیو هم دځینو هېوادونو لکه هندوستان سوداګري ځانونو ته ځانګړې کړې وه او دا خبره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بورژواګانو د کلک اعتراض وړ وه او په پای کې يې د هند کمپنۍ باندېوالتياوې په ۱۷۶۹م کال کې له منځه يووړې.

ګورو، چې د هغه انقلاب له امله چې په صنعت او تجارت کې منځ ته راغلی ؤ، نور هغه پخوانيو مقرراتو سمون نه لرلو. اوس غوښتنه وه، چې صنعت او تجارت ډګر وموندي، سيالي د نړۍ ټولو سيمو ته يوسي او ځانونه ګواکې د «مريه توب» له بنده خلاص کړي. اوس وضعيت ايجابول، چې صنعت او سوداګري «ازاده» واوسي.

ټولنيزې طبقې: د فرانسې ولس په ۱۷مې او ۱۸مې پېړۍ کې هم نږدې د فيوډالي دور هماغه ټولنيز سازمان ساتلی ؤ.

د صنعت او سوداګرۍ د رونق له امله د بورژوا طبقه منځ ته راغله او د اقتصاد له پلوه يې خورا اهميت لرلو. خو دې اقتصادي اهميت ده ته لا ټولنيز پوړ ورکړی نه ؤ، يانې دا چې دی د يوې ځانګړې طبقې په توګه وپېژني. د فرانسې ولس په ۱۸مې پېړۍ کې په درو طبقو ويشل کېدلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- روحانیان: دغه کسان، چې کار یې یوازې دعا لوستل وو، د دې لپاره چې هم د مادي نفوذ او هم د معنوي نفوذ خاوندان وو، تر ټولو ځواکمنه طبقه ګڼل کېدله.

د روحانیانو طبقې پرېمانه زمکې او موقوفات لرل، چې د فرانسې ټولو زمکو یو په پنځمه برخه یې جوړوله او د دوی عواید له سل میلیونو لیورو تېرېدل. برسېره پر دې د خلکو له ځمکو یې عشریه هم اخیستله، چې د هغو کچه هم له سلو میلیونو لیورو تېری کولو، هسې چې د دې طبقې کلني عواید له ۳۰۰ میلیونو لیورو په کال کې (په ۱۷مې پېړۍ کې) تېرېدل.

پخپله د روحانیانو په منځ کې هم طبقه بندې پلې شوې وې او دا عواید په حقیقت کې ټول د لویوو روحانیانو په مرۍ کې ورتویېدل او واړه روحانیان هومره بېوزلي وو، چې د فرانسې په انقلاب کې ځیني له انقلاب سره هملاسي شول.

د روحانیانو طبقې تل دو کسه د خپلو استاذو په توګه ټاکل او هغو دوو کسانو د پاچا سره د وزیرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم لرلو او په دولتي چارو کې يې مداخله کوله. نو وينو، چې روحانيانو له لويانو او اسيلانو سره هېڅ توپير نلرولو، پرته له دې چې روحاني نفوذ يې لرلو.

غالبن ماليو او عوارضو دې دوو طبقو پورې اړه نه لرله.

۲- اسيلان (نجبا): دوی هماغه پخواني سينيوران او شاهزويان وو، چې لوېې زمکې يې په لاس کې لرلې او له هغو څخه يې گذاره کوله او د ماليو له پرې کولو بخښلي گڼل کېدل.

د بورژوا طبقې رامنځ ته کېدل او د صنعت او سوداگرۍ پراختيا اړتيا رامنځ ته کوله، چې د دې طبقې ځواک لړښت ومومي. خو دغو مقاومت کولو او خپلې گټې يې د چاپېريال پر غوښتنو تحميلولې، د بېلگې په توگه لا يې د لارساتلو حقوق او ځانگړي عوارض اخيستل او پر رعيتونو يې بېگار تحميلولو.

دغو هېڅ کار نلرلو او له هغه ځايه چې صنعت او سوداگري د فيوډالي دور د نظرياتو پر بنسټ سپک گڼل کېدل، نو کولای يې نشول، چې په صنعت او سوداگرۍ بوخت شي او که بوخت شوي وای، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی اسیلتیا له منځه تلله. خو په بدل کې دولتي مهمې چارې لکه د پوځ قومانده، وزارت، سفارت، حکومت او داسې نور د دوی برخه لیک وو. ځواکمن اسیلان ان د پاچا تر امر لاندې نه راتلل او لکه چې ومو لېدل، دولتي مقررات یې په هېڅ نبول او د دوی د پاچا سره د اختلاف کار هغه ځای ته ورسېده، چې ۱۴م لویي اړ شو، چې له دوی سره جدن په جګړه لاس پورې کړي او د دوی ۳۵۰ کسه ووژني.

۳ – دریمه طبقه: دریمه طبقه د خلکو پرګنو ته ویل کېدل، یانې هر څوک چې د اسیلانو او روحانیانو په ډله کې نه وو او هر چا چې کارکاوه.

په هماغه ډول مو چې ویلي دي، د صنعت او سوداګرۍ تر رونق موندلو وروسته د کارخونو لرونکو او سوداګرو څخه یوه ځواکمنه طبقه منځ ته راغلې وه، چې په ټولنه کې یې لویه اغېزه لرله او په حقیقت کې د اسیلې طبقې مخې ته پراته وو، خو ټولنه لا چمتو نه وه، هغوی په رسمیت وپېژني او په خپل سازمان کې هغو ته ځانګړی ځای قایل شي، بلکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی یې د دریمې طبقې خلکو په ډله کې او پرته له حقوقو ګڼل.

ادیبان، شاعران، طبیبان، روښانفکران او د ادارو غړي عمومن د دې طبقې برخه وو، کارګران او بزګر د دریمې طبقې په ښکته برخې کې پراته وو.

ټولې مالیې او عوارض له دریمې طبقې څخه اخیستل کېدل او بزګرو چې د ټولنې ډېرکې برخه یې جوړوله، پر درنو مالیو برسېره اړ وو بېګار هم وزغمي.

په نږدې توګه ویلای شو، چې د بزګر د معمولي عاید ۷۵ په سلو کې برخه په بېلابېلو نومونو باندې د ځمکې خاوند، کلیسا او دولت ته پرې کېدله. خو د یاد شویو طبقو نږدې شمېر په لاندې توګه ؤ:

۱۳۰،۰۰۰	د روحانیانو شمېر
۱۴۰،۰۰۰	د اسیلانو شمېر
۲۵،۰۰۰،۰۰۰	د دریمې طبقې شمېر

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۱

پاچا او لويان

هغه ملتونه چې د پرله پسې مودې لپاره تر فشار لانـدې پېښــېږي، بـت پرســته روزل کېـږي او پـه بېلابېلو نومونو لرګين خدايان جوړوي او هغو ته مخ راوړي او زارۍ کـوي چـې : «مـوږ وسـاتئ، زمـوږ ژغـورونکي واوسـئ ... طبيعـت نـارې وهـي، چـې بدمرغه بشره ځان پخپله وژغوره، خو د دې بشر پر سر يې دومره د ستم سوکان ټکولي، چې د هغه غوږ غالبن اورېدونکی نه دی.

د فرانسې پـه هېـواد کې پـه ځـانګړې توګـه پـه ۱۷مې او ۱۸مې پېړۍ کې د صنعت او سـوداګرۍ رونق لامل شو، چې د لويانو او اسيلانو د ژوندانـه پـر تجمل نور ورډېر شي او په هغـه کې د مرکزيت مـنځ تـه راتلـل لامـل شـي، چـې د پاچايـانو اسـتبداد د سينيورانو پر ستم وراضافه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د لوېښت مانې، چې د ولس پر ټټر جوړه شوې وه، هره ورځ لا لوړه او لا مجلله ګرځېدله او د ولس ساه يې لا شديده ايستله.

د ۱۴م لويي د سلطنت دور د دې لوېښت منځنی دور او د فرانسې د ولس د بدمرغۍ او شديد ساه ايستلو دور ؤ. غټ لويان او خانان په مرکز کې راټول شوي وو او د مېلمستياوو چمتو کولو، ښکار او درباري معشوقو او غوره مالانو له راغونډولو پرته يې کوم مهم کار نه لرلو او د هېواد ټوله شتمني يې په دې بوختياوو لګوله، هسې چې دا عيشونه او معشوقو سره لوبې د جلا کتابونو موضوع ګانې ګرځېدلي دي.

مورږ د بېلګې په توګه وايو، چې مېرمن دوپمپادور د ۱۵م لويي معشوقې نږدې ۷ يا ۸ ميليونه ليوره د خپلو ماڼيو لپاره، ۴ ميليونه ليوره د تياتر او خپلو جشنونو لپاره، يو ميليون ليوره يې يوازې د خپل يوه سفر لپاره ولګول.

د دې ښځې يوه مانې، چې پاچا دې ته جوړه کړې وه، د شګو په سر جوړه شوې وه او ۱۲۰ فوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې د بنسټ اېښودلو لپاره کنلي وو. د دې ماڼۍ جوړول ۵،۲ میلیونه لیوره تمام شول او خلکو ان تر ۶ میلیونو پورې هم ویلي.

هرې لویې کورنۍ به چې تاوان کولو او یا واده یې کولو، له پاچا څخه یې بې کچې روپۍ اخیستلې، ولې چې ویل یې، چې لویې کورنۍ د سلطنت د پت او رونق لامل دي. پاچا دا پیسې د بېلګې په توګه پلاني وزیر ته حواله کولې. د حوالې خاوند وزیر ته ورتللو. وزیر به ویل، چې خزانه تشه ده او حق به هم له هغه سره ؤ. د حوالې خاوند ټینګار او تهدید کاوه، تر څو وزیر په پای کې اړ کېدلو له هره ځایه چې کېږي، پیسې وموندي یا د پور ورکوونکو کشتونه (قسطونه) شا ته واچوي.

د دې بې ځایه لګښتونو او هغو پیسو له امله، چې ۱۴م لویي په جګړو کې ولګولې، کله چې دی مړ شو، دفرانسې دولت ۲ میلیارده پوروړی ؤ او د ده ځای ناستي د شلو کلونو په ترخ کې، سره د دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم جنګ يې ونکړ، ۷۵۰ میلیونه نور هم په دې پور ورډېر کړل.

د لويانو او پاچايانو وينو څښل هغې پولې ته ورسېدل، چې د خلکو په منځ کې خپاره شول، چې ۱۵م لويي د دې لپاره چې وينه يې ځوانه پاتې شي، د بشر په وينو ځان پرېمېنځي او په ځانګړې توګه د ښکلو نجونو وينو ته ترجيح ورکوي. يوه ورځ، چې پوليس وزګاران راټولول، خلک د دې اند له امله غونډ شول او خوځښت يې په لار واچولو. له هغه نه وروسته ۱۵م لويي جرأت ونکړ پاريس ته راشي او په **ورسای** کې تم شي.

۱۵م لويي د ورسای د خوا او شا په ځنګلونو کې وخت تېراوه او ان خپلې مينې يې د ځنګل په سيمه کې پټولې.

د قحطۍ په يوه کال کې، چې ۱۵م لويي په دوديزه توګه په ځنګله کې په ښکار بوخت ؤ، يوه بزګر سره، چې تابوت يې په مټه نېولی ؤ، مخ شو او له هغه يې وپوښتل: «دا تابوت چېرې وړی؟» ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ورکړ، پلاني ځای ته – سړي او که ښځې له؟
سړي له – له کومې ناروغۍ څخه مړ دی؟ له لوږې.
د ۱۵م لـويي تـر مړينـې وروسـته فرانسـه پـه حقيقت کې د مطلقه سلطنت تابوت جوړ شوی ؤ.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۲

باستيل

د فرانسې يو ليکوال وايي، «کله چې پاچايان د بشري رزالت څخه پرته په بل څه تکيه کوي، دوی ته ګرانه ده، چې ځانونه وساتي»، ولې چې پاچايان د ولس په ارادې او خوښې تکيه نه دي، د ولس د اېل (رام) کولو لپاره پرته له زوره بله هوبله نلري او په زور باندې تکيه به يوازې د سپکو کسانو او هغه کسانو له لارې، چې سپېڅلي احساسونه يې وژل شوي وي، شونې وي. **که د مستبده پاچايانو دربار له ګوډاګيو، غوړه مالانو، زندان ساتونکو، ميرغضبانو او نور چوپړانو له خوا، چې د ښکاري سپي په شان خوله په هر ښکار ککړوي، احاطه شوی نه وي، هېڅکله به د دوی سلطنت استوار پاتې نه شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرانسې دربار مخکې له انقلاب څخه هم د دا ډول عناصرو ټولنه وه او د فرانسې زندانونه د دوی د استبداد او رزالت ښکارندوی ګڼل کېدل. يوه ورځ د باستيل، چې د دغو زندانونو تر ټولو مشهور زندان ؤ، د ورانېدو خبر ۱۶م لويي ته ورسېدو، ځو شېبې په سوچ کې ډوب شو او دا پېښه يې ستونزمنه او خورا بدخونده وګڼله، ولې چې پوهېدو، چې د ده لويښت او د ده د سلطنت ځواک په دې زندان پورې تړلی دی او له همدې کبله د دې پېښې د پېښېدو تر موکې پورې هېڅکله حاضر نشو، د زندان عمليات شنډ کړي، تر څو چې داسې نه چې اهميت يې لږ شي او د خلکو ډار والوزي.

برسېره پر دې چې سينيورانو د خپلو ماڼيو په لاندنيو پوړونو کې د بېوزلو خلکو لپاره تور تياره بندونه لرل، د ۱۸مې پېړۍ په فرانسې کې نږدې ۲۰ زندانونو شتون لاره، چې شونې وو، چې کسان پرته له محاکمې نه هلته زنداني کړي. دا زندانونه يې د ۱۴م لويي په وروستيو وختونو کې تر ټولو متعصبه کشيشانو ته ورپرېښودل او هغو د ربړولو ډول ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسایل په دې زندانونو کې راغونډ کړي وو او هر کس يې، چې د ازادۍ تر ټولو لږ فکر څرګند کړی وای، په مذهبي تورونو د زندانونو په تورو تيارو بندونو کې شکنجه کول. دې متعصبه کشيشانو بنديان په هغه کچه ربړول، چې د هغو شرح افسانو ته ورته کېږي. تور تياره بندونه هسې له حشراتو او ځورونکو ځناورو ډک وو، چې کله کوم بندي له هغو څخه راوتلو، غوږ او يا پوزه به يې موږکو خوړلې وه. دې «ديندار» کشيشانو به ښځې دغو زندانونو ته کارلې او کله به يې هغوی اميندوارې کړې! دې «سمکارو» کشيشانو به مړي په غلطو نومونو په خپلو هډيرو کې ښخول؟، تر څو هم خپل جنايات پټ کړي او هم د خپلو سړيو شمېر ګڼ کړي.

د زندان څارل د څارندوی د نايب دنده وه، چې کله کله به د ډوډۍ خوړلو لپاره زندان ته راتللو. دې شخص د زندان له وضعې څخه هېڅ خبر نلرلو او د ده دا عمل يوازې د ظاهر ساتلو لپاره ؤ. د يوې پېړۍ په موده وه، چې د زندانونو مديريت يې د لويانو يوې کورنۍ ته سپارلی ؤ او د دې لپاره چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې کورنۍ اسيلتيا ته ضرر پېښ نه شي، اړتيا وه، چې زندانونه پاتې شي. له دې کبله هره ورځ په يوې نوې ډلې ورلوېدل، تر څو زندانونه ډک وساتي.

د هغې زمانې له دودونو څخه يو د سپينو پاڼو صدور ؤ، په دې مانا چې سپينې پاڼې د وزير او يا پاچا په ټاپې سره اشخاصو ته ورکول کېدل او دوی کولای شول د دې پاڼو پر بنسټ هر څوک چې وغواړي، زندان ته واچوي. دا سپين ټاپيزې عمومن حاکمانو او لوړپوړه کشيشانو، هغو پلرونو ته، چې غوښتل يې خپل زامن بنديان کړي او ښايسته ښځو ته، چې غوښتل يې چې د مېړونو ستونزه له خپله سره لېرې کړي، ورکول کېدې او کله پلورل کېدې او دا عمل د پيسو لاس ته راوړلو يوه لار ګرځېدلې وه، هسې چې د ۱۵م لويي يو وزير په يوازې توګه ۵۰۰۰۰ سپين ټاپې صادرې کړې. يو مورخ ليکي: «هېڅ کله د بشر تر ټولو ګران ګنج، يانې ازادي، کې دومره اسراف نه ؤ شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لاتـود کېسـه: یـوې موضـوع، چې پـه ۱۸مې پېړۍ کې د فرانسې ولـس افکـار ځـان تـه راواړول، د «ژان هـانري لاتـود» (۱۷۰۵ – ۱۷۲۵) پېښـه وه. دا شـخص لـه هغـه ځایـه چې د مېـرمن دوپمپـادور، د ۱۵م لويي معشوقې، له بې مينۍ سره مخ شـو، د ۳۵ کلو موده یې په بېلابېلـو زنـدانونو کې تېـره کـړه. دا شخص يو تود او وحشتناکه سـړی ؤ، چې هـېڅ څـه کولای نشول دی ابل کړي. غبر یې دېوالونه لـړزول، زړه او جرأت یې نه ماتېدونکي وو، ځان یـې تـا ویـل، چې له اوسـپنې جـوړ او نـه ورانېـدونکی دی، چې پـه دې ټولو زندانونو کې یې مقاومت وکـړ او وروسـت نـه شـو. پـه یـوه زنـدان کـې سـپړو د دې شـخص ځـان خوړلی ؤ – د کلمې په واقعي مانا سره یې خوړلی ؤ – دې شخص غالبن له لوړې زوبرګي ابسـتل، خـو غـبر یې له هغو هېرخونو څخه د چا غوږ ته نه رسېده.

هغـه څـه، چې د مېـرمن دوپمپـادور او هغـې استبدادي دستګاه په ګرمتوب (جـرم) ورزیـاتوي، دا دي، چې دا عجیب شخص دوه ځله لـه زنـدان څخـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتښتېدو او هر ځل يې ځان ښکاره کړ. لمړی ځل يې له هغه ځايه، چې پکې پټ شوی ؤ، مېرمن دوپمپادور ته يو کاغذ وليکه او دې امر وکړ، چې هغه دوهم ځل ونيسي او زندان ته يې وغورځوي. دوهم ځل ورسای ته لاړو او ويې غوښتل له پاچا سره خبرې وکړي، دهلېز ته هم ورسېدو، خو مېرمن دوپمپادور بيا هم د ده د نېولو امر صادر کړ او په دې عمل سره يې ثابته کړه، چې د اسيلو له طبقې ښخه ده!

اتفاقن لاتود په دوهم ځل، چې زندان ته ولوېده، يو چا ته يې يو يادداښت ولېکه او د زندان د کونجۍ لرونکي په لاس يې بهر ته ولېږه. کونجۍ لرونکی مست ؤ، هغه يې ورک کړ. کاغذ د يوې ښځې په لاس کې ولوېدو. هغه يې ولوستلو، ولړزېده، خو ونه ژړېدله او د ژړا پر ځای يې لاس په کړنو پورې کړ. دا ښځه «مېرمن لوګرو» وه. بېوزلې ښځه، چې له خياطۍ ښخه يې ګذاره کوله.

مېرمن لوګرو پرېکړه وکړه، چې په هره بيه چې کېږي، دا سړی وژغوري. د درې کلو په موده پرله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسې په دې پرېکړې پسې وګرځېده، هر چا ته چې لازمه وه، لاړله، پلار يې مړ شو، وروکی کار يې له لاسه ووتلو، خپلوانو يې ملامته کړه او په زبونه توګه د شک ور وګرځېده، څو ځله نږدې وو، چې زندان ته ولوېږي، خو دا له پښو ونه لوېده او بيا يې هم د بندي د خلاصون لپاره هڅه وکړه او خپل کړه يې، چې له دريمې طبقې څخه وه، په تاريخ کې د مېړمن دوپمپادور د کړو مخې ته، چې د لمړۍ طبقې د ګلو سر وه، کېښودل.

په پای کې د دې هڅو له امله له درباريانو څخه يوه کس درې ځله په دې برخه کې له ۱۶م لويي سره خبرې وکړې، خو هغه درې ځلې د لاتود د خلاصون څخه ډډه وکړه، ولې چې غوښتل يې، چې د باستيل پت خوندي شي! په پای کې په ۱۷۸۴م کال کې لويي ناهوبله شو، چې د لاتود د خلاصون امر امضا کړي او څو هفتې وروسته يې يو فرمان صادر کړ، چې نور هېڅ څوک بندي نکړي، مګر د دليل په يادولو او د مودې په ښکاره ټاکلو سره او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړې توګه دې وروستني فرمان لا ښه وښودل، چې د فرانسې د خلکو ازادي تر کومې درجې پورې د دې او هغه د هوا او هوس لاسلوبې وه.

د لاتود د حال شرحه د باستیل د زندانیانو د ژوندانه یوازې یوه بېلګه ده. د باستیل نوم نه یوازې په فرانسې کې، بلکه په اروپا کې مشهور ؤ او د استبداد ښکارندویه بلل کېده. له دې کبله کله چې د انقلاب بیراغ پورته شو، سره د دې چې د باستیل د زندانیانو شمېر هلته دومره ډېر نه ؤ، لمړی یې د باستیل په لور مخ راوړ او د استبداد د لوېښت دا پناهځای یې له پښو وغورځولو.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۳

د فرانسې ولس د پرګنو ژوند مخکې له انقلابه

ځيني تنکي زړي اشخاص د فرانسې په انقلاب نېوکه کوي، چې د ډېرو وينو تويېدو لامل شو. يو تاريخ ليکونکی داسې اشخاصو ته په خطاب کې وايي: «**اې حساسو سړيو، چې د انقلاب ناخوالو له ژړا کوی، څو څاڅي اوښکې هم هغو ناخوالو له تويې کړی، چې انقلاب يې منځ ته راوړی.**»

هغه کسان، چې تل غواړي ولس محکوم کړي، دا ناخوالې نالېدلې نيسي او حال دا چې د هغو په منلو سره دي، چې کولای شو د انقلاب لاملونه کشف کړو.

دريمه طبقه: د فرانسې بزګر د فيوډالي حاکم رژيم له امله له ځمکې څخه بې برخې وو او له انقلاب څخه مخکې دورکې يوازې د کرهڼيزو ځمکو څخه يو په دريمه د دوی په لاس کې وې. د دې ملکيت پرتلې هم په بېلابېلو سيمو کې توپير موندلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په بعضې سیموکې له یو پر لسمې هم لا لږه کېدله.

نظر دې ته چې د کلیو نفوس ډېر ؤ، یو شمېر کورنیو اصولن کوم مالکیت نلرلو او ان د دوی جونګړه د دوی نه وه. هغه بزګر هم چې د زمکې خاوند وو، خورا لږه برخه یې لرله، هسې چې د دوی د کورنیو د لګښت لپاره یې کفایت نکولو.

له بله پلوه له هغه ځایه چې کرهڼه لا په صنعتي اصولو سره سر ته نه رسېده، یوازې ابرې نه ډکو سیموکې وو، چې د خلکو عمده برخه په عادي وختونوکې بریالې کېدله، چې په یوه ډول، ښه یا بد، خپل خواړه چمتوکړي. دا نیکمرغي په نورو سیموکې د خلکو نه په برخه کېدله، په ځانګړې توګه چې بحرانونه او د ابرې ټکه وهلوکلونه ډېر وو.

بزګرو یوازې له وچکالۍ څخه هېره نه لرله، بلکه هرکله به چې جګړه پېښېدله، مالیې پورته تللې او د سرحدونو خلکو مالونه به د لوټېدو وړ ګرځېدل او دوی یې پخپله بېګار ته بوول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې ترخ کې د فرانسې صنعت په پرمختګ کې ؤ او سوداګرو د بزګرو له بېوزلۍ نه ګټه پورته کوله، د هغو د کار ځواک یې ارزانه پېرودلو او په همدې موخه یې د تارسکڼلو او ټوکراوبدلو ډېرې کارخونې کلیو ته منتقلې کړلې. دغو لمړني توکي بزګرو ته چمتو کول او غالبن د کار افزار یې هم هغه ته ورکول. بزګر په خپلو جونګړو کې په اوبدلو بوختېدل، په دې حال کې چې ښځه او ماشومان یې په سکڼلو بوخت وو. کله به چې په کرونده کې د کار وخت رارسېدلو، کارګاه به یې خوشې کړه، کروندو ته ستنېدل.

له بله پلوه د صنایعو پرمختګ د بیو د جګېدو او ټیټېدو لامل ګرځېده او له هغه ځایه چې فرانسه صادرونکی هېواد شوی ؤ، همدا چې جګړه او قحطي، که څه هم په لېرې سیمو کې پېښېدله او یا ګمرکي حقوق ډېرېدل او یا د جنسونو پېرودل یې په نورو هېوادونو کې منعه کول، د فرانسې کارخونې په وزګارتیا محکومېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتفاقن له انقلاب څخه وړاندې کلونو کې دا ټولې ټکې سره یوځل پېښې شوې. په ۱۷۸۸م کال کې ابره ښه نه وه، ترکیه د روسیې او اتریش پر ضد په جګړې اخته شوې وه، سویډن د ترکیې په ملاتړ ودرېدو، پروس غوښتل د انګلستان او هالند څخه تقلید وکړي، پولنډ غوښتل د تزاري روسیې استبداد سپاره له خپله سره اوچته کړي؛ له دې کبله د بالتیک او د ختیز سمندرونه چندانې امن نه وو او د مرکزي او ختیزې اروپا بازارونه وتړل شول. برسېره پر دې اسپانیې د فرانسې په ټوکرو بندیز ولګاوه.

هغه سیاست، چې د فرانسې مستبد دولت په مخه کړ، د وضعیت د تشدید لامل وګرځېدو، د بېلګې په توګه دولت په ۱۷۸۶م کې یو فرمان صادر کړ، د حبوباتو سوداګري یې له هر راز مقرراتو څخه ځانګړې کړه.

په دې توګه بزګرو، چې تر هغه وخته یې حبوبات باید بازار ته وړي وای، اوس یې کولای شول هغه په بازار کې وپلوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمل او نقل د زمکې، سمندرونو او سيندونو له لارې بشپړه ازاد شول او ان د حبوباتو صدور پرته له هېڅ بنديزه مجاز ؤ. له دې کبله د فرانسې حبوبات بهر ته حمل او يا احتکار شول. تر هغه هانده، چې د ۱۷۸۹م په جنورۍ کې د هر ليور (نيم کيلو) غنمو بيه په پاريس کې ۹ شاهيو ته ورسېده او په ځينو سيمو کې لا ګران هم شو او حال دا چې ډېرو کارګرانو په ورځ کې له ۲۰، ۱۵، ۱۲ يا ۸ شاهيو څخه ډېر اجرت نه اخيستلو.

يوې بلې غلطۍ کړنې هم له دولت څخه سر ووهلو. د هغې ښکارندوينه چې په ۱۷۸۶م کې له انګلستان سره سوداګريز تړون وتړلی شو او د هغه پر بنسټ د فرانسې په جوړ شويو وارداتي جنسونو ګمرکي حقوق راټيټ کړل. دا فکر اصولن ښه ؤ، تر څو د فرانسې د صنايعو د سيالۍ لامل شي، خو دا فکر يې بايد په تدريج سره پلې کړی وای، تر څو د فرانسې صنايعو ته ضرر و نه رسېږي، په ځانګړې توګه چې د انګلستان صنايعو د فرانسې صنايعو په پرتله وځنډول شي او په دې ډول د بېلګې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یـوازې د فرانسـې پـه دوو ښـارونو کې ۳۶۰۰۰ کسـه وزګار شول او دا بحران د بیو له لوړېدو سره غبرګ ؤ.

سوالګر او لاروهونکي: د استبداد رژیم پـه پـای کې د بزګرو بې برخې توب کار هغه ځای ته ورسـاوه، چې د هغو یوه ډله زمکې ته په کمین کې کېناسـتل، په دې مانا چې ځنګلونو او ډنډونو ته یې کډه وکړه، د باندې والی او ځمکو خاوندانو اشخاصو پر ضد یـې ځـه ګامونـه اوچـت کـړل. دغـو غوښـتل د پاچـا، روحانیانو او لویانو زمکې وپلورل شي او یـا پـه بزګـرو باندې وویشل شي.

لـه بلـه پلـوه ښـکاره ده، چې بېـوزلي او بـدمرغي سوالګري زېږوي؛ پلانی سړی له کاره لوېدلی، پلانـی زوړ سړی، پلانی یتیم او پلانې کونډه په هېـواد کې د بېوزلۍ او نه شتونوالي له امله پرته لـه سـوالګرۍ بلـه کومـه مرجعـه لـري؟ لـه دې کبلـه د انقـلاب ځخـه وړاندې فرانسې کې د نفوس لږ تر لږه یو پر لسمې تر پایه پورې سوالګري کوله او له یوې کـلا نـه بلې کـلا ته تلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرانسې په شمال کې په ۱۷۹۰م کال کې د سوالګرو شمېر د اوسېدونکو يو پر پنځم ته ورسېدو او ورځ په ورځ کارګران هم په دې شمېر ورډېرېدل، ولې چې د کارګر مزد د کورنۍ لګښت لپاره کفايت نه کاوه.

نور سوالګري د شرم لامل نه وه، د کورنۍ پلار، چې څو ماشومان يې لرل، هېڅ شرم يې نکاوه، چې هغوی «ډوډۍ پسې» ولېږي. دا هم د نورو کارونو په دود يو کار ؤ – که هغه ډوډۍ، چې دوی ته ورکول کېده، ډېره کلکه وه، خپلو ډنګرو ته يې ورکوله.

هغه اغتشاش، چې د سوالګرو د شتون له امله منځ ته راتللو، د کارګرو د کډو کولو له امله تشديدېده. د فرانسې نفوس خورا ناثباته ؤ او هر کله يې کوم بل ځای ته مخ راوړلو، چې تر څه هانده پورې ګذاره وکړي.

د بېلګې په توګه له ۱۰۴۰۰ کسانو څخه، چې په ۱۷۸۸م کې د تروا په ښار کې وزګار وو، ۶۰۰۰ کسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې له هغه ځايه ووتل او له يوه بناره نه بل ته د کار او ډوډۍ په لټه لالوانده شول.

 څرګنده ده، چې له دې سوالګرو څخه يو شمېر د بې وزلۍ له شدته په لاروهلو، غلا او لوټ اخته کېدل، هسې چې د پوځ يو قومندان د انقلاب د کال په جنورۍ کې ليکلي، له هرې خوا څخه له ما نه ډلې غواړي، چې خپل درمندونه د هغو په وزلې وساتي.

د داخلي ګمرکي ليکو تر څنګه قاچاق بشپړه دود شول او بې امنيتي يې لا ډېره کړه. بنځې په قاچاقو کې له سړيو څخه کمې نه وې، هسې چې په ۱۷۸۰م کال کې ۳۶۲۰ بنځې د قاچاقو په ګناه ونيول شوې. دا سوالګر او لاروهونکي په تدريج سره په جاني او خطرناکو کسانو بدلېدل او قضايي څواک له دې موضوع سره مرسته کوله، ولې چې هغوی يې د ورو جرمنو لپاره بنديخانو کې اچول او د واقعي جانيانو په څنګ کې يې ځای ورکولو، تر څو د جنايت زده کړه وکړي. له بله پلوه له هغه ځايه چې د قضايي ځواک له مجازاتو څخه يوه جزا تبعيد وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي موضـوع غيـر ثابتـه نفـوس او د وزګـارو شـمېر ډېراوه.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۴

له انقلاب څخه وړاندې خوځښتونه

قحطۍ او وچکالۍ، چې په ۱۸مې پېړۍ کې ډېرې پېښې شوې، د فرانسې ولس يې خوځښت ته اړ کړ. ولس په وچکالۍ کې هم منلای نشول، چې يوازې طبيعت د ښوزلۍ او اسکېرنې مسئول دی، ولې چې شوني وه، چې د پرېماني په کلونو کې د وچکالۍ ورځو لپاره سپما وکړي. شتمنو، خانانو او پيسو لرونکو د سوداګرو په هملاسۍ او د وزيرانو او نور شخصيتونو په ګډون، چې تل د شتمنو پلويان وو، زياتي غله يې له هېواد نه بهر اېستله، تر څو يې په ګرانه بيه وپلوري – دولت فرانسوي بزګر ته ويل: ستاسو بيه بايد لوړه شي، تر څو خلک د غنمو کرلو له وپارول شي، خو فرانسوی بزګر پوهېدو، چې دا څرګندونې درواغ دي. کـه عمـومي مسلت ځان ښندنو له اړتيا لري، ولې يوازې دی بايد زغم ولري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- که دولت غواړي، چې د ډوډۍ بیه لوړه کړي، لېږ تر لږه لاسمزدونه هم باید اوچت کړي او یا شتمن د بېوزلو ساتلو ته اړ کړي، نه دا چې د بېوزلو خلکو ځان ښندنه د نورو د شتمنۍ د ډېرښت وزله وګرځوي.

«نکر» د ۱۶م لويي وزير، چې د ۱۷۷۸م کال په پای کې په کار بوخت شو، غوښتل يې چې د غنمو له وتلو څخه مخنيوی وکړي او د غنمو ورود هېواد ته د جايزې له لارې تشويق کړي – خو دې موضوع که څه هم له قحطۍ څخه مخينوی وکړ، خو ويې کولای نشول، چې د بيو د لوړېدو لپاره خنډ شي، ولې چې محتکرانو بيا هم غنم احتکار کول، د بيو د لوړېدو لامل ګرځېدل او يا غنم يې په قاچاقي لار بهر ته لېږل او بېرته يې راواردول، تر څو جايزه واخلي. بېوزلو خلکو د خپلو سترګو په مخکې درنې ګادې کتلې، چې غنم حملوي او ورو ورو دا فکر د دوی سر ته لار باسله، چې ولې دا ګاډې په زور ونه نيسي او ولې ځانونه د لوږې او مرګ منګولو ته وسپاري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بله پلوه ډېر تحميلونه پر بېوزله پرګنو بارېدل او د ټولـو چيغـې د مـاليو پـر ضـد، چـې تـل مـخ پـه جګېدو وې، پورته شوې وې.

هر څوک چې څـومره لا شـتمن ؤ، لـږې مـاليې يې ورکولې او بېوزلي بزګرته هومر پانګه، چې وکولای شي خپلـه کرهڼـه اداره کـړي، نـه پـاتې کېدلـه. هـر څومره چې بيې لوړېدلې، د پاچا بوديجـه بايـد لويـه شوې وای او د دې کار لپاره اړتيا لېدل کېده، چې پر دريمې طبقې نـوی فشـار راولـي. د ۱۶م لـويي دربـار خورا ډېـر لګښـتونه لـرل. لويـانو پـه همـدې پرتلـه او افسرانو د ټولو څـانګو پـه کچـه بوديجـه لرلـه. د دې لګښتونو شنډول يـوازې پـه هغـه بڼـه کې شـونې وو، چې پاچا له ټـولې اريستوکراسۍ سره وهلي وای. لـه دې کبله د ولس د شـک وړ وګرځېـدو او دی يـې پـه احتکار او درغليو کې ګډ وګڼلو.

بېوزلې او لوږې د فرانسې پرګنې تـه ورزده کـړل، چې د هغې پرڅـای چې څـان، ښـځه او ماشـومان د لوږې او مرګ لاس تـه وسـپاري، د همـت لاس اوږد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، هغه څه يې چې له ده نه په زور اخيستي دي، په زور بېرته واخلي. له دې کبله په ۱۷۸۹م کال کې په مارسي، تولن، اکس لاشاپل او نورو ځايونو کې د ماليو او طبقاتي باندېوالتياوو پر ضد خوځښتونه پېښ شول. بې خبره خلکو، چې د ډوډۍ لاس ته راوړلو لپاره د خپلو زېرندځايونو او بوم څخه کډې کړې وې او په واټونو کې لالوانده وو، په ناهوبله يې د غنمو د ګاډيو لوټ ته لاس اوږد کړ او له دې هانده يې هم تېرى وکړ، د درمندونو او ان کورونو په غلا لاس پورې کړ. نامتو ده، چې اته زره کسه وږو د مارسي ښار ګېرچاپېره شتون لاره. له دې ځايه د پرګنو اسکېرنه او هغه وحشت، چې د دې وږو له يرغل نه پايله ومونده، اټکل کړى. ورو ورو له دې لوټماريو څخه ډار دومره ډېر شو، چې هر بزګر ځان د بدۍ غوښتونکو ځواکونو په محاصرې کې اند کاوه او د سپېدو په موکه، چې سر يې له خوبه اوچتولو، لمړى يې د کروند په لور منډې وهلې، چې آيا د ده شنه او اومه غنم يې لوټ کړي که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت د دې وړو له مخنیوي څخه عاجز ؤ او د خلکو د شکایتونو له امله اړ شو، هغوی ته د وسلې لرلو اجازه ورکړي او هماغه وسله وه، چې د انقلاب پرمختګ لپاره په کار راغله.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۵

د فرانسې انقلاب نه ډډه کېدونکی ؤ

عمومن په هغو تاريخونو کې چې ليکل کېږي، ډولاډول پېښې د يو بل پر سر غورځوي او دا بې اړونده او کندکپره ډېری تاريخ بولي. دا ډول مورخان عمومن د تاريخ لوی نقش د ناڅاپه پېښو او يا د کسانو په ارادې پورې تړي او خپلو خيالونو ته د پېښو په پلټلو کې له بهرنيو واقعيتونو څخه ډېر ارزښت ورکوي.

خو هماغسې چې زموږ طبيعي پوهه د طبيعت يو انعکاس دی، چې له موږ څخه بهر او له موږ څخه خپلواک شتون لري او زموږ په خيالونو سره بدلون نه مومي، زموږ ټولنيزې پوهې هم د ټولنې د اقتصادي جوړښت يو انعکاس دی، چې د هغه بدلون زموږ د خيالونو په لاس شونی نه دی.

موږ د هغو پېښو په ترڅ کې چې په تېرو څپرکو کې مو يادې کړې، وښودل، چې د اقتصادی وضعې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بدلو له امله یوه نوې طبقه په فیوډالي ټولنه کې رامنځ ته شوه، یانې د سوداګرو، دلالانو، کارخونه لرونکو، چې په اصطلاح کې هغو ته د بورژوازۍ طبقه وایي. دې طبقې له دې امله چې د هېواد اقتصادي وضعه یې په لاس کې نېولې وه، ډېر ځواک وموند او عملن د فیوډالي ټولنې په جوړښت کې د ځای خاوند شو، خو د یاد شوې ټولنې جوړښت، چې په پخواني اقتصادي جوړښت بنسټ شوی ؤ، د بورژوازۍ طبقې لپاره کوم ځای نلرلو، په دې مانا چې فیوډالي ټولنې د سیاسي او ټولنیزو حقوقو له پلوه یوازې درې طبقې پېژندلې، روحانیان، اسیلان او دریمه طبقه او حال دا چې بورژواګان په تدریج سره د اقتصاد له پلوه د ځانګړي ځای خاوند شول او ځانګړې طبقه یې منځ ته راوړې وه او لازمه وه، چې له ټولنیز او سیاسي پلوه هم د ځانګړو حقوقو خاونده وي. روحانیانو او اسیلو سره د دې چې د بورژوازۍ حقیقي ځواک لېدلو، حاضر نه وو، هغه ته درناوی قایل شي او د خپلو باندېوالتیاوو یوه برخه له ده سره وویشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تجارت رونق د حمل او نقل پراختیا او د معاملو ګڼوالي ایجابول، چې سوداګر وکولای شي په اسانه توګه تګ او راتګ وکړي، په بېلابېلو سیمو کې په مدني لحاظ یو قانون شتون ولري، د فرانسې دولت مرکزیت وموندي، تر څو سوداګریز واټونه تر خپلې څارنې لاندې ونیسي او هغه سینیورانو ته، چې د واټونو په ساتلو کې کومه ګټه نلري، و نه سپاري، هر څوک په خپله اراده کې ازاد وي، د اشخاصو د مالونو او هوډونو درناوی وشي، څو د سینیورانو ځواک، چې هر یوه په خپلو املاکو کې له سوداګرو نوي ګمرکونه اخیستل، په خپلو ملکونو کې یې د سوداګرو په اړوند ځانګړي مقررات پلي کول، په واټونو کې یې په خپله ګټه د لارساتلو جلا حقوق اخیستل، سرفان یې ازاد نه پرېښودل او د کومو بندونو اېل نه وو، له یاد شوو غوښتنو سره جوړ نه راتللو. په فیوډالي دور کې د اقتصادیاتو اصلي لامل کرهڼه وه او هماغه سرفان، چې په کلیو کې اوسېدل، په ترخ کې یې خپل او د سینیورانو نورې اړتیاوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره کولې، دبېلګې په توګه تارونه يې سکنل، ټوکرې يې اوبدلې، بوټان يې ګنډل ... او داسې نور، هسې چې د يوه سينيور سيمه يو خپلواک اقتصادي واحد ګڼل کېده. خو ورو ورو دې وضعيت بدلون موندلی ؤ، صنعت او تجارت د اقتصادياتو مهم لامل شوی ؤ، نور د سينيورانو او د هغه د چاپېروالو اړتياوې د ده په سيمه کې نه چمتو کېدې، په دې موکه کې اصلي اقتصادي ځواک د بورژوا طبقې په لاس کې ؤ. خو د فيوډالانو طبقې نه غوښتل دا طبقه په رسميت وپېژني.

له بله پلوه د همدې اقتصادي لاملونو له امله يوه نوې څرګنده شوې طبقه په فيوډالي ټولنې کې د ودې په حال کې وه، يانې د پرولتاريا (پرولتر هغه کس ته ويل کېږي، چې د توليد له افزارو څخه بې برخې دی او د ژوند چلولو لپاره د خپل کار له ځواکه پرته بله کومه وزله نلري او دا د کار ځواک د ټاکل شوي لاسمزد په بدل کې د توليد افزارو په خاوند پلوري) طبقه کله چې لوی صنايع رامنځ ته شول، پرولتر ته يې ډېره اړتيا لرله، ولې چې پرته له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې نه کارخونې په کار نه لوېدلې. نوې صنعتونه هسې مو چې وکتل، خپل پخپله د کارپورېشنونو د تزلزل لامل شول او موجب شول، چې کسبيان غالبن د پرولتر بڼه ونيسي. خو نويو صنعتونو له دې نه ډېرو پرولترو ته اړتيا لرله او تر هغه چې د هېواد ګڼ شمېر نفوس په زمکه پورې تړلی ؤ او د هغو واک د سينيورانو په لاس کې ؤ، نويو صنعتونو کولای نشول په کافي کچه پرولتر لاس ته راوړي. له دې کبله سوداګر او کارخونه لرونکي د سرفانو د ازادۍ جدي پلويان وو. د سرفانو ازادېدل هماغسې چې ومو لېدل، تر څه هانده پورې د اقتصادي اړتياوو له لارې پلي شول، خو نښې يې لا پاتې وې او په ځانګړې توګه له دې امله، چې يو شمېر سرفان ازاد شوي وو، دا بند پر نورو سرفانو تريخ پرېوتلو. له دې سرفانو څخه ډېرو د دې لپاره چې د سينيورانو له بنده خلاصون ومومي، تېښته يې خپلوله او په ښارونو او کليو کې لالوانده پاتې کېدل.

نو وينو، چې د ټولنې اقتصادي او سياسي جوړښتونو تر منځ شديد اختلاف شتون لاره او هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسانو چې هغه سیاسي جوړښت د دوی په ګټه په پښو شوی ؤ، په هېڅ وجه حاضر نه وو، کوم بدلون هغه ته لار ومومي. ورځ په ورځ اقتصادي جوړښت بدلون موندلو او پراخېدلو او په دې سیاسي بندونو باندې یې فشار راوړلو او معلومه وه، چې یوه ورځ به خپل سیال د زور په پلي کولو سره مات کړي.

په همدې موکه کې د دې لپاره، چې فیوډالان د صنعت او سوداګرۍ له امله له متجمل ژوندانه سره اشنا شوي وو او د لا ډېرې شتمنۍ د لاس ته راوړلو لپاره یې په بزګرو باندې لا زیات فشار راوړی ؤ او د دې لپاره، چې د فرانسې مرکزیت موندلو او د هغه بهرني سوداګرۍ پراختیا ملا ماتوونکو جګړو ته اړتیا لرله، چې د هغه لګښتونه او نورې بدمرغۍ په دریمې طبقې تحمیلېدلې، د دریمې طبقې بېوزلي او بدمرغي لوړې څوکې ته ورسېده او د هغه انقلابي تمایلاتو ته یې شدت ورکړ، چې بورژواګانو ته یې لاس په لاس کې ورکړ، تر څو د فیوډالي ټولنې بنسټ نسکور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو وینو، چې د فرانسې انقلاب د ناڅاپه پېښو او خیالونو له کبله منځ ته رانغی، بلکه د هغه ولې په بهرني واقعیت کې وې، چې د پېړیو په ترځ کې منځ ته راغلې وې.

د فرانسې انقلاب د څو کسو د وژلو لپاره او یوازې د کسات د اور د وژلو لپاره منځ ته رانغی، بلکه اصلي موخه یې د اجتماعي جوړښت بدلون او د اقتصادي جوړښت سره د هغه سمون ؤ.

ځیني د فرانسې انقلاب د هغه هېواد د لیکوالو، لکه د منتسکیو، ولتر او روسو د کتابونو معلول بولي، خو موږ د پېښو په ذکر سره وښودل، چې د فرانسې انقلاب د اقتصادی لاملونو زېږند ؤ، نه د دې او هغه د خیالونو مخلوق ... موږ د لیکوالانو له اغېزې منکر نه یو، خو د هغو اغېزناکوالی پرته له دې څخه دی، چې د انقلاب اصلي لامل واوسي. هغو انقلاب منځ ته نه دی راوړی، بلکه د هغه وړاند ویل یې کړی او په دې توګه د پېښېدو لار یې چټکه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغسې چې د زلزلې د پېښېدلو څخه پوهنيږي قضـيې او يـا حيـواني غريـزې وړانـد ويـل کـوي، د فرانسې ليکوالانو هم د راتلونکي انقلاب څخه خبرې کولې.

ولتر په ۱۷۶۴م کال کې ويل: «هغه څـه چې زه ګورم، د انقلاب زړی دی». **روسو** دوه کاله له ده نـه وړاندې ليکلي وو: «موږ د بحـران دور او د انقلابونـو پېړۍ ته نږدې کېږو».

په بـل عبـارت د هغې زمـانې وضـعې او حالـت د ليکوالانو د فکر دغه ډول وروزه، خو دغه فکرونه هـم په خپل وار سره پـه يـاد شـوې وضـعې او حالـت کې اغېزناکې زبات شوې او د هغو اغېزه يې چټکه کړه.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۶

د فرانسې له انقلاب څخه څو نندارې

د (اتاژنرو) عمومي جرګه:

په فرانسې کې د ۱۳۰۲م کال څخه راهیسې یوه جرګه د هېواد په ټولیزو چارو لکه د مالیو او وتلو طبقو د غوره والتیاوو د ټاکلو او د پوځ د ساتلو او نورو چارو کې د مشاورې لپاره د عمومي ټولنې په نامه د پاچا تر پام لاندې د ولس د ټولو طبقاتو یانې د اسیلانو، روحانیانو او دریمې طبقې له استاذو څخه جوړېده. د دې لپاره چې د دې ټولنې حقیقت ښکاره شي، د هغې د ځینو ځانګړتیاوو یادونه کوو: د دریمې طبقې له منځه یوازې د ښارونو اوسېدونکو د ټاکلو حق لرلو او د کلیو خلک له دې حقه بې برخې وو. اصولن دریمې طبقې دومره ټکبدل لېدلي او دومره د سپکاوي منلو ته اړ شوي وو، چې د عمومي ټولنې لپاره یې غالبن اسیلان د خپلو استاذو په توګه ټاکل او دې ډول استاذو څرګنده ده، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې طبقې په ګټه او د دريمې طبقې په زيان رايه ورکوله. د وټلو طبقو ټاکنې لمړۍ درجه او د دريمې طبقې ټاکنې دوهمه درجه وې. ټاکنې بايد په لوړ غږ پلې شوې وای، ولې چې په دې توګه د دريمې طبقې وګړو د هېواد د لويانو په مخکې جرأت نکولو، د هغو نومونو څخه پرته، چې دوی ته ښودل شوي وو، نورو نومونه په ژبې راوړي. په عمومي غونډې کې د طبقو له مخه رايې اخيستل کېدې، نه د وګړو له مخې، په دې مانا چې د روحانيانو، اسيلانو او دريمې طبقې هرې يوې يوه رايه لرله. په دې توګه، د ولس ډېرکي، چې د روحانيانو او اسيلانو څو ځله وو، يوازې يوه رايه ورکوله او حال دا چې روحاينانو او اسيلانو په ګډه دوې رايې لرلې او تل په ډېرکي کې وو او په دې وسيلې يې د دريمې طبقې ګټې تر پښو لاندې کولې. د عمومي ټولنې موکه ټاکل شوې نه وه او هر کله به چې د پاچا اراده کېدله، جوړېدله. په ۱۶۱۴م کال کې عمومي ټولنې وړانديز وکړ، چې هر لس کاله يو ځل د عمومي ټولنې جوړېدو له ګام پورته کړي، خو ياد شوې غونډه په حقيقت کې وروستۍ عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډه وه او هغه جرګه، چې په ۱۷۸۹م کې جوړه شوه، هسې به چې وګورو، په ملي جرګې بدله شوه.

د ۱۷۸۹ عمومي جرګه: کله چې په ۱۷۸۹کې پرېکړه وشوه، چې عمومي جرګه راوبلي، نکر د ۱۶م لويي وزير وړانديز وکړ، چې د کليو خلک د رايو حق ولري. د نکر دا وړانديز د سپېڅلو احساساتو له مخې نه وه، بلکه په خپل حساب سره يې غوښتل خپلې طبقاتي ګټې لا ډېرې وساتي.

نکر داسې حساب کاوه، چې په ښارونو کې د ډېموکراسۍ روح ننه ايستل شوې ده، شونې ده، د ټاکنو پايله د وتلو طبقو په ګټه نه وي او حال دا چې په کليو کې اسيلان او روحانيان، چې د ټولو زمکو له درو برخو څخه د دوو برخو خاوندان دي، د خلکو پر فکرونو او روحيو باندې برلاسي دي او په ټاکنو کې د کليو خلکو ته په ګډون ورکولو سره ميليونونه وګړي له هغو کسانو څخه، چې مستقيمن د وتلو طبقو ابل دي او يا لږ تر لږه تر اغېزې لاندې يې راځي، په ټاکنو کې به د وتلو طبقو په ګټه برخه واخلي. نکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېدو، چې عمومي آراوو ته ستنيدل په ځينو حالاتو او وضعو کې شونې ده، چې د اريستوکراسۍ په ګټه پای ومومي. هغه پرګنه چې له هره ځایه بې خبره ده، هغه پرګنه چې خپل حقوق نه پېژني، هغه پرګنه چې له هرې خوا نه تر فشار لاندې پېښېږي، څنګه کېدای شي ازاده اراده ولري؟

هغه ټاکنې چې د داسې پرګنې په منځ کې پلې شي، يوازې د دې لپاره دي، چې د زورويونکې طبقې واکونه قانوني ښکاره کړي او له خپله زيارايستونکو طبقاتو څخه د هغو د ټکونو لپاره سند واخلي. نکر له داسې شيطاني نيت سره وو، چې د کليو خلکو ته يې د عمومي جرګې په ټاکنو کې ګډون ورکړ.

خو پېښې د نکر له حساب سره مخالفې پېښې شوې او کله چې ولس (د ښار او د کليو اوسېدونکو په ګډون) په رايو ورکولو پيل وکړ، څرګنه شوه، چې لازمه نه ده چې زيات څه هغه ته ورزده کړي، نردې پنځو شپږو ميليونو کسانو رايې ورکړې.

دوی عمومن سواد نلرلو، خو ښې خبرې يې کولې او ښه تبليغ يې کولو. د کليو خلکو د رايو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکولو له منبو څخه دا نتیجه ترلاسه شوه، چې ان روحانیانو د استاذو منځ ته هم یوې ګڼې دېموکراسۍ لار ومونده.

په دې مانا چې د روحانیانو په طبقې کې هم هغه بېوزلي کشیشان، چې د کلیو اوسیدونکو په منځ کې یې ژوند کاوه، په کومه توګه هم له شتمنو روحانیانو سره د ګډو ګټو خاوندان نه وو. د کلیو خلکو دا ډول کشیشان په ډېرې مینې سره استاذیتوب ته ټاکل او په دې توګه له هغو څخه دو لکو کسانو، چې د شتمنو روحانیانو لوی غلیمان وو، عمومي جرګې ته ولېږل.

عمومي جرګه باید د اپرېل په ۲۷مه پرانېستل شوې وای، خو د هغې پرانیستل یې د مې میاشتې تر ۴مې پورې وځنډول. په دې موکه کې وحشتناکه ژمی او وچ اوړی په مخه راغلل او قحطي پیل شوې وه، یوازې یوه شي د فرانسې وږې پرګنې ته د صبر او زغم یاري ورکوله: عمومي جرګې ته هیله. دا یو مبهمه هیله وه او خلکو اند کولو، همدا چې عمومي جرګه خبرې وکړي، تیګې به په ډوډې بدلې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې عمومي جرګه د مې په ۴مه پرانیستل شوه او ۱۲۰۰ کسه استاذو پکې ګډون وکړ، چې ۵۵۰ کسه له هغو څخه د دریمې طبقې استاذي وو. هغه شدید توپیر چې د استاذو به رسمي کالیو کې لیدل کېدو، ښودل یې، چې دغوی په حقیقت کې له درو طبقو څخه نه دي، بلکه له درو جلا ولسونو څخه دي، چې هېڅ ګډه ګټه سره نلري. دربار تر څو چې کولای یې شول، زاړه او وراسته دودونه ژوندي کړل، تر څو د دې طبقو تر منځ لا ډېر توپیر جوړ کړي. د ۱۶م لويي او د هغه چاپېروالو له دې څخه خوند اخیستلو، چې واړه کسان سپک کړي او ویې ښکني او د هغو د نوم ورکه سرچېنه د هغو په مخ وباسي. یوه ورځ مخکې له دې چې عمومي جرګه جوړه شي، استاذي یې ورسای (د پاچا د اوسېدنو ځای) ته بوتلل او معرفي یې کړل، خو پاچا د دې پر ځای چې هغوی یوځای ومني، امر یې وکړ، چې د طبقو په ترتیب سره: لمړی روحانیان، بیا اسیلان او وروسته له څو شېبو تم څخه دریمه طبقه دننه شي. په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ چې ۱۶م لويي جرګې ته راغی، خوله يې په سر کېښوه، اسيلانو هم وروسته له ده نه خپلې خولې په سر کېښوې، دريمې طبقې هم وغوښتل همدا کار وکړي، خو پاچا د دې لپاره چې دريمه طبقه په داسې حرکت سره ښکاره نکړي، چې له اسيلانو سره سمه ده، ژر يې خوله دوباره په سر کېښوه. د ناستې ترتيب لـه مخې هم روحانيان په ښي خوا کې، اسيلان په چپې خوا کې او د دريمې طبقې استاذي د دوی شا ته ځای پر ځای شوي وو.

ملي جرګه: د هغې ورځې پر سبا چې عمومي جرګه پرانيستل شوه، روحانيان او اسيلان هر يو خپلو تالارونو ته د خبرو اترو پاره لاړل. د دريمې طبقې استاذي هم خپل سالون ته لاړل او د هغو په تمه شول، ولې چې د دوی په باور خبرې اترې بايد په عمومي غونډې کې پلې شوې وای، خو روحانيانو او اسيلانو، چې ځانونه بشپړه جلا او د دريمې طبقې له استاذو څخه پورته ګڼل، په دې غونډې خوښ نه وو او پنځه اونې يې له دې څخه، چې د دريمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبقې له استاذو سره په يوه تالار کې کېني او خبرې وکړي، ډډه وکړه. په دې موده کې روحانيان او اسيلان په دې هکله په دسيسو بوخت وو او د دريمې طبقې استاذو له ولس سره اړيکې لرلې. نور د دې موکه رارسېدلې وه، چې د زړې نړۍ څنډې خوشې کړي د راتلونکي بې پايه سمندر په مخ بادبانونه خپاره کړي. د دريمې طبقې يوه پلوي اسيلانو ته په خطاب کې ويلي وو: «تاسو خپل اسيلتوب په فتحې او بريا سره لاس ته راوړی؟ ډېر ښه، دريمه طبقه به هم د فتحې او بريا له لارې اسېل شي».

د جون د ۱۷مې په ورځ «سيه بس» د دريمې طبقې يوه استاذي وړانديز وکړ، چې زموږ غونډه له هغه ځايه چې د ولس له ۹۶ په سلو کې استاذو څخه جوړه شوې نبايد د نورو استاذو د نه شتون له امله وزګاره پاتې شي، د دريمې طبقې د استاذو غونډه دې د «ملي جرګې» به نامه ونومول شي او په کار دې پيل وکړي. دا وړانديز ومنل شو او ملي جرګې په کار پيل وکړ او «بايي» يې د رئيس په توګه وټاکه. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع د لوی ګوزار په توګه ؤ، چې پر دربار پرېوتو، خو ۱۶م لویي بیا د ماري انوانت او چاپېروالو تر اغېزې لاندې راغی، په دې خیال کې شو، چې ملي جرګه د توپ او زیاتي له لارې له ډګره وباسي.

د جون د ۲۰مې په ورځ، چې د ملي جرګې غړي د خپل تالار په لور ولاړل، پیره لرونکو د هغو له ننوتو مخنیوی وکړ، دوی له دې لوی سپکاوي وروسته د زاړه ورسای یوې مانۍ په لور روان شول، په یوه تش سالون کې، چې پخوا د دربایانو د لوبو ځای ؤ، غونډ شول او هلته یې لاسونه پورته کړل او کسم یې یاد کړ، چې مخکې تر دې، چې فرانسې ته یې یو اساسي قانون نه وي ورکړی، له یوه بل څخه به جلا نشي.

په دې موکه کې له لویانو څخه یوه، په ځانګړې توګه د دې لپاره چې ملي جرګه سپکه کړي، پیغام یې ولېږه، چې سبا ته غواړي په هغه سالون کې لوبې وکړي! بې خبره دربار په دې توګه لوبې کولې او خوښ ؤ! ملي جرګه یې له هغه سالون څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایسـتله هـر چـېـرې چې ولاړه هغـه یـې وشـړله. دا لالوانده ډلـه، دا خطرنـاک ټـولګې، چې ټـولې دړې د دوی پر مخ تړل کېـدې، کـوم کسـان وو؟ دغـوی پـه خپلـه ولـس ؤ، چې ټول ورونـه د هغـه پـه مـخ تـړل شوي وو.

د جون د ۲۳مې په ورځ عمومي جرګه بیا د پاچا په حضور پرانېستل شوه. خـو پـه دې حـال کې چې اسـیلان او روحانیـان د لـویې دړې څخـه تـالار تـه ننوتل، د دریمې طبقې استاذي د وره شا ته تر بارانـه لانـدې د پیـره لرونکـو سـره یـې د اجـازې پـه هکلـه خبرې کولې. په دې ورځ یې ننـداره کوونکـو تـه هـم لار ورنه کړه. پاچا تالار ته ننووت او خبرې یې وکړې او یادونه یې وکړه، چې د دریمې طبقې اسـتاذي پـه هېڅه توګه حق نلري د وتلو طبقـو لـه پرېکـړې پرتـه کوم تصمیم ونیسي او د خپلو خبرو په پـای کې یـې وویل:.

«ښاغلو زه تاسو ته امـر کـوم، چې ژر پخپلـو کې سره جلا شی او هر یو به هغه تالار کې، چې ستاسـو د طبقـو لـه پـاره ټاکـل شـوی، حاضـر شـی». پاچـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له خپلو خبرو بهر ووتلو. اسیلان او روحانیان هم بهر ووتل. خو د دریمې طبقې استاذي د چوپتیا او غوسې په حال کې پاتې شول. د تشریفاتو رئیس راغی او د ملي جرګې رئیس ته یې خبرې وکړې او ویې ویل:

"ښاغلو! د پاچا امر مو واورېده؟» په دې موکه کې میرابو، معروف وياند، د تشریفاتو رئیس ته مخ راواړاوه، خپلې تاریخي خبرې یې وکړې: «ورشی هغو کسانو ته، چې تاسو یې رالېږلي یاست، ووایی، چې موږ د ولس په ارادې دلته راغلي یو او موږ کولای نشی له دې ځایه لېرې کړی، مګر د سانګو د سر په ځواک».

د تشریفاتو رئیس د دې خبرو د هیبت له امله د ملي جرګې په وړاندې له دړې څخه هماغسې زبون بهر لاړو، لکه د پاچا په وړاندې چې بهر لاړ ؤ، ملي جرګې په کار پیل وکړ او په همدې غونډې کې یې د جرګې دغړو د مصونیت په هکله رایې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځ: په دې موکه کې د دربار ټوله هېله پوځ ته وه. له دې کبله بې اړونده نه ده، چې یو څه د هغې زمانې د پوځ په هکله خبرې وکړو.

د شپاړسم لـويي بوديجـه د افسـرانو لپـاره ۴۶ میلیونه خو د سرتېرو لپاره یوازې ۴۴ میلیونه وه، لـه دې ځایه پوهېدی شو، چې څه لـوی تـوپیر د پـوځ د افسرانو او سرتېرو تر منځ شتون لاره. سـرتېري بایـد تل د سرتېرۍ په درجه کې پاتې شوي وای او د هغـو جبـرې او حقـوق پـه بېلابېلـو پلمـو د افسـرانو مـړې کېدل او حال دا چې افسـران تـل د لویـانو زامـن وو، چې په بشپړه هوساینې او څواک کې یې ژوند کاوه. له دې کبله مازې دا چې د فرانسې انقلاب پیـل شـو، د افسـر او سـرتېري تـر مـنځ بېلتـون ولوېـده. د دې لپـاره چې پـه بشـپړه توګـه ښـکاره شي، چې پرګنـې څومره له افسرانو نه کرکه لرله، یادوو، چې د «کان» په ښار کې کله چې خلک راووتل، د یوه افسر زړه یې، د هغـې کرکـې لـه املـه چـې لـه دوی نـه یـې لرلـه، راوویسته او ویې خوړلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټکې هم باید ووایو، چې د فرانسې ملکې، دا د ښکلو ښکلې، لوی افسران یې ځان ته بلل، هغو ته یې شراب ورکول او په خوږو خبرو او مینه پاروونکو کتلو سره یې هغه له لارې اېستل، تر څو په ولس باندې تورې وباسي.

خو د سرتېرو په هکله خبره کاملن برعکس وه. سرتېری، چې د استبدادي سلطنت په دور کې د ټولنې له باندېوالتیاوو څخه په بشپړه توګه بې برخې وو، د ولس له خوا یې په بشپړه مینې سره هرکلی کېده. اصولن سرتېری د عسکری تر کالیو لاندې پرته له ولس څخه بل څه شی دی! دوه ورونه دوه زامن، یوه مور، سرتېری او پرګنې یوبل ته ورسېدل او د یوه بل په غېږه کې ولوېدل.

د جون د ۲۷مې په ورځ د ګارډ رئیس ۱۱ کسه سترتیري، چې کسم یې یاد کړی ؤ، چې په هېڅ اړوند کې به د جرګې له امر سره مخالفت ونکړي، زندان ته واچول او ان له دې هانده هم پورته لاړل، ویې غوښتل هغوی له پوځي زندان څخه راوباسي او د غلو زندان ته واچوي. کله چې د سرتېرو د بندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو خبر خلکو ته ورسېدو، يو ځوان د چوکۍ پر سر پورته شو او چيغه يې ووهله: «ځې چې زندان تـه لاړ شو، هغه کسان، چې نه يې غوښتل پـه ولـس بانـدې ډېزې وکړي، وژغورو!» خلـک پـه لاره ولوېدل او کلـه چې زنـدان تـه ورسـېدل، د دوی شـمېر نـږدې څلـور زره کسه ؤ. د زندان دړې او تنه يـې پـه تبرونـو سـره مـات کـړل او سـرتېري يـې وژغـورل. کلـه چې بهـر راووتـل، د دربـار يـو شـمېر سـرتېري تـوره پـه لاس راورسېدل، خو هغو هم ونـه غوښـتل، د هغـو کسـانو پر مخ، چې سـرتېري يـې ژغـورلي وو، تـوري وباسـي. ټولو سره د پخلاينې لاسـونه ورکـړل او يوبـل تـه يـې شراب راوړل، په روغتيا سره يې وڅښل. ولس موکـه غنيمت وګڼله او نور بنديان يې هـم خـلاص کـړل. د حبسيانو په منځ کې يـو زوړ سـړی ؤ، چې پـه زنـدان کې د ورستېدو پـه حـال کې ؤ او نـور پـه لاره تلـلای نشـوو. دا بـې وزلـی، چې اوږده مـوده تـر شـکنجې لاندې پاتې ؤ، هومره تر اغېزې لانـدې راغلـی ؤ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهېدو څه ووايي: «ښاغلو! زه به له دې ټولې مینې څخه مړ شم».

د باستیل راپرځېدل: د ملي جرګې ګامونه د دربار د ترهورتیا لامل شول او په لټه کې شو، چې زور ته متوسل شي، خو په فرانسوي وګړو یې باور نلرلو، چې په خپلو هېوادوالو به غشي وشېندي، له دې کبله یې سویسیو او جرمنیو ځواکونو ته، چې د فرانسې دولت په چوپړ کې وو، پناه راوړه او هغوی یې د ورسای او پاریس خوا ته راغونډ کړل. دلته باید دا ټکې یاد کړو، چې یوه موضوع، چې د حاکم هیئت لاس وند (دستاویز) ده، ملي حیثیت او شرافت دی. حاکمه هیئت تل زیاراېستونکو پرګنو ته نصیحت کوي، چې د بهرنیو په وړاندې د خپلې بېوزلۍ او اسکېرنې له یادولو څخه ډډه وکړي، ولې چې د ملي حیثیت سره مخالفه ده، که څه هم د حاکمه هیئت تر فشار لاندې وړه او واړه هم شي، له پردیو څخه د هېڅ مرستې توقع مه لري، ولې چې د ملي حیثیت سره مخالفه ده. خو همدا حاکمه هیئت مازې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې، د هغو ستم کتلو پرګنو په وړاندې، چې چاره یې هڅوکو ته رسېدلې او د خپل ژوندانه حق لپاره یې پاڅون کړی، عاجز پاتې کېږي، ژر او پرته له کوم شرم او حیا څخه د بهرنیو مرتجعینو ځواکونو ته لاس غزوي او د ملي حیثیت هېڅ پروا نلري. دا حقیقت څو ځله د فرانسې په انقلاب کې څرګند شو. یو په همدې موکه کې وو، چې له چوپړو پردو څخه ګټه پورته شوه او بل په هغه موکه کې وو، چې د فرانسې انقلابي دولت د ټکولو لپاره یې له تر ټولو مرتجع دولتونو څخه، چې فرانسې سره یې زړه دښمني لرله، مرسته واخیستله.

د جون د ۱۱مې په ورځ یې **نکر**، چې د ځینو وړاندیزونو په وجه د ولس د دوستۍ وړ ګرځېدلی ؤ او پاچا ته یې د درباریانو د ګټو په خلاف ځینې نصیحتونه کول، لېرې کړ. مازې دا چې دا خبر خپور شو، خلکو دا خبر د وضعې هراز ښه کېدو څخه د مخنیوي په مانا ومنلو او په هره کوڅه او سیمه کې یې غونډې جوړې کړې، له لسو زرو څخه ډېر کسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول شول. په دې موکه کې یو ځوان، چې وروسته مشهور شو، «کامیل دمولن»، د یوه مېز په سر وختو، به دې حال کې، چې تمانچه یې په لاس کې وه، چغه کړه: «خلکو! یوه شېبه هم د تم کېدو ځای نشته دی، د نکر لېرې کول د دې نښه ده، چې د وطن پالو بدنامي غواړي په لاره واچوي. همدا نن شپه به د سویس او جرمني ټول غونډونه زموږ د وژلو لپاره د مارسي له لارې راووځي. یوازې یوه وزله موږ ته پاتې ده او هغه د وسلې اخیستل دي». له دې وړاندیز نه خلکو د لاسونو له شور نه په ډکې پړکا سره هرکلی وکړ او هغه ځوان بیا وړاندیز وکړ، جګړه کوونکي وکړي د دې لپاره چې یو بل وپېژني او له یو بل نه ملاتړ وکړي، شنه نښه، چې د هیلې لرلو رنګ دی، په ځان پورې وموښلوي او خپله یې د ونې یوه پاڼه راواخیستله او په خپلې خولۍ پورې یې وټومبله او نورو له ده څخه تقلید وکړ.

خلک د ۱۳مې او ۱۴مې په ورځ د وسلې په ټولولو پسې وو او څو وسله خونې یې لوټ کړې. په وروستۍ ورځ کې خپره شوه، چې د باستیل توپونه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار د ګوليو ورولو لپاره چمتو دي. خلکو چې د دې کرکه جن ځآی څخه شديد وحشت لاره، لـه هـرې خوانه يې پـه تـوره، ټوپک او سـانګو سـره سـمبال د باستيل پـه لـور وځغسـتل، هغـه يـې کلابنـد کـړ او د باستيل د پلونو په خرابولو بوخت شول. نږدې څلـور ګنټې د باستيل له محاصرې څخه تېرې شـوې وې، چې ځيني فرانسوي سرتېري هم د خلکو مرسـتې تـه راغلل او په يو ځل يې يرغل راوړ، باستيل يـې ونيـوه او د هغـه پـه ورانولـو بوخـت شـول، يـوه د باسـتيل کونجې او بيراغ په لاس کې نيولی وو، يوه د زندان د مقرراتو پاڼه د خپلې نيزې په څوکه پـورې موښـلولې وه، يو بل د زندان د رئيس سره د سانګې پـه سـر کـې لرلو.

دې ډاروونکې ورځ، سره د دې چې ډېرې وينـې تويېدنې يې ولېدې، په ځينو موکو کې يې د جشن او خوښـې بڼـه ځـان تـه نيولـه: زخميـان يـې د بـري د بيـراغ پـه ښـه وړل راوړل او د هغـو تـذکرې يـې پـه ګلونو پټولې او په درې رنګه څادرونو يې سينګارولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په راتلونکي اونۍ کې یې د باستیل په وېجاړو باندې د اتڼ مجلس پیل کړ او په هغو وېجاړو یې بېنرونه وځړول، چې : دلته د نڅا ځای دی.

د باستیل کونجې، دا قهرجنې کونجې، چې د وخت په تېرېدو او د بشري دردونو سره اړیکو څخه ورستې شوې وې، اتفاقن دهغه چا په لاس کې ولوېدې، چې هغه یې ښې پېژندلې، د ملي جرګې یوه پخواني بندي دا کونجې په خپلې ولکې کې کېښودې او د روزګار د زړو ستمګرو دا ماشین یې د هغو قانونونو په څنګ کې، چې ستمکوونکي یې مات کړل، کېښوې او دا کونجې لا اوس هم د فرانسې په اوسپنیز قفس کې ساتل کېږي. کاشکې د نړۍ د ټولو باستیلونو کنجې د دې کونجیو په څنګ کې بندې شي.

دربار او پاریس: د دربار توطئه کوونکو، چې ملکه ماري آنتوان یې په سر کې وه، په داسې موکې کې بیا هم د پاریس او ملي جرګې پر ضد په دسیسو بوخت وو او د ۱۴مې – ۱۵مې شپه یې په پاریس باندې د یرغل لپاره ټاکلې وه. د پاریس خلکو هم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د دې خچنو نیتونو حدس واهه، د ښار په ټینګولو بوخت شول او مرچې یې جوړې کړې او ان ښځو ډبرې او لوټې د بامونو سر ته یوړې، تر څو د سر تېرو پر سر یې وغورځوي. ملي جرګې دوه ځله پاچا ته استاذي ولېږل او موقعیت یې ښکاره کړ، خو پاچا لا هماغسې غافل ؤ او خپله وفا یې د وتلو طبقو د ګټو په اړوند اعلاموله. په پای کې د شپې په وخت د موکې له وخامت څخه خبر شو او سبا سهار پرته له ګارد څخه ملي جرګې ته راغی. د پاچا د راتګ خبر د جرګې د غړو په منځ کې بې هانده خوښي را منځ ته کړه، خو بیا په دې موکه کې د **میرابو** اغېزناک غبر پورته شو: «صبر وکړو، تر څو اعلیحضرت هغه د ستایلو وړو پرېکړو خبرتیا، چې د ده له خوا یې زېری ورکړ شوی، مور ته راکړي (او هغه وخت د ښادۍ څرګندونه وکړو) زموږ د ورونو وینې په پاریس کې بهېږي.

د یوه بدمرغه ولس د استاذو هرکلی له پاچا څخه باید په غم لړلې بڼه پلې شي: د ولسونو چوپتیا د پاچایانو لپاره یو درس دی».

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا ملي جرګې ته راغی او د خپلې وينا په ترخ کې يې وويل: «زه ځان تاسو ته سپارم». له دې کبله په بشپړه مهربانۍ سره له ده نه هرکلی وشو. ملي جرګې دی تر سلطنتي ماڼۍ پورې بدرګه کړ. ۱۶م لويي هم ملي جرګې ته اعلام وکړ، چې «نکر» به بېرته په کار وګماري او سبا به د ولس د آراموالو لپاره پاريس ته ولاړ شي. په پاريس کې هم له ده نه، چې ظاهرن د ولس خوا ته بېرته ستون شوی ؤ، درون هرکلی وشو.

خو نکر، چې د خپلو ځينو پرېکړو له امله چې د خلکو د مينې وړ ګرځېدلی ؤ، ژر خپل محبوبيت له لاسه ورکړ، ولې چې نکر غوښتل د اصلاحاتو، سولې او جوړښت له لارې له انقلاب څخه مخنيوی وکړي او حال دا چې خلک د انقلاب په وړاندې، چې پرګنې په خوځښت راولي، هېڅکله د درېدلو توان نلري او څوک چې غواړي د انقلاب اتل واوسي، بايد د هغه په وړاندې روان شي او ګونډې د ده شا ته پاتې کېدل او په زمکه لګېدل يو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مالکيت سن بار تلمي: (لمړی خرګندوو، چې سن بار تلمي د ۱۵۷۲م اګوست ۲۴مې ورځې ته ويل کېږي. په دې ورځ کې کاتوليکانو د ګڼه لټوونکو کسانو په پارولو سره په پروتستانتانو ورغلل، ګڼ شمېر بنځې، سړي او ماشومان يې د پسونو په توګه ووژل او تر څو ورځو پورې يې په فرانسې کې دې عمل ته پايښه ورکړه).

د پاريس خوځښت ولايتونو ته سرايت وکړ او په هغه ځايونو کې هم خلک د لوړو طبقو د باندېوالتياوو په له منځه وړلو بوخت شول. په ښارونو کې يې د پخوانيو مامورينو پر ضد، چې له هر ډول بدلون سره مخالف وو، پاڅون وکړ. په کليو کې يې د سينيورانو ماڼيو ته اور ورته کړ. ملي جرګې بايد د خلکو د کرارولو لپاره د باندېوالتياوو د له منځه وړلو په هکله تصميم نېولی وی او دا کار د اګوست په ۴مه پلی شو او د سينيورانو قضاوت، د ماليـاتو په مقرراتو کې توپير، د کارپوريشن مقررات او نور لغوه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې شپې فيوډالي نښې راوپرځولې، پرګنې يې د سرواژ ناتار له بقاياوو څخه خلاصې کړې، زمکې يې د سينيورانو لـه منګلـو راووېستلې، د سينيورانو د قضاوت په له منځه وړلو سره، چې د فردي څواکونو پاتې شونې وه، عمومي او ملی ځواک يې مستقر کړ. دې شپې د فرانسې ښېره واړوله او فرانسويان يې د سياسي حقوقو لـه پلـوه يوشانې کـړل. دا شپه د «مالکيت سن بارتلمي» ونومول شوه.

په ملي جرګې کې د ننه توپيرونه: په دې موکه کې د فرانسې ولس په حقيقت کې په دوو برخو ويشل کېده: يو د مزاياوو خاوندان، چې له انقلاب څخه يې د زړه له کومې کرکه لرله او بل د ولس دريمه طبقه، چې انقلاب د دوی يوازينۍ هيله وه، خو دوی هم په دوو ډلو ويشل شوي وو: يو هغه کسان، چې غوښتل يې چې انقلاب خپلو وروستنيو پايلو او اغېزو ته ورسوي او بل هغه کسان، چې شديد او يو ډنډه مخالفت يې په صلاح نه ګڼلو او په دې باور وو، چې ملي جرګه بايد راضي کړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انقلاب اور لـه دې وروسـته بايـد د ځينـو اصـلاحاتو سره مړ کړي.

لـه دغـو ډلـو څخـه هـرې يـوې پـه جرګـې کـې استاذي لرل. کله چې د ولس د کرکې اور په خوټېدو راغی او سيل ډوله بهانـد شـو، لمړی او دوهمـه ډلـه خوامخـوا د انقـلاب اېـل شـوې، ولې چې د هغـه پـه وړاندې چا د درېدلو جرأت نه لرلو او په ترخ کې يې اند نه کولو، چې د انقلاب سېل دې پايداره واوسي او عمومن يې اند کولو، چې پېښې بـه ژر تېرې شي او بېرتـه بـه د پخـواني نظـم لاسـبرى ځرګنـد شـي، خـو وروسته له دې چې د انقلاب څخـه څـه مـوده تېـره شوه او ملي جرګې په کار پيل وکړ، دا توپيرونه ښکاره شـول او د اسـيلانو او روحانيـانو پلويـانو هڅـه وکـړه، چې د ملي جرګې پرېکړې بې اغېزې وګرځوي.

خو برعکس انقلابي ډلې پـه ډېرکي بانـدې تکيـه لرله او غوښتل يې چې د جون د ۱۴مې انقلاب بشپړ کـړي. د جـون د ۱۴مـې انقـلاب پـه حقيقـت کـې حکومـت يـې د فيـوډالي مطلقـه سـلطنت لـه لاسـه واېسته او د بورژوازۍ لاس ته يـې سـپارلی ؤ. د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرګې انقلابي ډلې غوښتل چې د انقلاب دا پايله لا وړاندې بوځي او داسې کار وکړي، چې بورژوازي د انقلاب يوازېنۍ ګټه پورته کوونکې نه وي. دې انقلابي ډلې په همدې حال کې چې د بورژوازۍ د ګټې پلويانو ته يې په غالبو مسائلو رايه ورکوله، په ځينو مسائلو کې يې له هغو سره مخالفت لرلو، ولې چې له هغو څخه لا کين وو. دې ډلې باور لرلو، چې ولس همدا چې خپل حقوق يې ترلاسه کړل، په هوساينې بوختېږي او دا هوساينه هغه ضعيفوي. له دې کبله د دې لپاره چې ولس تل په ويښ حال کې وساتي، د ټولنو او کلوپونو په جوړولو يې پيل وکړ. تر ټولو معروف کلوپونه عبارت وو له:

د ژاکوبنانو کلوپ: ژاکوبنان پخوا د روحانيانو يوه ډله وه او له هغه ځايه چې دا کلوپ د دوی په پخواني ځای کې جوړ شو، د هغوی انقلابي غړي هم په ژاکوبن معروف شول. دغه ترټولو ترخه انقلابيان وو او تر پايه شېبو پورې يې د انقلاب له مخکښو نه ملاتړ وکړ. د ژاکوبنانو د کلوپ بنسټ ايښودونکي بايد **برناو، دوپر او لامت** وبولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کردوليه وو کلوپ: کردوليه ګان هم پخوا د روحانيانو يوه ډله وه او له هغه ځايه چې دا کلوپ د دوی په پخواني ځای کې جوړ شو، د هغه انقلابي غړي هم په کردوليه معروف شول. دا کلپ په ۱۷۹۰م کې دانتون بنسټ کېښوده او په پای کې د ژاکوبنانو له کلوپ سره يو شو.

دې کلوپونو د شاه او روحانيانو پر ضد او په عين حال کې پخپله ملي جرګې پر ضد، چې د هغه ډېرکي د انقلاب له ادامې څخه ډارېدل، مبارزه کوله.

ميرابو د ملي جرګې له منځني حاله غړو څخه ؤ. پلار يې له لويانو څخه ؤ او د خپل زوی سره يې، چې ازاد او په عياشۍ ککړ ژوند يې درلوده، ډېر کلک چلند کولو او ان هغه يې حبس ته واچاوه. د هغه د ازادۍ روح سرغړونه وکړه او د فرانسې په انقلاب کې د انقلاب په سر کې ودرېدو، خو د انقلاب له ادامې سره يې موافقت نلرلو او د هغو خبرو اترو له کبله، چې له دربار سره يې په پټه سر ته رسولې وې، غوښتل يې چې سلطنت وژغوري، د فرانسې لپاره مشروطه حکومت جوړ کړي. ان وايي، چې ميرابو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو پورونو د پرې کولو لپاره له دربار څخه ډېرې پیسې تر لاسه کړې، له دې موکې وروسته میرابو خپله ژبه وړتیا او خبرلوڅي د دربار په چوپړ کې وګمارل، خو مرګ میرابو ته موکه ورنکړه او د ۱۷۹۱م د اپرېل په ۲مه مړ شو. وايي، د ده وروستنې خبرې دا وي: «زه د سلطنت ویر په خپل زړه کې وړم».

د شاه تېښته: د میرابو مرګ، چې د سلطنت پلوی ؤ، د انقلاب خوځښت د پاچا پر ضد لا چټک کړ. ۱۶م لويي په دې موکې کې یوازې یو فکر لاره او هغه دا ؤ، چې ځان او خپله کورنۍ امن ځای ته ورسوي. له دې کبله یې توطئه وکړه، چې له پاریسه وتښتي او «موندي مدي» او له هغه ځایه «وارن» ته لاړ شي او خپله اراده پر بهر باندې په تکیې سره پر ملي جرګې تحمیل کړي، ان د وین دربار ته یې استاذی لېږلی ؤ او هوډ یې اخیستی ؤ، چې د داخلي جګړې په ترڅ کې د فرانسې په چارو کې لاسوهنه وکړي او په خبل کاغذ کې یې د وین دربار ته لیکلي وو: «که اړتیا وي، چې پاریس ته اور واچوو، وبه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوزوو او اوسېدونکي يې ووژنو، د لويو بلاګانو په موکه کې بايد لويې درملنې وکاروو.» دا وه هغه درملنه، چې د فرانسې پاچا خپل ولس لپاره يې وړاند وينه کوله! وروسته چې دا پاچا د ولس په لاس ووژل شو، ځينو ځينو نري زړونو، ځينو کسانو، چې له خپلو سوګمو نه وړاندې کتلای نشي، د هغه پر حال غمجن شول او په نظر کې يې ونه نېول، که دا سړی بريالی شوې وای، د يوه ښار او يوه هېواد اوسيدونکي به يې له څه برخه ليک سره، هغه هم د پردو په لاس مخامخ کړي وای.

په هر حال، تېښته د ۱۷۹۰م د جون په ۲۰مې پلې شوه. د ملکې يو مين د ګاډې چلوونکي په توګه وټاکل شو او پاچا د کورنۍ د چوپړ په جامه کې ننوت. خو اتفاقن د لار په منځ کې وپېژندل شو او هغو سرتېرو، چې هغه يې خپل ساتونکي بلل، د افسرانو له امر څخه سرغړونه وکړه، له ده نه ملاتړ ونکړ، د پاچا او ملکې ټينکار او زارۍ هم کوم ځای ته ونه رسېدې. په پای کې يې دوی له درو کسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاذو سره، چې د ملي جرګې له پلوه لېږدول شوي وو، پاريس ته ستانه کړل.

لس ورځې وروسته يې د فرانسې اساسي قانون په هغه ماتې خوړلي پاچا باندې امضا کړ. په دې توګه د ملی جرګې دنده، چې د بنسټ ايښودونکو جرګه هم بلل کېدله، پای وموند او فرانسه وروسته له دې بايد د اساسي قانون پر بنسټ اداره شوې وای.

د فرانسې لمړي اساسی قانون ته يوه کتنه: د بنسټ ايښودونکو جرګې د «بشر د حقوقو اعلاميه» صادر کړه، چې موږ به د کتاب په پای کې د هغې ژباړه راوړوو، خو له هغه ځايه چې د ياد شوې جرګې ډېرکی بورژواګانو جوړاوه، هغوی په عين حال کې، چې غوښتل يې د پاچا واکونه محدود کړي، په هڅه کې وو، چې د ولس پرګنې هم قيضه کړي او له دې نه چې انقلاب لمن وغزوي، مخنيوی وکړي. دا موضوع په ځانګړې توګه د ټاکنو په قانون کې، چې د بنسټ ايښودونکو له خوا جوړ شو، لېدل کېږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې قانون پر بنسټ یوازې هغه کسانو، چې د درو ورځو کار په ارزښت یې مستقیمن مالیې پرې کولې او د هغو شمېر ۴،۲۹۸،۰۰۰ کسه ؤ، د رایې حق لرلو او درې میلیونه پاتې له دې حقه بې برخې وو. هغو څلورو میلیونو کسانو هم له هرو سلو کسو څخه یو کس «ټاکونکی» ټاکلو او دا کس باید د هغو کسانو له منځه وټاکل شي، چې لږ تر لږه یې د لسو ورځو کار په کچه مستقیمې مالیې پرې کولې. په پای کې استاذي چې د «ټاکونکو» له منځه ټاکل کېدل، باید له خانانو څخه وي او ټاکلې برخه مالیې هم پرې کړي. په دې توګه یاد شوی قانون یوازې د شتمنو په ګټه لیکل شوی ؤ.

د دې قانون پر ضد کلک اعتراضونه تر سره شول، مارا په خپله ورځپانه کې ولیکل:

«موږ به د اسیلانو د اریستوکراسۍ له پرځولو کومه ګټه وړې وي، که د شتمنو اریستوکراسي د هغه پر ځای کینوو؟»

ربسپیر د ولس په ګټه یو ادعا لیک صادر کړ، په هغه ځای کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«شتمن د هر څه مدعي دي. هغوی غواړي هـر څه په تصرف کې راوړي... هغوی د ولس په سر ټکه دي. تاسو غواړي ولس هېڅ کړی او مطلـق ځـواک شتمنو ته ورکړی!»

د قـانون جوړولـو جرګـه: د بنسـټ ایښـودونکو دنده، وروسته له هغـه چې د فرانسې اساسي قـانون یې د پاچا په امضا ورساوه، پای ته ورسېده. د قـانون جوړولو جرګې لپـاره ټـاکنې پیـل شـوې او وروسـتنۍ جرګې د ۱۷۹۰م د اکتـوبر لـه لمـړي نـه پـه کـار پیـل وکړ.

د قانون جوړولو په جرګې که درو ډلو، درو ټولنـو او درو ګوندونو شتون لاره:

۱ – ســــلطنت غوښـــــتونکي او مشـــــروطه غوښتونکي، چې د جرګې په ښي خواته ناست وو.

۲ – مردده او رنګ اوړونکي مـنځ لاري، چې پـه خپلـو پرېکـړو کې ثابـت نـه وو او د دواړو خـواوو پـه کرښو کې یې منډې رامنډې وهلې.

۳ – کیڼ لاسي انقلابیان، چې هغوی هم پر دوو ډلو ویشـېدل: یـو ژېرنـدنان، چې لـه هغـه ځایـه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکثرن د ژيرندن اوسېدونکي وو، په دې نوم ونومول شول. نور غرني، چې په پورته کرښو کې راتلل، په دې نوم معروف شول.

ژېرندنان او غرني دواړه د دربار مخالف او په خپله پاچا باندې بې باوري وو، خو غرنيو لا ډېر صراحت او جرأت ښودلو، رسمن يې له جمهوريت او د پاچا له عزل نه پلوی کولو او په ځانګړې توګه له دوی څخه يوه ډله په دې باور وو، چې د انقلاب د ژغورلو لپاره بايد ټول مظنون کسان له منځه ټول کړي. له دې کبله په وروسته کلونو کې د دې دوو کينو ډلو، ژيرندنانو او غرنيو تر منځ هم کلک غليموالی رامنځ ته شو.

هغه څه چې د قانون جوړلو جرګې ته ځواک ورکولو دا وه، چې هغو په پرګنو تکيه لرله او د ژاکوبنانو په کلوپونو او ورځپاڼو کې د خپلو اصولو لپاره په تبليغاتو بوختېدل.

ژاکوبنان نېردې ټولو ښارونو او کليو کې د اوډلو څانګو خاوندان وو او نسبتن اوډلي تشکيلونه يې درلودل او همدې موضوع په هغه موکه کې، چې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه له ګډوډۍ سره مخ شوي وو، هغو ته ځانګړې ځواک ورکاوه او هغو کولای شول خپله اراده د هغه فعالیت او انظباط له امله، چې دوی لاره، پر نورو تحمیل کړي.

له دې کبله یې وکولای شول د ۱۶م لویي کابینه راوپرځوي، له ژیرندنانو څخه یوه کابینه د «رولان» په ریاست د کار پر سر راولي او د دې کابینې لمړنی کار دا وو، چې د ۱۷۹۲م کال د اپریل په ۲۰مه د اطریش امپراطور ته، چې د ۱۶م لویي له هڅونه د فرانسې انقلاب پر ضد څه ګامونه پورته کول او دې هېواد باند د یرغل په هڅه کې ؤ، د جګړې اعلان ورکړي.

د قانون جوړولو جرګې له مهمو پرېکړو څخه یوه د پاچا عزل او د مشروطیت اعلان ؤ، چې د لاندې پېښو له امله رامنځ ته شو.

د قانون جوړولو جرګې د داخلي او بهرنیو ستونزو د لېرې کولو لپاره درې فرمانه صادر کړل، خو پاچا د هغو له لاسلیک څخه ډډه وکړه او د جرګې د بنې ډلې په تکیې سره یې د جون په ۱۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژیرنـدنانو کابینـه ړنګـه کـړه. ژیرنـدنانو د پـاریس د حـاکم پـه ملاتـړ هـوډ وکـړ، چـې د جـون پـه ۲۰مـه د هماغې ورځې په ترخ کې، چې د ملي جرګې غـړي د ورسای د لوبو په سالون کې ټول شول، د پـاریس پـه کوڅو کې د پاچا پر ضد یو لاریون وکړي، د پاریس له خلکو زرګونه کسان پـه هغـه ورځ راټـول شـوي وو، د پاچا پر عملیاتو یې اعتراض وکړ او سلطنتي ماڼۍ تـه ورغلل، پربېمانه بنکنځلې یې د پاچا په مخې کې هغه ته وکړې.

ژیرندنیانو په هغه ورځ بشپړه بریا ونـه مونـدلـه او ویې نشول کولای پاچا د خپلو پرېکـړو نـه ډډه کولـو ته اړ کړي، خو بیا له پښو پاتې نشول او د «ربسـپیر» په مشرۍ یې خپلو اقدامونو ته پایښه ورکړه. اتفـاقن پـه دې موکـه کې څـه اسـناد لاس تـه راغلـل، چـې د ۱۶م لـویي جوړښـت یـې د اطـریش لـه پاچـا سـره د انقلاب راپرځولو لپاره په بشپړه توګه څرګنـدولو. دې اسنادو د «ربسپیر» تبلیغاتو ته نوی ځـواک ورکـړ او انقلابیانو د مخکښني جوړښت له مخـه د اګوسـت پـه ۱۰مه لاس په خوځښت پورې کړ، د پاریس حکومـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې عزل کړ او په خپله د پاريس حاکمان شول او ۱۶م لويي د هغو له ډاره اړ شو، د قانون جوړولو جرګې ته پناه يوړي. خو خوځښت کوونکو، چې د مارسي يو شمېر زړه ور اوسېدونکي يې په منځ کې وو، خپل يرغل ته د پاچا پر ماڼې پايښه ورکړه او سره د ډېرو تلفاتو هغه يې تصرف کړه.

د اګوست ۱۰مه ورځ د جولای له ۱۴مې وروسته د پرګنو دوهم برى ګڼل کېږي، چې يوازې د پاريس په اوسېدونکو پورې اړه نلري، بلکه د فرانسې ټولو خلکو پورې تړاو لري، ولې چې د ټولې فرانسې د انقلابيانو استاذو، چې په پاريس کې حاضر وو، په دې بريا کې برخه واخيسته او په ځانګړې توګه د مارسي زړورو اوسيدونکو، چې د «مارسيز» انقلابي سرود د دوى په نامه معروف دى، په هغه کې لويه ونډه لرله.

د قانون جوړولو جرګه ناهوبله شوه، چې د پرګنو برى خوامخوا په رسميت وپېژني او د هغو غوښتنه – په لا ښه عبارت سره د هغو فرمان د پاچا د عزلولو په موضوع کې ومني. خو له هغه ځايه په دې توګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټ ايښودونکو جرګې پرېکړې، چې يوه يې د پاچا د پر ځای پاتې کېدو پر بنسټ وه، نه منل کېده. د قانون جوړولو جرګې يو فرمان صادر کړ، چې د فرانسې ولس پرته له کوم توپير څخه د کنوېنشن (د بنسټ ايښودونکو نوې جرګې) لپاره راوبلل شي.

هغه پايلې چې د اګوست له ۱۰مې ورځې لاس ته راغلې، کولای شو په لاندې ډول لنډې کړو:

۱ – د پاچا عزل.

۲ – سياسی برابروالی، چې لمړي اساسي قانون له ولس څخه سپمولی ؤ.

۳ – پرته له کومه شرطه د فيوډالانو د ډېرو حقوقو له منځه ول، چې تر هغې موکې پورې بايد د بزګرو له خوا پېرودل شوي وای.

۴ – د هغو کسانو د مالونو پلورل، چې له پرديو څخه د فرانسې د انقلاب پر ضد د مرستو اخيستلو لپاره له هېواد نه بهر تلي وو.

۵ – د کمون (د پاريس حکومت) ځواک موندل، چې ځان يې د فرانسې د بريالي ولس استاذی بللو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قانون جوړولو د پرېکړې پرته يې د پاچا د حبس دستور صادر کړ.

د پاريس کمون: په هغه موکه کې د قانون جوړولو د جرګې بنۍ ډله ډېره کمزورې شوې وه او نېردې له منځه تلې وه، خو د قانون جوړولو د جرګې، چې د ژېرودنيانو په لاس کې وه او د پاريس کمون تر منځ، چې د روبسپير او د هغه د يارانو په لاس کې ؤ، کلک توپير رامنځ ته شو او کمون، چې غوښتل يې لا پرېکړنده او لا انقلابي پرېکړې وکړي، د قانون جوړولو جرګه يې د مشکوکو کسانو په نيولو او حبسولو او د جنايي محکمې په دايرولو اړه کړه.

ژېرندنان عمومن ازادي غوښتونکي بورژواګان وو، چې د بورژوازۍ د ګټو ترلاسه کېدل يې د انقلاب لپاره کافی بلل. دغو په دې موکه کې، چې د بورزوازۍ ګټې ترلاسه شوې وې، له قانون څخه يې خبرې کولې او د کلکو پرګنيزو پرېکړو څخه يې ډډه کوله، خو د ربسپير يارانو، چې د قانون جوړولو همدې جرګې غړني وو، چټک او کلک اقدامونه يې د انقلاب بري ته رسولو لپاره لازم ګڼل او له دې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې کوم ډار نلرلو، چې پرګنې خوځښت ته راوبلي. هغو د برسېرنو قانونو په جوړولو او د هغو مقرراتو په بهاندولو، چې يوازې د بورژوازۍ تجارت او صنعت ازاد کړي او د پرګنو د دردونو بنسټيزه هوبله نه وي، قناعت نه کولو او غوښتل يې، چې د شتمنو بورژواګانو پر ضد د بېوزلو طبقو له ګټو څخه پلووالی وکړي.

کله چې بهرني خبرونه او انقلاب ته د خاينانو د عملياتو خبر، چې د هغه د پرځولو لپاره پاريس ته نږدې کېدل، کمون ته راورسېده، اعلان يې وکړ، «وطن په خطر کې دی» او د پاريس له خلکو يې وغوښتل، چې يو ۶۰،۰۰۰ کسيزه پوځ جوړ کړي.

په دې موکه کې د «مارا» د پاريس کمون د غړي لخوا يو شعار ورکړای شو، چې د فرانسې په انقلاب کې يې نوې پاڼه خلاصه کړه. دغه شعارونه دا وو:

«ولس بايد ځان پځپله وژغوري او بهرني غليم ته مخ رانه وړي، مګر هغه وخت چې داخلی غليمان يې وژلي وي.» د پاريس کمون حق لاره، هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د فرانسې انقلاب يې په خطر کې اچوه، د دې او هغه ترديد او د هغو کسانو خيانت ؤ، چې لا يې د خلکو منځ ته لار موندله. په هره توګه د بنديانو وژنه د سپتامبر په ۲مه ورځ پيل شوه او څلور ورځې او څلور شپې د سپتامبر تر ۶مې پورې په اوږدو وغزېده او ۱۱۰۰ کسه يې د مرګ کندې ته واچول.

د پاريس کمون د هغې روح له امله، چې په انقلاب کې ننوتې وه، ويې کولای شول د فرانسوي هېوادپالو څخه يو سربښندونکی پوځ جوړ، د پروس لښکرې، چې تر «وردن» پورې مخکې راغلې وې، په «والمي» کې ماتې کړي.

د بنسټ اېښودونکو دوهمه جرګه: د بنسټ اېښودونکو نوې جرګه، چې په کنوينشن باندې معروه ده، غالبن د ژاکوبنانو له منځه وټاکل شوه او په خپلې لومړۍ غونډې کې د ۱۷۹۲م د سپتامبر په ۲۱مه يې د سلطنت په له منځه وړلو فرمان ورکړ او د روبسپير او هغه يارانو په ټينګار يې ۱۶م لويي، چې د هغه د خيانت په هکله نوي اسناد کشف شوي وو، د ګيوتين پښو ته ولېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنوېنشن د دې لپاره چې په ځانګړو موکو کې وکولای شي چټکې پرېکړې وکړي، څو نوي سازمانونه منځ ته راوړل: انقلابي محکمه، په هر کمون کې د څارنو کمیټه، د ملي رغونې کمیټه – کنوینشن د ژېرندنیانو او غرنیو له وګړو څخه جوړېده او ژېرندنیانو څه ډېر نفوذ پکې لرلو. لکه څنګه مو چې وویل، ژېرندنیان اوغرني په خپلو کې په کشمکش کې وو، تر څو چې په پای کې غرنیو د «مارا» او «روبسپیر» شانې کسانو په هڅه د پاریس کمون په مرسته ۸۰۰۰۰ کسه وسله وال او ۶۰ توپونه راغونډ کړل، د کنوېنشن ځای یې کلابند کړ.

کنوېنشن لمړی مقاومت وکړ او د هغه رئیس وویل: «ولس څه غواړي؟ کنوېنشن پرته له ده او د ده درناوي نه بل څه نه دي کړي». له غرنیو څخه یوه ځواب ورکړ: «ولس پاخون نه دی کړی، تر څو جملې جوړول واوري، بلکه د هغه پاخون د دې لپاره دی، چې فرمان ورکړي. ولس غواړي، چې ۳۴ کسه ګناهکاران هغه ته تسلیم کړي» او له هغه ځایه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنوښنشـن بیـا هـم د مقاومـت پـه لتـه کې ؤ، غرنیـو وسلې ته اشاره وکړه. کنوښنشن ناچاره شو، خپل ۲۹ کسه غړي وباسي، نظر بند یې کړي.

له دې وروسته کمون پر کنوښنشن مسلط شـو او د هغه غلبـه نـه یـوازې سیاسـي فتحـه، بلکـه ټـولنیزه فتحه هم وه: د ټولنې د ښکته طبقو برى پر شـتمنې بورژوازۍ باندې.

له هرې خوانه یې د دې برې پر ضد پاڅون وکړ او ژېرندنیانوو په هـره ګوښـه کې خوځښـتونه پـه لار واچول، په لیون کې یې یو معروف غرنی وواژه او یـوه نجلۍ د «شارلوت» مارا په نامه ووژلـه او د هغې زړه یې کنوښنشن ته ورواندې کړ.

په همدې موکه کې بهرنې جګړې هـم پـه بشـپړه شدت سره پایښه لرله او پردي د داخلـي غلیمـانو پـه هڅونه سره په پرمختګ او د وحشت په رامنځ کولـو بوخت وو. په داسې ځانکړې موکې کې لازمه وه، چې د کنوښنشن لخوا پرېکړنده تکتیک پلې شي، د داخلي غلیمانو ټکـول پـه کلکـه توګـه ترسـره شـي، تـر څـو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهرنیو په وړاندې مقاومت چمتو شي. دا تکتیک روبسپیر پر کنوېنشن تحمیل کړ.

روبسپیر د ۱۷۹۳م د جولای په خپلو یادښتونو کې داسې لیکلي: «داخلي خطرونه له بورژواګانو څخه راځي. پر پورژوازۍ باندې د بري لپاره باید ولس په خپلو کې یو او متفق کړو. ټول وسایل چمتو شوي وو، چې ولس د بورژواګانو په سپارې پسې وتړي او د جمهوریت ملاتړي تر ګیوتین لاندې ووژني. هغو په مارسي، بردو او لیون کې بریالي شول، په پاریس کې هم که اوسني خوځښت نه وای، بریالي کېدل ... ولس باید له کنوېنشن سره یو شي او کنوېنشن له ولس څخه ګټه پورته کړي. باید جنګیالیو ته وسله ورکړل شي، باید هغوی په غوسه راوستل شي، باید هغوی روښان او پوه شي، باید د ولس مینه د جمهوریت سره په ټولو شونو وسایلو راوپاروو».

په همدغه دور کې وو، چې کنوېنشن نوی بنسټیز قانون، چې د «۱۷۹۳م بنسټیز (اساسی) قانون» باندې معروف دی، تصویب کړ او موږ به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې یوې برخې ژباړه د دې کتاب په پای کې راوړو.
خو له هغه ځایه چې یاد شوی قانون خورا ازادي غوښتونکی ؤ او په هغه ځانګړې موکه کې نشوای پلې کېدلی، د هغه پلي کول یې شاته واچول.

کنوېنشن د ۱۷۹۳م د اکتوبر په ۱۰مې فرمان ورکړ، چې د فرانسې لنډمهاله حکومت به انقلابي حکومت وي. په همدې موکه کې یې د ملي رغونې کمیته روبسپیر ته وسپارله او ده ته یې بشپړ واکونه ورکړل، هسې چې وزیران او جنرالان ټول د ده تر فرمان لاندې وو.

انقلاب مخ په وده روان ؤ، د کمون پلویانو د بورژوازۍ له تمې تېرې کړې ؤ، د مطلق مساوات په لور تلل و دا فرمان، چې د درلیون لخوا صادر شو، د هغو د فکر د ډول استاذی دی:

«له هغه ځایه چې شتمني او بېوزلي دواړه باید د مساوات له رژیم څخه ورک شي، نور به یوه ډوډۍ د خالصه وړو څخه شتمن ته او یوه ډوډۍ له سبوس څخه بېوزلي ته نه پخېږي، ټول ډوډۍ پخوونکي د حبس د سزا په بدل کې دنده لري، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يـوازې يـوه ډوډۍ او د ډوډۍ ښـه ډول د **مسـاوات ډوډۍ** چمتو کړي». همدې کسانو پرېکړه وکړه، چې ټولـو ګزروهلـو خلکـو او زړو تـه د شـتمنو پـه لګښـت ډوډۍ، کالي او کور ورکړای شي.

له دې وروسته د کمون د نويو عملياتو دور پيـل شو او د مظنونانو د قانون پر بنسټ، چې د کنوېنشن له تصويب څخه تېر شو، د هغو توطئه جوړونکـو پـه وژنه يې، چې د بهرنيو غليمانو په ګټه يـې کـار کـاوه، پيل وکړ. ښـکاره ده، چې د انقلابـي محکمـو څارنـه چنداني دقيقه نه وه، په هغسې ځانګړي وضعيت کې يې کولای نشول دقيقه واوسي، لـه دې کبلـه ځينـي بيګناهـان هـم ووژل شـول. خـو هغـه موخـه چـې ربسپير او د ده يـارانو لرلـه، لـه فـوري پرېکـړو پرتـه د پلي کولو وړ نه وه.

لـه لمړيـو کسـانو څخـه چـې ووژل شـول، مـاري آنتوانت او هغه ژېرندنيان وو، چې د جولای لـه ۲مـې ورځ څخه ونېول شول. «دانتون» هم له هغو کسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه ؤ، چې د هغو ضعفونو په جرم، چې ښودلي یې وو، په ګیوتین باندې اخته شو.

د ۱۸۹۳م د مارچ له لمړي ځخه د ۱۷۹۴م د جولای تر ۲۷مې بورې د هغو کسانو شمېر، چې محاکمه شول او ووژل شول، په ټولې فرانسې کې له ۱۲۰۰۰ کسانو ډېرېدل. دا وژنې پلې شوې، خو د کمون اصلي موخه هم ترلاسه شوه. په دې مانا چې بهرنی او داخلي خطر ورک شو، د ژېرندنیانو خوځښتونه، چې د پرګنو ملاتړ یې ونه مونده، ماتې وخوړه. اطریشیان او پروسان د فرانسې له سرحده لېرې وشړل شول.

خو د دې وضعیت ساتل خورا ستونزمن وو، ولې چې هم پخواني زاړه پالونکي او هم تازه دوران ته رسېدلي انقلابي بورژواګان د ربسپیر له طرحې سره مخالف وو. **ربسپیر** په خپل یوه رپوټ کې ویلي وو: د انقلاب موخه د هسې وضعې چمتوکول دي، چې «په هغه ځای کې هېڅ ډول ځانګړتیاوې منځ ته رانشي، مګر د خپله مساواتو ځخه پرته ...، چې هلته هېواد د هر وګړي هوساینه چمتوکړي، چې هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګري د ملي شتمنۍ سر چېنه وي، نه دا چې يوازې د څو کورنيو بې هانده شتمني چمتو کړي». دې وړانديزونو، که څه هم د پلي کېدو لپاره کومه دقيقه نقشه نلرله، خو کافي وه، چې بورژوازي، چې غوښتل يې انقلاب د خپلې ازادې سوداګرۍ په ګټه بشپړ کړي، د ربسپير پر ضد راوپاروي. نور مرتجعان هم له ده سره همداستانه وو او د کمون وژنې يې د بېرحمۍ او قساوت په نامه پلمه کولې.

ربسپير ويل:

«تر څو پورې به د جبارانو لېونډوله ستم کول نیاوګلوي او د ولس نیاوګلوي بربريت او سرغړونه ونومول شي؟ ځيني چيغې وهي: پر پاچا پالونکو ترحم! پر تباهکارانو ترحم!، نه! پر بې ګناهۍ ترحم، پر کمزورو ترحم، پر بېوزلو ترحم، پر بشريت ترحم!.»

ربسپير د ژان ژاک روسو د ښوونو زده کوونکی ؤ او اصولو ته په تړاو کې يې ځانګړی تعصب لرلو. ربسپير د بنسټ ايښودنکو په جرګې کې وړانديز وکړ، چې د وژلو سزا دې له منځه لاړه شي، خو کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله په عمل کې د ننه شو او د پسات درجه او د پرېکړنده اقدامونو اړتیا یې وکتله، بله تګلاره یې خپله کړله.

په پای کې ژېرندنیانو د کنوېشن – اصلاح – معتدله ډله له ځان سره ملګرې کړه، توطئه یې جوړه کړه، چې دی د دیکتاتورۍ او انسان وژلو په تور محکوم کړي او د دوی لمړنې نقشه دا وه، چې د ربسپیر له خبرو کولو مخنیوی وکړي، ولې چې د هغه د خبرو په اغېزه پوهېدل. د جون په ۲۷مې په ورځ د کنوېنشن په غونډې کې لاس په کار شول او خپل تورونه یې په بشپړه تودبشت سره د ربسپیر پر ضد د شورونو او د لاسونو د پړکا په منځ کې بیان کړل، ربسپیر څو ځله د خبرو اجازه واخیستله، خو د غونډې مشر هر ځل د دې لپاره چې د ده غږ پټ کړي، ګنټۍ یې په غږ راوستله. کله چې د ده د نېولو امر صادر شو، کوکه یې کړه: «د وروستي ځل لپاره، د قاتلانو مشره! له تا نه د خبرو اجازه غواړم!» د ده دا غږ یې هم د «ژوندی دې وي جمهوریت»

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نارو سره ورک کړ. ربسپیر وویل: «جمهوریت لـه منځه لاړو! غله بریالي شول!».

کله چې د ربسپیر د نېولو خبـر د پاریس کمـون تـه ورسـېدو، پـه خوځښـت یـې لاس پـورې کـړ او روبسپیر ته یې خلاصون ورکړ. خو د خیانت له امله مات شو او ربسپیر په دې حال کې، چې زنه یې ماتـه وه، ونېول شو او لـه نـورو ۲۱ کسـانو سـره د ګیـوتین وېخ ته وځکول شو. د هغې ورځې په سبا ۷۰ کسه او په بله ورځ ۱۳ کسه د کمـون غـړي د هماغـه کسـانو په لاس، چې ځانونه یې د وژلو مخالف ښکاره کـول، ووژل شول.

کله چې د محکومانو ګاډی د اعـدام ډګـر پـه لـور روانه وه، ربسپیر له خپلو شنو ورېښیمنو کالیو سـره، له هغه مخ سره، چې د وینو په کرښو انځـور شـوی ؤ او د کلک درد له امله یې زنه په ځـان کې نـنـوتې وه، په پټو سترګو سـره یـې د خپلـو نابشـپړه عملیـاتو پـه هکله فکر کاوه. کله، چې د ګیوتین بېخ تـه ورسـېدو، د جـلاد شـاګرد د هغـه د زخـم پټـې هسـې پـه کلکـه وشکوله، چې وحشتناکه کوکه له ربسپیر څخه پورتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه او پرګنو وکتل، چې د ده لاندې زامه لـه پـورتنۍ زامې څخه جلا شوه او د هغه له خولې څخه، چې پـه ډارونکې توګه خلاصه پاتې شـوه، د ده رنګینـه وینـه وبهېده.

ان د ربسـپیر غلیمـان انصـاف کـوي، چـې دی هېڅکله له خپلو پرنسیپونو څخه جلا نشو او د خپل ځواک په منځ کې یـې پـه بشـپړه سـادګۍ سـره ژونـد کاوه، هسې چې ده ته یې د (نـه فاسـدېدونکي) لقـب ورکړی ؤ.

د انقـلاب پـای لیـک: د انقـلاب برخـه لیـک د ربسپیر له مرګه وروسته د بورژواګانو لاس ته ولوېده، چې هغه یې ودرولو.

د بورژواګانو ډار له انقـلاب څخـه او د پاچـا پـالو مرتجعینو عکس العمل لامل شـو، چـې کنوېنشـن د ۱۸۹۴م د اکتوبر په ۲۶مې خپل ځای (دیرکتوار) تـه ورکـړي او د ۱۸۹۹ د نـوامبر لـه ۹مـې د نـاپلیون دیکتاتوري پیل شـوه: لـه نـاپلیون څخـه وروسـته لـه ۱۸۱۵م څخه تـر ۱۸۴۸مـه پـورې مشـروطه سـلطنت ببرتـه پـه فرانسـې کـې ټینـګ شـو او مشـروطیت پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستي کال کې د انقلاب له امله په جمهوریت بدل شو، خو دا جمهوریت هم په ۱۸۱۵م کې (د دریم ناپلیون په لاس) له منځه ولاړ. تر څو چې ۱۸۷۰م انقلاب پېښ شو او په دې انقلاب کې، چې د پرولتاریا طبقې پلویان یې اصلي چلوونکي وو، نږدې د یوې میاشتې په موده په پاریس کې کارگري حکومت برقراره شي، خو دا حکومت هم په بشپړه غوسې سره د بورژوازۍ په لاس مات شو او د حمهوریت رژیم په فرانسې کې مستقر شو.

په دې انقلابونو کې هغه څه چې ډېر د پام وړ دي، د حکومتونو ماهیت دی. د فرانسې دولت د انقلاب څخه وړاندې پر فیوډالانو تکیه لرله او د هغو د ګټو ساتندوی ؤ.

د دولت ماشین، چې د دې انقلابونو په ترڅ کې څو ځله نسکور شو، نه یوازې ووړ نه شو، بلکه لا بشپړ شو. د فرانسې د انقلاب له لاملونه څخه یو دا ؤ، چې بورژواګان د خپلو صنعتي او سوداګریزو ګټو له پلوه غوښتل، چې په حکومت کې لا ډېر مرکزیت شتون ومونـدي او دا موضوع لا ډېره د دولت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـواک د ټينګـار او د هغـه د ماشـين د ودې لامـل شوه. له بله پلوه بورژوازي وروسته له هغه نـه چې د کـار پـر سـر راغلـه، د دې لپـاره چې وکـولای شـي د انقلابونو څخه مخنيوی وکړي، ناچاره د دې دستګاه ځواک ډېر کړي او له دې کبلـه د بـورژوازۍ دولـت د پخـواني فيـوډالي دولت پـه پرتلـه د دوو ځـانګړو بڼـو خاونـد ؤ. بوروکراسـي او تلپايـه پـوځ، چې د دولـت چـوپړو شـمېر يـې ډېـر کـړ، د دې دسـتګاه مـاتول لا ستونزمن ګرځوي.

بورژوازۍ نه غوښتل د ځواک په لاس تـه راوړلـو سره، د دولت دستګاه، دا د فشار ماشين مات کـړي، بلکه غوښتل يې چې هغه ته د بـورژوازۍ لـه اقتصـاد سره سمون ورکړي. نو د فرانسې انقلاب د دولت پـه ماهيـت کې، چې د ځـانګړې طبقـې حاکميـت دی، کوم بدلون رانوړو، بلکه هغه ډله يې بدلـه کـړه، يـانې بورژواګان يې د فيوډالانو پر ځای کېنول.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۷

د بشر د حقوقو اعلامیه

د فرانسې ولس استاذي، چې په «ملي جرګې» کې ټول شوي دي، له هغه ځایه چې ویې کتل، چې د بشر د حقوقو هېرول او هېڅ ګڼل د عمومي بدمرغیو او پسات یووازینی لامل دی، پرېکړه یې وکړه، چې په یوې رسمي او پرتمینې اعلامیې کې د بشر طبیعي، نه انتقالېدونکي او مقدس حقوق طرح او بیان کړي، تر څو دا اعلامیه هرکله د ټولنې د ټولو وګړو د هیئت په پام کې وي او پرله پسې د هغو حقوق او دندې یادې کړي، تر څو وکولای شي د مقننه ځواک عملیات او د مجریه ځواک عملیات په هره شېبه او یا موخه، چې له هر سیاسي سازمان څخه په پام کې وي، پرتله کړي او په پای کې هغوی لا درنې وګڼي، تر څو د وګړو غوښتنې، چې له دې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته په ساده او مسلم اصل باندې بنسټ شي، تل اساسي قانون او عمومي نیکمرغۍ ته پام واوسي.

په پایله کې ملي جرګه د متعال خالق په حضور کې او د ده د عنایتونو په سیوري کې دا حقوق د بشر او ټولنې د وګړو لپاره پېژني او اعلاموي:

۱ – د بشر وګړي په حقوقو کې ازاد او مساوي دنیا ته راځي او په حقوقو کې ازاد او مساوي پاتې کېږي، ټولنیزې ځانګړتیاوې نشي کولای پرته له عمومي ګټو څخه بل بنسټ ولري.

۲ – د هرې سیاسي ټولنې نه موخه د بشر د طبیعي حقوقو ساتل دي، چې د زمانې تېرېدل نه مني او دا حقوق عبارت دي له: ازادی، مالکیت، امنیت او د ناتار په وړاندې مقاومت څخه.

۳ – هر حاکمیت اصولن پر ولس باندې بنسټ شوی او هېڅ هیئت او هېڅ کس نشي کولای کوم ځواک پلی کړي، چې ښکاره له ولس څخه یې سرچینه موندلې ده.

۴ – ازادي د هر عمل د سرته رسولو د ځواک څخه عبارت ده، چې بل ته ضرر نه رسوي. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه د هر وګړي د طبيعي حقوقو پلي کول هاندونه نلري، مګر هغه هاندونه، چې د هغو شتون له دې حقوقو څخه د ټولنې د نورو غړو برخه من توب تأمينوي. دا هاندونه يوازې قانون ټاکلی شي.

۵ – قانون حق نلري، منعه کړي، مګر هغه عمليات، چې د ټولنې لپاره زيان راوړونکي وي. له هغه څه نه چې د قانون له لارې منعه شوي نه وي، نشو کولای مخنيوی وکړو او هېڅ څوک نشو کولای هغه څه ته، چې قانون حکم نه وي کړی، اړ کړو.

۶ – قانون د عمومي ارادې له بيان څخه عبارت دی. د ټولنې ټول وګړي حق لري، چې شخصن او يا د استاذو له لارې د هغه په جوړولو کې برخه واخلي. قانون بايد د ټولو لپاره يو وي، څه په هغه برخه کې، چې له کوم شي نه ملاتړ کوي، څه په هغه برخه کې، چې سزا ورکوي. له هغه ځايه چې د ټولنې ټول وګړي د قانون له پامه له يوبل سره مساوي دي، هغوی کولای شي ټولو مقامونو، پوستونو او عمومي بوختياوو ته د ځانونو د اهليت پر بنسټ په مساوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه او پرته له کوم توپیر نـه، د فضـایلو او هنرمنـدیو د توپیر څخه پرته، ورسېږي.

۷ – هېڅ وګړی کولای نشو تورن کړو یـا توقیـف کړو او یـا حـبس کـړو، مګـر پـه هغـو برخـو کې، چې قانون ټاکلي او د هغو ستونزو پر بنسـټ، چې قـانون مقــرر کــړي دي. هغــه کســان، چــې خپــل ســري دستورونه صادروي او یا د داسې دستورونو صـادرولو تـه بـل هڅـوي او یـا د هغـو پلـي کـوونکي دي، بایـد وترټـل شـي. د ټـولنې هـر وګـړی، چـې د قـانون پـر بنسـټ بلـل کېـږي او یـا جلبېـږي، بایـد ژر اېلانیـت وکړي. داسې شخص که مقاومت وکړي، مجرم دی.

۸ – قانون نشي کولای جزاګانې پلې کـړي، مګـر دا چې په بشپړه توګه او صریحن ضروري وي او هېڅ څوک مجازاتولی نشو، مګر د هغـه قـانون پـر بنسـټ، چې وضعه شوی او له وړانـدې د هغـه ځـانګړي جـرم لپـاره تصـویب شـوی او قـانونن د هغـه جـرم سـره سمون ورکړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ – هر څوک تر هغه وخته پورې، چې د هغه د مجرموالي اعلام شوی نه دی، بیګناه ګڼل کیږي. هرکله د ده بندي کول نه ډېره کوونکي وي، له هر ډول تشدد څخه، چې هغه ته رسېدو لپاره ضروري نه وي، باید جدن مخنیوی وشي.

۱۰ – هېڅ څوک نباید د عقایدو، ان مذهبی عقایدو په لحاظ، تر هغه وخته پورې چې د هغو عقایدو څرګندونه عمومي اوډنه، چې قانون ټینګه کړې ده، ګډوډ نکړي، د مزاحمت سره مخامخ شي.

۱۱ – د اندونو او عقایدو ازاد تبادل د بشر تر ټولو ارزښتناکه حقوقو څخه یو دی. له دې کبله د ټولنې هر وګړی کولای شي په ازاده توګه خبرې وکړي، ولیکي او په چاپ یې ورسوي، مګر دا چې د هغو برخو پر بنسټ، چې د قانون له لارې ټاکل شوي دي، له دې ازادۍ نه ناوړه ګټه پورته کړي.

۱۲- د بشر او د ټولنې د وګړي د حقوقو تضمین ایجابوي، چې عمومي ځواک شتون ولري. نو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک د عموم په ګټه جوړ شوی، نه د هغو کسانو په ځانګړې ګټه، چې د هغو لاس ته سپارل شوی دی.

۱۳ – د عمــــومي ځـــــواک ســـــاتل او د اداري لګښتونه یوې ګډې مالیې ته اړتیا لـري. دا مـالیې د ټولنې ټولو وګړو په مـنځ کې بایـد د هغـو د تـوان پـر بنسټ په مساوي توګه وویشل شي.

۱۴ – د ټـولنې وګـړي حـق لـري، چـې پـه خپلـه لاسه او یا د خپلو استاذو لـه لارې د عمـومي مالیـاتو ضـرورت، د هغـه نسـبت د وګـړو د شـتمنۍ پـه پرتلـه وڅېـړي، هغـه سـره پـه ازاده توګـه رضـایت وکـړي، د هغه لګښت وڅاري، د هغې تعرفې د لاس تـه راوړلـو بنسټ او موده وټاکي.

۱۵ – ټولنه حق لري، د خپلو ادارو له هر مـامور څخه حساب واخلي.

۱۶ – هـره ټولنـه، چـې هلتـه د حقوقـو تضـمین تـأمین شـوی نـه دی او د ځواکونـو بېلتـون نـه دی شوی، په هېڅ وجې د اساسي قانون خاونده نه ده.

۱۷ – له هغه ځایه چې مالکیت د نه نقضېدلو وړ او مقدس حق دی، هېڅ څوک نشي کېدای لـه هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه بې برخې کړي، مګر په هغه بڼه کې، چې عمـومي ګټې چې قانونن تثبيت شـوي، هغـه ايجـاب کـړي او په دې شرط چې د هغه نياويز تاوان له وړانـدې پـرې شي.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۸

د ۱۸۹۵ اساسي قانون دوې مادې

۲۱ – عمـومي مرسـتې د ټـولنې مقـدس فـرض دی. ټولنـه بايـد خپلـو بېوزلـو وګـړو تـه، څـه لـه دې لارې، چې هغو ته کار چمتو کړي او څه د هغو لپاره، چې په کار کولو توانمنده نه دي، د ژوندانه د وسـايلو چمتو کولو له لارې، د ژوند لوښي ورکړي.

۲۵ – کله چې حکومت د ولـس حقـوق نقضـوي، انقلاب د ولس لپاره او د ولـس هـرې ډلې لپـاره تـر ټولو مقدسه او تر ټولو ناګزيره دندو څخه دی.

پـاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محسن خپرندوی چاپ کړی:

- امپریالیزم
- لنین (سه مقاله از استالین)
- مارکس، انگلس و مارکسیزم (چند مقاله از لنین)
- تاریخ حزب کمونیست (بلشویک) اتحاد شوروی
- از کمون اولیه تا کمونیزم
- قسم به خونتان رفیقان! (زندگی و پیکار قهرمانانه‌ی شماری از کمونیست‌های جانباخته زیر ساطور رژیم تبهکار اسلامی ایران)
- مائوتسه دون (زندگینامه مختصر)
- اصول مقدماتی فلسفه اثر ژرژ پولیتسر
- ماتریالیزم تاریخی برای نوجوانان
- ماتریالیزم دیالکتیک برای نوجوانان
- ماتریالیزم تاریخی برای نوجوانان (پشتو)
- ماتریالیزم دیالکتیک برای نوجوانان (پشتو)
- از کمون اولیه تا کمونیزم به زبان پشتو

ډیر ژر خپریږي:

- اقتصادی سیاسی به زبان ساده
- مبانی و مفاهیم مارکسیزم

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library